حیات افغانی

لومړی ټوک

لیکوال: محمد حیات خان

۱۳۷۰

حیات افغانی

PROPERTY OF ACKU
2335

اوومی ټوک

لیکوال : محمد حیات خان

ژباړونکي: محقق فرهاد ظریفی او محقق عبداللطیف طالبی

سریزه، تحشیه او تعلیقات د اکاډمیسین عبدالشکور رشاد

خپرونکی : د سرحدونو چارو وزارت
د نشراتو او فرهنګی چارو ریاست

۱۳۷۰

د کتاب نوم: حیات افغانی

د چاپ ځای: د آریانا مطبعه

د چاپ مهتمم: محمد انور شمس خیلي

د چاپ شمیر: ۵۰۰۰

د چاپ کال: ۱۳۴۰

دمطالبو فهرست

(الف)

عنوان | مـخ

عنوان	مخ
دژباړونکی سر یزه	۱
دلیکوال سر یزه	۱۵
لومړی برخه	
جغرافیه، تجارت او د افغانستان عام تاریخ	
لومړی باب	
جغرافیه ، او تجارت ...	۱۸
دافغانستان د تسمیی وجه	۱۹
څلور خواوی (حدود اربعه)	۱۹
لومړی ختیځه برخه لومړی دپیښور برخه	
دپیښور ضلع	۲۱
دکوهاټ ضلع	۲۳
دهزاره ضلع	۲٤
دویمه برخه دیره جات	
دبنو ضلع	۲۵
ددیره اسمعیل خان ضلع	۲۵
ددیره غازی خان ضلع	۲۸
دویم باب لویدیځه برخه	
دمها بن سیمه	۳۲
دچملی سیمه	۳۳
دبونیر سیمه	۳۳
دسوات سیمه	۳٤
دلرنک پرنک سیمه	۳٦

عنوان	مــخ

دباجوړ سیمه	۳٦
دمو مندو سیمه	۳۷
دکونړ سیمه	۳۷
دخیبر سیمه	۳۷
دننګنهار یا ننګر هار سیمه	۳۸
دتیراه سیمه	۳۸
دکر می ایجنسی سیمه	۳۹
دخو ست سیمه	٤۰
دو زیرو سیمه	٤۰
دو زیرو په ملك کی ددوړوعلاقه	٤۱
دشیر انیو سیمه	٤۲
دکاکړ و سیمه	٤۲
مقد مه	٤۳
لومړی دکابل ښار	٤۳
دویم دغزنی ښار	٤٥
دریم د کندهار ښار	٤٦
دویم دفادز هرو کان	٤۷
څلورم د هرات ښار	٤۸

دافغانستان دځینو نورو مشهورو ځایو نو ذکر

په کابل کی	۵۰
په غزنی کی	۵۱
په کند هار کی	۵۱
په هرات کی	۵۱

دافغا نستان مشهور سینو نـه

په کابل کی	۵۲
په غزنی کی	۵۲
په کندهار کی	۵۲

عنوان	مخ
په هرات کی	٥٢
دافغانستان تجارت	٥٣
دافغانستان معدنونه	٥٣
دافغانستان میوی اونور بوټی (نباتات)	٥٤
حیوانان (ژوی)	٥٥
دافغانستان دهغو مصنوعاتو بیان چی په افغانستان کی جوړیږی او دتجارت له پاره بهر ته صادریږی	٥٥
واردات	٥٦
لویی کاروانی لاری	٥٧
له لوید یځ افغانستان نه لویی کاروانی لاری	٥٧

دهغه کلنی تجارت تفصیل چی دپیښور دد رو له لاری
دافغانستان او هندوستان ترمنځ صورت مومی

صادرات	٦٠
دسواد گروقومونو بیان	٦١
دتجارت دپر مختک لاری	٦٥

دویم باب

دافغانستان دعام تاریخ بیان

لومړی څپرکی

لرغونی تاریخ	٦٧
دافغانستان دسلطنت بیان	٧١
دایران دسپه سالار یرغل	٧٢
گشتاسپ	٧٣
دکید راج تسلط	٧٣
دلوی سکندر یرغل	٧٤
دیونانیانو دتسلط بیان	٧٦

عنوان	مخ

دسکهتین (سهتین) یا تاتار یانو تسلط	۷۸
ارد شیر بابکان	۷۹
بهرام گور	۸۰
نو شیروان	۸۰
هر مز	۸۰
یزد گرد یا یزد جرد	۸۰

دو یم فصل

داسلام له ظهور نه ترتن پوری

عبدالله خازم	۸۳
عبدالر حمن بن سمره	۸۱
طلحه بن عبدالله	۸۱
ولید	۸٤
سامانی اسمعیل	۸٥
الپتکین	۸٥
اسحاق ابن الپتکین	۸٦
سبکتکین	۸۷
سلطان محمود غزنوی	۸۹
سلطان مسعود	۹۲
سلطان مودود بن مسعود	۹۳
سلطان ابو الحسن علی	۹۳
سلطان عبدالر شید بن محمود	۹۳
فرخ زادابن مسعود	۹٤
سلطان ابراهیم بن مسعود	۹٤
سلطان مسعود ثانی بن ابراهیم	۹٥
ارسلان شاه	۹٥
سلطان بهرام شاه	۹٥
خسرو شاه	۹٦

عنوان	مخ
خسرو ملك	۹۶
شهاب الدين محمد غورى	۹۷
دغوری کورنی بیـــان د (۱۱۸۵) ع کال نه پیل نه تر(۱۲۰۰) عیسوی دلپوری	
عز الدين حسين	۹۹
قصب الدين	۱۰۰
سيف الدين	۱۰۰
بهاو الدين سام	۱۰۰
علاوالدين حسين	۱۰۰
سيف الدين	۱۰۱
غياث الدين	۱۰۱
سلطان شهاب الدين محمد	۱۰۱
ملك تاج الدين يلدوز	۱۰۲
سلطان محمد شاه خوارزم	۱۰۳
دمغولی کورنی د واکمنی بیا ن	۱۰۴
چنگيز خان	۱۰۴
جلال الدين شاه	۱۰۵
دشير خان يرغل	۱۰۶
هلا كو خان	۱۰۶
گور کانی تیمور	۱۰۷
ميرزا شاهرخ خان سعيد	۱۰۷
ميرزا الغ بيك	۱۰۸
ميرزا عبدالرزا ق	۱۰۸
محمد مقيم	۱۰۸
محمد بابر	۱۰۸
همايون	۱۱۱
جلال الدين محمد اكبر	۱۱۲
ابو المظفر نور الدين جهانگير	۱۱۴
شاه جهان	۱۱۵
عالمگير	۱۱۶

عنوان	مخ

شاه عالم ۱۱۸
حاجی میرخان ۱۱۸
عبدالعزیز ۱۱۹
شاه محمود ۱۱۹
شاه اشرف ۱۲۰
شاه‌حسین ۱۲۰
فرخ‌سیر ۱۲۰
محمد شاه ۱۲۱
ایرانی نادرشاه ۱۲۱

دسدو زی کور نی وا کمنی د(۱۷٤۷) عیسوی کال له پیل څخه تر(۱۸۰۹) عیسوی پوری اوپه هرات کی تر (۱۸٤۲) عیسوی پوری

سدو زی ابدالی احمدشاه ۱۲٤
سدوزی تیمورشاه ۱۲٦
شاه‌زمان ۱۲۷
شاه‌محمود ۱۲۹
شاه‌شجاع الملک ۱۲۹
د بارکزی قبیلی حکومت ۱۳۳
په ختیځ افغانستان دسکانو تسلط ۱۳۵
دکابل په سلطنت اولو یدیځ افغانستان باندی
دانگریزانو یرغل ۱۳۸
لویدیځ خواته ۱٤۸
دافغانستان ختیځه برخه ۱۵۳
دانگریزانو دقبضی خرنگوالی ۱۵٤
دسرحداو یاغی قومو نود انتظام خرنگوالی ۱۵٦
دسرحد د پولو موقعیت ۱٦۳

عنوان	مخ

دویمه برخه

په افغانستان کی د پښتنـــو او نورو اوسیدو نکو قومونو نسب‌نامه لومړی‌څپرکی

دافغا ن ، پتها ن او پښتـون د تسمیی‌و جه	۱۶۵
دمخزن افغانی دیکنی لند یز	۱۶۶
دمولف خیر نه او تحقیق	۱۷۰
نقل په هما غه دو ل چی پـــه کتاب کی دی	۱۷۲
دپتهان دکلمی دتسمیی و جه	۱۸۰
دپښه ون‌دتسمیی وجه	۱۸۱
دافغان کلمی دتسمیی وجه	۱۸۲
دپښتو ژبی اساس	۱۸٤
دپښتنو سره دخا لداړ یکی	۱۸۷
په پیښور باندی یرغل	۱۸۸
دهندوستان په ملك کی آباد ی	۱۹۲

دویم باب

دقیس عبدالر شید داولا د ی بیا نچـــی له دوی څخه دری لو یی قبیلی منځ ته را غلـی دی

سر یزه	۱۹٤
دشجری پیش ندنی په بـــاب‌یاد ښت	۱۹۵

لو مړفصل دسړ بن داولادی‌بیا ن

دابدالی یادرانی قوم یادونه	۱۹۷
دابدالی کورنی واکمن	۱۹۸
ددرانی دتسمیی وجه	۲۱۰
ددرانی دقبیلی ویش او شمیر	۲۱۱

ad

عنوان	مخ
دزیرك څانگی	۲۱۱
دپنج پای څانگی	۲۱۱
پو پلزی	۲۱۱
سدوزی	۲۱۲
بار کزی	۲۱۳
اڅکزی	۲۱۳
علیکوزی (الکوزی)	۲۱۳
موسی زی	۲۱٤
د پنج‌پای قبیلی ښاخونه	
دنور زیو ښاخ	۲۱۵
دعلیزی (الیزی)ښاخ	۲۱٦
دادوزی ښاخ	۲۱٦
داسحاق زی (ساکزی) ښاخ	۲۱٦
دماکو او خاو کانی یا خاکوانـی‌ښاخ	۲۱۷
په اجمالی دول دتولی درانـی‌قبیلی حالات	۲۱۷
دوکړ و شمیر	۲۱۸
د وداو دستور	۲۱۸
قضا او قضاوت	۲۱۸
د کیږدی دستور	۲۱۹
خوراك	۲۲۰
پوښاك	۲۲۱
غیری ، بنی اوونی	۲۲۱
مذهب	۲۲۱
دواده دود او دستور	۲۲۲
معمولی عادتونه	۲۲۲
میلمه پالنه	۲۲۲
داڅکزی ښاخ	۲۲۳

عنوان	صفحه
دملتان دافغانانو حال	۲۲٤
دنواب محمدخا ن کورنی	۲۲٦
علی زی (الیزی)	۲۲۸
غلام حسن خان علیزی	۲۲۹
دخوډ که کورنی	۲۲۹
خاکوانی	۲۲۹
پوښاك او د ژو ندا نه دول	۲۲۹
دترین قبیله	۲۳۱
تور ترین	۲۳۱
سپین ترین	۲۳۲
دشیرانی قبیله	۲۳۳
دبابړو ښاخ	۲۳۸
دهریپال ښاخ	۲۳۹
دجلوانی ښاخ	۲۳۹
میانه قبیله	۲٤۰
قرشین	۲٤۰
دبریڅو قبیله	۲٤۰
داوړ قبیله	۲٤۲
دپیر تاریك کیسه	۲٤۳
داتمان زی قبیلی په باب یادونه	۲٤۷
دسدوزی داولاد اتمان د شجرې په باب یاد ښت	۲٤۸
دمندړ د تولی قبیلی په بـــا ب یادښت	۲٤۹
یاد ښت	۲٤۹

د یو سفزیو او مندړ قبیلی

عنوان	صفحه
ددغه قبیلو تاریخ	۲٥۰
دیو سفزیو لوی مړی استو کنځی	۲٥۲
دوځا بی فرقی یادونه	۲٦۸

عنوان | مخ

دیو سفزیو دقبیلی شمیر او د دغی قبیلی دښاخونو داستوګنی ځایو نه	۲۷۲
دیوسف زیو ښاخونه	۲۷۳
نوری پښتنی قبیلی چی د یو سفزیو په ملك كی او سیږی	۲۷۵
محمدزی یا ممن زی	۲۷۶
اتمان خیل	۲۷۶
دتالاش وادی	۲۷۷
مشرق حلك	۲۷۷
دفقیرانو فرقه	۲۷۷
ګوجر	۲۷۸
هندوان	۲۷۸
دیوسفزیو ځینی دودو نه او دستورونه	
کسب	۲۷۹
دملك ویش	۲۷۹
دویش لاری چاری	۲۸۱
داستو ګنی ځایونو ویش	۲۸۲
جومات	۲۸۳
حجره	۲۸۳
برج	۲۸٤
جرګه	۲۸٤
پر رعیت باندی دمالکانو حق	۲۸٦
خویونه، عادتونه او د ژوند څرنګوالی	۲۸٦
مذهب	۲۸۸
دخان ستاینه	۲۸۹
میلمستیا	۲۸۹
دغلامبادله	۲۹۰
پښتنی ننګ (غیرت)	۲۹۱
دلید نو کتنو دود	۲۹۱

۱۵۹

عنوان	مخ

عنوان	مخ
دښځو ننگ	۲۹۲
داستوګنی دځا یو او نو څرنګوالی	۲۹۳
خواړه	۲۹۳
پو ښاك	۲۹۳
شوق او طبیعی عادتو نه	۲۹٤
دښځو عادتو نه	۲۹٤
ذواده د ستور	۲۹٦
د خانقاوو او میلو بیان	۳۰۰
دسوات اخوندصاحب	۳۰۱
دآدم خان او درخانی لنده کیسه	۳۰٤
دکگیا نی	۳۰٦
دتر کلا نی قبیله	۳۰۷
دباجوړ سیمه	۳۰۸
دصافی یا سا پیو قبیله	۳۱۱
۱ـ دغوریا خیلو قبیله	۳۱۲
۲ـ مومند	۳۱٥
۳ـ برمو مند	۳۱٥
٤ـ د داود زیو قبیله	۳۱۸
٥ـ دخلیلو قبیله	۳۱۹
٦ـ دشمکنیو قبیله	۳۱۹
۷ـ دزیړا نیو ښاخ	۳۲۰
۸ـ دملاګوری ښاخ	۳۲۱
دخر شبون ابن سړبن ددو یم زوی زمند بیان	
ددغه قبیلی بیان	۳۲۲
دمحمد زئ یامن زئ ښاخ	۳۲٤
دخر شبون ابن سړبن دد ریم زوی کانسی بیان	
ددغی قبیلی حال	۳۲٥

bb

ځوخبرې

«حیات افغانی» د پښتنو او افغانستان په باب د نسبي، تاریخي، جغرافیایي او فلکلوري معلوماتو یوه ستره مجموعه ده چې د لوی در شل معین الدین امیر شیر علیخان د پاچاهۍ په دوهم کال کښل شویده، او دایې (په شمسي حساب) یو سلو پنځه ویشتم کال دی * (۱)

د تواریخ خورشید جهان پښتون مؤلف د دامان د کلاچي او سیدونکی اروا ښاد شیر محمد خان ابراهیم زی گنډاپور وایي: ما د پښتنو د نسب او تاریخ په باب یو درسا له کښلې او پر هغې باندې می د «گلشن افغانستان» نوم ایښی و؛ (۲) دغه رسا له د پنجاب د انگریز والي میر منشي (مدیر تحریرات) پنډت من پهول صاحب

---

(۱) د حیات افغانی د دیباچې په پای کې می د تاءلیف نیټه د ۱۲۸۱ هـ .ق کال د برات د میاشتې څوارلسمه د ۱۸٦٥ ع کال د جنوري له دریمې سره برابره ښوول شوې ده، ما ته صحي نه ښکاري زما په خیال د جنوري دوولسمه یا دیرلسمه باید وي.

(۲) اروا ښاد شیر محمد خان «تواریخ خورشید جهان» هم رسا له بللې ده، او هغه په لویه قطعه ۳۱۹ مخه چاپي کتاب دی، (وگ. د تواریخ خورشید جهان مقدمه)

دکتلو له پاره را څخه واخیستله (۳) اودبنودسیمی اکسترااسیستینټ کمشنر محمد حیات خان ته ایـی ور کړ له ، نو موړی محمد حیات خان زما رسا له په حیات افغا نـی کی مد غمه کړ له ، دی ادغام له تاء لیفه زما زړه سو ړ کړ، خوزمازوی چی هغه هم محمد حیات خان نو میږی دی ته ټینګ سو چی زه هغی رسالی دطالب بیا سره را ارـ دم ، ما دده غو ښتنه و منلـه او داکتاب می تا لیف کړ، چی د «تواـ ریخ خور شید جهان» نوم می پر ی ایښی دی.

دغه مطلب اروا ښاد شیر محمد خان ګنداپور په خپلو لفظو نو کی داسی راغلی دی :

«این احقر قبل از ین بچنـدسال یك رسا لهٔ مختصر مو سو م به ګلشن افغا نستان محتوی برذکرمجمل حال نسب وتوار یخ طا یفـهٔ افغان تصنیف نموده . . .خوا ستم که آنرا لبا س طبع پو شا نم‌درین اثنا ناګاه پندت من پهول صا حب‌میر منشی ګور نمنتی بر ای‌ملاحظه طلب نمود و مستر ګر یفن صاحب بهادر سکر تری ګور نمنتی آنـرا ملا حظه فرمود وبعد از آن پنـدت‌صا حب مو صوف آنرا حوا لهٔ محمد حیات خا نصاحب که آن‌وقت‌اکسترااسیستنت محکمه بنون ودو ست جا نی و محرم راز آشکار و نها نی اوبود نموده ، محمد حیات خـا ن صاحب که از مد ت متقاضی ایـن رساله بود آنرا بقبضه‌خود آو رده، به تصنیف کتاب توار یخ وانسـاب‌افغنه بنام خو دهردا خته موسوم به حیات افغا نی ګردا نید و بـه منظور ګور نمنټ پنجاب مطبـوع سا خته با ضلاع مما لـك پنجاب فر ستاد ور سا لهٔ مؤ لـف در لاهور معدوم وغا یب ګشت ...هر ګاه انا مل بی حاصل بمقتضـای عادت جبلی میل مینمود ، ایـن‌در مکنون را که در بحر خا طـر مخز ون بو ددر رشته بیان‌کشد ، غواص قلم از قبول این صو ر ت ابا فر موده بز بان حال مضمون این‌مقال . بګو ش هو ش میر سا نیـد،

(۳) پندت من پهول هغه څو ك‌دی چی دمحمدحسین آزاد په‌ملګری دافغا نستان له لاری بخا را اودماوراء النهر او نور و ښارو ته‌ولاړی اود ایسټ اند یا کمپنی له پاره یی‌دما وراء النهر سیا سی ، اجتما عی او جغرا فیا یی معلو مات را غوندکړل . پندت من پهول په سمرقند کی دهندو زر ګر په جا مه کـی‌څو شپی تیری کړی دی ، سمر قند او تا شکند دغه وخت درو سا نـو په لاس کی وو.

که عمری مخد رات ضمیررا بخون جگر پرو رد م ومدتی ریا ض آما ل را بآب دیده در بر آوردم و قبل از آنکه دیده ستم کشیده از دیدار آن بتان گلشن عذ ار تمتعی بیندودل محنت کشیده از آن بسا تین حسرت آئین بدست آرزو میوه‌م‌ا دچیند آن گلشن بصر صربر بادی رفت اکنون به چه امیدز بان سخن گذاری توان کشود، و به کدام امید زنگ حزن و ملال از آیئنه خاطر توان زدودلاکن برخوردار راحت جان عطاء الله محمد حیات خان صا حب نا ظم بهاو لپور چو ن هموار ه مستد عی آن ما ندند که احقر بهر حال یک رسا له دیگر در ین باب تاء لیف

نما یید و دست رد بر سینه التماس آن عز یز مشکلی گر ان بود بنابر قطع نظر از عدم استعداد وهیچمدا نی خود کرده رسا له هذا را متکفل بر بیان احوال حسبو نسب و توا ریخ افغا نان ورد و جو اب اعتراضات و مطا عن طاعنان نسب و حسب این گروه با نضما م نبذی از احوال آفر ینش عا لم وآدم و افراد شر یفه بنی آدم تاء لیف نمودم . » (٤)

توا ریخ خور شید جهان لکه چی په مقدمه کی یی ویل سوی د ی دحیات افغا نی تر چاپ او خپر یدلو وروسته کښل شوی دی ، او بنا ـ غلی مؤ لف یی زیار ایستلی دی حیا ت افغانی هغه ایراد ونه رد کړی چی دپښتنو دنسب په باب یی کړی دی (٥) ، دتوا ریخ خور شید جهان دمؤلف خیال دحیات افغا نی د تردید وړی خبری داد ی :

(١) ــ دیهود اا و بنیا مین له و لادی څخه هیچا تر بیت المقدس دبا ندی نورو سیمو ته هجر ت نه دی کړی (٦)

(٢) برخیا او ارمیا دطا لو ت (١٠٩٢ـ١٠٥٦ق.م) زامن نه وو.(٧)
(٣) دسلیما ن (کیسی) په غره کی د اوسید لو په سبب عر ب پښتنو ته سلیما نی وایی. (٨)

(٤) دکیس (عبد الرشید) او ملک طالوت تر منځ د (٣٧) اوودیر شو پښتو کړی دیو زرو شپږ سووکالو له پاره کمه ده. (٩)

---

(٤) وګ. دتوار یخ خور اشیدجها ن مقد مه ٢ـ٣مخونه
(٥) وګ. دتواریخ خور شیدجهان مقد مه ٥١ـ٥٢ ـ٥٣ـ٥٥ـ ١٧٨ ـ ٢٠٥ مخونه .
(٦) وګ. حیا ت افغا نی اردومتن ٩٧ ـ١١١ مخونه .
(٧) وګ. حیا ت افغانی اردو متن ١٠٤ مخ (په حیات افغا نی کی د برخیانو م ارخیا کښلی دی .)
(٨) وګ. حیات افغا نی اردومتن ١١١ مخ .
(٩) وګ. حیا ت افغانی اردو متن ١٠٦ مخ .

be

(٥) ستر یانی، مشوا نی، هئی اووردگ چی د حضر ت سید محمـــد گیسو دراز (٧٢٥ ﻫ .ق مړ) او لاده بلل سویده له عقل او عادته لیر ی دعوه ده .

خو زما په خیال دتواریخ خور شید جها ن دمولف تردید ی استدلا ل کی ددرایت برخه اړه ده او هغه کسا ن نسی قانع کولای چی د نقل (١٠) او روایت منلو ته په پتهو ستر گــو غاړه نه ږدی .

بل پښتانه مور خ اروا ښاد عبــدالحکیم خان لودی هم پخپل کتــا ب

کـــــــی د حیا ت افغا نی د هغوخبـــر و ر د ته لیکـــی را غښتی د ی چـــــی د پښتنو پـــه سب پوری اړه لر ی عبدالحکیم خان دحیا ت افغا نی دډغو دوو ایرا دونو درد ز بار ایستی دی :

(١) ملك طالو ت دبنیا مین لـــه اولادی څخه و ، دیهود اله اولا دی څخه نه و.

(٢) ارخیا او ارمیاد طالو ت زامـــن نه وو .

مگر د اروا ښاد عبدا لحکیم خــان لیلو نه هم ددرایت قو ت نـــه لری ، او د پښتنو داسرا ییلیت په ثابتو لو کی کو مك نشی کولای .

دا وه دحیا ت افغانی اوتوا ریخ خور شید جها ن لانجه ، او س بــه راسو پخپله دحیا ت افغا نی او دهغه پښتو تر جمی ته .

دحیا ت افغانی او دهغه مو لف پښتو ژباړو نکی (ښاغلی فر ها د ظریفی او عبداللطیف طا لــــبی)په تفصیل ږغیدلی دی او هـــــر اړخیزه خبر ی یی پر کړی دی، خوزما سره چی دمؤلف په با ب څــه زیا ت معلوما ت وو هغه به کــه خدای کول په تعلیقاتو کی دمؤ لــف دزیاتی پیژ ندگلوی تر عـــنوا ن لا ندی ولیکم دحیات افغانی څه کمــ کیچو نه او ځینی تیرو تنی چـــیهغه می تر خپله وسه په لمن لیکو نو کــــی سپړ لی ا و صحــــی کړی دی ، او ځینو چی زیــــا ت تفصیل غو ښت دهغو څیړ نـــه دتعلیقاتوپه برخه کی راغلی ده ، دلته به اوس پر ځینو هغـــــوعمو میاتو وږ غیږم چی پر هغــــو باند ی ښاغلو ژباړ و نکو بحث څه نیمگړ ي غوند ی دی، او هغـــه داد ی...

(١)

حیا ت افغا نی دپښتنو په با ب دمعلو ما تو یوه غنی مجمو عـــه ده چی ښاغلی مؤلف په څلـــورو ټکلونو کی دهغه په لیکلو بر یا لی

(١٠) وگ. حیا ت افغانی اردومتن ٤٢٧ مخ .

64

شوی دی ، هغه شاغلی چې غواړ ی دپښتنو د پښت پو هنـــــــــی
Genelogy) په بـــا ب پلټنه یا څیړنه وکړی په حیـــا ت
افغانی کی ډیر څه مو ندلا ی شی په تیره بیا د منځنی پښتو نستا ن
داو سیدونکو پښتنو دنژاد ی خپلوی (Ethnjck Kinship) یامخالفتو نو
(تور گو ند یو ، سپین گو ند یو)تا ریخی پیښنو ، ادار ی تشکیلا تـو
حقوقی او جزا یی تعا ملا تـــو(نرخو نو) او دود دستور په بـا ب
خورا دقیق او مفصل معلو مـــا ت اغونډ شوی دی ، سر بیره پردی
ددغی سیمی د جغرا فیی د طا لـــب العلما نو له پاره هم په حیـــا ت
افغا نی کی ډیر څه ستته ، د افغـــانستا ن د نا پښتنو قا مو نو پـــه
باب هم په دغه کتا ب کی هغـــه معلوما ت راغلی دی چی دد غـــی
رشتی د محقیقینو په دردخو ر ی .زما په خیال دپښتو لغا تو نـــو
او اصطلا حاتو ټولو و نکی هم ددی کتا ب له فیضه بی بر خی نـــه
پا تیږی ، په دی کتاب کی د ځینـو پښتو لغتو نو هغه اصطلا حـــی
او محیطی معناو ی خو ندی ســـوی دی چی په پښتو فر هنگو نو کـــی
دهغو څرك نشو مولا ندی ، لکه :

ویا ستته (بیا ستته) : ۱۷×۸و نیم گزه پټی یامځکه (۱۱)
څار با نی (څار بون) : دیده بان ، متر صد
څار با نی : دیده با نی ، تر صد (۱۲)
ټپه : دمدعی علیه هغه نازو کړی لورچی ورکړ ه یی مدعی ته منلی
شوی وی (۹۳)
تړاك (تاړاك) : هغه غدی د ه چی تر سلو تنو زیا ت پکښی گډون
ولری.

ډډی : حصه (۱٤)
کنډکی : دحصی څلور مه (۱۵)
کهیاړ : دسر ی او سپینی لو ړه قسم)
توده : دا پشیدلو سرو او بـــو لوړه (۱٦)
او داسی نور ...

---

(۱۱) وگ. دحیا ت افغا نی اردومتن ٤۰٦ مخ
(۱۲) وگ. دحیا ت افغا نی اردومتن ۳۷٦ مخ
(۱۳) وگ. دحیا ت افغا نی اردومتن ۳۵۹ مخ
(۱٤) وگ. دحیا ت افغا نی اردومتن ۳٦٦-۳۷۷ مخو نه
(۱۵) وگ . دحیا ت افغا نی اردومتن ۳۷۷ مخ
(۱٦) وگ. دحیا ت افغا نی اردومتن ۳٦٤ مخ

Ca

د حیات افغانی ښاغلی مؤلـــف پیښو نیتی زیاتره په عیســو ی سنه ښوولی دی (١٧) کله کله یې دعیسو ی سنی په څنګ کی هجر ی سنه هم راوړ ی ده ،(١٨) اوکله یې یواځی هجر ی سنی راوړ ی د ی ، (١٩) دغه هجر ی سنی ټولی قمری دی ، شمسی هجر ی نسته .

په حیا ت افغانی کی کله کلــه په بکر می (بکرما جیتی) سنـــه (سمت) هم دځینو پیښو نیتـــی ښودلی سوی دی ، (٢٠) بکر مـــی یا بکر ما جیتی سنه په افغانستان کی باب نه ده ، دغه سنه تـــر عیسوی سنی اووه پنځوس کا لـــه مشره ده ، دد ی سنی مبداداو جین دپا چا مها راجا بکر ما جیـــــت (Vik'ama Ad'y'a) هغـــه بری دی چی پرسا کانو یی ومو نده داسو به مهارا جا بکر ما جیـــت

---

(١٧) وګ. دحیا ت افغانی اردومتن ٩ـ ٤١ ـ٤٢ ـ٤٣ ـ٤٤ ـ٤٨ـ ٤٩ ـ٥٥ـ ٥٦ـ ٥٧ـ ٦٢ـ ٦٧ـ١٤٢ـ ١٤٦ـ ١٨٧ـ ١٨٨ـ ٢٦٧ـ ٣٩٥ـ ٦١٥ـ ٦١٦ـ ٦٣٣ـ ٦٣٤ـ...مخونه .

(١٨) وګ. دحیا ت افغا نی اردومتن ٤١ـ ٤٢ـ ٤٤ـ ٤٥ـ ٤٦ ... مخونه .

په دغو مطابقو کی ځینی تیروتنی هم ستهٔ لکه : په ٤١ مخ کـــی د ٢٧٩ هـ ق کال برابره عیسو ی سنه ٩٢ چاپ سویده اته ســـوه یی پاته دی دغه راز په ٤٢ مخ کی ٣٥١ هـ ق کال له ٩٦١ عیســـوی سنی سره برابـــر ښودل سو ی دی، صحی به یـــی ٩٦٢ وی ځکـــه چـــی د ٣٥١ هـ ق کال لو مړی ور ځ د٩٦٢ عیسو ی کال ددو همی میا شتی (فبروری) له نهمی سره برابره ده.

(١٩) وګ. حیا ت افغا نی د اردو متن ٤٠ـ ٤٥ـ ٤٧ـ ٥١ـ ١٨٣ ... مخونه .

(٢٠) وګ : دحیا ت افغا نـــی اردو متن ٨ـ ١٤١ـ ١٤٢ـ ٢٩٨ـ ٥٠٧ـ ٥١٤ـ ٥٢٠ـ ٥٢٣ـ ٥٨١ـ ٥٨٣ـ ٥٩٥ـ ٦٠٣ـ ٦١٥ـ ٦٣١ ـ ٦٩٢ مخـــو نه .

ch

و

ته په ۵۷ ق.م په لاس ورغله .(۲۱)

له دغه مبدا څخه را پیل سو ی سنه « سننند بکر می» بو لی ا و په حیات افغا نی کی را غلی ډېر لی بکر می سنی سننند بکر مـی دی ، انند بکر می سنه تر سننند بکر می‌سنی یوسل و پنځه دیر ش کا له کشره ده ، انند بکر می سنـــــه دشا کاسنی په نا مه شهرت لر ی او دسالباهن دسنی په نا مه هـم‌یاده سوی ده ، دحیا ت افغا نـــی مؤلف کله کله له سننند بکر می‌سنو سره دهند و ستانی تقو یم میاشتی هم راوړی دی لکه :

۲۲ ما گه سمت ۱۶۱۹ (دحیا ت‌افغانی اردو متن ۸ مخ)

بماه پوه ومانگه انکسا (دحیا ت‌افغانی اردو متن ۵۱٤ مخ)

ماه مگهر سمت ۱۸۸۰ (دحیا ت‌افغانی اردو متن ۵۸۳ مخ)

ماه اسو ج سمت ۱۸۸۵ (دحیا ت افغانی اردو من ۵۹۵ مخ)

---

(۲۱) په طبقا ت ناصر ی کی‌چی‌دسلطا ن شمس الد ین التمـــش (٦۰۷ ـ ٦۳۳ هـ . ق) لښکر کشـی‌او سو بی راغلی دی په هغو کـی یو ځای داسی کښلی دی :

«تمثا ل بکر ما جیت را کــــه پادشاه اجین نگری بوده است ا ز عهد او تا بد ینو قت (یعنی ٦۳۱ هـ. ق)یکهزارو دو بست سال است وتوار یخ هند وان از عهد او مــــی‌نویسند و چند تمثا ل دیگر که از برنج ریخته بودند با سنگ مهاکال‌به حضرت دهــلی آو ردد. » وگ ۵۲۵/۱ مخ دلو ی استاد علا مــــه حبیبی چاپ کړی نسخه دبکر ما ـ جیتی سنی کلو نو ته په‌حا شیــه کی داسی کښلی دی :

«کذا فی الا صل ، متن مطبـو ع۱۳۱٦ سال حاشیه مطـبو ع ۱۲۰۰ ـ راوړتی ۱۳۱٦ و در بعضی نســـخ۱۲۰۰ » په ٦۳۱ هـ ـ ق کال‌بکر ما جیتی سنه نه ۱۲۰۰ وه نه ۱۳۱٦ـ٦۳۱ هـ ـ ق کال لـــه ۱۲۳٤/۳۳ عیسو ی کلونو سره برابر دی او وه‌پنځوس چی په دغو عیسوی سنـــو زیا ت کړو ۲۹۱/۹۰ بکر می سنی‌لاس ته راځی (؟)

بماه چیت یا بیسا کھ
ماه هاړ مین
ماه مکهر اورعموماً پوه‌مین | (د حیات افغانی اردو متن ۵۱۵ مخ) (۲۲)

ماه ساو ن مین

اور ماه کاتك مین
ماه پها گن مین | (دحیا ت افغانی اردو متن ۵۲۵ مخ) (۲۳)

په افغا نستان کی بی لـــــه‌هغو پښتنو څخه چی د پښتو نخوا په ختیځ بر ید (سرحد) کی میشته‌دی دنورو سیمو خلك دغه میا شتی نه پیژ نی ، که دحیا ت افغا نـــی‌ځینی درانه لوستو نکی وغوا ړ ی له خپل مرو ج تقو یم سره ددغـــوهندو ستانیو میاشتو په مطا بقـــه پوه سی نو لا ند ینی جـــدول دی‌وگوری :

۲۲-۲۳- دا دکښت او کر بحث‌دی سني وز سره نشته .

شمیره	دهند وستانی تقویم دمیاشتو نومونه	پیل یی: هجری شمسی	پیل یی: عیسوی	
۱	چیت (چیتر)	۲۰ حوت	۲۰ مارچ	
۲	ویساکه (بیساکه) «۲٤»	۲۰ حمل	۲٤ اپریل	
۳	جیتهه	۲۰ ثور	۱۰ می	
٤	اساړه (اساړ)	۲۵ جوزا	۱۰ جون	
۵	ساون	۲٦ سرطان	۱۷ جولای	
٦	بهادون (بها درو)	۲۰ اسد	۱۷ اگست	
۷	اسوج (اسو) «۲۵»	۲۵ سنبله	۱۷ سپتمبر	ددغی میاشتی بل نوم کولا دی
۸	کاتك (کتك)	۲۰ میزان	۱۸ـ اکتوبر	
۹	مکهر (اگهن)	۲٦ عقرب	۱۸ نومبر	
۱۰	پوس (پوه)	۲٤ قوس	۱٦ دسمبر	
۱۱	ماکه (ماکهه)	۲٤ جدی	۱٤ جنوری	
۱۲	پهاگن «۲٦»	۲۵ دلو «۲۷»	۱۳ فبروری	«۲۸»

۲٤ـ دکونړ پښتانه د اور بنت اوزرعی حاصلا تو په باب وایی
چیتر چی ورندی شی په پتوکی نه ځاییږی .
و یسا که چی ورندی شی په تړا تو کی نه ځا ئیږی

پاتی په «ی» مخ کی

په حیات افغانی کی د څو دولوسنو کارو ل لو ستونکو ته شه ستونزی ور پیښوی ، په تیره بیاکه په یوه مبحث کی څو دو له سنی -بی تقویمی مطابقی را ورلسی سی؛ دغه ستونز ی لاپسی ډیروی د. مثال له پا ره په دغه کتاب کی افغا نسدان دغز نوی پاچا هـی سنو ته څیر کیږو دلته د غـازی سلطا ن محمود رحمة الله علیه دتخت نشینی اود سلطان مودودمر گ کلو نه په هجری او عیسوی دواړو سنو لیکلی دی د سلطـان محمو د غا زی ، لو مړی سلطان مسعود ، سلطان ابرا هیم اوسلطان بهرا مشاه دمر گ سنی هم،یوازی عیسوی دی ، او سلطان ابوالحسن علی دتخت نشینی اوسلطان فر خزاد دمرگ کلو نه یوا زی په هجری سنو لیکلی دی .(۳۰) او س نو دحیات افغا نی هغو لو ستو نکوچی غوا ړی دغز نوی کورنی دټولو پا چا ها نو د پاچا هیو مو دی ځان ته معلو می کړی لاز مه ده دد غو

د «ط» مخ پاتی

۲۵ـ دکونړ پښتانه دتو د و خی دډیر ښت په باب وایی

اسو ودی سوو

۲۶ـ ددغو میا شتو نومو نه پـه رشید البیا ن کی را غلی دی.(وگ. دسا یه اصلی بحث دما پښتـنـدلمانځه دوخت په باب کی)

۲۷ـ په هجر ی شمسی کا ل کی دمیا شتو دور څو شمـیره دد ی قاعدی له مخی ده :

لا ـ لا ـ لب لا ـ لا ـ لا ـ لل ـ کط ـ کط ـ لل

په اوسنی تقو یم کی چی «لب» په لا او بنتی دی او دکط ـ کط پر ځای لل ـ ل ـ کط راځی دمطا بقـی تاکلی ورځی یوه ورځ یا کله دو ی ورځی تفاو ت پیدا کوی .

۲۸ـ په کبیسه کالونو کی یـوه ورځ تیره و بیره راځی تقو یمی محاسب باید د دریو سره سنـوکبیسه کلو نه په پام کی ولری .

(۲۹) و گ . دحیا ت افغـا نـی اردومتن ۴۴ ـ ۴۶ مخو نه

(۳۰) و گ . دحیات افغا نی اردو متن۴۲ـ ۴۳ـ ۴۷ـ ۴۸ـ ۴۹ مخو نـه

24

سنو تر منځ دمطا بقی په قا عده وپو هیږی دقمر ی ،هجری اوعیسوی
سنو تر منځ دمطا بقـــی یوه سا ده قا عده دا ده.

له معلو می هجری سنی څخــــه دمعاد لی عیسوی سنی پیدا کول

معلو مه هجـــری سنــــه × ۳۳ =حاصل + ۶۲۱ = مطلو به عیسوی سنه

۳۴

له معلو می عیسوی ۳۴ سنی څخه دمعادلی هجر ی قمر ی سنی پیـدا کو ل.

معلو مه عیسوی سنه ـ ۶۲۱ =حاصل × ۳۴ مطلو به هجری قمری سنه

۳۳

البته پدکال سر او پا ی دیوه کال فرق کوی.

په حیات افغا نی کی دځو دو لو سنو دګډو لو بل مثال دمهان سنګه تر عنو ان لاندی مبحث دی ، چــی داردو متن په ۶۱۵ ـ۶۱۶ مخـو نه ی را غلی دی . په محبث کی پــرمیان والی با ندی دمهان سنګـــه دقبضی کال ۱۸۳۵ بکرمی او پـــر غه سیمه با ندی دپر نګیا نـــو دقبضی کال ۱۸۴۹ عیسوی اودمالیه ګذار ی کال یی ۱۶۲۰ بکر مـــی لیکلی دی ، که چا ته دا نـــه وی معلومه چی بکرمی سنه تر عیسو ی سنی او وه پنځوس کا له مشر ه ،نو د ۱۸۳۵ بکر می سنه لـــه ۱۷۷۸ ع او ۱۹۲۰ بکر می سنه لـــه ۱۸۶۳ عیسوی سره نه شی برابره ولای.

۳

دحیات افغا نی مؤ لف چی دکتاب په جغرا فیا یی برخه کی تر بحث لاندی ولا یتو نو پو ری تړ لی ځایو نه ښیی ، سیمی او کلی ګډ لیکـــی او دا زحمت یی نه دی منلی چـــی سیمی جلا ولیکی او کلی جلا (۳۱) رحمان با با ښه ویلی دی :

دهر چا حر مت پخپله اندازه دی
نه چی هر ښهر ډیلی دی یالا هور

(۳۱) و ګ. دحیات افغا نی اردو متن ۲۴ ـ۲۵ ـ مخو نه

دمثال له پاره دکا بل په قصبوکی وکو ری چی پشد ، جلال آباداو چار یکار له ده بو ری ، دهمز نک‌او گذر گاه سره په یوه ردیف کی راوړل سوی دی ، موږ پوهیږوچی پشد ، جلال آباد او چار یکار دو مره پرا خی او لو یی سیمی دی‌چی اوس هریو د بیل‌بیل‌ولایت‌حیثیت لری، پشد دکو نړ، جلال آباددننگر ها راو چار یکار دپروان دولایت په‌نامه بیل بیل اداری‌تشکیلات مو ندلی دی ، او ده بوری او دهمز نک دگذر گاه دکا بل په‌ښار داسی کډه سوی دی چی تریوی یوی محلی زیات حیثیت نه لری .

دغه راز دکند هار په مشهور وقصبو کی کلات (غلزا یی)، گرشك او فراه له ده خواجه ، ده ما سو س ، ذاکر او مزری سره په یوه لړ کی راغلی دی ، مگر او س کلات ، گرشك او فراه بیل بیل ولایتونه دی ، کلات د زابل ،گر شك‌دهلمند او فراه په خپله نا مه یادیږی او دده‌خو جی کلی دکندهارپنځمه ناحیه ده.

سر بیره پر دی دغه یادی‌سوی‌سیمی یا کلی دمو قعیت له مخی‌هم یو منطقی تر تیب نه لری مثلاً په کند هار کی با ولی دده خوا جی او ده ما سو س تر منځ ـ سر ده‌دسپیروان او پا شمول تر منځ او مزره د کرزاو ذاکرتر منځ لیکل‌سوی ده ، موږ ته معلو مه ده چی با باولی ، مزره او سرده دری سره‌دښنه او سمسور ار غنداو دری کلی دی او دمو قعیت له مخی بایدپله پسی را غلی وای.

(٤)

« دکرو بستان » دودچی دحیات‌افغا نی داردو متن په ٤٦٢ مخ کی را غلی دی ښا غلو پښتو ژباړونکوهغه نه دی تر جمه کړی او پټه خو له تری تیر شوی دی ، دغوښاغلو ته به ښا یی ددی میلمه پالنی عنعنی تر جمه بده ښکار یدله ،کشکی دوی ته دامعلومه وا ی چی دهندو ستان تار یخ لیکو نکی په‌وازه خو له دا وایی : یو وخت په هندو ستان کی داباب و چی یوی‌ښځی به څو میړو نه لرل په عر بی دغو کړوته کثرت‌البعول وایی اوانگریزان دغسی ښځه (Polyandrous) بولی او دا هم بده‌نه ور تـه ایسی چی ووا یی دمیړه کشرا نو ورو نو به په ور یندار ی کی‌جنسی برخه در لوده یا دا چی دمها بها ر ت

db

دجنگ قهرمان ارجن خپله ماینه «دروپدی» په قمار کی بایللی وه. (۳۲)

دغه راز دمغولو تاریخ لیکونکی داهم نه پټوی چی په مغولانو کی دمیری دمایني کولو دود باب ورشید الدین فضل الله همدانی (۷۱۸ هـ.ق مړ) په جامع التواریخ (۱ ر ۳٤٤ مخ) کی لیکلی دی!

«مقدم ایشان دختری را آورده بدو.داد و چنگیز خان آنرا پسند یده و عظیم دوست داشته.

نام او موکای خاتون بود چنگیزخان ازو هیچ فرزند نداشته ...

بعد از وفات چنگیز خان این خاتون را (فرزند وی) او کتای قاآن ستده واز دیگر خواتین دوستر داشته (پسر دیگر چنگیز خان) چغتای نیز موکای خاتون را دوست داشته و پیش از آنکه که او را معلوم شد که او کتای قاآن ستده، پیغام فرستاد که از مادران وپاریکانان پدر این موکای خاتون را بمن دهید، او کتای قاآن جواب داد که او رامن ستدم اگر پیشتر پیغام میرسید می فرستادم. ...

وقاآن نیز ازین خاتون (موکای) فرزند نداشت.» ۳۳

دغه راز مغولی مورخین په دی ویاړی چی چنگیز خان ته «الن قوا» ووایی یعنی هغه ښوک یی وبولی چی ستر نیکه یی له پیغلی بی میړه کوندی ښځه زیږیدلی دی (۳٤)

ایرانی تاریخ لیکونکی هم ددی حقیقت له ویلو ښخه هیڅ ډډه نه کوی چی ایرانیانو له خپلو خوندو او خپلو لورو سره واده کاوه دابو-القاسم فردوسی طوسی (٤۱۰ یا٤۱٦ هـ.ق مړ) په قول همای چهرزاد له خپل پلار بهمن اردشیر ښخه بارداره شوی وه، اودارا ب ځینی وزیږیده (۳۵) دغه کیسه دایران اساطیری مورخ ابو القاسم

---

(۳۲) وگ : تمدن هند ۱۱۰مخ

(۳۳) چنگیز پخپل ژوند (٦۲۱هـ.ق کال)اوکتای قاآن ته دمنگولیا واك وسپاره او چغتای دپلار (ترمرگ وروسته د ماورا النهراو خوارزم واکمن سو، چغتای دچنگیز دوهم او او کتای قاآن یی دریم زوی و

(۳٤) وگ .جامع التواریخ ۱ ر۳۵٦ مخ

(۳۵) ددغه داراب زوی دریم دارادی چی په ۳۳۰ ق. م کال له مقدونی سکندر (۳۳٦ - ۳۲۳ق.م)سره په جنگ کی ووازه سو.

فردوسی په شهنامه کی داسی‌راوړی ده.

چو بهمن به تخت نیا بر نشست
کمر بر میان بست و بکشاد دست
. . .
پسر بود مرا ورا یکی همچو شیر
که ساسان همی خواندی اردشیر
یکی دخترش بود نامش همای
هنرمند و با دانش و پاک رای
همی خواندندی ورا چهرزاد
ز گیتی بدیدار او بود شاد
پدر در پذیرفتش از نیکویی
بدان دین که خوانی ورا پهلوی
همای دل افروز تابنده ماه
چنان بد که آبستنی آمد ز شاه
....
چو هنگام زادنش آمد فراز
ز شهر و ز لشکر همی داشت راز
.....
سیم روز دا راب کردندش نام
کز آب روان یافتندش کنام

«وګ» ـ د بهمن اسفندیار همای چهرزاد قصه

دغه راز ابو القاسم فردوسی وایی: دایران د پاچا کیکاوس زوی سیاوش دسودابی لور چی‌ده خور کیدله دخپلی ما له ینی په تو که غوره کړ له ددی کیسی لنډیز هم پخپله دنامتو شاعر ابو القاسم فردوسی له خولی‌راوړو.

سپهبد سیاوش را خواست وگفت: (۳٦)
«که خون ورگ و مهر نتوان نهفت

---

(۳٦) له سپهبدخخه مراد کیکاوس دی.

یـد

پس پردهٔ من ترا خواهر است
چو سودابه خود مهربان‌مادر است(۳۷)
ترا پاك یزدان چنان آفرید
که مهر آورد بر تو هر کت بدید
بویژه که پیوسته خون بود
چو از دور بیند ترا چون بود ؟
پس پرده پوشیدگان را ببین
زمانی بمان تا کنند آفرین
سیاوش چو بشنید گفتار شاه
همی کرد خیره بدو در نگاه

. . .

سیاوش چنین گفت کز بامداد
بیایم کنم هرچه او کرد یاد

. . .

چو پرداخته شد هیربدرا بخواند
سخن های شایسته چندی براند
سیاوش را گفت : با او برو
بیارای دل را بدیدار نو
برفتند هر دو بیك جا بهم
روان شادمان وتهی دل زغم

. . .

سیاوش چو از پیش پرده برفت
فرود آمد از تخت سودابه تفت

. . .

بر و خواهران آفرین خواندند
بکرسی زرینش بنشاندند
بر خواهران بدزمانی دراز
خرامان بیامد سوی تخت باز

. . .

چو شب گشت پید او شد روزگار
شد اندر شبستان شه نامدار

---

(۳۷) سودابه دسیاوش‌میرده. پر سیاوش یی زره با یللی‌و دیر زیار یی ویوست چی سیاوش‌خپلی مینی ته وپا روی.

پژوهنده سودابه را شاه گفت
که این رازت از من نباید نهفت

......

بدو گفت سودابه گر گفت من
پذیره شود رای او (۳۸) جفت من
هم از تخم خویشش یکی زن دهم
نه از نامداران برازن دهم
مرا دختر انند مانند تو
ز تخم تو و پاك پیوند تو
سیاوش از آن پس به سودابه گفت
که اندر جهان خود ترا نیست جفت
کنون دخترت بس که باشد مرا
نباشد بجز او که باشد مرا
بدین باش با شاه ایران بگوی
نگه کن که یابی چه پاسخ از وی

......

چو کاوس کی در شبستان رسید
نگه کرد سودابه او را بدید
بر شاه شد زان سخن مژده داد
ز کار سیاوش بسی کرد یاد
که آمد نگه کرد ایوان همه
بتان سیه چشم کردم رمه
جز از دخترمن پسندش نبود
ز خوبان کسی ارجمندش نبود
چنان شاد شد زین سخن شهریار
که ماه آمدش گفتی اندر کنار

رک: د سیاوش قصه

---

(۳۸) * د «او» ضمیر سودابې ته راجع دی.

په ایران نامه کې لیکلي‌دي :

دکور وش کبیر زوی کمبو چیا(٥٢٩ – ٥٢٢ق.م) ، دوهم داریوش (٤٢٤ – ٤٠٤ – ق .م) او در یـم‌اردشیر (٣٦٠ – ٣٣٨ ق.م)هغـه ایرا نی پا چهان دي چې خپلې خوندې یې ماند ینې کړې‌د ی (٣٩) دیو نانیانو په تار یخو نو کی لیکلي دي:دو هم‌ارد شیر (٤٠٤– ٣٦٠ ق.م) لـه خپلې لور سره واده کړی و.

یو نانی مور خین هم دانه پټوي‌چې په دې کی له خپلې میر ی‌سره مړو ښې باب وه، دوی په رده‌لیکلي‌دي :

دسلو کس نیکا تور (٣١٢ – (٢٨١ ق.م)یوه ما ندینه دمقد و نی دیمتـــــــر یو س‌لوروه، سلـو کس‌زوی انتی خوس (٢٨١ –٢٦٢) پر خپلې دغې‌میرې مین سو،سلوکس‌نیکا تور چې دده په مین توب‌خبـر سود دیمتریو س لور یې دخپل‌زوی‌انتی خوس حرم سرای ته ولیږ له اودې ته یې ونه کتل چې دغه ښځه له ده څخه پخپله پرا لبه ده

دحیات افغا نی دښا غلو پښتـوژباړو نکو دغه حذف او پرده پوشي واقعیت نسی پټو لای‌ددغه دو دیادونه (Mount Stwart Alphinston)

پخپل مشهور کتاب (An account of the Kingdom of Kobul) کې کړ یده دحیات افغا نی په اردومتن اودهغه په انگر یزی تر جمه کی چې (The history of the Afghanistan) نو میږی هم ددغه دودبیان راغلـی دی (٤٠)

په هر صو رت په پای کی زه‌دالاز مه بولم چې دحیات افغا نـــــی

---

(٣٩) ددریم ارد شیر خور «اتو سه»او ددو هـــــم دار یو ش خـــو ر «پر یدا تس » نو میدله .

(٤٠) دغه انگر یزی‌ترجمه (Henry Prestly) کړی او په ١٨٧٤ ع کال په لاهور کی چاپ سوی‌ده.

ea

پښتو ژباړو نکو ښا غلو فرهادظر یفی او عبد اللطیف طا لبی ته مبارکی وو ایم او دپښتو او پښتنو دخدمت زیات تو فیق ور لره و غوا ړم. دغه راز دسر حداتو وزارت ته هم دستاینې وړ بو لـم چې دغه دمعلو ما تـــو خزانه یې پښتنو ته ددوی پخپلـه ژبه ورا ندې کړ له.

۱۱ جدی ۱۳٦۸

خیرخانه ـ کا بل

اکا دیمیسین پوها ند رشاد

دژباړونکي سریزه

په دغه سریزه کی تر نورو خبرو دمخه غواړم دکتاب دمولف محمدحیات ژوند او د هغه دنسب په باب یوڅه ووایم، ورپسی به دکتاب او دهغه ترجمی په باب څو ټکی محترمو لوستونکو ته وړاندی شی .

دمحمد حیات خان په باب ماغوښتل، ډیر معلومات راټول او هغه په مفصل ډول لوستونکو ته ورو پیژنم، خو بایدووایم چی په دغه برخه کی می د ډیر کوښښ سره سره ، زیات معلومات دوخت د کموالی له امله ترلاسه نکړای شول. دا ځکه چی یو خو کتاب دکستتنر کیدو او خت رالنډ شوی و او له بلی خوا ، هغه منابع چی ماته معلومی وی په هغو کی زیات معلومات موجود نه وو ، خو سره له دی می هم یو لړ معلومات راټول کړی ، چی گرانو لوستونکوته یی وړاندی کوم .

محمد حیات خان د محمد اکرم خان یا محمد کرم خان * زوی و، دوی د خاص واه اوسیدونکی وو، چی دغه ځای دراو لپنډیپه ضلعی پوری مربوط او حسن ابدال ته نږدی موقعیت لری . د کرم خان پلار کمال خان د هغه پلار جلال خان دجلال خان پلا رجمال خان ، دده پلار غیرت خان او د غیرت خان پلار سید احمد نو میده ۰دوی دکهتر دقوم دفیرو زال د ښاخ پوری اړه لری. ** (۱)

دغیرت خان پلار سید احمد په لومړی سرکی ډیلی ته تللی او هلته میشته شوی و ، خوده د خپلی لور د ډیر ښایست له کبله ډیره موده هلته تیره نکړای شوه ، دا ځکه چی نه هغی سره ددربا ډیوه ملازم مینه پیدا شوی وه او سیداحمد هغه ته دخپلی لورله ورکولو نه ډډه کوله ، دغه ملازم دسیداحمدزوی غیرت خان ونیوه خو سید احمدخپل وطن ته په راتښتیدو بریالی شو او دلته یی د احمد ا باد په نوم یو کلی جوړ کړ خو د (رئیسان پنجاب) کتاب په قول ددغه کلی آثار اوس نه لیدل کیږی .د سیداحمد زوی په بند کی له جهان نه سترګی پټی کړی .د هغه لمسی جمال خان هم په خپل کور کی د یولړ لا نجو په سبب له خپل کور نه وتلی او اوسنی

---

*د محمد حیات خان دپلار نوم په ځینو نسخو کی د محمد کرم خان ا و ځینو نسخوکی دمحمد اکرم خان په شکلونو راغلی دی .

**دوی وایی دکهتر قوم نیکونه له افغانستان نه دهندخواته تللی دی، دکهترقوماوسنی خلك ځانونه دقطب الدین ایبك له پښته بولی .نو موړی د سلطان شهاب الدین غوری مریی و ،چی بیایی آزاد کړ ، او دهند وستان دواکمنی په دوره کی دده نایب و ، په پای کی دغه قطب الدین د هندوستان پاچا شو او د غلا ما نو دسلسلی بانی ګڼل کیږی ، خو ددوی دا ادعاچی قطب شاه د کهترقوم نیکه دی هغه (۹) زامن لری ځکه دقناعت وړنه ده چی قطب الدین ایبك هیڅ نارینه اولادنه لاره دآدم شاه په نوم یی یو هلك په زوی توب نیولی و .اوان ، کهتر اوکهو کهر ددرو نیکه اولاده اودری واړه خپل نسب نوړی قطب شاه ته رسوی.او امکان لری ده به یوولسمه (ع) پیړی کی ژوندی کاوه او دغزنوی محمود له لښکرو سره به پنجاب ته تللی وی . دتفصیل له پاره وګورو ئی رئیسان پنجاب. مولف لیلاچ ګریفل دموتی لعل کاتهجوا اردو ژباړه ۱۸۸۲ ع کال ۵۷۲ ـ ۵۷۳ مخو نه .

(۱) دمحمد حیات خان د کور نی په باب د تعلیقاتو برخه وګوری .

واه ته نږدې یې په یوه ځنګل کې دجلال سر په نوم یوکلی جوړ کړه چې دوخت په تیریدو سره اوس ددغه کلی نوم هیر شوی او واه بلل کیږي اوواه دتسمیې وجه داده چې دغه وخت چې شاهجهان باچا کابل ته روان و ، کله چې د لوړی ځل له پاره یې ددغه ځای روانی او به ، هرې خواته بښا یسته باغونه ،دنګې ونې اوګلان ولیدل نو بې اختیاره یې له خولې نه دواه کلمه ووتله او له هغې نه دغه ځای د واه په نامه بلل کیږي . شاهجهان دغه کلی ته نږدې یو سرای او یو عمارت جوړ کړ. چې ددغو ځایونو ځینې نښانې ښایي اوس هم موجودې وي .

د محمد حیات خان پلار چې کرم خان یا اکرم خان نومیده په واه کې اوسیده او یو زړور سپاهي و ، دده کور دسکهانو (سکانو) د یغاوت په وخت کې د اوتار سنګه په امر وسو زول شو او له په موده وروسته دی په خپله هم په داسې حال کې چې دغرمې له خوا په باغ کې ویده و، د خپل پخوانی دښمن فتح خان له خوا اووژل شو. د خپل پلار د مرګ په باب محمد حیات خان په خپل دغه کتاب کې لیکلي دي :

«زما پلار دسکهانو دشورش په وخت کې ددریو سوو ځوانانو په مشرۍ دده (نکلسن) همرکابه و ،او ددغه شورش په وخت کې دی دسکهانو د چل ول او فتح خان د بې رحمۍ په سبب شهید شو.»دکرم خان د مرګ په باب د (رئیسان پنجاب)او په خپله د محمد حیات خان داقوالو ترمنځ لږ څه توپیر موجود دی د(رئیسان پنجاب) دکتاب مولف عقیده لري چې دی دغرمنی خوب په وخت کې ووژل شو او محمد حیات دهغه مړینه د سکها نو سره د جګړې په وخت کې ګڼي خو سره له دې هم دوې دواړه په دغه برخه کې سره متفق الرای دي چې نوری دفتح خان په ذریعه وژل شوی دی .

دمحمد اکرم خان تر مړینې وروسته محمد حیات خان دسیاست ډګر ته راغی ، که څه هم ده دبهادر خان په نوم یو بل زوی هم لاره خو هغه دمحمد حیات خان په اندازه مشهور نه دی .

دمحمد حیات خان دمنځ ته راتلو په باب هم د(رئیسان پنجاب) دکتاب مولف او په خپله دمحمد حیات خان دوینا ترمنځ توپیر موجود دی ، د (رئیسان پنجاب) کتاب مولف لیکي چې (دمحمد اکرم خان تر مړینې وروسته محمد حیات خان په داسې حال کې چې خو تنه سپاهیان یې برتې کړي وو په ناراکۍ د کپتا ن ایبټ حضور ته ورغی دهندو ستا ن

د ۱۸۵۷ ع کال دپاخون په موده کی هغه وخت چی ایبټ دپیښور دپټی کمشنرو له محمد حیا تخان خټک سره یی وغو ښتل چی د برتنی شوواپر یدی سپاهیا نو په مشری خدمت ته ملاو تړی اوکوم وخت چی جا ن نکلسن د پنجاب د متحرکو سپاهیا نو مشری په غاړه واخیسته نو محمد حیات خان یی خپل مشیر اومر ستیال وټاکه .) په دغه برخه کی په خپله محمد حیات خان لیکلی دی (هغه وخت چی زما پلار شهید کړای شو نو زما د کورنی پر مختګ او پالنه دده (نکلسن) هیله وه . دسکها نو ترماتی وروسته زما مو روثی ملکیت او پلرنی جاگیر دنوموړی له خوا ماته را و بښل شو، خو خرنگه چی زه په هغه وخت کی ډیر کوچنی وم ، نو هغه دیوه وفادار حاکم په څیر زما پالنه په غاړه واخیسته او په دغه برخه کی یی زیاتی هڅی وکړی .) ور پسی یی لیکلی دی (کله چی په ۱۸۵۷ ع کال د پوربیه پوځ دنمکحرا می په وجه پاخون پیل شو، ده د خپل ښه تد بیر په وجه پنجاب آرام و ساته ، نو ځکه یی د یوه پوځ په مشری ډیلی ته دتګ تکل وکړ او د پخوانی اعتما د له مخی یی زه د خپلو مصا حبینو په ډله کی سر لوړی او له ځان سره یی هغی خواته بوتلم او د ۱۸۵۷ع کال ددسامبر د میاشتی په څوارلسمه یی په ډیلی باندی یرغل وکړ ..... په دغه وخت کی د توپك یوه گولی دده په چپه خواو لگیده او له ښی خوا یی راووتله ، په دغه ترځ کی ما دد پنجاب دپلټنی دلومړی رجمنټ او د گوره پوځ دلو مړی رجمنت * دځو تنو سپاهیا نو په مرسته راوایسته ...او دخپل دوران دغه بی سیاله انسا ن دخپلو خیر غوښتونکو او دوستانو په زړ ونو د غمو ددایمی جدائی داغونه پریښودل او دسپتا مبر دمیاشتی په ۲۳ نیټه یی له فانی جهان نه ستر گی پټی کړی ** په هر تر تیب کله چی محمدحیات خان دسیاست ډگر ته راووت نو له هماغی ورځی نه دانگریزانو سره په تماس کی اوجاگیر نه پرته د هغوی له خوا دولتی منصبونه هم ورکړل شوی وو، نو ځکه دده په دغی لیکنی کی هغی مینی انعکاس کړی کومه چی محمد حیا ت خان یی له انگریزانو او په تیره بیا له خپل پالو نکی جان نکلسن سره لری .

---

* درجمنټ کلمه د کنډك مفهو م لری خو کله کله د مستقلو جزوتامونو له پاره هم دغه کلمه ذکر کړی نو ځکه په خپل اصلی شکل ولیکل شوه او همدا راز ځینی نوری کلمی هم چی مونږ یی په ژبه یا تشکیلاتو کی معادل نه لرو په خپل شکل راغلی دی.

** دزیاتو تفصلاتو له پاره دهمدی کتاب دبنو ضلعی برخه وگو ری.

د (۱۸۵۷ع) کال د پاځون ترټکونو وروسته محمد حیات خان د پیښور د تحصیلدار وټاکل شو د ۱۸۶۱ ع کال دمې په میاشت کې په شاپور کې (اکسترا اسسټنټ کمشنر)وټاکل شواو ورپسې بنوته تبدیل شو. په ۱۸۷۳ کال کې ده تبه د هغو خدمتو نو په بدل کې چې د سرحدی چارو د تر سره کولو په برخه کې یې تر سره کړی وو ، دهند دستوری نښان او د اسسټنټ کمشنر وظیفه ورکړل شوه .

د۱۸۷۸ ـ ۷۹ کلونو تر منځ هغه وخت چې افغانستان له برتانوی هند سره په جنګ کې بوخت ومحمدحیات خان دپوځ سیاسي افسر و تر دغه ځایه د محمد حیات خان دژوند حالات څرګند دی او تر دغه وروسته کومه نسخه چې دده سوانح په کې راغلی وی لاس ته را نغله او هم د(رئیسان پنجاب) کتاب په داسی وخت کې لیکل شوی چې هغه وخت محمد حیات خان لا ژوندی واودغه کتاب په ۱۸۸۲ع کال کې خپور شوی دی نوځکه دده دمړینی تاریخ نه دی په کې راغلی څرنګه چې اوس ماد ده دمړینی تاریخ تر لاسه نکړنو ځکه یې پرېږدم .

داو دمحمد حیات خان لنډژوندلیك اوس به راشو دده کتاب ته نوموړی خپل دغه کتاب په دریوبرخو ، پنځو بابو نو او اتو فصلو کی تر تیب کړی .

محمد حیات خان د خپل کتاب په لومړی برخه کی د افغانستان د تسمیی وجه، حدود اربعه ددغه هیواد مختلفی سیمی، ددغو ځایو نو صنعتی، زراعتی او معد نی پیداوار، رودونه ، ژوی، صادرات او واردات، لویی کاروانی لاری او تجارت بیان کړی، ور پسی د افغانستان عام تاریخ ته راځی ، لومړی یی د افغانستان لرغو نی تاریخ څیړلی، چې دا تاریخی دوره یی د پیشدادی کورنی له واکمنی نه پیل کړی اوداسلام تر ظهوره پوری یی رسوی، دویم فصل یی داسلام مقدس دین له منځ ته راتلو نه دمولف تر دوری پور ی رسیږی ، چې په دغه وخت کې د افغانستان واکمنی دبارکزی کورنی په لاس کې وه،همدا راز په دغه برخه کی په ختیځ افغانستان باندی د سکهانو تسلط او ورپسې یی افغانستان ته د انګریزانوراتګ او د افغانانو او انګریزانو تر منځ جګړې بیان کړی دی.

بیا یی په پولوکی دمیشته یاغی قبیلو سره د چلند څرنګوالی تشریح کړی دی .

دکتا ب په دو یمه برخه کی دپښتنو او په افغانستان کی دنورو میشته قو مونو نسب نامی ذکـــرکړی، په دی تر تیب دافغان، پښتون او پټهان د کلمو د تسمیی وجهی دپښتو ژبی اساس او تاداو او ختیځ خواته دپښتنو مها جرت ،او بیا یی دقیس عبدا لرشید اولادی، چـــی مختلفی پښتنی قبیلی له هغوی نه منځ ته راغلی ، ورپسی د همد غـو قبیلو ښاخو نه او ځانګی بیان کړی دی، همدا راز ددغو ښاخو نو اوځانګو دخلکو دودو نه او دستور ونـــه ،خوراك، پوښاك، فزیکی جوړښـــت، نر خونه (قوا نین)، ددوی داستوګنی ځایو نه ، مشهور کلی، ښاورنه او نور او نور په تفصیل سره بیان کړی دی،او بیا په افغا نستان کی دمیشتـو متفر قو قو مو نو بیان ته راغلـــی دی او هغه یی په تفصیل سره څیړلی دی او د پښتنی قبیلو په څیر یـــی ددوی دودو نه او دستـــورو نـــه ، شمیر، د کورونو د جوړښت څرنګوالی،خوراك، پوښاك او نور په تفصیـــل سره بیان کړی دی .

د کتاب دریمه برخه یوازی دبنوضلعی ته وقف شوی ده، نوموړی په دغه برخه کی ددغه سیمی تاریخ،جغرا فیه ، معد نی او زراعتی پیداوار، رودونه او په دغه ضلعه کی میشته قو مو نه او ددوی تر منځ روابـــط او بیایی دهـــر یوه‌قوم او قبیلـــی‌دودونه او دستو رونه په خـــاص ډول ذکر کړی دی، همدا راز ده پـــه بنو کی ناروغی او ددغو ناروغیـــو مروجونه هم له نظر ه‌نـــــه دی‌غوز ځولی ده دلته دما لدار ی‌څر- نګوالی ته هم اشاره کـــړی ده .ددغی برخی په پای کی دبنو دحکا - مو ذکر راغلی چی له افغا نی واکمنانو نه پیل او دانګریزی حکامو پـــه سلطی باندی پای ته رسیدلی دی او بیایی په بنوکی دمعتبرو کور نیـــو دنسب شجر ی او دهغو ی نسب نامی‌ذکر کړی دی، ددغی برخی په پای کی دهغو ځایو نو ذکر راغلی چـــی تاریخی آبدی او ارکیا لو جیکی آثار پکی موجود دی اوهم یی هغوسکو او نوروآثارو باندی‌رڼاچولی‌ده‌چی‌په دغو ځایو نو کی کشف شوی دی، ددغه‌ضلعی لوی کلی، قصبی، تجارت ، صادرات او واردات ، سرکو نـــه ،محکمه او عدالت، ښوونه اوروزنه، دسرحد انتظام ، عایدات او مصرف ،سر شمیر نه، مذهب ، ژبه اوعامی میلی د کتاب وروستی برخه جوړوی. دکتاب په پای کی مو لف یوه کو - چنی خاتمه لیکلی ده ، په دغی خاتمی‌کی نوموړی د خپل کتاب د پیـــل‌او همدا راز ددغه اثر دتالیف‌د چار وپای ته رسیدلو نیتیه ذکر کړی ده.

نو موړی خپل دغه کتاب دهندویسرای لارډ ایلگن په دوره کـــی چی۱۸٦۲ ع کال وپیل کړی او دلارډ سرجان لارنس په دوره کـــی یاد ۱۸٦٥ ع کال دسپتمبر دمیاشتی په ۲۹ نیټه چی د ۱۲۸۲ هجری قمری کال دجمادی الاول دمیاشتی له اتلسمی نیټی سره سمون خوري، پای ته رسولی دی. بیا ځو تنو شاعرانـو لکه مفتی غلام سرور قریشی لاهوری او شمس الدین شمس او منشی رام ناتهـ ددغه کتاب خپریدو تاریخ دمعما په ډول په خپلو اشعارو کـــی راوستی دی، اوله هغو څخه ځرگند یږی چی ددغه اثر په ۱۲۸۲ هجری اود ۱۸٦۷ ع اوپه ۱۹۲٤ بکرما جیتی کی خپور شوی دی .

دا ود محمد حیات خان دکتاب دمحتوا تلخیص. اوس به راشو ددی کتاب دلیکلو ځرنگوا لی ته.

دغه کتاب دلیکنی له پاره د محمد حیات خان انگیزه دده په قول هغه مینه وه چی دافغانستان له ښکلی هیواد او افغان قـــوم ســـره یی لرله ،خود هغه دغه ظاهری ویناد هغی مینی له پاره چی هغه یی ددغه کتاب دتالیف له پاره وهڅاوه یـــو کافی ثبوت نه گڼل کیږی. نو ځکه باید دهغه عمل او کړه وړه هم وځیړل شی، داځکه چه له یوی خوادی دافغانستان او افغانانو سره مینه ښکاره کوی نوله بلی خواد انگریز نماینده او. هغوی له خوا رورل شوی و اوانگریزان په دغه وخت کی دافغانستان سره په یوه نااعلان شوی او دوامداره جگړه بوخت او هغوی دافغانانو له لاسه سخت گوزارونه خوړلی وو ،نوځکـــه دمحمد حیات خان دکتـــاب موضوعات باید په ډیر دقت اوغورسره مطالعه شی ،ترڅو ددغه تعمق په رڼا کی دده ربښتینی هدف ځرگندشی. له بلی خوا په همدی پیړی کی په اروپا کی او بیا په خاص. ډول په انگلستان کی یو شمیر داسی مؤرخین منځ ته راغلی ووچی دهغوی دتاریخ لیکنی هدف مستعمره جوړی اودغه پالیسی ته خدمت کول وو. په دغه برخه کی د انگلستان ډیر مشهـــور مورخ سرجان رابرت سیلـــــی (Sir Tohn Robert) نو مـــوړی او په خپل کتاب کی چی دانگریزانو د پالیسی انکشا ف (پرا ختیـــا) په نوم یی لیکلی دی په په هغه کی یی دانگریز استعماری پالیسی په ډیر غور سره

یاده کړی ده* دی دکمبرج دپـــوهنتون استاد او په دغه ځای کـی به یی انگریزی سیا ستمدا ران روزل، نو هغوی به یی ذهناً دانگـریزی سلطی پرا ختیا او مستعمرو د لاس ته راوړلو له پاره اماده کـول.

څرنگه چی محمد حیات خان هم دانگریزا نو له خوا روزل شوی او د هغوی نما ینده ونو ځکه لـــه محتر مولو ستو نکو څخه زما هیلـه داده چی هر تاریخی اثر، په تیره بیا دمحمد حیات خان کتاب په خاص غور، تعمیق او انتقادی ډول مطالعه کړی. تر څو په هغه کی د خود غرضی او د سیا ست د تابعیت ټکی ورتـــه څرگند شی.

محمد حیات دخپل کتاب دتاء لیف له له پاره له مختلفو تاریخی منابعو، مدار کواو اسنادونه گټه اخستی ده. دده اثر د تاء لیف لومړی منبـــع، کتا بونه او لیکل شوی اسناد جوړوی، چی نوموړی د خپل اثر په لومـــړی برخه کی د هغوی یا دونه هم کړی ده، او دغه آثار د ژبی په لحاظ په دریو برخو ویشل کیږی، پښتـو، دری او انگریزی، چی په دغو آثارو کی تاریخ مرصع، گلشن روح، حبیب السیر، تاریخ فرشته، طبقات اکبری، مخزن افغان، تـذ کـر ه الانساب، تذکره الا بـــرار، تذکره المشا هیر. په انگریزی ژبه دراورټی گرامر، د الفستین تاریخ او نور د یادونی وړ دی، خو په دغـو کتا بو نو کی د الفستین تاریخ چی (An account of the Kingdom of Kabul)

** نومیړی په خاص ډول دیادو نـی وړ دی او داسی ښکاری چی محمد حیات خان ځینی ټکی مستقیماً لـه دغه اثر څخه را اخستی دی.

دده د اطلاعاتو دویمه منبع دده خپلی لید نی کتنی او د افغا نستان د ډیرو خلکو او له ځینو ثقـــه اوباوری اشخا صو سره دده تـماس جوړوی.

---

*دز یاتو تفصیلا تو له پاره وگوری تاریخ در ترازو، عبدالحسین زر ین - کوب، لومړی چاپ ۱۳۵٤ هجـری لمریز کال ۱۰۳ مخ.

** دغه کتاب اوس د کابل سلطنت بیا ن په نامه په دوو ټوکو کی، لومړی ټوک یی د ښاغلی دکتور محمد حسن کاکړ او ځوان محقق ښاغلی نصرالله سوبمن له خوا ژباړل شوی او دویم ټـوک یی یوازی د دکتور محمد حسن کاکړ له خوا تر جمه او د افغا نستـــان دعلومو اکادمی د پښتو ځیړنو نړیوال مرکز له خوا خپور شوی دی.

البته ده‌دخپل کتاب په ډیروځایونوکی د غو لید نو کتنو ته اشاره کړی ده . نو موړی د خپل دغه تماس په ترڅ کی له هغو نه د افغانستان د مختلفو سیمو، په دغه سیمو کی د میشته خلکو او د هغوی ددودونو او دستورو نو په باب معلو مات ترلاسه کړی . او هم یی پخپله ددغو اشخا صو سلو کونه او کړه وړه مطالعه کړی دی اوهم ده‌یوشمیر استازی ځینو سیمو ته د معلو ماتو دراټولو لوپه منظور لیږلی دی.

دده د اثر د تاء لیف له پاره‌دریمه منبع ارکیا لو جیکی یا تاریخی آبدی دی چی د خپل کتاب په شو بر خو کی یی اشاری ورته کړی دی، په تیره بیا د بنو ضلعی په ځینو بر خو کی ده پخپله دغه ډول آبدی لیدلی او تشریح کړی یی دی اودده‌په قول ده هم په ځینو ځایو نو کی ارکیا لو جیکی پلټنی کړی او یوشمیر گانبی ، سکی او نور شیان یی تر لاسه کړی هم دی. خو ده دا دریمه منبع په محدود ډول یعنی څو ځایه یاده کړی ده .البته په هغو وختو کی د باستانی آثارو نقد او سره کول هم ډیر مشکل کارو دا ځکه په هغه وخت کی ددغه آثارو دنقدله پاره د ننني‌وساینسی‌پیچلو وسا یلو په شان وسایل اختراع شوی نه وو.

داوو هغه مدارك، اسناد او منابع‌چی محمد حیات خان د خپل کتاب د تاء لیف له پاره له هغوی نه گټه‌اخستی وه، البته دده له اثر څخه داخبره هم په ډاگه کیږی چی د ملاس ته راوړی مدارك کټ مټ نه دی را نقل کړی، بلکی دیوه پوه‌او دقیق عالم او مورخ په څیر کو- ښښ کړی دی چی دغه اسناد نقدداو تحلیل کړی . یعنی ده لومړی معلو مات را ټول او وروسته یی‌چاڼ او بیایی ددغو معلو ماتو هغه برخه چی دده په نظر ثقه ورغلی‌ده په خپل کتاب‌کی نقل کړی‌ده .

او هم یی په ځینو هغو معلو ماتو باندی چی دده په نظر گنگ ورغلی تبصری کړی دی او په دی ډول نوموړی خپل اثر ته د یوه باوری او علمی اثر بڼه ورکړی ده ، ده زیارایستلی دی چی پخپل کتاب کی هغه روایات چی منطقاء د تائید وړ اوتجر بی جهت ولری را نقل کړی ،که څه هم ددغو روایا تو په خلاف یی‌ځینی غیر واقعی روایات هم راوړی خود رواایت پای کی یی زیاته کړی‌ده چی دا یوازی یوه خبره ده. دده دا وینا ممکن زمونږ له پاره چی د علم او تخنیك په یوه پر مخ تللی جهان‌کی ژوند کوو،یوه عادی‌خبره‌وی‌داځکه چی ننني انسان دهمد غه علم‌اوفرهنگ دپر مختگ په برکت د پوهی او ذهنی قدرت خاوند دی چی

په اسانی سره کولای شی واقعیت‌له غیر واقعیت او رښتیا له درواغو څخه بیل کړی، خو د محمد حیات‌خان په وخت کی انسان لاد پوهی دغو مدارجو ته نه و رسیدلی.

دمحمد حیات‌خان دکتاب دویمه مرحله یعنی دتاء لیف او ترکیب مرحله هم علمی صبغه لری، ده اومه مواد په ښه شان سره راټول کړی او په خپل کتاب کی‌یی دعلمی‌اصولو سره سم ترکیب کړی دی، خو تر هغه څه زیات د کتاب موضوعات دتوجه او دقت‌وړ دی، او یو شمیر داسی ښیګنی په کی‌نغښتی‌دی‌چی په نورو آثارو کی چی ددغه کتاب دتاء لیف تر وخته پوری منځ ته‌راغلی وو، نه دی لیدل شوی.

لومړی ښیګڼه یی په کتاب کی‌دراغلیو موضوعاتو وسعت اوپراخوالی دی او لکه چی وړاندی وویل‌شول‌ده د تاریخی موضوعاتو په څنګ کی د افغانستان سیاسی او حکومتی‌جوړښت، اجتماعی طبقی، اشراف خانان، د ځمکو خاوندان، بزګران، ښځی، نارینه، هلکان، نجونی، او د هغوی کړه وړه د جامو څرنګوالی دکورو نو جوړښت،، لوبنی، مشغولیتونه، ساعت تیری او نور په مفصل ډول په خپل کتاب کی راوړی دی او په دغه برخه کی دده دادراک او تشریح امتیاز په دی کی دی چی دا حالات دده د خپلو ستر ګو لیدلی‌حال دی او یا له نورو اشخاصو سره دده دتماس نتیجه ده. له بله پلوه د نورو هغو خارجی موء لفانو په خلاف چی په دغه وخت کی زمونږ دهیواد په برخه کی یی لیکنی کړی دی، دی په ښه توګه په پښتو ژبه پو هیده، لکه څرنګه چی ده په خپله څو ځایه دغی خبری ته اشاره کړی‌ده. د مثال په ډول هغه وخت چی دی د بنو د ژبو په باب خبری کوی‌نو وایی (ماته ښه تجربه شوی ده چی ددی ضلعی د حکامو په پښتوژبه‌پوهیدل له انصاف سره مرسته کوی او درعیت د خوشحالی باعث‌ګرځی، که زه په خپله په دغه ژبه نه پوهیدلای نو ددغه تاریخ‌لیکل او تکمیل کول یونا ممکن کارو.) × همدا راز دبنو د سیمی د خلکوله سرود سره د مینی په بحث کی یی هم دیو شمیر پښتوژبی×× دکسرونورا ټولولو ته اشاره کړی چی په

×دهمدی کتاب د بنو د ضلعی برخه.

×× دلته د موء لف مقصد له کسره څخه یو ډول شعرونه دی لکه دمروتو کسرونه چی د مروت‌قبیلی حماسی او تاریخی پیښی پکی خیر لی شوی دی اومروتوکسرو نه په ۱۹۵۹ع کال د پیښور د پښتو اکاډیمی له خوا چاپ شوی دی. راټولو ونکی یی مجذوب مروت دی (رشاد)

اردو ژبه یی ژباړلی دي نو دده له دغو لیکنو ښکاري چي دی په پښتو ژبه ډیر ښه پوهیده نو ځکه د هغه څیړنی او لیکني تر نورو بهرنیو مور خینو زیاتی په زړه پوري او د ډاډ وړ دي. دده د کتاب یوه بله خاصه (ځانګړ تیا) د پښتني قبیلو د نسب د شجرو را ټولول دي چي په بل اثر کي په دغه تفصیل سره نه دي لیدل شوی که څه هم ددغو شجرو ځیني نومونه غیر مانوس دي او ځیني یي په هماغه ډول چي په کور کهول کي ویل کیږي راوړي دي ، مثلاً ډیر پښتانه اصغر داعزري په شکل او خدایداد د خویداد، عبدل داودل په شکل تلفظ کوي او په همدي ډول ډیر زیات داسي نومونه شته چي هغوی یي په خپله ژبه په بل ډول تلفظ کوي که څه هم محمد حیات خان زیار ایستلی دي چي دنوم محلي تلفظ تر څنګ دهغه اصلي بڼه هم ولیکي، خو په ځینو ځایونو کي یي دغه ټکی نه دی مراعات کړی او یا دهغه په اصلي تلفظ نه دي پوهیدلی .خو سره له دي هم دانسا بو دشجرو د را ټولولو له پلوه دغه کتاب ډیر غني او په دغه برخه کي یوه انسا یکلو پیډ یا ګنډل کیږي .

لکه چي وړاندي مو وویل په دغه کتاب کي سر بیره په تاریخي مطالبو مؤلف د بیلو بیلو قومونو ،قبیلو ، ښارونو او کلیودودو نه او دستورونه نرخونه (قوانین) دمشغو لیتونه، ساتیري ،میلمستیا ګاني، شو قو نه او عادتونه او نوري کلتوري او اجتماعي پدیدي او جوړښتونه په ژوره توګه څیړلي او تشریح کړي دي نو ځکه دغه اثر نه یوازي د یوه تاریخي کتاب په څیر د یادوني وړ دي بلکي انترو پولو جیکي او سو سیو لو جیکي ارزښت هم لري په دغه کتاب کي ځینو سیمو یو لړ نرخونه (قوانین) او د هغوی محلي نومونه او هم راغلي ،چي دغه نومونه اوس متروک نومونه او دهغوی موقعیتو نه د ځینو سیمو یو شمیر جغرافیایي شوي دي . له بله پلوه په کتاب کي ځیني تیر وتني شته چي هغه اوس دوخت په تیریدو ثابتي شوي دي ،او هم داسي ټکي پکي ذکر شوي چي هغه د منني وړ نه دي . او ددغو په څنګ کي ځیني ناقصي او نامکملي جملي هم په کتاب کي راغلي دي ،چي معلو می نه دي چي هغه به د موءلف تیرو تنه وي او یا دکاتب په هر ترتیب ددغو تیرو تنو د اصلاح او ځینو جغرافیایي مترو کو نومونو او نرخونو د ښه تشریح او واضح کولو له پاره دا منا سبه ښکاري چي په کتاب باندي د یوه داسي پوه له خوا چي علمي صلاحیت ولري تعلیقات ولیکل شي .

که څه هم دکتاب دتاءلیف په برخه کې د محمد حیات خان پوهه له ننیو مور خینو سره پر تله کیدای شي خو ددغو بنیګنو او علمي میتودونو تر څنګ چې ده په خپل کتاب کې په پام کې نیولې په دغه اثر کې یو لړ داسې ټکي هم لیدل کیږي چې د تعمق وړ دي په لومړي سر کې لکه چې وړاندې مو وویل محمد حیات خان دانګریزي استعمار له خوا روزل شوی او هم د هغوی له خوا ده ته جاګیر ورکړل شوی و، نوځکه دده لیکنې

ژوري څیړنې او تعمق ته ضرورت لري او باید دغه لیکنې په انتقادي ډول مطالعه شي، تر څو هغه ټکي چې استعماري رنګ لري او یا دهغوی

په اشاره لیکل شوی او یا د کوم غرض له پاره لیکل شوي وي راوسپړل شي، که څه هم دده د لیکنې په اساس دا کتاب دافغانانو او افغا ـ نستان سره د یوې خاصې مینې زیږنده وي .

د کتاب په ډیرو منځو نو کې دانګریزانو له عدالت او د هغوی د انساني چلند یادونه شوې ده همداراز دمالیې لږوالي او د کوندیو له منځه تلل هم ددوی دورې ته نسبت ورکړل شوي دي او برعکس یې دافغاني واکمنې دورې تیاره او له تشدد نه ډکې ښودلي دي دغه ټکي د تعمق

وړ او باید لومړي په دې وپوهیږو چې ده دافغانستان د تاریخ کومه دوره څیړلې ده دغو پوښتنو ته تر ځواب ویلو وروسته بیا دده په لیکنه قضاوت وکړو .

که څه هم ده دافغانستان تاریخ په عمومي ډول څیړلی خو د ده څیړنه ډیره ژوره نه ښکاري لکه څرنګه چې ده د مالیې په برخه کې داحمد شاه بابا تر دورې دمخه دورې هیڅ نه دي مطالعه کړي او د بنو دضلعې

دمالیې په برخه کې ده په خپله دغې موضوع ته اشاره کړې او ویلي یې دي چې له دغه ځای (بنو) نه دابدالي احمد شاه تر دورې وړاندې دمالیې دراټو لولو څرنګوالی ښه نه دی معلوم ،خو نومورې پاچا له دغه ځایه دولس زره روپۍ دمالیې له مدرکه دقلنګ په نوم او شپږ زره روپۍ نورې د

لښکر خرڅ او ذوقي له پاره دسورسات په نوم په دغه ځای ټاکلې وې، چې ټولې یې اتلس زره روپۍ کیدې ، په داسې حال کې چې دانګریزانو په دوره کې لومړی ځل پنځه اتیازره روپۍ دو یم ځل څلور نوی زره روپۍ او دریم ځل دیو لك او اوه زره روپیو په شاو خوا کې مالیه په دغه ځای ټاکل شوې وه، که څه هم موءلف ددغه زیاتوالي له پاره یو

شمیر دلایل وړاندې کړي دي ،خو دغو دوو اعدادو تر منځ ډیر ژور اختلاف موجود دی نو ځکه دده دلایل کافي نه دي نو په دغه ځای د انګریز

عدالت ته گوته نیول کیږی او بیا د تیمور شاه له واکمنی را وروسته د دغه موءلف د ژوند تر دوری پوری افغانستان له ډیرو زیاتو کورنیو ستونزو سره مخامخ و، په لومړی سر کی د تیمور شاه زامن د تاج او تخت د ترلاسه کولو په منظور په خپلو منځو کی په جګړو سره بوخت وو او له بله پلوه د سردار پاینده خان زامنو د خپلو ورور سردار فتح خان تر وژل کیدو وروسته د سدوزیو د کورنی پاچائی د منځه وړلو له پاره کوښښ کاوه او هغه وخت چی په خپل دغه مقصد کی بریالی شول، نو سم د لاسه په خپلو منځو کی د تاج او تخت په سر لاس او ګریوان شول او په دغه ترتیب افغانستان د ضعف او انحطاط په لور مخه وکړه او دغی بی‌نظمی د مالیی د راټولولو په ځرنګوالی کی هم انعکاس وکړ، نو ځکه محمد حیات خان د هغوی یادونه کړی او لیکلی یی دی، (هغه وخت چی د شامحمود سدوزی وزیر سردار فتح خان بنو ته راغی، نو هغه ددی له پاره چی په تیرو څو کالو کی د مالیی د ټولولو له پاره هیڅ حاکم هغی خواته نه و تللی د یو لك روپیو مالیی د حصول تکل وکړ. تر ده وروسته پیردل خان او نورو افغانی حاکما نو هم دغه راز چلند وکړ، ځرنګه چی په دغه وخت کی په افغانستان کی کوم مقتدر مرکزی حکومت موجود نه و سدوزیان او بارکزیان په خپلو منځو کی په جګړو سره بوخت وو او دغو جګړو زیاتو پیسو ته ضرورت درلود او د دغو پیسو لاس ته راوړلو لویه منبع مالیه ګڼل کیده او هر واکمن به چی په کومی سیمی قبضه ټینګه کړه، په هغه ځای به یی د خپلی خوښی په اندازه مالیه ټاکله او د هغی د تعمیل له پاره به یی کوښښ کاوه. نو ځکه د افغانستان په تاریخ کی دا د وحشت او ستونزو نه ډکه دوره ګڼل کیږی.

همدا راز د کتاب په نورو برخو کی هم یو لړ داسی مسایل لیکل شوی چی مطالعه یی غور او دقت غواړی. خو دلته د هغوی راوړلو ته کوم ضرورت نه لیدل کیږی، دا ځکه چی په دغه مقدمه کی نه غواړم په کتاب باندی کره کتنه وليکم او له بله پلوه لوی او فاضل استاد محترم رشاد بنایی په خپله مقدمه کی هغه ټولی را برسیره کړی وی.

ددغه کتاب د ژباړې څرنګوالی په باب باید ووایم چې دد غـه کتاب نوم مې اورید لی و او ما فکر کاوه چې هغه به ضرور په پښتو یا دری اړول شوی وی خو هغه وخت چې په دې وپوهیدم چې هغه پـه دغو ژبو نه دی اړول شوی نوحیران شوم ، دا ځکه چې دایو ډیر جامع او ګټور کتاب او له داسی ارزښتنا کو ټکو ډک دی چې له هغو نه خبریدل هر یوه افغان ته ضروری خبره ګڼل کیږی . له نیکه مرغه دا کتاب د لومړی ځل له پاره په ۱۳۶۱ کال کی د ښاغلی ابراهیم عطایی له خوا هغه وخت چې دی د اقوامو او قبایلو چـارو وزارت د تد قیق او مطالعاتو د ریاست سرپرست و د ژباړې له پاره د دغه وزارت محترم مقام ته پیشنهاد کړ شو او تر منظوری وروسته یې د ژباړې چاری ما او ښاغلی عبداللطیف طالبی ته وسپارل شوی او مونږ ډیرو مشکلاتو سره سره بیا هـم د کتاب په ژباړلو پیل وکړ ، پـه لومړی سر کی له یو شمیر ستونزو سره مخامخ وو لومړی مشکل دا و چې مولف د خپل کتا ب په ډیرو ځا یونـو کی ذوالو جهینی او کثیر الوجو هـی کلمی استعمال او د هغو تر څنـګ یې ځینی پنجابی کلمی هم راوړی وی ، خو د دغو مشکلا تو په له منځه وړلو کی لوی او پوه استاد پو هانـد عبدالشکور رشاد زمونږ سره زیاته مرسته وکړه په تیره بیا د رقمو او اعدادو په حل کی ، نو ځکه د ده له هغی بی حده مرستی څخه چې دد غـې ترجمې په برخه کی یې له مونـږ سره کړی ده ډیر مشکور یو . د کتاب د ترجمې په برخه کی امانت تـه ډیره پاملرنه شوی ده او تروسـه وسی مو زیار ګاللی دی چې متن او ژباړه سره یو والی او هم آهنګـی ولری . خو سره له دی هم که چیری محترم لوستو نکی له کومی تیروتنی سره مخا مخ کیږی نو مونږ د هغـی له پاره معذرت غواړو ، او یادی په دغه برخه کی موږ ته لارښوونـه وکړی تر څو که په راتلو نکی کی د غه کتاب ته د چاپ زمینه مساعده شوه د دغو تیروتنو مخنیوی شـوی وی په پای کی د پوهاند دکتـور جاوید څخه چې خپل کتاب یې د ژباړې له پاره په امانت ډول راته سپارلی و منندوی کوم .

فرهاد ظریفی د زما نځا نګـلا

۱۳۶۲ لمریز هجری کال د لړم د میاشتی ۲۸

د ليکوال سريزه

زه خاکسار محمد حيات خان دمحمد اکرم خان زوی، چې په خاص واه کې حسن ابدال ته نژدې دراولپنډۍ په ضلع کې او سېږم، وروسته د متعال او لاشريك خدای له مدمې او درود په سيدا لا برابرپه ډير عجز سره خپل دا کتاب درنو او پوهو ويو نکو ته وړاندې کوم، خو زه ځان ددې وړ نه بولم چې دمصنفينو په ډله کې دې وشمېرل شم، مګر له نيکه مرغه څه موده‌چې دبنو په ضلع چې‌دافغانستان په دننه کې موقعيت لرې، اکسټرااسسټنټ کمشنر وم، د افغانانو (پښتنو) او افغانستان په هکله مې معلومات تر لاسه کړل، اوڅنګه چې تر دغه وخته مې ددغه مشهور هېواد او د هغه زړور قوم حالات په مشرح ډول نه وو تر ستر ګو شوی نو ځکه ما ته ددې احساس پيدا شو چې دافغانانو (پښتنو) د ټولو توکمنو او په

افغانستان کی دنورو میشته قـومونو په هکله معلومات له ابتداء(۱) نه ترنن پوری او همدا راز د ملـك لنډ تاریخ، د هری یوی قبیلی نسبی شجره او مربوطی ریښی یی تزهغه ځایه چی معلو می دی او هم ددوی د رواجو نو په باب یو څه ولیکم.

تر هغه ځایه چی ممکنه وه پـه دغه لیکنه کی هڅه شوی ده، چـی معلومات په مطلوب او ښه ډول راټول او د عامه ګټو له پاره یـی تاء لیف کړم، دافغا نستان ددغـه تاریخ نوم ددی لپاره چی له هغـه څخه هم د موء لف نوم او هم دافغانانو د ژوند حالت څرګند یږی حیات افغا نی کیښودل شو.

دغه کتاب په دریو برخو کـی ترتیب شویدی :

لومړی برخه :

دافغا نستان د جغرا فیی ، تجارت، او عام تاریخ په باب ده.

دویمه برخه :

دپښتنو دخاصوقبیلو تاریخ دنسب شجری او همدارنګه په افغا نستان کی د نورو میشتو قومو نو حالات په مشرح ډول بیا نوی .

دریمه بر خه :

په خاص ډول دبنو ضلعی اودهغی‌اوسیدو نکو تاریخ دی . که څـــه هم د راټول شوو معلو ماتو په باب دد غی خبری ذمه واری ،چی ټول به بیخی صحیح‌وی یو ناشونی کار دی‌مګر دغه ضعیف مو جود (موء لف) د خپلی وسی په اندازه د غلطیـــو درفع کولو لپاره کوښښ کړی،ددغه مطلب د تر سره کیدو له پاره می‌د هغو بیلو بیلو روایتو نو څخـــه چی په پښتو، فارسی او انګر یزی‌کتابو، شجرو او نسب نامو کی‌موندلی او یا مـــی دباور ی‌خلکو د خو لـی‌څخه اوریدلی ګټه اخیستی ده، او هم په دغه باب دځینونورو تا ریخی،مادی موادو لکه زړو سکو،زړوودانیو او نورو څخه چی کوم معلو مات ترلاسه شوی وروسته تر کره کولـو او ثقه توب راوړل شویـــــدی. سره له دی هم زه له محترمو پوهانو څخه هیله لرم که چیر ی د کو مـوتیرو تنو او یا د عبارت له خرابـی او ماتوا لی سره مخا مخ کیږی نـومادی و بخښی همدا رنګه ښا غلـی

---

(۱) د مؤلف مقصد له افغا نا نـوڅخه پښتانه دی او هر ځای کی چی دغه کلمه راشی باید وپو هیږوچی‌مقصد پښتانه دی نه دافغا نستـان اوسیدو نکی (ژبـــاړو نکـی)

منقدين هم باید دکتاب د مطا لعی په وخت کی دانصاف له لاری څخه وانه وړی .

ددغه کتاب د لیکلو په وخت کی لیکوال په دغو لاندینیو آثاروا کتا بو نو استناد او له هغو څخه یی استفاده کړی ده .

(۱) دفارسی ژبی آثار:

د تورا تژ باړه او د لر غونی عهدمقدس کتا بونه، تاریخ فرشته ، حبیب السیر، تاریخ‌عالم، مخزن‌افغانی،تذکرةالا نساب ، تذکرةالابرار، تاریخ جدو لیه ، تاریخ پنجاب ،تاریخ هند ، تاریخ کشمیر، طبقات اکبری ، تذکرة المشا هیر ،جام جهان نما، واقعات اسکندر اعظم، تار یخ احمد، گلشن التوا ریخ.

(۲) په انګر یزی ژبه کی :

دښاغلی الفستن کتاب ، دښاغلی راورتی گرامر، دښاغلی‌فریافریرکتاب، دښاغلی اسکندر الکزاندر برنس‌کتاب، د ښاغلی موهن لال کتاب، واقعات انډیا، دښاغلی سرهربرټ اډواردس کتاب، د تجارت په هکله د پنجاب دسکر تر مستر دیوس صاحب رپوټ،پرته ددی څخه د نوموړی سلکشن منتخبات او مترفقه راپوروني دضلعو دواکمنانو او حکامو په باب.

(۳) د پښتو ژبی آثار :

د محمد افضل خان تاریخ(تاریخ‌مرصع) ،گلشن روه، داورمی دنسب رساله اوپښتو نسب نامه ،له دی‌کتابونو څخه پرته کوم روایات چی په‌دری واړو ژبوکی لاس‌ته راغلی‌اوهم په دغه کتاب کی ځای کړل شوی دی، په پښتو اوفارسی ژبو متفرقه شجری چی‌د ځینوکورنیو څخه لاس ته راغلی، دفارس دپخوانیوحکامو سندونه، دهندو یونانی سلطنت زړی‌سکی چی‌د سپین ږیرو ژبنی‌اوشفاهی روایتونه ،چی هغوهم پخپل وار سره‌له‌خپلومشرانو څخه اوریدلی‌او رښتیااو ثقه توب یی‌د څونورو منطقی او معقولو روایتوسره دمقایسی‌په وخت کی‌ثابت شوی، ددغه کتاب دلیکلو اساس دی .

زما مقصد ددغه مشکل څو کلن‌کار څخه یوازی د نوم ژوندی پاتی کیدل او عامه خلکو ته گټه رسول‌دی . له لوی ښښتن (ج) څخه غواړم چی زما دغه کتاب وګړای شی دویو نکو تنده ماته کړی.

د ۱۲۸۱ مقدس هجری کال‌شعبان د میاشتی څوار لسمه .
د۱۸۶۵ عیسوی کال د جنوری‌دمیاشتی دریمه .
اود۱۹۲۱ بکرمی (بکرما جیتی)کال‌دماګه د میاشتی دریمه .

لومړی برخه

جغرافیه تجارت او د افغانستان عام تاریخ

لومړی باب

جغرا فیه او تجارت :

ځنګه چی ښکاره ده ددغه ملك نوم دهند وانو په لرغونو کتابونوکی بالهیك دیس راغلی دی او کله چی دغه ملك د ایرا نیانو لاس ته ورغی نو هغوی د زابلستان او کابلستان په نامه مشهور کړ .
دلوی اسکندر د راتګ سره چی یو نانیان دلته راغلل هغوی دغه ځای په خپله ژبه باکتریا وبا له ، چی اصلاء دغه نوم د باختر او ښتی شکل دی ، او بیا چی دعر بانو او مسلما نانو وار راغلی په دغه وخت کی د افغا نستان دوی برخی په دوو نومو نو مشهوری شوی ختیځی خواته سیمی دکابل او کندهار اولویدیځی خواته سیمی دایران تر پولو پوری دخراسان *په نامه یادی شوی چی ددغو سیمو مشهور ښار

---

*د خراسان نوم د ایران پاچا انوشیر وان له خوا ایښودل شوی دی.

هرات،و، او ختيځه برخه يې د (روه) يعنې غرني ملك په نامه ونومول شوه، همدا راز دجلال الدين محمد اکبر د هندوستان د صوبو د ويشلو په وخت کې دغه هيواد د کابل صوبې په نامه ليکلی دی. *

کله چې ايراني نادر شاه له منځه ولاړ او په (۱۷٤۷) ع کال کې ابدالي احمد شاه په کندهارکې پاچا شو، نوله هغه وروسته دغه هيواد ته دِ افغانستان نوم ورکړل شو اوپه دغه نوم يې شهرت وموند مگر اوس هم ډير خلك ددغه هيـــوادلويديځې برخې دخراسان په نامـه يادوي .

د افغانستان د تسميې وجه :

لکه څنگه چې پوهيږو دغـه هيواد ته له دې کبله افغانستان وايي چې اوسيدو نکي يې افغانان دي چې دغسې نومونه په نوروهيوا ـ دونو کې هم ليدلای شو لکه دهندوستان نوم چې دهندوانو د موجوديت له امله مينځ ته راغلی دی‌او همداراز ترکستان دترکانو داوسيدو له امله په دغه نوم بلل کيږي .په نړۍ کې ډير نور، داسې هيوادونه ليدلای شوچې نوم يې دپکې ميشته قوم له نوم څخه يوازې دستان کلمې پـه زياتولو جوړ شـوی‌وی .چې دستان څخه مقصد ځمکه اوځای‌دی. (لکه بلوچستان ـازبکستان ـعربستان ـ انگلستان او نور)

څلور خواوې (حدود اربعه) :

ددغه هيواد څلور خواوې دتاريخ په اوږدو کې په يوشکل نه دي‌پاتې شوې ، هندوانو دخپلې وا کمنې په وخت‌کې تربلخه بالهيك ديس باله، مگر يونانيانو دبکتريا حدودو ته ترپخوا (تر هندوانو) زيا ته پرا ختيا ورکړه ،د ايرانيانو پـه دوره‌کـې‌زابلستان او کابـلستان دوې وړې صوبې وې خود (روه) حدود د هغه وخت موء رخينو ختيځ خواته دسندنه پورې خوا تر حسن ابدال پـــور ې‌کښلي دي .

دليکوال (موء لف) په وخت کې‌هم‌ډيرو جغرافيه ليکونکو افغانستان او بلوچستان په يوه چاپيريال کې‌سره گډ ښودلي ، خو زه د هغـــو

---

* داکبر مغل دپاچا هي په وختوکې‌فقط پيښور ، بنو، ننگر هار ، کـابل او غزنې د کابل د صوبې په نامـه ياد شوي دي ـ دا دټول افغانستان نوم نه و. (رشاد)

حدودو او هغه هیواد بیان کوم چی خاص افغا نستان دی او په نقشو کی په دغه نوم لیکل شویـــدی .

په اوسنی وخت کی هغه تـــول ملك افغا نستا ن بلـــل کـیږی، چی د بلو چستان ، هندوستان، او ایران تر مینځ له دیرش (۳۰) درجو ځخه تر شپږ دیر شو (۳٦) درجـــو قطبی (شمالی) عرض البلد پـوری اوله شپیتو درجو ځخه تر ٦٨ درجو ختیځ طوالبلد تر مینځ پــروت دی شمالی بر خه کی یی هندوکش او د ترکستان ملك ، لویدیځ تـــه یی فارس یعنی ایران، سهیل ته یی بلو چستان ،جنوب ته یی د هنــد بحر (سمندر) او ختیځ ته یی سنـــد چی دغه ځای ختیز ته په هندوستان پوری مربوط پنجاب مو قعیت لری، ددغه هیواد حدود جوړ و ی .

اوږدوالی یی د اټك له سینـــد ځخه د هرات تر لویدیځ پوری چی دایران سرحد جو ړ و ی (٦٠٠) میلـــه او پلن والی یی د هندو کش دغرونو له شمال ځخه * دبلو چستان تـــر جنوب پوری (۵۰۰) میله تخمیـــن شو یدی .

پراخوالی یی دری لکه مر بع میل دی، او په هر میل کی یی اته ویشـــت تنه ژوند کوی ، یعنی ددغه هیواددوگړو شمیر (۸٤) لکو تنو تـــه رسیږی دافغا نستان د سطحی زیاته برخه لوړه ژوره او د ځمکو توتـــی یی دغرو نو په ذریعه یو له بـــل ځخه بیلی شوی دی ، دکرنی ځمکه یی حاصلخیزه او میوی یی ښـــی او خوند وری دی.

دافغا نستان په شما لی سیمه کی دهمالیاء دغرونو لړی، چی د هندوکش په نامه یادیږی سهیل ته یی لـــه بلوچستان ځخـــه دشمال په لورد سلیمان دغرو لړی پرته ده چی دکیسی یاقیسی په نامه یادیږی اود دغـــو غرونو دموجو دیت له امله افغانستان په دوو برخو ویشل کیږی ،ختیځ ته یی د پنجاب ملك دی چی اوس په هند پوری مربوط اود انگریزانو په قبضه کی دی، خو لویدیځه زیاته برخـــه یی دکابل په امارت پوری تړلـــی ده، ددغی سیمی زیاته برخه غرنی اودخپل دغه جوړښت په وجه د کابـــل امارت په دغه ځای چندان سلطه نلری او خلك یی په آزاد ډول ژوند کوی.

دکابل ریاست ته د تابعو وگـــړوشمیر (٤٥) لکو تنو ته رسیږی که ځه هم پورته په لنډ ډول د افغـــانستان دجغرا فیی په باب یو ځـــه

---

*بایدهندوکش د غره پر ځـــای دآمو رود وای (رشاد)

معلو مات ولیکل شول، خو په مفصل ډول به ددواړو برخو ذکر وروسته راشي همدا راز په کومو علاقو کی چی دتجارت وړ مالونه پیدا کیږی هغه به دنوموړو علاقو سره یوځای ولیکل شی، خو د عام تجارت ، په هکله به معلومات ددغه کتاب په وروستی برخه کی وړاندی شی.

لوړی خټیځ برخه

هغه برخه چی دهند په برتانوی واکمنی پوری اړه لری د سند دریاب په ښی غاړه کی شما لاو جنو بـــ اٌخلور سوه میله اوږده غزیدلـــی ده چی پلن والی یی دسند دریاب دغاړو څخه دکیسی دغره ترلو یدیځه پوری تخمیناً څلویښت میله دی، ددغی سیمی پوری په ترلو قطبی او لویدیځو برخو کـــی چی غرنی دی، خپلوا ك او جنګیالی قومونه ژوند کوی. دغه ځای د صحیح انتظام او د عدالـــت دټینګښت له پاره دسر کار لخوا په دوو برخو او بیا په شپږو ضلعـــو ویشل شوی دی چی د کمشنرانو لـــه خوا اداره کیږی او په ختیځه برخه کی یی اتلس لکه خلك ژوند کوی .
دغه تقسیمات په لاندی ډول دی :

لوړی دپیښور برخه

په دغه برخه کی دری ضلعی پیښور، کوهاټ او هزاره مو قعیت لـــری.

دپیښور ضلع :

ددغی ضلعی دریو خواوو یعنـــی قطب ، لویدیځ او سهیل ته غرو نه او ختیځ ته یی د سند دریاب مـــو قعیت لری. دکابل سین چی دهغه ځای خلك یی لنډی بولی ددغه ځـــای له لویدیځ یعنی میچنی څخه راو ځی او د ختیځ خواته بهیږی او د سند له دریاب سره داټك کلا ته نـږدی دنیم میل په فاصلی یوځای کیږی، ددغه سین شته والی ، دغه ضلع په دوو برخو ویشی په شمالی برخه کی یی اشنغر (هشتنګر) پرګنه او یوسف زی او دهغه ځای لویدیځ خواتـــه دسوات او کابل سینونو تر مینـځ ددو آبی سیمه پرته ده، په سهیلی برخه کی یی دداودزیو پرګنه ، خاص

پیښور او د خټکو تحصیل یعنــــی نو ښار مو قعیت لری ، په لوموړی بر-
خه یعنی دیو سفزیو په پرگنه کـی کمالزی ، دولت زی اونوری قبیلـی
چی‌دمند ړو اولاده ده‌او سیږی ددو ی‌دنسب شجره به ورو سته راشـی ،
دوی د ځمکو خاو ندان دی .

داشنغر (هشت‌نگر) په پر گنــه کی د محمد زیو قبیله او په دوآبه
کی ګګیانی او نور استو گنه لری‌په شهیلی برخه نی‌بی داودزی ، حلیل،
مهمند (مومند)اود خټکو قبیلی‌میشته دی مګر خاص د پیښور په ښار کـی

مختلفی او بیلی بیلی قبیلی اوسیږی، دغه ښار د لاهور له مشهور ښارڅخه
(۲۲۵)* میله په شمال‌لو یدیځه څنډه کی اود سند له روده نه څلویښت

میله لری‌دلو یدیځ خواته پروت دی،دغه ښاردیوه خام‌او پخوانی ښارپه
مینځ کی‌جوړ شوی‌دی چی‌د سمنــدرله سطحی څخه تقریباً (۱۰۰۰)فوټه
جګوالی لری، دغه ځای ته د لویدیځ افغا نستان ، ایران او ترکستان‌څخه

هر ډول تجارتی مالونه راځی پــه تیره‌بیا هر راز میوی، پوستینونه ،
سنجاب ،سمور، داوښ دوړیوڅخــه جوړی شوی چپنی ،بر کی، وریښمین

توکران او داسی نور، همــدا راز دمنی د موسم‌په پیل کی یو زیات‌شمیر
آسونه هم دلته دخرڅلاو له پــاره راوستل‌کیږی .
ددغه ښار ودانی که څه هم ډیری ښکلی‌نه دی ، مګر بیا هم نسبتــاً
ښی دی ، د سرکار پوځی چونی د ښار لویدیځی برخی ته په اوږده‌او
پراخ‌ډول پرته ده‌د باړی‌ویاله (نهر) دچاونی او ښار په مینځ کی جاری

ده او په دغه ځای کی دوریجو دحاصل‌دزیاتوالی سبب کیږی داشنغر (هشت
نګر) او دوآبی تحصیل د ګــوړی دتولید له امله ښه نوم او شهرت
لری همداراز په پیښور کی پـــه زیا ته اندازه لو نګی، پوزی اوپکی

جوړیږی . د یو سفزو په سیمه کی لوموړی درجه تمباکو میندل کیــږی
چی په ټول هندوستان کی مشهــوردی ، او د سوغات په ډول لــیری

ځایو نو ته وړل کیږی.

دکابل او سوا ت دسینو نو په ذریعه د لمنځی او ښنتر لر ګی چـی
په ودانیو کی ورڅخه کار اخیستــل‌کیږی په زیاته اندازه د غرنیو سیمو
څخه لیږدول کیږی، چی ددغو لرګیو له درکه هم سودا ګرا ن او هــــم
پلورو نکی ډیره ګټه کوی.

---

* دګو مو ځایونو فاصلی ذکر چی‌دلته راغلی هغه په مستقیم ډو لد
نخښی له مخی سنجول‌شوی ده او د سړك فاصله له هغه څخه په لـــږ
تفاوت سره لــږ څــه لیری ده.

ددغه ښار مشهور او د ليدنـــي وړ ځايو نه دادي :

ګوړ کتهړي، ياګور کهټيني چې دلته دګور ګهنا مند ر(درمسال) واو اوس په کې د تحصيل ديوان، دفتر اودربار دی ، دغه ودانی په پاخه ډول اود سرای په شکل جوړه شوی ده ،دبالاحصار کلا دښار څخه د باندی دچوڼی په خوا کې واقع او په هغې کې سرکاری ګودام او خزا نه ده.

دوزير باغ هم د کتلو وړ ځای دی وزير باغ د ښار څخه دوه ميله لری سهيل خواته د يوی خاصي چارديوالي په مينځ کې پروت دی، دغیو دانی خپله ښکلا د هغې د شيشه خانـی دړنګيدو له امله له لاسه ورکړې ده،

دپيښور په سهيل او ختيځه خوا کې ډير باغونه مو قعيت لری او پـه پسر لی کی د ډيرو ګلانو د غوړيدو له امله ډير ښکلی بريښي، دپيښور جامع جومات دښار په منځ کې پـه پاخه ډول جوړ شوی دی ، دکوتوالي نوی تعمير هم د پښتو يو نو په کـړه کې د سرکار له خوا په پاخه ډول جوړ شويدی .

د کوهاټ ضلع :

کوهاټ د پيښور سهيل ته او له لاهور څخه (۲۲۰) ميله لری د لويديځ خواته په داسی حال کې چې لږ څه د شمال خواته تمايل لری پروت دی. دغه ضلعه دغرونو په ذريعه احاطه شوې ده، دپيښور اوکوهاټ ترمينځ دا پريدو دغرو لړی ختيځې خواته د کاکاصاحب تر زيارته پوری غزيدلی ده.ددغـو غرو دموجـوديت له امله چی آزاد قومونه په کی اوسیږی ،د انګريزی سرکار ترادارې لاندی سيمو سرحدونه په نقشه کې کاږه واږه معلو ميږی .

ددغه ضلعی په ختيځه اوسهيلی برخه کې د ختکو، تری او بولاق قومونه اوپاتی برخه کې يې بنګښ اولږڅه اورکزی اوسيږی دسرحد په شمالی او لويديځې کرښی باندی داپريدواو اورکزيو قومونه په آزادو غرنيو سيمو کې ژوند کوی، چې ددوی ځينی اعمال او خصو صيتونه تل د مرکزی حکومت دانديښنی سبب ګرځی، لـه همدی کبله يوه اندازه پوځ په سرکاری چوڼی کې ساتل کيږی، همدا راز دلته يوه زړه کلا هم موجوده ده چې دسمندر ه سطحی څخه (۱۷٦۷) فټه جګوالی لری.

دکوهاټ ضلعه يوه وړه ضلعه ده چی له دوو تحصيلو څخه جوړه ده دغه تحصيلی خاص کوهاټ اوهنګو نوميږی .دلته دښنی مالګی په نامه يوکان شته چې له هغه څخه په زياته اندازه مالګه استخراج اولو يديځ اوختيځ افغا نستان ته د تجارت لپاره وړل کيږی .ددغه مالګی نرخ ارزان دی خو ډيری شګی لری. دهنګو تحصيل وريجی ډير ښه جنسيت لری، اوډيری مشهوری دی .

PROPERTY OF ACKU 2335

و یل کیږي چې د بلو ټ کلا درا جا بل په ذریعه جوړه شوې وه کله چې دسهیل له خوا د بلوڅو قوم په دغه ځای یرغل وکړ او نوموړي ملک یې ونیوه په دغه وخت کې اسمعیل خان هو ت چې دیره اسمعیل خان دده په نوم شهرت موندلی دی دخپل قوم په مشري ددیره غازي خان ښخه راغی ،او په ببر نومي ځای چې ښار ښخه دوولس فرسنګه *لیرې د جنوب خواته یې موقعیت درلود میشته شو، څو کاله وروسته چې په ملک باندې دده قبضه کاملاً ټینګه شوه، نو بیا یې پو ځای انتخا ب او په خپل لاس یې د(۱۶۱۹) بګرمي کال د ماګهه دمیاشتې په (۲۲) نیټه اود جلالدین محمد اکبر د واکمنۍ په وخت کې ، چې له هغه وخته (۳۰۲) کاله تیریږي ددیره اسمعیل خان دزاړه ښار تاداو کیښنو د او په خپل نوم یې مشهور کړداسې روایت شته چې ددیره اسمعیل خان په پخوانی ښار کې چې اوس د سند دریاب ښخه لاندې شوی دوه نیم زره کوره میشته وو او د بلو څانو پخپل کوښښ سره هغه ډیر ښکلی آباد کړی او ډیر باغو نه یې پکې جوړ کړي وو، خو په (۱۸۷۵) بګرمي کال کې د سند دریاب خپل اصلي مسیر ته تغییر ورکړ او د کورو نو په ورانو لو او تباهۍ یې پیل وکړ چې د پنځو کا لو نو په موده کې یې نوموړی ښکلی ښار له منځه یووړ، او ښې نښانې یې هم پاتې نه شوې او خلک یې تیت او پرک شول .په (۱۸۸۱) اتلس سوه یو اتیا بګرمي کال ددیرې نواب ددیره اسمعیل خان اوسنی ښار جوړ او پخوانی نوم یې ورباندې کیښنود.

د اسمعیل خان هوت اولاده په دغه ځای کې تر پنځو پښتو حکمرانی کوله ددغه کورنۍ وروستنی غړی چې رئیس نصرت خان نومیده څه دخپلې عیاشۍ او بې تدبیرۍ له امله او څه هم د پښتنو دظلم له کبله د ریاست ښخه عزل او په کابل کې بندي کړی شو او ابدالي احمدشاه لومړی سیفلي خان او ورپسې موسی خان دراني یو په بل پسې ددیرې حاکمان مقرر کړل. داؤدخان نومې بلوڅ ناڅاپه په دیره یرغل وکړ او موسی خان دراني یې ټپې کړ. دداؤدخان بلوڅ دغه عمل ددراني

---

* ذلته موء لف دفرسنګ پځای دکوس کلمه استعمال کړیده چې دغه کلمه په فیروزالغیاث کې په فرسنګ ترجمه شوې خوښاغلي حسن کاکړ هغه پخپل کتاب کې په یو بل داوږدوالي واحد تر جمه کړي چې (۳۰۰۰) متره کیږي. (ژباړو نکی)

دکوس په باب د تعلیقا تو بر خه وګوری . (رشاد)

پاچا قهر راوپاراوه او دغه کورنۍ دده دغضب وړ وګرځیده او ددغې کورنۍ جرړې یې له بیخه وایستلې.

د موسی خان تر مینځه تلووروسته د افغانستان د پاچا له خوا قمرالدین خان، عبدالرحیم‌خان‌اودرباری مل‌هریو یخپل‌وار سره‌ددغه ځای‌حکمران‌وټاکل شول.

شاه زمان‌دخپلې واکمنۍ په وخت‌کې ددغې دیرې نوابی، نواب محمد خان سدوزی بهادر خیل‌ته وسپارله‌چې د هغه تر مړینې وروسته نواب حافظ احمدخان ددغه ځای وارث شو ورپسې دده زوئ نواب شیرمحمدخان دپلار ځای ونیوه، چې دده په وخت‌کې کنور نونهال سنګه دکال شپیتو زرو روپیو جاګیر دورکولو په‌مقابل‌کې‌دغه ځای ترلاسه کړ.

په (۱۸٤۹)عیسوی کال‌کې دپنجاب دنیولو سره یوځای دغه دیره هم دانګریزئ سرکار لاس‌ته ورغله‌چې تر دغه وخت دغه ځای ترقی‌کړې او اباد شوی وخوپه (۱۸٦۱) عیسوی‌کال‌کې دسند رودیوځل بیا ددغه ښار په‌خوا خپل مسیرته تغییر ورکړ اوخلك یې‌له خطر سره مخامخ کړل، خو انګریزانو دډیرو پیسو په لګولوسره یو بند جوړ او د سند دریاب مخه یې وګرځوله.

ددغه ضلعې په حدودو کې دسهیل‌لورته دسند دریاب بهیږئ چې دهغه په سبب دغه ضلعه په دوو برخو ویشله کیږی دسند رود ختیځه برخه چې وچه او شګلنه ده دوه ډوله طبیعی جوړ ښت لرئ، لومړی د اچی تهل او للمه، دوهمه چهنګ چې داهغه ډول ځمکه ده کله چې د سند په دریاب کې سیلاب راشي یواندازه‌اوبه دغو ځمکو ته ورځي او دهغوی په ذریعه خړو بیږی، او للمه ځمکه یې اکثراء د اوبو د کمښت له امله وچه او د څاګانو د نشتوالي په صورت کی د کرهنې وړ نه ده. که‌چیرې د ختیځ تهل له پاره‌ماړی ته نږدی د سند له روده څخه یوه ویاله وکاږله شی نو دمیانوالی‌څخه نیولی ترلیه، بهکر، او ښکته ځایونو پورې به ټولو ځمکو ته زیاته ګټه ور سیږی، چې ددا سې یوی ویالی د جوړولو تجویز سرکارته وړاندی شوئ دی.

په دغه ځای کې ددریا خان تحصیل‌چې بهکر هم ورته ویل کیږی اوهم دلیه تحصیل پروت دی چې مشهوری‌قصبې او کلی یې دادی، لیه، کوټ سلطان، چوباره، کروړ، نواکوټ،هکر، دریا خان، منکیره کلا. په دغو ځایونو او کلیو کې د وړیو تجارت روان دی.

خود ابدالی احمد شاه په وخت کی نورمحمدخان چی‌دسرای(*) له قوم‌څخه ودسند له لوری پردیره غازی خان‌یرغل وکړ اودغه ځای‌یی‌ونیوه خو ویی نشوساتلای‌اوددوی څخه ددرانیا نو لاس‌ته ورغی،اود کابل د سلطنت له‌خوا لوموړی عبدا لصمدخان ،بیا نواب محمد زمان‌خان اووروسته نواب عبدالجبار خان بارکزی درانی‌او په اخرکی صدرخان بختیار ،ددغه ځای حکمرانان وټاکل‌شول ،کله چی‌رنجیت‌سنگه ملتان فتح کړاو دافغا نستان سلطنت دبارکزی اوسدوزی کورنیودشخړو اونفاق په نتیجه کی ضعیف شونو په‌دغه وخت‌کی سکانو دغازی‌خان دیره په پنجاب پوری مربوطاو سانون مل‌ته یی وسپارله. دغازی‌خان‌دیره دمولراج له‌فسادونو اوبغاوت څخه وروسته د پنجاب په گډون دانگریزی سرکار له متصر فا تـو څخه وشمیرل شوه.

ددغه ښار شاو خوا ته شنـه ښونه او د خرما ونی ډیری لیـدل کیږی. دښار څخه یو میل لیری دختیځ خواته، دسند دریاب بهیږی، د سخی سرور خانقاه د ښار دمنځ‌په یوه ښه ځای کی مو قعیت لری، دی دپنجاب د هندوا نو او مسلما نانـواوسیدونکو په مینځ‌کی‌ډیر معتقد ـ ین لری. دده په زیارت کی دمارچ له میا شتی څخه داپریل دمیا شتی تر پایه په مسلسل ډول میلی اوجشنونه جوړیږی او خلك په ډیـر اخلاص له لیری ځایونو څخه ورته راځی او دلته نذرونه کوی.

په دی سیمه کی مالگه اوپټکری(خوری) ډیر ه موند ل کیږی ، لـه غلو څخه غنم ، جوار او باجره هـم پـه ډیر مقدا ر کـــــر ل کیږی .ددغـه ځـا ی‌ځمکی دهغو ویالـو پـه واسطـه چی د خلکو په ذریعه کیندل شوی‌خړو بیږی او دلته څاه گانی نشته.

ددغه ضلعی دوهم تحصیل داجل‌نومیږی چی ددی ځای ځمکی ښـوره ناکی (ښرنی) دی ، دجام پور پـه قصبه کی د مالگی او ښوری معدنونه شته دی. حاجی پور ته نږدی خوږی‌اوبه پیدا کیږی او د کرنی هرډول حاصلات یی ښه دی.

دریم دکو ټ متهن تحصیل چـی د سند دریاب په غاړه پروت اوځمکه یی ډیره حاصل خیزه ده او پریمانه ونی او باغونه لری.

څلورم دسنگهړ تحصیل : په اصل کی‌سنگهړ دیو ی غرنی ویا لـی نوم دی چی دهغی په ذریعه ددغه تحصیل اکثره ځمکی خړو بیږی نـو ځکه دی علاقی ته هم د سنگهړ نوم ورکړ شوی دی.

---

*ددغه قا م نو م « سرا یکی »دی. (رشاد)

دتحصیل مرکز په منګرو ته نومي ځای کې پروت دی . ددغه ځای
ځمکې اکثراً ښرنۍ (ښوره ناکې) دي خو سره له دې هم دغنمواو جوار و
حاصلات یې ډیر ښه دي په دغــه تحصیل کې ډیر ښکلي او دښـــه
جنسیت اسونه روزل کیږي .توسه منکروته ته نږدې دیوه ځای نوم دی
چې هلته دحضرت شاه سلیـــما ن چشتي زیارت واقع دی *چې داخانقاه
دپنځوس زرو روپیو په لګښت جوړه شوې ده .

ددې ضلعې لوی تجارتي قلم نیل دی چې دلته ډیر پریمانه پیدا کیږي
او سوداګران یې لیرې لیرې ملکو نو ته وړي . دغه ضلعه معتدل اقلیم
لري ، خو کله کله یې هوا ګرمیږي خصوصاً داجل پرګنه چې هلته یو
ډول موسمي ګرم باد چلیږي .

---

* شاه سلیمان چشتي جعفر دمداني پښتون دی ، پلاریې زکریـــا
نیکه یې عبدالوهاب ورنیکه یـــې عمر خان او تر نیکه یې خان محمدخان
نومیده ، شاه سلیمان په ۱۱۸۳ه.ق کال د سنګهړ د سیمې په درګ نومي
غره کې زیږیدلی دی ددوی کلـــي ګرګوجي نومیده ـ درګ غر لــه
اباسینه شخه تقریـباً یو دیـرش کروه لرې لویدیزې خواته واقع دی
مړګ یې په ۱۲۶۷ ه.ق کال پیـښ دی، زیارت یې په تونسه کې دی تو-
نسه له اباسینه شخه شلورمیله لیرې لویدیزې خواته پرته ده .

شاه سلیمان پښتون په چشتیــه طریقه کې دشیخ نور محمد مهاروي
(۱۱٤۲ ـ ۱۲۰۵ ه.ق) ،هغه دمحب النبي مولانافخرالدین(۱۱۹۹ه ق
مړ ـ ددهلی په مهرولی کې ښـخ)خلیفه ددغه چشتیه طریقه ترمولانا
فخرالدین وروسته فخریه سلسله بولي او تر هغه وړاندې نظامیه ده،
یعنې خواجه نظام الدین دهلـــوي(٦٣٦ ـ۷۲۵ ه. ق) ته رسیږي ،
دسلطان الاولیاء ، خواجه نظام الدین زیارت په دهلي کې مشهور دی .

دشاه سلیما ن اولاده په تو نسه کې اوسي او دچشتیې طر یقې پــه
ارشاد و تلقین بوخت دي ، د شـاه سلیمان کوسی خواجه نظام ما پــه
تونسه کې لیدلی و ، (ارشاد)

دویم باب

لویدیځه برخه

جوته ده چې په لویدیځه برخه کې د ټول افغانستان بیان راځي چې هغه د انګریزي سرکاردوا کمنی ښخه د باندي لویدیځ او شمال ته پروت دی .
نومړی د هغو غرنیو سیمو ذکر چې له انګریزي سلطنت سره متصلـــی یا نږدې پرتې دي :

د مهابڼ سیمه:

مهابڼ په اصل کې دیوه غره نــوم دی ددغه غره دیزه لوړه څو کـــه د سمندر له سطحې ښخه (۷٤۷۱) فټه جګوالی لري او پــه ځنګلونو با ندي پټه سوې ده . . ددغه ځای ختیځ ته د سند رود سهیل او لویدیځ خو ا تــه یې په پیبنور پوري مربوط دیو سفزیو سیمه او قطب ته یې د چملې سیمــه موقعیت لري .

ددغه غره په جنوبي برخو کـــې د ګدون قوم استوګنه لري او پورتني برخې کې یې د خدو خیلو قبیله او سیړي چې دغه دواړه قبیلې کوم حاکم نه

لري، دستانه په نامه سیمه یې د فرآریانو مرکز دی چې دغه ځای دغره ډیره سخته سیمه ده او تګ راتګ په ډیره سختی سره په کی تر سره کیږي. همدا راز دکرنی اواره ځمکه دلته خورا لږه ده.

دمهابڼ دغره په شمال کی دچمله سیمه پرته ده. دمهابڼ دسیمی د تسمیی وجه به وروسته ذکر شي.

دچملی سیمه :

دچملی سیمی ختیځ ته دسند روده لویدیځ ته یې دیوسفزیو علاقه او قطب ته یې د بونیر سیمه پرته ده. دچملی سیمه ددری شکل لری چې د دغې درې په مینځ کی اوارې ځمکې لږې او پاتی برخه یې غرنی اولوړم او ژوره ده دمندړو دقوم اکثریت په دغه ځای کی اوسیږي، داسی ویل کیږي چې دلته (۱۸۰۰۰) کسه ژوند کوی او د تنکسی او مشکلاتو په وخت کی ددوی دقوم خلك ددوی مرستی ته چمتو دي .

دبونیر سیمه :

دبونیر په ختیځ کی د سند رود، شمال خواته یې دسوات ملك او لویدیځ خواته یې د یوسفزیو سیمه پرته ده. دبونیر څلورو خواوو ته جګ غرونه واقع دی، چې قطب خواته یې دایلم، او دوه سری غرونه پراته دي چې دسمندر له سطحی څخه (۱۰۱۲۲) فوټو په شاو خواکی جګوالی لری ددغو غرونو په مینځ کی ځینی ځایونه دوادی کانو شکل اود کرنی بنی ځمکی لري، خو اکثریت جوړښت یې کلك او داسی دی چې په سختی سره په کی تګ راتګ کیږي .ددغو سیمو اقلیم معتدل دی خود غرونو جګی برخی یې دواورو دموجودیت له کبله سړی دی، په دغه سیمه کی د یوسفزیو دقام ښاخونه په دی ډول استوګنه لري، ختیځی ته یې چغرزی څا نګه شمال خواته یې کدایی زی ، لویدیځ ته یې سالارزی او په سهیلی برخو کی یې نورزی او په مینځنی برخه کـی یې اشیزی او دولتزی ژوند کوي، که څه هــــم ددی تـــو لـــــو قومونو تر مینځه یو والي نشتــه لما دبهرني غلیم په مقابل کی سره یو دی او هره څانګه خپل قومی مشر لری. په دی سیمه کی په پوره اندازه زراعتي محصو لات تر لاسه کیږي نه خو سره له دی هم د کاختي (قحطی) په وخت کی دسوات دسیمی نه غله وارول کیږي. په دغه سیمو کـــی ډیر پسو نه روزل کیږي .

ددی سیمی دوسلو والو کسانوشمیر (۳۰۰۰۰) تنو ته رسیږی،
دلته له بهر نیږ سیمو څخه نیل، توکران او مالګه راوړل کیږی او هم
دغو شیانو سوداګری ډیره ګټوره ده دبو نیر سهیل ته دسوات سیمه پرته
ده.

دسوات سیمه :

دسوات څلور خواوی په دی ډول دی، قطب ته یی دلرم غرونه چی
په ښکتنی برخه کی یی د دیر سیمه موقعیت لری ختیځ ته یی دغرو
یوه لړی پرته ده چی ترسنده پوری امتداد لری، دسوات ختیځی برخی
سهیل ته بونیر او دلویدیځی برخی سهیل ته یی د یوسف زیو تحصیل
موقعیت لری. لویدیځ ته یی دارنګ برنګ سیمه، اتما نخیل او باجوړ
واقع دی.

دسوات ملك دیوی غرنی سیمی په مینځ کی په یوه لوړ ځای دیوی دری
په څیر پروت دی چی اوږدوالی یی له جنوب لویدیځ څخه پیل او شمال
ختیځ خواته تقریباً (۵۰) میله اوپلن والی یی دشمال څخه جنوب ته
تقریبا در ی میله دی، ددی نه پرته جنوبی او شمالی غرنی برخی هم په
دغی سیمی پوری مربوطی دی. او دهغو غرونو څخه چی کومی دری
دسوات منځنی برخی ته غزیدلی دی په هغو کی هم تر لیری لیری ځایونو
پوری ابادی تر سترګو کیږی. دسوات ملك په مینځ کی لویدیځ
خواته دسوات سیند بهیږی چی ددغه سیند په دواړو غاړو کی دشمالی
او جنوبی غرونو تر لمنو پوری دکرنی وړ اواری ځمکی پرتی دی. ددغه
سیند څخه پرته دغرونو په مینځ کی درنواوبو چینی موجودی دی چی
دغه ملك ته خاصه ښکلا او شینوالی بخښی، دکرنی ځمکی یی حاصلخیزه
اوجوار او وریجی په کی په زیاته اندازه کرل کیږی، د سوات
سیند قطبی او سهیلی غاړو ته ډیر کلی ودان شوی دی.

دسوات ملك په دننی برخه کی زیاتره داکوزیو قوم چی په اصل
کی دیو سف زیو دنسل څخه دی په دی ډول پراته دی.

چی د سیند قطبی خواته د خواجوزی ښاخ، سهیل ته یی بازیدزی او په
سهیلی غرنی برخه کی یی چیرته چی د یوسفزیو او سوات سیمه
سره یو ځای کیږی درانی زی اوبانی زی ښاخونه میشته دی. دلویدیځی
برخی څخه دباندی د ګوجر ود ښاخ غرنی خلك او سیږی. دسوات اودیر
په شمال کی د کاشغر او ترکستان دکاروانو نو تجارتی لاره ده چی

دغه لاره ددوبی دگرمی د تیرېدو څخه وروسته د واورې د وریدو او ختو له امله د کاروا نو لــــه پاره یو لږ ستونزی رامنځ ته کوی او بیا په دغه لاره سوداګران مضبوطو بدرګو او امنیتی تدابیرو تــه اړه پیدا کوی.

په سوات کی یودول توری وریښمی شړی جوړیږی چی ډیر شهرت لری. دلته ډیر ښکاری بازان هم شته چی د خلکو لخوا نیول کیږی، غلـــه، ژیړ غوړی او شات له دغه ځایـــه دباندی ملکونو ته وړل کیـږی.

دلته د کوهاټ له سیمی څخـــه مالګه راوړل کیږی چی هغه دسپین نمک د مالکی له کان څخه استحصا لیږی اوددغی مادی سودا ګری ددیرو سوداګرانو په ذریعه تر سره کیږی. دپنجاب نه د یوسفزیو سیمی تـــه د ملاکنډ (ملکند) دغره څخه یوه لارراغلی ده، ددغه غره په ختیځه برخه کی افشار نادر شاه ایرانی یـــوه لارجوړه کړیوه چی اوس ښیخی وراڼه اوله مینځه تللی ده.

دسوات آب و هوا (اقلیم) معتدله ده، په تیره بیاد تودوخی په موسم کی د صحت له پاره ډیره ګټوره ده. ددی ملك په هکله خوشحالخان ختك چی د اورنګ زیب دواکمنی په وخت کی یی ژوند کاوه په پښتو ژبه څو شعرونه ویلی دی* چی دهغوله جملی څخه یی یو دادی:

سوات یی واړه لګدمال کړسرترپایه
خبرداریی شو م لههره هره ځا یه
ملك دسوات دملوکانو یونشاطدی
په د وران دیوسفزیو وران رباطدی
په هوا کښبی دکشمیر په آب ورنګدی
حیف دی دا چی کشمیر ار ت د ی دی تنـــګ دی

دسوا ت په ملك کی زړی کندوالی اوتاریخی آثار او آبدی دبتخا نو ا و بتانو ښښی ښښانی او نور تر لاســه شوی دی.

دا تاریخی آثاردغه خبره څرګندوی چی په لرغونو زمانو کی به پـــه دغه ځای کی یو نانیان او هندوان اوسیدل.

---

* دغه شعر دکتاب په متن کی په اصلی بڼه یعنی په پښتو لیکل شوی بیا وروسته په اردو ژبه ژ بـاړ لشوی دی، دلته یی ژباړی ته ضرورت نه و.

(ژباړو نکی)

لوس اوس د سوات دا وسیدونکو شمیر د (۵۰۰۰۰) شخه زیات دی ۰
ددغه ځای خلک سنی مذهبه مسلمانان دی ۰ ددغی سیمی په لویدیځه برخه
کی د پنج کوړی سیند دسوات له روده سره یو ځای کیږی ۰

داونک برنگ سیمه :

داونک برنگ شمال ته پنج کوره، ختیځ ته یی سوات او شمال لویدیځ
ته یی باجوړ رود د مومند وغرنی سیمه موقعیت لری، سهیل ته یی
دهشت نگر (اشتنغر) حد واقع دی ۰
په دغه علاقه کی د اتمان خیلو قوم چی د کرلانی له نسل شخه دی
میشته دی ۰ ددوی د کرنی ځمکی په غرنیو اولوړو ژورو سیمو کی
پرتی دی، داتمانخیلو خلك زیا تره په سوداگر ی بوخت او دا وسپنی
تجارت کوی ۰

دباجوړ سیمه :

د باجوړ سیمی زیاته برخه په جگو غرونو کی موقعیت لری، چی
شلور خواوی یی په دی ډول دی، قطب ته یی دکافرستا ن غرنی سیمه،
لویدیځ ته یی کونړ، سهیل ته یی دمومندو غرنی سیمه او ختیځ ته یی
لړ شه مومند او یاتی اتمانخیل موقعیت لری دغه ملك په دریو برخو ویشل
شوی دی ۰
لومړی دباجوړ خاصه پرگنه چی دیوی وادی په ډول دیولړ غرو نو
په ذریعه احاطه او اوږدوالی یی له سهیل شخه دشمال ختیځ خواته
دی، ددغه ځای ځمکی ښه حاصل ورکوی او د هغو چینو په ذریعه چی
له غرونو شخه راځی خړو بیږی ۰
دویمه دبرول سیمه چی په دغه سیمه کی د اوسپنی سامان الات
جوړیږی ۰
دریمه دجندول سیمه چی اکثراً دلته ترکلانی یا ترکانی قوم میشته
دی ۰ ددی ملك پیداوار ددغه ځا ی داوسیدو نکو له پاره کفایت کوی،
زیږ غوړی، شات او او سپنه له دغه سیمی شخه د دوابی له
لوری د پیښور ضلعی او حضروته ځی، همدا راز دلته دیو ډول مضبوط
او کر سوداگری دیره گتوره ده، دمیښو پو خ چرم دمیا کلی د سیمی
عمده تجارتی قلم دی ۰

دمومنډو سیمه :

دغه سیمه دباجوړ سهیل ،دکابل‌د سیند شمال ته ددوابې د تحصیل حد نه نږدې دپېښور د ضلعې لویدیځ ته پرته ده ،په دغه سیمه کې د مومندو دقوم ځانګې اوښاخونه په لاندې ډول میشته دي: قطب‌خوانه وادي ګانې، اتمانزي‌اودکمال ځانګې‌او پنډ یالي ،ترکزي، په کنداپ‌او ختیځه او جنوبي برخه کې اوسیږي.

مومندو په سیمه کې اکثرا ء غنم‌او اوربشې په للمې ډول‌کرل کیږي، مومند اکثرا ء په عمده ډول دپوریودخر څولواو نوري‌سوداګرۍ‌نه لاري خپل ژوند تامینوي چې ددوې په هکله به زيات تفصیلات وروسته راشي .

دګونړ سیمه :

کونړ چې یوه ښکلې شنه او سمسوره سیمه ده هلته هر راز میوې پیدا کیږي، ددغه ځای ختیځ ته باجوړ، شمال‌ته یې د کافرستا ن غرني سیمه ،لویدیځ ته یې‌لغمان اوجنوب ته یې‌کامه ګګیاني‌اومومند پراته دي، دکونړ شمال لویدیځ ته یوجګ‌غر چې کند نومیږي او دسمندر له سطحې څخه (۱٤٤۳۸) فټه جګوالي لري پروت دي.

په دغه ځای کې غله په پوره اندازه تولید اوهمداراز دتجار ت ور نرې وریجې پکې موندل کیږي. دکونړ سیند دشمال لویدیځ څخه دسهیل په لور بهیږي او د کابل‌سیند د کامې او بهسودو تر مینځ ور سره یو ځای کیږي.

دخیبر سیمه :

په دغه سیمه کې اکثرا ء سخت‌غرونه او درې پرتي‌دي، ختیځې خواته یې د پیښور ضلع لویدیځ‌ته یې ننګنهار (ننګرهار) قطب ته یې د کابل سیند او جنوب ته یې داپریدیو سیمه او دسپین غره لړۍ ،ددغه ځای سرحد جوړوي .په دغه سخته علاقه کې اکثراء داپریدي قومونه اوسیږي . د کابل او پیښور لاره له دغو غرونو څخه حمرود نه نږدې را وځي اوپیښور ته‌داخلیږي.

دلته غله او لارو هونګې خلک‌هم شته اوپه لاروهنو لاس پوري کوي.

دننګنهار یا ننګرهار سیمه :

ننګرهار دخیبر لویدیځ، دکابل‌سین سهیل، دسپین غره نه شمال‌اود کابل ختیځې خواته موقعیت لری،دغه سیمه حاصل خیزه اوآباده ده، انار او نوری میوی یې‌مشهوری دی.دد غه ځای مشهور کلی او قصبی دادی ، جلال آباد ، لعلپو ره، باسول ا هرارناو .ځینی خلك ددغی سیمی‌اصلی حدود دکابل سیند څخه دشمال‌خواته تر لیری ځایونو پوری تاکی اوددوی په نظر کامه ، بهسود او حتی‌کونړاولغمان هم دننګر هارپه‌حدودو کی شاملیږی .

ددغی سیمی دتسمیی وجه دنورنهار یعنی نهه نهرونه یانه دری‌څخه اخیستل شوی دی او دنو نهار کلمه دزیات استعمال په سبب او دپښتو ژبی دغلط استعمال په وجه پــــر ننګنهار مشهور شو .

په ننګر هارکی مومند، شینوا ری،ساپی، (خوګیانی) او نور او ختیــځ ته یی اپریدی اباد دی ، په دغـــه ملك کی سپین وریښم ،پنبه، وری، نری‌و ریجی ، انار او نور ډیرشیان پیداکیږی‌چی‌دسوداګرانو په ذریعه له دغه ځایه پیښور اوکابل تـــه وړل کیږی. له دباندی ملکونو څخه دغه ځای ته پوخ چرم ، نیل، اونوراوهمدا رازانګر یزی مصنو عــــات راوړل کیږی. او ددغه تجارت پـه سبب سوداګرا نو ته ډیری ګټـــــی ورپه برخه کیږی ،دکابل او پیښورتر مینځ لاره له جلال آباد څخــــه تیریږی . چی په دغه لاره ډیر تګ‌؛ راتګ کیږ ی او اوس دننګر هـــــار سیمه دکابل لمیر تر واك اوادا ری‌لاندی ده .

دتیراه سیمه :

تیراه ډیره پهإ زره پوری هوالری،اصلی تیراه په یوه واړه ځای کـی دتیتو غرونو په سر په اوار اومیدانی‌ځای کی‌موقعیت‌لری ، خو هغه قو - مونه چی په کی اوسیږی او په‌دوی‌پوری دمربوط او مقبوضو سیمو ذکر یوه ځای کی ضروری ګڼــل کیږی.

دتیراه قطب ته دپیښور ضلعه،خیبر اوننګرهار، لوید یځ ته یـی سپین غر او راجګال یا راجګړ غر ،سهیل ته یی دبنګښو دقوم سیمـه چی دکوهاټ په ضلعی پوری مربو طده‌او ختیځ ته یی دختکو غر وا قـع دی چی‌دسندرود دهغه غره‌ختیځ‌خواته بهیږی ددغه ملك په شمالی اوختیځه برخه کی داپر یدو قوم او سیږی اوسهیلی او لویدیځه برخه کی یـی

داورك زی قوم تساط لری چــــــی ددوی جنوب ته دومشت یازیمخت اوسیږی .

دکرنی وړ ځمکی دخاصی تیراه‌نه پرته په نور ځایو نو کی چی غرنی او اوارنه دی کمی موندل کیږی، په تیراه کی کرخی (لوبیا)غنم ، اوربشی او جوار په پوره اندازه کرل کیږی،ددغه ځای په مصنوعاتو کی چړی او توری مشهوری دی .

په تیراه کی دوه لوی میشته قومونه یعنی‌اپریدی اواورك زی‌جنگیالی او کینه کښ او ددوی تر مینځ دښمنی او شخړی هم موجود دی، د تیراه آب وهوا او اقلیم معتدل اود صحت لپاره گټوری دی، دتیراه‌په سهیلی برخه کی چی ځینی غرونــه موقعیت لری دهغوی دځوکو جگوالی دسمندر له سطحی څخه په دی‌ډول‌دی د هر یو غر څوکه (۷۹۴۰) فوټه د دوپا سر (۸۲۶۰) فوټه اوزاوغر(۹۳۸۰) فوټه .

دکرمی ایجنسی :

د ‌کرمی نوم اصلا دیوه رود لــه نامه څخه اخیستل شوی دی اوځنگه چی دغه ځای دنوموړی رود په غاړه‌آباد شوی نو ځکه د کرمی په نامه یادیږی، ددغه ځای شمالی ته سپین‌غر لویدیځ ته یی د منگلو سیمه چی هغه هم غرنی ده ، سهیل ته یی‌دخوست سیمه او ختیځ ته یـــی داورکزیو او بنگښو علاقی پرتی‌دی.دسپین غره سهیلی برخو ته ځــو مشهوری‌دری لکه شلوزان، ملو نا،زیړان ،کرمان، پیواړ، اواریوب موقعیت لری .

دکرمی ځمکی‌حاصل خیزی اودکرمی‌د رود په ذریعهٔ خړو بیږی دلتــه جوار او وریجی ډیری پیدا کیږی ،همدا راز میوی لکه انگور، انار، او منی ، او نور بنو او نورو ځایو نــوته د خارجی او داخلی سوداگرانــو په ذریعه وړل کیږی .

ددغه ملك لویدیځی خواته پــه اریوب کی د ځاځیو قوم ، چی سنی مذهبه مسلما نان دی اوسیږی، دپیواړ نه ښکته اکثر توری او لـــه شه بنگښ او اشد رافضی او سیږی‌او په پورته غرنیو برخو کی یی‌منگل او څکمنی اېستو گنه لری.

په‌سپین غره کی دو دانیــو ډول‌ډول لرگی‌لکه زیتون، دیودار اونور پیدا کیږی. ددغه مشهور غره لویدیځی څوکی تقریباً (۱۶۰۰۰) فوټه جگوالی لری او تل په واورو پټــی‌دی نو ځکه د سپین غره په نامه سره یادیږی .

دخوست سیمه :

خوست چې دکورمې دعلاقې په جنوبي برخه کې موقعیت لري، لویدیځ خواته یې دځدرانو غرني سیمه او سهیل اوختیځ ته یې دوزیرو غرمیت خیل اوحسن خیل پراته دي،دا سیمه د څلورو خواووڅخه دغرونو په ذریعه احاطه شوې ده، چې په مینځ کې یې د خوست سیمه دیوه میدان په څیر چې اوږدوالی یې له ختیځ څخه لویدیځ خواته اوپلنوالی یې له سهیل څخه شمال خواته دی موقعیت لري.

دشمالوو دچې دځدرانودغرونوڅخه راوځي او ددغه سیمې په مینځ کې د ختیځ په لوربهیږي دخوست سیمې اکثره ځمکې خړوبوي ، خو ځینې ځمکې یې د چینو په ذریعه هم خړوبیږي .

په پسرلي کې پکې غنم او په مني کې وریجې پیدا کیږي .

دخو ست په لویدیځه برخه کې اسمعیل خیل ، لغاړي پیران ،حیدرخیل ، مندوزي ، په منځنۍ برخه کې یې ږبه ،مردان خیل ،متون اوپه ختیځه برخه کې لکڼ ، زکي خیل ،قدم ، لنډر ، او صادق پراته دي،

په لویدیځه او سهیلي څنډه کې دغرو په لمنه کې دتنیو قوم اودهغه په ختیځه برخه کې دکربزو قوم پروت دی . لغاړي او لږ شمیر کربز او تني دسوداګرۍ په چاړو بوخت او نور قومونه عموماً کروند ګر دي .

په خوست کې دلغاړي قبیلې نه پر ته نور قومونه په دوو برخو کوندونو ویشل شوي او په خپل مینځ کې سره دښمني اوشخړې لري یو یې دتور ګوند او بل یې دسپین ګوند په نامه بلل کیږي. چې اکثر د دوی تر مینځ جګړې پیښیږي .

خوست تماکو مشهور دي، همدا راز زیږ غوړي او وریجې اولمځي اکثرا د لغاړي دقوم په ذریعه دبنو ضلعې اونورو ځایونو ته وړل کیږي،وزیرسودا ګر دلته مالګه دخرڅلا وله پاره راوړي او بنه کټه په کې نوي. خوست ته له بنو څخه مالګه ،نیل اوسپنیز اود ځرمني مصنوعات، سپین توکران اونور راځي اوپه ډیر قدر او قیمت سره خرڅیږي. اوس د خو ست سیمه د کابل په ریاست، پورې مربو طه ده .

دوزیرو سیمه :

د وزیرو سیمه ډیره پراخه اودوزیرو قوم په کې په خواره واره ډول او اکثراً په خیمو کې ژوند کوي . خو یوشمیر مسعودو، یو څه اتمانزیو او لږ شمیر احمدزیو په غرونو کې دځانونو لپاره داوسیدلو کوټې او کوروټه جوړ کړيدي .

که څه هم د وزیرو په ملک کی خلک په متفرقو او خواره ډول اوسیږی او مقبوضه سیمی یی هم لیری سره پرتی دی، خو د هغه غرنی ملک حدود چی دوی وربا ندی تسلط لری په لاندی ډول دی ختیځ ته یی د کوهات ضلع، بنو او د بتنیو غرچی د دیره اسمعیل خان د ضلعی د ټانک سیمی ته یی سرحد وررسیدلی دی. سهیل ته یی د گومل دره لویدیځ ته یی د خروتو د قبیلی سیمه چی د بیرمل د غره سره متصله ده ، قطب ته یی داورگون او ځدرانو سیمه د خوست ملک کرمه او د کوهات د ضلعی حدود واقع دی، د دغو حدودو په مینځ کی د وزیرو قبیلــه په متفرق ډول اوسیږی، دلته د درویش خیلو فرقه یعنی اتمانزی ،احمدزی وزیر اکثرا سره په گډ ډول ژوند کوی خو د مسعودو سیمه، بیله ده او هر یوی ځانگی ته په غرنیو سیمو کی بیلی بیلی ځمکی ورکړل شوی دی .

د کانی گرم ، شوال، مرغه ، او بیرمل نه پرته په نورو ځایو لــو کی د کرنی وړ ځمکی لږی دی ،د غه ملک ډیر لوړ او ژور دی او خصو صــا په سهیلی او لویدیځو سیمو کی یی ډیر جگ جگ غرونه مو قعیت لری، چی تر ټولو څخه لوړ غر د مسعودو په سیمه کی پیرغل نو میږی چی لوړ والی یی د سمندر له سطحی (۱۱۵۸۳) فوټو ته رسیږی. په دغه غرونو کی د خیری او دیودارونی په پریمانــه اندازه موجود دی چی له هغو څخــه دودانیو په جوړولو کی کار اخیستل کیږی، همدا راز د نښتر له لرگیــو څخه جوړی شوی نیزی له دغــــه ځایه څخه د بنو او ټانك سیمو ته ډیری استول کیږی، د وزیرو سهیل خواته د وانه غر پروت دی چی په ملکیــت باندی یی شخړی روانی دی ،ځکه چی وزیر دغه غر خپل حق او د و تانی یی خپل حق بولی، خو د ژمی په موسم کی دوتانی او داوړی په موسم کی دوزیرو په لاس کی وی. همدارنگه دلته پوونده سلیمان خیل هم راځی، دوزیرو په هکله به زیات تفصیلات وروسته راشی .

د وزیر په ملک کی د دوړ و علاقه :

دغه سیمه د بنو د ضلعی لویدیځی خواته د توچی درود په دواړو غاړ و کی مو قعیت لری، د دغه علاقی څلورو خواوو ته دوزیرو ملك پــروت دی چی د توچی دری په د ننه، کی د دوړ و قبیله اوسیږی په لویدیځه برخــه

کـــې یې دد ریه خیلـــــوځانګه همزاتي ، ملخ په مینځ کـې تپسی پراته دی ، ختیځه خوا کـې دبنوضلعی ترځنګ دحیدرخیلو ،سبو خیلو او عید کو ځانګې اوسیږي، ددوی ځمکې دتوچې دسیند په ذریعه خړو بیږی او ددغو ځمکو حاصـلات تقریباً ښه دی. تمباکو، زیړ غوړی او حیوانات له دغه ځایه د بنـوسیمې ته صادریږی او له هغه ځایه سپین وریښمین توکران اومالګــه راوړل کیږی .

دشیرانیو سیمه :

دغه سیمه دګومل دری سهیل ته پرته ده ، چې لویدیځ ته یې دژوب سین یا د کاکړو دقوم سیمه ، مندوخیل او ختیځ خواته یې دد یره اسمعیل خان ضلع او د کلانچې پرګنه، مـوقعیت لری . ددغې غرنۍ سیمې پـه شمال کې دحسن خیلو قبیلې پــه منځ کې ابو خیل، جلوانی او پــه سهیل کې دشیرانی قبیلې دهریپال ځانګې پرتې دی ، پرته له دغـــو ځانګو څخه دبابړو اوستریانی قبیلی هم په جنوب ختیځه برخه کې پرتې دی .

دشیرانیو په سیمه کې د تخت سلیمان څوکه موقعیت لری چـې لوړوالی یې دبحرله سطحې څخه تقریباً دولسو زرو فوټو په شاو خواکی ده نوځکه دغه غره ته د سلیمان دغره نوم ورکړی شوی دی.

دشیرانیو او اوستر یا نیوپه سهیل کې دوهروه په نوم له یوی غرنــی ویالې څخه نیولی دغازی خان تـــر ضلعی پوری حدود و سره متصل دبلوڅو د قوم ښاخونه په دی دول پراته دی چې دوهووه له ویالی څـــخه د کسرانی قبیله او د هغوی سهیـــل ته بزدار اونور د شاسم (شم) میدان لویدیځ ته د ملك په غره کی دمری قبیله او دهغوی سهیل ته بګتـــی اوسیږي .

دکاکړو سیمه :

دکاکړو قبیله هم لکه د وزیـروپه شان په یوی لوی غرنی سیمــه کې پراته دی خو په دغه ځای کـــې مشهور او عمده ځایو نه هم پدی دول موجود دی .

لومړی د ږوب درود وادی چــې اوږدوالی یې له شمال څخه د جنوب په خوا او سور یې له ختیځ څخـه دلویدیځ خواته لږدی او پــه دواړو غــــاړو کی یې د کا کـــړ و اومند و خیلـــــو د قبیلې کلی

آباد شتوی دی، ددغه ځای ځمکــــی که څه هم ډیری حاصل خیزی دی خو شنکه چی د اوسیدو نکو شمیر یــی زیات دی ، نو ځکه ددوی له پاره دغه ځمکی ډیری کمی دی .

دوهمه د پوری بوشور، کنجوغی او کوته سیمی چی په دغه ځای کی د بولان دری لاره چی کندهار یـــی له شکار پور سره تړلی مو قعیت لری، له دغو څخه په گرد چاپیره غرنیو سیمو کی اکثراء آبادی خوری وری لیدل کیږی .

ددغه ځای ختیځ خواته دشیرانی غر دی چی د بلو څو د سر حدونــو څخه تر لیری ځایو نو پوری غزیدلی دی د پښتنو موسی خیلو اوایسوت قبیلی دبلو څو د کسرانی قبیلـــی دغرنی سیمی لویدیځ خواته دغازی خان تر ضلعی پوری میشته دی، ددوی له سیمو څخه ، پسونه اونور حیوا نات بهر نیو علاقو ته دخرڅلاوله پاره بیول کیږی او نورو ځایونو څخه سپین توکران دلته راوړل کیږی او سوداگری یی کتوره ده . دکاگړو په باب به مفصل جغرا فیایی معلومات وروسته ددغه سیمی له تاریخ سره یو ځای ذکر شی .

مقد مه : (*)

پورته دافغانستان دهغو سیمــو او منطقو ذکر وشو چی دانگړ یزی مر کار پو لو ته نږدی پرتی دی ، او د بیان ضرورت یی احسا سیده ، دذکر شوو سیمو د هری یوی دحدوداربعه (څلور خواوی)او په کــی دمیشته قومونو حالات په مفصل ډول بیان شول ، پاتی برخه یعنی لویدیځ افغانستان د علاقو حال یی که څــه هم راته څرگند دی ، خودکلام داوږد والی له امله یی تفصیل پریږدم او دڅلورو لویو او مشهورو ښارو نــو یادونه یی کتوره بولم .

لومړی د کابل ښار :

دغه ځای دلویدیځ افغانستا ن دواکمنی مرکز دی چی دقطبی عر ض البلد په (۳۳) درجو او لسو (۱۰) دقیقو او دختیځ طول البلد د (۶۰) درجو او (۱۵) دقیقو تر مینځ موقعیت او لوړ والی یی دسمندر له سطحی څخه (۶۲۵۰) فوټو ته رسیږی . دغه ځای دمیوی او گلانو په باغونو کی پټ د دریو (۳) میلو په و سعت تقریباً د (۷۰) زرو تنو استو گنځی دی .

---

* تر دغه ځایه مولف دشر قــی افغانستان په هکله معلومات راټول کړی او کله چی دلویدیځ افغانستان برخی ته راځی نو دلته دی دمقدمی په ډو ل څو خبری کوی که نه نودلته مقدمه نه راځی (ژباړونکی) .

۱ دکابل جنوب ختیځ ته دیوه واړه غره په سرد بالاحصار کلا ودانه شوی ده ، دکابل سهیل لویدیـــځ خواته د اکبر پاچا دنیکه محمد بابر مقبره واقع ده ، ددغه ښار ابادی سره نښتی ، تنګی او په اوږده شکل جوړی شوی دی ، سهیل او شمـال لوید یځ خواته دغرونو لړی او ختیځ خواته یی باغونه او میدانی سیمی پرتی دی او په شمالی برخه کی یی سین بهیږی .

دکابل ښار دوه مشهور بازار ونه لری چی یویی دشور بازار او بل یی دچتی دبازار په نومو نو سر ه یادیږی او له چته بازار څخه مقصد دادی چی نوموړی بازار دیوه چـت په ذریعه پوښل شوی دی دغه بازار دچار چوک چار سو په ډول بارونقه او ښکلی جوړ شوی دی خو یوه اندازه تنګ دی ، په دغه ښار کی دسوداګرانو او مسافرانو داستو ګنی له پاره پنځه سرایونه موجـود دی ، لومړی د جبار خان زوړ سرای ، دویم دجبار خان نوی سرای چی اکثـراً په کی پونده میا خیل سودا ګـــر اوسیږی دریم د محمد قمی سرای چی دکندهار سودا ګرا ن په کی میشته دی .

څلورم دوزیر محمد اکبر خــان سرای چی په لوی مساحت او پـه ګرد شکل جوړ شوی اودعا مو سوداګرانو ځای دی ، پنځم د زرداد سرای چی شو تنه هندوان اونور سوداګران په کی اوسیږی که څه هم دافغانستان بیلی بیلی سیمی مختلف اقلیمو نه او بیله آب و هوا لری او دځمکـی دجوړښت له نظره ډیری تیټی ا وجګی سیمی په کی موجودی دی چی دغرنیو او جګو سیمو هوا سړه او د ټیټو شکلنو سیمو هوا ګرمه ده ، خو دکابل هوا معتدله ده یعنی نــه ډیر سوړ دی او نه ډیر ګرم ، دری میاشتی واوره لری چی کله کلــه ددغه اوربښت له امله لار ی هــم بند یږی ، خو کابل په پسرلی کی ښکلی او دلید لو وړ دی .

دکابل ښار ښه تجارتی مو قــف لری .دایران، هندوستان، ترکستان او حتی له روس څخه هم سوداګران دلته راځی اوله ځان سره مختلف تجارتی شیان راوړی .

له دغه ښار څخه څلویښت میله د شمال خواته ، څلور سوه فوټـــه جګ دیوه غره په دننه کی تقریباً -دووسووګزوپه ارتفاع او سلوګز و په پلنوالی دریګو یوه لویه کوټه (انبار) موجوده ده، کله چی څـوک د هغه سر ته ورشی نو هلته تنـــد باد چلیږی او د هغو ریګو له مینځ

ښځه دنغاري او نور ګړونه راځي، دغه ریګونه ددغه ځای خلك ریګ
روان وایي اود هغه ترڅنګ يوه سمڅه ده چې خلك هغه د شیعه
مذهب امام مهدي ځای بولي.

په کابل کې د میوو له جملې څخه توت او شاه توت ډیر زیات دي ، او
کله چې نورو مو ږي میوه پخه شي نو غریب خلك وربانديځان
مړوي ، او خپله ګذاره پرې کوي اودغه میوه وچوي چې په دغه صورت
کې تر ډیره وخته پورې ساتل کیږي او لیرې ځایو نو ته د خرڅلاو
له پاره وړل کیږي .

دکابل ښار له پیدا وارو څخه پرته دڅهار دهی ، میدان، لوګر
اود کهدامن له نورو سیمو څخه چې شمال خواته موقعیت لري اود ساپیو،
مومندو، خروټو، کاکړو، ناصرو ،سلیمان خیلو، سهاکو، غلزیو ، او
نورو خلکو استو ګنځی او خلك يې د کرني په چارو بوخت دي، اکثر اء
ضروري شیان له خپلو سیمو څخه ښار ته دخر څلاو له پاره راوړي.

دویم دغزني ښار:

دغه ښار په پخوا زمانو کې د زابل په نامه یادیده، چې د کابل څخه (۷۰)
میله لرې دجنوب خواته اود سمندر له سطحې څخه (۷۷۵۰) فوټو په
جګوالي پروت دي .

دغزني ښار دیو نیم میل خندق په ذریعه احاطه شوی اود یوه خام ښار
په پناه کې جوړ شوی دی چې پنځلس زره تنه په کې اوسیږي، د ښار شمال
خواته يې کلا* موقعیت لري.

زوړ (پخواني) ښار له دغه ځایه ددرې میلو په واټن شما لختیځ
خواته پروت و او په اوږده ا و وسیع دول جوړ شوی و، دا ښار په
(۱۱۵۱) عیسوی کال کې چې له هغه وخت څخه (۷۱۵) کاله تیریږي
دعلاوالدین جهانسوز لخوا وسوزول شو .

دغزني زوړ ښار دغزنوي محمو دله خوا هغه وخت جوړ کړی شوی وچې
هند يې فتح کړ او اوس د ښار او سلطان محمود د مقبرې تر مینځ
پرازې دوه منارونه چې هر یو يې سل فوټه جګوالي لري پاتـه دی .

ددغه لوی پاچا مزار ته اوس هم خلك ترهغه اندازه درناوی کوي چې
ډیر افغانان له لیرې ځایونو څخه په لوڅو پښو په ډیر عجز سره ورته راځي.

---

* دکلا څخه مقصد دبالاحصار کلاده.

دصنددل ځخه جوړی شوی یوه‌جوړه‌دروازی چی اتلس فوټه جګوالی‌یی لاره اودمحمود غزنوی له‌خوادسومنات‌له معبد ځخه‌راوړل شوی اودده په مقبره کی لګول شوی وی، کله چی‌انګریزان افغانستان ته راغلل‌دبیرته تګ په وخت (۱۸۴۲ع) کی یی دغه دروازی هم له ځان سره یوړی، اوس دغه دروازی داګری داکبـــرآباد په کلا کی موجودی دی.

دغزنی ښار آبادی اکثراء یوله بلی‌سره په متصل ډول جوړی شوی او بازارونه او کوڅی‌یی تنګی دی‌دښارپه مینځ کی اکثراءدیکانان فارسیوانان او هندوان ژوند کوی. دښار شاوخواته شنه باغونه جوړ شوی دی ښار ته نږدی لویدیځ خواته دغزنی‌رودله‌شمال ځخه دجنوب خواته بهیږی.

دغزنی‌آب‌وهوا معتدله او د صحـــت‌لپاره ګټوره ده، په هغه ځای کی‌چی دغه ښار ودان شوی دشلګر په نامه یادیږی او ددغی پراخی سیمی ځلور خواوی په دی ډول دی:

لویدیځ خوا ته یی دهزاره‌جات‌غر، ختیځ خواته یی‌دزرمت غر،شمال ختیځ ته‌یی دخروار غر، جنوب ختیځ ته یی دکتواز غر اولویدیځ او سهیل خواته یی‌ترکندهار پوری‌اوارمیدانونه پراته دی. له‌دغو ځخه یو غر چی لویدیځ ته پروت دی دواغز په نامه یادیږی دشلګر ملک حاصل خیزه او پریمانه اوبه او نهرونه لری اوددغه ملـــک په شما لی ځنډه کی یی دغزنی ښار پروت‌دی. ،دد غــــه ځای اکثراء مالکان او اوسیدونکـی غلزی اندړدی،هغه پووندہ سوداګران‌چی داوړی په موسم کی‌له هندوستان ځخه راځی دشلګرپه سیمه کی اړوی.

دریم: دګندهار ښار:

ددغه ښار نوم په سنسکر یت‌کی‌دګندهار په شکل راغلی اودکابل‌له ښار ځخه تقریباً (۲۰۰) میله لیری،جنوب ختیځ خـــوا ته پروت دی. جګوالی یی‌د سمندر له سطحی ځخه‌تقریباً ۳٫۵ زره فـــوټـــه او شا و خواته یی خامه کلا او ددریو میلوخندق په ذریعه احاطه شوی دی، تقریباً شپیته زره کسه په دغـه‌ځای کی ژوند کوی، یوه زړه کــلا ددغه ښار شمال خواته پرته ده چی‌دهغه ځای خلك یی دارګ په نامه یادوی، داحمد شاه بابا مقبره اوخرقه شریف په ښار کی د ننه لویدیځ خواته مو قعیت لری چی د لیدنـــی‌وړ ځایو نه او ډیر ښکلی او پـــه منقش ډول جوړشوی دی .چارســو یعنی دڅو ك بازار دپنځو سو ګـز و په پلن والی دګنبدی په شکل پوښل‌شوی دی. ددغه ښار شاو خـوا د ارغنداب د سین‌په ذریعه چی دهزاره‌جات له غر ونو ځخه راوځی خړوبیږی

نو له دی امله دغه ځایونه شنه او آباد دی، په تیره بیا شمال خواته ددوو میلو په فاصله چیرته چی د کندهاری بابا ولی صاحب زیارت دی ددغه ځای شنه باغو نه او دهر راز مرغانو اوازونه هر انسان ته خاص خوندور ښخښی، په کندهار کی د پښتنو له قوم څخه عموماً درانی، بابړ، کاکړ او خروتی میشته او پرته له دوی څخه فارسیوانان او هندوان هم په دغه ښار کی میشته دی.

دارغنداب له سین څخه پرته د ترنك رود هم چی ختیځ څخه دلو -

یدیځ په لور بهیږی د کندهار یسوه برخه خړوبوی، دلته هر راز میوی پنبه او ډیر اعلی تمباکو پیداکیږی، غنم د کندهار ختیځ ته، دارغستان په سیمه کی او په شمال کی دخاکریز په علاقه کی په زیاته اندازه کرل کیږی، د کندهار شمال په غرو کی ددغه شیانو کانونه میندل شوی دی.

لومړی د سرو زرو کان چی له ښار څخه، په (٥ر١) میل فاصله دمورچی کوتل او مقصود شاه (شاه مقصود) غره تر مینځ په سیمه کی موندل شوی دی ددغه کان دطلاء جنسیت ډیر اعلی دی مگر دکار دبی نظمی په سبب یی تولید کم دی.

دویم د قادز هروکان:

دغه کان د شاه مقصود په غره کی موقعیت لری نوځکه دغه ډیره د شاه مقصود په نوم هم بلل کیږی، له دغه معدن څخه زیری او دنورو رنگونو ښکلی قیمتی ډبری لاس ته راځی چی اکثراً له هغو څخه د تسبیحو په جوړولو کی کار اخلی او ددغو تسبیحو قیمت له یوی روپی څخه نیولی (دجنس دښه والی په سبب) آن تر سلو روپیو پوری خرڅیږی، همدا شان په دغه غره کی یو ډول سپین رنگه خاوره چی د شاه مقصود عرق یی بولی لاس ته راځی چی ډیره با خاصیته ده، له دغو کانو نو څخه پرته رانجه هر ډول زراك (زنز) سرب، داتا بك تیږه، ابرك، مومیایی او نوری ډول ډول تیږی ددغو شمالی غرونو په لړیو کی موندل کیږی، دلته گچ هم شته چی د چونی په پړتله په ودانیو کی ورڅخه زیاته استفاده کیږی.

دپیر کسری له غره څخه چی د کندهار په لویدیځ او د سیستان

ختیځ خواته پروت دی نیل طوطیاء، زنز، پتکری، نوشادر، گوگړ، رانجه او نوری قیمتی ډبری او مالگه په زیاته اندازه لاس ته راځی.

دکندهار ښار یو مشهور تجارتی ځای دی، دلته پښتانه دبابی قوم د پشمین سپهدان او پارسی بان اونورپه سوداګری بوخت دی.

دکند هار ښار که څه هم دیره ښه آب وهوا نه لري خو دیره بد هم نه ده، دلته دژمی په سړو کی دګرمی وخت کی هوا (۴۹) درجی فارنهایت او دګر می یاد اوری په موسم کی (۹۸) درجو دفارنها یت ته رسیږی. په نورو سړو او کر مووږ کی د حرارت درجه ددغو دوو یاد شوو درجو تر مینځ وی.

په کند هار کی د سوداګرانو داستو ګنی لپاره څو سرا یو نسه هم جوړ شوي دي . د کنج بازار په نوم مندوی کی هر ډول حیوا نات اوزراعتی حاصلات لکه پنبه ،اونور خرڅیږی.

په کند هار کی د دیر ښه جنسیت لرو نکی وریښم پیدا کیږی، مګر د خلکو د لږی علاقی (شوق) لـه امله چی له دغه جنس سره یی لر ی تولیدات یی کم دي.

څلورم دهرات ښار :

د هرات نوم په ځینو پخوا نیـو کتا بو نو کی د هری په شکل هـم راغلی دی له کابل څخه تقریباء دپنځه سوو (۵۰۰) میلو په فاصله د لویدیځ خواته پروت دی. دلتـه دیره لوی ښار په مینځ کی تقریباء (۵۰۰۰۰) تنه اوسیږی، د هـرات ښار کوڅی تنګی ، دبازار شکل یی محرابی او چوك یی په ګنبدی شکل پوښل شوی دی. دغه ښار په یوه ځوری کی دیوی غوندی تر شا جوړشوی دی ځکه له لیری څخه نه ښکاری.

په هرات کی اکثراء پارسیوانان اودرانی پښتانه او سیږی ددهرا ت ځمکه سره ښکاری دهرات لویدیځی خواته دیوه نیم منزل په فاصلـی د سیاه کوه (تور غر) لړی پرته ده او دافغانستان او ایران سر حـد (ویش) دی ،ددغه غره له ختیځ خوږاو نورو خواو څخه چی کومی اوبه[

*قبح جاوید .

ملخي د هرات سیمه څرو بوټي په هرات کې ښې غالې ، لمڅې، توشکې کرک،خرمایي بر کې، نیمه تنه کرکې چې له لسنو نو سره دلمڅې په ډول په فشار جوړیږي ، قنا ویز او نورورېښمین او وړین توکران جوړیږي او لیرې ځایو نو ته وړل کیږي .

همدا رنګه دلته کتانې تو کـــرهم په ډیر ښه ډول سره جوړیږي سپین غندك هم دلته مشهور تو کــړدی. پسته ،برغنج، انجه، زر شك، سماق ،یخمن * ددغه علاقې په غرونو کې موندل کیږي، ددیر ښه جنسیت لرونکې وریښم په هرات کې شته دی .

دچودنو معدن په دغه ځای کـې موجود دی چې دهرات دډیرو کتورو مدنیا تو ښخه شمیرل کیږي ددغه ځای آبې مالګه ډیره ښه او رانبه یې د مستر کو روښنانې زیاتوی اوداصفهانی رانجو ښخه ښه دی.

زراعتي پیدا وار او هر ډو ل میوې له ټول افغا نستان ښخه په هرات کې ډیر ښه او لومړی درجه دی ،په تیره بیا انګور چې ویل کیږي دلته شپیته ډوله یې مو جود دی، دهرات پنبه دامریکا یې پنبې سره برابره ده ، غنم یې ډیر ښه اوکو کنار، یې ډیر شهرت لري .

دهرات خام او پلخه شـــراب دشیراز له شرابو خوندور او ښـــا کیفیته دی .

---

*په اصل کې هم «یخمن» کښلی دی(و.ک ۲٤ مخ)،خو زما ګمان دادی دا به ترنجبین وي چې ښښتانه یې دزوزو کوری بولی او له هراتـــه ښخه نورو ولایتو نو ته وړل کیږي.(رشاد)

د افغانستان د ځینو نورو مشهورو ځایونو ذکر

په کابل کې:

جلال آباد، لاله پوره، پشد، چهار باغ، سلطان پور، ده سبز، چې مشهور ځایونه دي، ده یحیی، بیبی مهرو، کلکان، قره باغ، اغا سرای خواجه سرای (سرای خواجه) شکردره، ګاه دره، (*) استالیف (استالف) او استرغڅ، چهار یکار، فرزه، پغمان، دیه مزنګ (دهمزنګ) دیه بوری (ده بوری) قلعهٔ وزیر، تنګی سیدان، لال اندر (کلندر) ګته سنګ** ځینې نور، بیني حصار، چهار آسیاب، پابوس*** کلنګار، درغون شهر (زرغون شهر) ده نو، باغ سلطان، خوشي، پیوار، شلو زان، هوني، پادخواب، شانه، پادخواب، روغني، برکي برک، برکي راجان، سجاوند، چرخ او نور د کابل مشهور ځایونه دي.

---

* ګاه درې نوم اوس ګلدره دی وایي دا نوم امیر حبیب الله خان شهید پر ایښی دی. (رشاد)

** کته سنګ د سروبي په جنوب کې واقع دی، له سروبي څخه اتلس کیلو متره واټن لري. (رشاد)

*** دوړدګو دشیخ آباد په ختیځ کې واقع دی له شیخ آباد څخه دوویشت کیلو متره واټن لري (رشاد)

په غزني کي :

روضه کلائي، منګور،شاليز، ورزو، تاهسنګ ، رباط، کلال ګو ، ګرديزه سرد په (سرده)پرمل،سر روضه ،بابي او نور .

په کندهار کي :

کلات زيني* ، ده خواجه ، بابا ولي،ده ماسو س، سپيروان،سرده، پاشمول کاغانك،قرض (کرز) مزرعه(مزره)، ذاکر، ګر شك، فراه، قلعه بست او نور .

په هرات کي :

فراه،سبزوار،اوبهه (اوبه) بر نا باد، کوترخان، بوزه او شکيوان ** ، مميزك ،*** سياهو شان، زنده جان، غوريان ،ګرمسان او نور مشهور دي.

---

* په اصل کي هم دغسي کښلي دي (وک ۲٤ مخ) دا په « کلات غلزني» وي . (رشاد)

** په اصل کي اشکيوان ليکلي دي(وک ۲۵ مخ) خو دهرات خلك يې «شکيبان» بولي ، پوزه دشکيبان دسيمي يو کلي دي .

*** له هر اته شخه اوه ديرش نيم کيلو متره د کوهسان خواته دعمومي سرك په جنوب کي يو کلي دي . (رشاد)

دافغانستان مشهور سیندونه

په دغه هیواد کی واړه او لوی‌سینو نه ډیر زیات دي چی مشهور سینو نه یی د سوات، پنجکوړی او باجوړ رودونه دي خو مشهور نه دي بیلو بیلو ځایو نو کی‌سیندونه یی په لاندی ډول دي :

په کابل کی :

دکونړ سین ،دلغمان سین ،سرخرود،دغوربند سین، د لوګر سین، دمیدان سین، چمچه مست او نور .

په غزنی کی :

دغزنی سین، دسرده سین اونهاره (ناور) چی دغه دری سینونه دآب ایستاده (ولاړو اوبو) په جهیل کی توئیږی .

په کندهار کی :

ترنک، ارغستان ،دهوری ،لوره، ارغنداب،هیرمند، یا هلمنددرافشا ن او نور چی دا تول سینونه دزره‌په جهیل کی چی دسیستان په مینځ کی تقریباً دیو سلو میلو په اوږ دوالی پروت دی توئیږی .*

په هرات کی :

فرمرود (فراه رود)، خا شرود ،رود کز ،او نوردی ددغه سینو نو اوبه ښی هضمیږی‌اوکبان یی‌هم خوندوړ دي . **

---

* دکندهار رود ونه په‌هلمند کی‌لویږی او بیا دهلمندپه وا سطه په هامون صابری‌کی توئیږی .(رشاد)

** هریرود چی‌دهرات ترټولو لوی‌سین دی ـ دلته نسته . (رشا د)

د افغانستان تجارت

افغانستان په زیاته پیمانه له هندوستان او ترکستان سره د سوداگری په چارو بوخت دی خو په لږه اندازه له ایران سره ، هم تجارتی اړیکی لری او هغه مواد چی په افغانستان کی پیدا کیږی یا جوړیږی او په سوداگری کی له هغو څخه استفاده کیږی په لاندی ډول دی :

د افغانستان معدنونه :

سره زر، سپین زر، لاجورد، سرب، اوسپنه، رانجه ، گندهک (گوگر) هړتال (زرلیخ)، پتکری، چودن، مالگه، نوشادر، نیل طوطیا، مومیایی، ژالګ او نور د افغانستان له معدنو نو څخه لاس ته راځی چی له دغو معدنیاتو څخه ځینی د ملک په دننه کی استعمالیږی، او ځینی یی بهر ته د تجارت په منظور صادریږی.

د افغانستان میوې او نور بوټي (نباتات)

لونګ لواند یا مجیته، انجــــه، پنبه، تمباکو، وریجې، اوله میوې ښخه ممیزې، منقې، کښته، خوبانۍ، انار، انګور، ناشپاتې، بادام، پسته، وچ توت، زرشک، بزغنج، کاکوتي، چې دغه میوې او بوټي د سوداګرانو په ذریعه په زیاته اندازه، نورو ملکونو ته د خرڅلاو له پاره وړل کیږي.

لواند (مجیته) دشیګل په علاقه، مقر او د تره کو په ناوه، دتو خــو، په سیمه کې کتواز، لوګر د غزنۍ شاو خوا او کندهار کې په زیاتــه اندازه پیدا کیږي دغه بوټي دځینو نورو بوټو په شان په پسرلي کــې په دې ډول کرل کیږي چې لومړی په ځمکه کې ورته واړه واړه لښتـــې جوړیږي، او بیا دغه بوټي په کې اینبودل کیږي، او به او سره یخپل وخت ورته ورکول کیږي، او پــه ژمي کې له ساړو نه دساتلو پــه منظور یې په خاورو سره پټوي او دپسرلي په پیل کې یې دغه خاوره بیرته ورڅخه لیرې کوي او وروسته له دریو کالو څخه دغه بوټـــي د

استفادې ور کرځي اوپه دریم یا شلورم کال دمئی د موسم په پای کې را ایستل کیږي او بیا سوداګرا نوته ورکول کیږي چې لوند یې عموماً یو من په څلور روپی او وچ یې یومن په اووه روپۍ پلورل کیږي. او دبړ ستنو او نورو تو کرا نوته د سره رنګ ورکولو له پاره په ټول هندوستان او پنجاب کې ډیر مصرفیږي. یا له هغه بوټی نه

چې انجه لاس ته راځي هغه خودرویه دی او د هرات او فراه په غرونو او ځنګلو نو کې پیدا کیږي. ددې بوټي شکل او اندازه د سپېلنو غوندې دی

او عموماً تر دریو فوټو لوړ نه وي. په یوه ورځ دد غه بوټي ښاخونه لږ توږل کیږي او یا د هغه د بیخ شاو خوا ووریږي او بیا د یو

لویښتی په اندازه یې غوڅوي او دپاسه یې شکې اچوي په دویمه ورځ له هغه توږل شوی او یا قطع شوي دا پینو غوندې شیره راووځي او

اینجه ورنه لاس ته راځي او تر تو لو وروسته چې سوداګرو یا ندی پلورل کیږي خو خالصه اینجه ډیره لږه راځي او اکثراً خلك له هغې

سره د نخودو اوړه یا دزاو نیږه چې د ابرك له ډول څخه ده میده کړي او له هغې سره یې ګډوي،

حیوانات:

دحیوا نا تو له جملی نه اسانو او پسونه چې وړي یې ډیرې ارزښتناکې او غوښه یې خوږه ده همدا راز ښکاري سپي، کوروني پیشو ګانې چې اوږده او ښایسته ویښته لري او رنګا رنګ وي د تجا رانو په ذریعه

راوړل کیږي. دا سانو سوداګري اکثراً په هرات، سرخس، میمنه، دخراسان

شاو خوا او ترکستان کې ډیره ده. بلو څان اود پښین سیدان هم د

اسانو سوداګري کوي.

له ترکستان نه پیشو ګانې او ښکاري سپي له سبزوار (شینډنډ) فراه او ګرمسیر نه راوستل کیږي.

دهغو مصنوعاتو بیان چې په افغانستان کې

جوړیږي اودتجارت له پاره بهر ته صادر یږي:

له افغا نستان نه بهر ته سیلاوی (لویې چړې) او توری چې لومړۍ درجه نه دی، همدا راز ددایزنکی برکی، کرك، برکی، سترې برکی،

خرمایی برکی، دوریو او پسونو، پوستینو نه، دوزو له وړیو نه جوړ شوي کرك، هراتي غالی، تغر، لمڅی، جرابی، وړینی او وریښمینی دستکښی،

سپینی او وړینی جامی ،وړینمین قنا ویز،خولی،ښه ښه چکنو نه،چپنی کلا بتونی اوساده پټوکان، مسی لوښی،کچ چی له هغه نه بنګړی، بوتلونه اونور شیان جوړیږی قبول کیږی،چی ددغو له جملی نه پوستینونه ،چپنی، شتری برګی او وړین پټـو کـانهندو ستان ته ډیـر صادریږی .

په هندو ستان کی هراتی غالیو ته ایرانی غالی وایی. په یوه غالی باندی شپږ یااته تنه کار کوی،له جوړو ونکو نه یوګز مربع دهرات په لسو روپیو چی دانګریزی سرکار له اتوانو سره برابری دی اخیستل کیږی او په هندو ستان کی یی یوه په لس روپی پلوری واړه مسندی لمځی له (٤) نه نیولی تر (١٥) روپیو پوری خرڅیږی .

واردات :

افغا نستان ته عموماء له بهرنه دا لاندینـــی مالونه وارديـــږی.

له اروپا نه اوسپنه ،مس، سپین زر،وړین اوسپنسین توکران، یعنـــی بنات، ململ، لته، خاصه او نـــور.

له بخارا نه وریښمین توکران،قناویز (شمندروز) او نور له روسیې نه سنجاب کلابتون (زرتار) سمـــوراو نور.

له هندو ستان نه افغا نستان ته سپنسین او وړین توکران، ګلبدن، کمخواب (کینخواب) اونور وار دیږی.همدار از له ډیره غازی خان نه ململ اونیل اود ملتان او سندنه د(دیګ مساله) او هغه شیان چی پساریان یی پلوری له ایران نه غالی ،آســان،لوښی (ظرف) اونورشیان واردیږی.

پر هغو شیانو باندی چی له بهرنه افغا نستان ته راوړل کیږی دوه تیم په سل کی محصول تاګل شوی دی چی چهل یو یی بولی خو په اصل کی له دغی اندازی نه زیات محصـــول اخیستل کیږی .

لويي كارواني لارې

افغانستان ته د راتلو لويي كارواني لارې دادي:
له ايران نه تهران اومشهد ته اوله هغه ځايه هرات ته، له لويديځ تركستان نه بخارا، مرو اومرغاب نه تيرېږي او بيا هرات ته رسيږي. له ختيځ تركستان نه بخارا، كرشي، بلخ او خلم ته، څلورم له پنجاب نه پيښور اوله هغه ځايه كابل ته، پنځم د سمندر او سند نه د بولان درې په لاره كندهار ته، شپږم له پنجاب نه ديره اسمعيل خان ته او بيا له هغه ځايه د گومل درې غزني ته اوله غزني نه كندهار ته.

له لويديځ افغانستان نه لويي كارواني لارې:

دهغو درو له لارې چې سوداگر دسند درود يعني اباسين خواته راځي دهغو نه د لويو درو تفصيل په دې ډول دى:
د بولان دره، د گومل دره، اودره بند ديره اسمعيل خان ته مخامخ، د كورمي دره، بنو ته ځي تاتره او آبخانه پيښور ته ځي دكندهار لخوا چې بولان درې په ۷ ورځې دغه لار څلور سوه ميله واټن لرى دغه دره تقريباء پنځوس ميله اوږد والي لرى او ټول كال دتگ راتگ له پاره خلاصه ده. چې په اكثرو ځايو نو كې يې منځني پلن والي سل گزه دى. ددې درې په لاره كاروانونه درې ډوله دښمنان لرى يعني مرى بلوڅان، كاكړ او ترين پښتانه.
له افغانستان نه كراچي ته داشيان راورل كيږي ديو لك اوشل زره روپو په بيه اينجه، ديو لك اواتيا زره روپو په بيه وريښم، ديو ديرش لكو او پنځوس زره روپو په بيه دپسه وړى، دنه لكه اوشل زره روپو په بيه اسان اوديو لك او پنځوس زره روپو په بيه ميوه.

دبولان له لاري وړی او اینجه لړ. راځي او هغه قا فلې چې دغـــــه
شیان راوړي نو هغه قلات خوجه نه ودر پرمګر لرلاري راځي .
دپسو وړی په کال کې دوه ځلــه توږل کیږي، په هزاره جات او دافغا‌ـ
نستان په نورو تولو غر نیو سیمو کې دپسونو دړمو دزیا توالی له کبله
سپینې اوخود رنګه وړی دیــــري پیداکیږي. اودغه وړي له کراچۍ نه
بمبئی اوله هغه ځایه انګلستان ته وړل کیږي، او له دی امله چــــی
زیات ارزښت لري. نو ځکه یـــي عاید هم ډیر دی، که چیری دهرات
دهزاره په پرګنه او دکندهار په شاو خوا کی ما لکانو ته پیشکی پیســی
ورکړل شي نو دولس آنی او دوړیو دسکو لولو په خت کی (٤)رو پــی
او که چیری یی په پور واخلی نـــو دکندهار یومن یی په (٨) روپــی
خرڅیږي.
دوړیو دپیر یدلو له ځای نه تـر کندهار پوري داته ځلو ښتــــو
کندهاري منو کرایه (١١)رو پـی ده اوله کند هار نه تر ډرا چــی
پوري کرایه یې همدو مره کیـږي.
ددیره اسما عیل خان نه تردره بند او دګومل ددري نه بیا تر غ نی پوري
(٣٢٠) میله واټن دی او دغز نــی نه دقلات غلزایی له لاري تر کندهاره
پوري دوه سوه شل میله فاصله ده.ددغې دري دقافلو قوي دښمنان مسعود
وزیر او داحمد زیو دقوم دزلی خیلو ښاخ دی. په دغه لاره ها ندی پوونده
سودا ګران تګ راتګ کوي. پــه دره بند کی دشیرانیو له خوا هــم
خطر موجود دی. دګرمی ددری لــه لاری سودا ګران لږ راتګ کــوی،
دغه لاره دکاروانونو له پاره له خطر نه ډکه ده، داتمانزیو، وزیرو،دکابل
خیلو اوحسن خیلو ښاخو نه اودتوریو قوم تل دمسافر انو او قافلو دراتګ
لاري نیسی اودیوی قوي اواعتبار ی بدرګی نه پرته په دی لاره تګ راتګ
کواکی له ځان سره دښمنی ده.
کابل اوبخاراته دپیښور نـــــه دتاتری ددری آبخانی او خیبر شخه
لاري تللی دي چی دادری واړه لاری په ډکه کی سره یو ځای کیږي. پیښور
له کابل نه ١٨٠ میله واټن او بخاراته دبامیانو له لاری اته سوه میلـــه
فاصله اودځلو ښتو ورځو لار ده.

کاروانونه دخیبر ددری په لار ، تګ راتګ نه کوی، داځکه چی اپریدی قوم دقا فلو سخت دښمنان دی که چیری دوی دکاروان دساتلو له پاره پیسی هم واخلی. سره له دی هم په لوټ لاس پوری کوی، دکابل امیر اوس دوی ته هیڅ رو پـــی نه ورکوی. دنورو دروله جملی نه دتا تری په دره کی دملا کوری قوم او آبخانه کی ترکزی او مومند استو ګنه لری، له څه هم ددغه قوم خلك له حرامونه دزړه له کومی پرهیز نه لوی خودلالپوری سعادت خان دخپل انتظام په وجه دادری واړه لاری خلاصی ساتی او په دغه ځای کی له سپرو او پلیو کسانونه محصول اخلی . دپښور نه کابل ته دا دری واړه لاری تول کال داوښانو دتګ راتګ له پاره مساعدی. خو کاروانو نه اکثراً دجنوری او فبروری په میاشتو کی وربانډی تګ را تـــګ نه کوی. دکابل او خلم تر مینځ ددری په لاره ډیر لوړ کو تلو نــه حاجی ګك، کالو اود ندان شکن دی. کله چی کاروان یا مسافران د لته را ورسیږی نو ضرور ده چی لـــه ځان سره اذوقه ولری.

دپنځو کلنې تجارت تفصیل چې د پښتونو د دروله لارې
د افغانستان او هندوستان ترمنځ صورت موندلی

لومړی د هندو ستان او پنجاب دلاندینو درو په لارو د دولسو لکو او شپږ زرو روپو مال په دې دول سره صادریږی . اروپایی او هندی سپنسین ، وړین او وریښمین تـوکران د پنځو لکو او لس زره روپو په بیه، دپنجاب نه دبل تو کران دیو لك او څلو ینښت زره روپو په بیـه شکره، قند او نور د (۷۲) زرو روپوپه بیه ، ملتانی او هندو ستانی نیل د یو لك او (۷۵) زره روپو په بیه.

پاتې شیان چې افغا نستان تـه صادریږی دادی: کمخواب ،زر تار، لیسی لونګی، څرمنی ،پنبی اواکثراء ددیگمسا له او هغه شیان چې دپسماریانو له خواپلورل کیږی. انګریزی سپنسین توکران ، ململ، لته او نور بخارا ته وړل کیږی .همدا راز د شکر ی او نبات له وړلو نه دیره ګټه تـر لاسه کیږی .

صادرات :

له افغانستان نه ددی دروله لاری د پنځلس لکو اویا زرو روپو پـه بیه مال په دی دول سره راځـی .د بخارا وریښم او وریښمین تو کران داتولکو په بیه دسرو اوسپینو زرواصل او کچه تارونه داتیازرو روپیو په بیه، دتر کستان اسانـاو ‌اتوګاند یو لك روپو په بیه، د کابل نـه

بادام او وچکی (ممیز) ددوه لکــه او پنځوس زره روپیو په بیه ، سره زرلرله د غلور لنواو څلیرویشت زره روپیو په بیه . پاتی اکثراً شیان دا دی :

روښی سمور ، سنجاب ، او روسی او بخارایی څرمنی ، بخارایی قا بلی ، قناویزو نه ، دپنبی او وړیو پوستینو نه ، چینی ، شتری بز کی ، وچه او تازه میوه ، دو دانیو لر کی ، مجتهاو اینجه چی دا دولره ودومتــــی

ذکر شوی اقلام پیښور ته لیږ صادریږی ، اصیله فیروزه اکثراً پــه نیشاپور کی استخراج او بیاد افغانستان په لاره راځی ، په هرات او کندهار کی مصنو عی فیروزه لــه شنی خاوری نه جوړیږی .

دسوداګرو قومونو بیان:

دتجارت څنګ کی دسوداګرانــو ذکر هم ضروری بریښی .

دافغانستان داسیدونکو له جملی نه د هرات او کابل پارسی واتــان وپشین سیدان او د غرغښت قبیلــی بابی بناخ د کند هار مشهور او بــا همته سوداګر دی . دغه خلــک دسوداګری په منظور لیری لیری ملکو نو ته لیږد کوی . په لیره بیا پارسیوا ن د سوداګری په چارو کــی دیر زیار کالی ، خوشیان په لوړه پیه پلوری .

دافغانستان څنه سوداګر چــی اوبږدی چینی او پوستینو نه اغوندی او لونګی په سر کوی د هندوستان له ملك نه پرته ، په روس ، ایرانه ترکستانه حتی په چین ، تبت اودوم کی هم لیدل کیږی .

دافغانستان تجارتی مالونه زیاترمه د اوښانو ، کچرو ، قتو کانسو او غوایانو په ذریعه وړل کیږی . حسوداګرانو په جمله کی ځنــه زیار کالونکی سوداګر په زیاتــه اندازه دیاد ولو بر څه چی پوځه سوداګر یی بولی .

پوونده یعنی کوچیان چی په یوځای کی دایمی استو ګنه نه لــری دوی دیر اوښان لری چی په دوی کی ځینی لوی سوداګر او ځینی ولړه سوداګران دی . ځنه سوداګران چی له شتمنو سوداګرانو نه مالونه ټخرځلاو لــه پاره اخلی ، په دوی کی پنځه مشهوری فرقی موجودی دی چی دوی د منــی دموسم په پیل کی د لویدیځ افغانستان نه اولړو سیمو ته راځــی او د پسرلی د موسم په پیل کــی بیرته غرنیو سیمو ته ستنیږی په دی پیل چی :

لومړي ناصر پوونده چې په غلورو ولو ویشل شوي دي. هغه ناصر چې غوایي لري، هغه ناصر چې د پسونو رمې لري، هغه ناصر چې د لېږو مالونو خاوندان دي، غلورم هغه ناصر چې شتمن دي او اوښان لري.

دوی قوم تقریباً پنځه زره تنه د شپاړسو زرو اوښانو سره راځي.

دویم خروټي چې اتلس سوه تنه او شپږ زره اوښان له ځانه سره راولي.

دریم د لوحانیو دمیا خیلو ښاخ چې شوارلس سوه تنه دي او شپږ زره اوښان لري.

غلورم ددو تانیو دقوم شپږ سوه تنه دغلور زره اوښانو سره

پنځم دنیا زیوه‌متي او کندي شپږ سوه تنه له دریو زرو اوښانو سره راځي، ددغو فرقو له جملې نه میاخیل پخواني سوداګران دي او تر نورو تولو پوونده ونه دوی لومړي دسوداګرۍ له لارې شتمني تر لاسه کړې ده، چې هغې نورو دلو دتشویق او ترغیب باعث ګرځیدلی دی.

اوس دخروټو او دوتاني قومونه هم دخپل همت او زیار په سبب شتمن شوي او د تجارت له پاره لیرې لیرې ملکونو ته ځي دوی داسې عادت لري چې د یخنۍ په موسم کې په هندوستان کې تجارت کوي او د ګرمۍ په موسم کې لویدیځ افغانستان، ترکستان او په خراسان کې په سوداګرۍ بوخت وي. ددوی دتجارت طرز داسې دی چې د دوبي په موسم کې دغزني د شلګر په سیمه او مقر کې کیږدي دروي او خپلې کورنۍ، څاروي او فالتو کسان په کیږدیو کې پرېږدي او پخپله له هندوستان نه راوړل شوي مالونه بخارا، هرات، کندهار او نورو شاوخوا سیموته دخرڅلاو له پاره وړي، ددوی څاروي په غزني، قلات غلجي، زرمت، ناور او هزاره‌جاتو کې څري چې په بدل کې د هغه ځای حاکم ته داوښانو ترنی (محصول) او نور شیان ورکوي. ددوی دځینو فالتو کسانو له جملې نه ځینې، یې د مالکې په سوداګرۍ بوخت دي، دوی دکوهاټ د ضلعې د بهادرخیلو له کان نه مالګه اخلي او غزني او زرمت ته یې وړي.

خروټي اکثراً دکندهار او هرات تر مینځ او همدا راز دکابل او بخارا تر مینځ هم تجارت کوي کله چې دوی په لویدیځو سیمو کې خرید او فروش وکړي نو بیایې قافلې بیر ته راستنیږي تر هغه وروسته

داکتو بر په میاشت کی د هندوستان خوا ته یی تګ پیل کیږی نو په دغه وخت کی د غزنی له سیمو نه کیږدی بیرته راتولوی او دخپلو کورنیو او څارویو سره د کاروان په ډول روانیږی. دوی اکثراء د گومل ددری په لاره د سلیمان له غره نه تیریږی او د دیره اسمعیل خان دضلعی ددامان په سیمه کی چیر ته چی ښه څه ځای ووینی دغرو په لمنو او دسند د رود په غاړو په بهاولپور او نورو شاو خوا سیمو کی خپلی کورنی پریږدی او لوی کاروانونه یی دملتان په خوا روانیږی او له هغه ځایه په سهیلی او ختیځو برخو کی خوریږی. ځینی یی د بهاولپور له لاری راجپوتانه (اوسنی راجستان) ته ځی، ځینی یی دسرسه او ډیلی له لاری بنارس او کلکتی او ځینی یی لاهور او امرتسر ته ځی. دځینو سوداګرانو ځای ملتان دی، چی هلته دوی د پسرلی موسم تر پیله ملتان کی اوسیږی هلته او په کراچی کی ددلالانو په معرفت اوپیژند ګلوی خپل مالونه پلوری. اکثراء پوونده سوداګر له دی نه هم په زیاته اندازه ختیځ او سهیل ته د ګټی د ترلاسه کولو له پاره مالونه وړی، په ختیځ کی د کلکتی، ډاکی او برما پوری او په سهیل کی د بمبئی او نورو لویو ښارونو پوری دغه سوداګران له خپلو اوښانو سره لیدل کیږی.

دپسرلی په موسم کی د قافلو بیرته تګ پیل کیږی او هغه شیان چی دوی ته په کی کته موجوده وی اخلی، ځینی یی د کلکتی بنارس، او ډهلی ته خپل اوښان، باروی دځینو له پاره په جهنګ او چنیوټ کی ډبل ټوکران د ارهتیانو (دلالانو) په معرفت جوړیږی دوی داپریل په میاشت کی له خپلو کورنیو سره یو ځای د کاروانو په شکل لویدیځ افغانستان ته روانیږی او د ګرمی په موسم کی هلته، خپلی کیږدی دروی او د هغوی تګ راتګ هر کال په همدی ډول جریان لری. د پوونده سوداګرو د زیاتی ګټی د ترلاسه کولو په سبب دچی ددوی شمیر ورځ په ورځ زیاتیږی، لکه څنګه چی ددی پنځو مشهورو قومونه پرته اکا خیلو، غلجیو اولړ شمیر سلیمان خیلو هم دسوداګری له چارو سره مینه پیدا کړی ده.

لکه څرنګه چی دافغانستان هیواداو ددغه ځای لاری دیخنی له کبله ډیری مشهوری دی نو ددغه لارو له پاره پوونده سوداګر ډیر مساعد او لایق دی، دوی د خپل همت او زیار په وجه په سختیو باندی بریالی کیږی او د غلو او لار وهونکو له ډلو سره د مقابلی له پاره په یاغستان کی چمتو او مساعد وی، دوی اکثراء په تجارتی مسا یلوکی

له ایمانداری او صداقت نه کاراخلی.

ددوی نه پرته سلیمان خیل غلجی دآسانو سوداگری کوی ،د کاکړ و قوم او دارکون د سیمی شیخــــان او پیران اودهزاره ووقوم اوداکثرو نورو قومونو ځینی خلك دخپلوسیمو په دننه کی لږه سوداگری کوی . دکندهار، هرات او کابل هنـدوان‌شتمن دی، خو په افغا نستان‌کی ټول خلك هغوی ته په خواره سترگــه گوری ،له همدی کبله دوی په تجارت کی هغه گټه نه شی ترلاسه کولای‌لکه چی استعداد یی لری.

د تجارت د پرمختګ لاري

موء لفٌ په دی عقیده دی که چیری دسرکار دسرپرستی لاندی دعامه تجارت له پاره یوه عامه میله په یوه مناسب ځای کی وټاکل شی چی دغه ځای ته دهندوستان ،افغانستان، ترکستان، ایران، کشمیر او نورو ملکونو سوداګر خپل مالونه دخرڅلاو له پاره راوړی او له دغه ځایه هغه مالونه چی ددوی په ملك کی ډیر قدر او ارزښت لری خپلو ملکونو ته یوسی ،نو داکار به ډیر ګټوروی.

له دغی میلی نه چی کومه ګټه متصوره ده تر هغو پوری نه واضح کیږی ترڅو چی ددغی عامی میلی ګټه پخپلو سترګو ونه لیدل شی خود دغی میلی دګټی ساری دروس په ملك کی لیدل کیږی، هغه ملك ته چی ددغی لوی میلی نه کومه ګټه رسیدلی ده، نود هغی بیان داافغانستان په کتاب کی ضرور نه دی داځکه چی ددغه ملك سوداګرو هغه میله لیدلی ده.

کله چی زمونږ په هیواد (برتانوی هند) کی د سوداګری داسی یوه عامه میله ددولت په پاملرنه جوړه شی نود هغی په سبب به د ملك پرمختګ او تجارت ته لویه ګټه ورسیږی. هغه بهرنی مالونه چی زمونږ هیوادوالو ته په ډیر وخت کی هم نه دی ترلاسه شوی بهرنی سوداګر یی پخپله راوړی او په دی میله کی به یی خرڅوی او ددغه ملك دتجارت وړ

مالونه به دواورو ډکو غرونو لـه تیریدو او نورو تکلیفونو او خرڅونو له کاللو پرته به زمونږ هیواد وال په اساني سره دنورو ملکونو پـه سوداګرو خرڅ اودهغوی‌په هیوادونوکی به د خرڅلاو له درکه ګټه تـر لاسه کړی او ددی نیکی لاری په سبب به دخدای(ج) په فضل د ملک‌شتمنی او عواید زیات شی که چیری ددغه میلی ځای ددارالحکومت په سبب د پنجاب دلاهور ښار وټاکل شی نوسمه به نه وی خوکه چیری دملتان پـه باب فکر وشی نو بی شکه به پوونده‌سوداګران اود جنوبی ملکونوسوداګرو ته ډیره فایده ورپه برخه شی اوهم دغه ځای په منځنی برخه کـی موقعیت لری، خو څرنګه چی ددغه میلی مقصد عامه ګټه ده نو ددی‌له پاره باید یوداسی ځای وټاکل شی‌چی هلته دپنجاب، دلویدیځ اوشمالی ملکونو سوداګران په اسانی سره‌دی میله کی دګډون له پاره ورسیدلی شی نو داسی ځای دپیښور ښاردی،چی هلته دافغا نستان ،ایـران او ترکستان سوداګران تل تګراتـګ‌کوی. اود روس، کاشغر ،کشمیراو تبت سوداګران په خوښی او اسانی‌سره په کی ګډون کوی. پیښور دملتان په پرتله دتجارت په معامله کـی‌ددی سیمو په سوداګرانو کی زیات مشهور دی کله چی ددی تجارت‌ځی‌خبر دنورو هیوادو سوداګرو تـه ورسیږی نو هغوی‌ددغه ځای دشهرت په سبب‌پرته له ځنډه به په کی‌دګډون میله وکړی، جنوبی‌سوداګر اوپوونده‌خلك هم هلته راتلای شی. کله چی دکلکتی نه پیښور ته د امرتسر ډیلی‌او لاهور په‌لاره اورګاډی جاری‌شی نود ختیځو ملکونو او ملتان سوداګران به په دی میله کی‌په اسانی سره ګډون وکړی ،ددی میلی ډیر ښـه موسم دمنی پیل دی ،ځکه چی دژمی په موسم کی واوری داوریدو لـه کبله افغا نستان او دشمالی غرنیو ملکونو لاری بندیږي. که چیری‌هرکال دنوامبر دمیاشتی لـه لومړی نیټی نه ددسامبر تر میاشتی پوری‌پوره یوه میاشت یاله دی نه زیاته موده ددغی میلی له پاره وټاکل‌شی نوډیره ګټوره به وی .

دویم باب

د افغانستان د عام تاریخ بیان

لومړی څپرکی

لرغونی تاریخ :

که څه هم د منظمو او صحیحو تاریخی سلسلو د نشتوالی په سبب ددغه هیواد پخوا نی تاریخ پــــه صحیح توګه نه دی معلوم ، چـــی په پیل کی په لویدیځ افغانستان کی کوم خلك اوسیدل ، خود زړو کندوالو نه داسی ښکاری چـــی دلته به غالباء هندوان اوسیدل خو دا خبره یقینی ده چی په ختیځ افغانستان کی د هندوانو استو ګنـــی په پیل کی دلته چهار بن (دهندوانو څلور کاسته) خلك اوسیدل.

ځینی مؤرخین هندوان دیافــث ابن نوح او ځینی یی دحام بن نوح، اولاده ګڼی . دحضرت نوح (ع)اولاده له طوفان نه وروسته چی له اوس وخت نه تقریباء پنځه زره کالـــه وړاندی پیښی شوی ؤ، دفرا ت او دجلی په دوا به کی میشته شول چی اوس یی د یاربکر اوالجزیره هـــم بولی، کله چی ددغه قوم په شمیر کی زیاتوالی راغی، نو د تکبر لــه

مخـــي يي دشغار په ميـــــدا نکي يي د يوى داسي لويي ودانـــي په جوړولو نيت وکړ چي تر اسمانه پورى ورسيږى نو په دغه وخـــت کي خداى (ج) ددوى د غرور اوتکبرله مخي او ددوى ودانى دړنګيدوله هيبت نه ددوى په ژبه کي اختلا فات را مينځ ته کړل ، چي ددى په وجه دوى سره خواره واره او په مختلفوملکو نو کي ميشته شول .

لنډه دا چي له اکثرو کنډوالـونه چي بتان او دبت پر ستى ساما ـ نونه ، زړى سکيچي په يوه خوايي‌دغوايي خيره ديوه سړى دتصويــر سره په داسي حال کي چي لنګ يي‌وهلى او غاړکي يي اچولى ده ليدل کيږى له دغه ځايه تر لاسه شوى‌دى چي له دغو اثارو نه دهندوانو دا ستوګني ربښتينتوب ثابتيږى ، له اکثرو ښنو ښښانز نه داهم څر ګند ـ يږى چي چاربرن يعني برهمن،چهترى، بيش، او شودرا له پخوا نه په دغه ملك کي چي يي دهندوا نو په پخوانيو کتا بو نو کي با لهيك ديس‌ليكل شوى، ميشته وو .

د رګهو بنس کتاب چي په پخواني شاسترى ژبه ليکل‌شوى ، هغـه هم ددى خبرى شاهد دى چي پـــه کي ليکل شوى دى چي راجا بهر تهه او د هغه مور ککي دسند درياب‌په غاړه پخپل نامه يو ښار جوړ کړيدى. نوموړى بهرت، له دويمى مور نـه د مشهور رام چندر ورور و اودهترى قوم دراجا دشرته زوى و، درام‌چندراو بهرت له زمانى نه تر دريـــو زرو کالو نه زياته موده تيره شوى‌ده اروپايى محققين په دى خبره‌سره موافق دى چي‌راماين دحضرت مسيح(ع) له وخت نه دولس سوه، کاله وړاندى يعنى د حضرت محمد (ص) له هجرت نه (۱۸۰۰)کاله دمخـه دبالميکى شاعر له خواچي درام‌چندرهمعصره اوياتر هغه لږموده وروسته يـي ژوند کـاوه ليکل شـوى دى.

داتك لويديځ خواته‌غره کي ديوى‌پخوانى کـلا ښښى ښښانى تـــر ستر ګو کيږى چي‌ويل کيږى دپانډوانودوخت په‌وى همدا راز دميا نوالـي دسيمى دسکيسير په‌غره کي‌هم ديوى‌زړى ودانى ښښى شته چي پانډون

سهنګا سن (Sahangasca) یی بولی دباندو او کیرو کیسه ډیره مشهوره ده ،دوی دواړه درا مچندرنه تقریباً څلور سوه کاله وروسته تیرشوی دی په مهابهارت کی داسی روایت موجوددی چی ددربو دهن کیرو مور کند -هادری نومیده چی دراجا کندهاریعنی راجا قندهار لور ده.ددی نه څر-ګند یږی چی په هغه وخت کـــی دافغا نستان په لویدیځه برخه کی هم هندوان اوسیدل او په دغه برخه کی قوی ثبوت دادی چی د لویدیـځ افغا نستان د شمالی حد ترکستـــانپه لاره د بامیانو په سیمه چی له سمندر نه اته زره فوټه لوړوالـــی لری دډیرو زړو ودانیو ښبـــــــی ښباني مو جودی او دهندوکش پـه لړی کی دی او هلته دوه ولاړ بتان چی یو د ښځی او بل یی دنر دی‌شته چی دیو بت لوړ والی یو سلو اتیـا فوټه اودبل یـــو سلو او یـــافوټه دی او دیوه لوړ غره تر څنګ توږل شویدی، چی د هغه ځای اوسیدونکی یی سنګسال او شامره بولی*

په نور افغا نستان کی هم دبامیانوبتان مشهور دی، همدا راز دلوګرد سیمی په خوشی‌نومی ځای کی‌د ربوو بو چینه شته چی هندوان یی‌متبرکه ګڼی اود هغوی زیارتګاه ده اوپه کال‌کی یوځل دافغا نستان هندوان‌دهغه ځای زیارت‌کوی. روایت‌دی چی‌لهګرپه سنګریت ژبه کی یوازی دهغی چینی نوم دی چی اوس دهغی دنوم‌په‌سبب دغه ټوله سیمه مشهوره‌شویده.

دسوات، بونیر، تالاش، پنجکوړی، باجوړ اوپه شمالی نورو غرنیوسیمو کی هم ښایسته ،ښایسته او پخوانی‌زړی ودانی چی دزړی تیری په عمر پوری مربوطی دی په کوښی کوښی‌توګه، ټنګی اوله یوبل نه بیلـی په بیلو بیلو ځایونو کی‌او اکثراء‌صعب العبوره غرونو دپاسه موجودی دی، همدا راز بتان یی له ډبــــرو‌توږل شوی او لوی لوی دیګو پو نه (تاریخی آبدی) چی په ډیر مهارت‌سره جوړ شوی دی په هره دره کی په زیاته اندازه تر ستر ګو کیږی،له دی ښو ښبانو نه څرګند یږی‌چی ددغه ځای او سیدونکی په هغه وخت‌کی ډیر با استعداده وه‌او دیوبل‌سره

---

*دغه بتان‌سلسال‌وشامه نومیدل.

ددښمنی په سبب په بیلو بیلـــو ځایونو کی اوسیدل .که مو نـــــن اوسنی حالات له هغه وخت سره پرتله کړو نو دی نتیجی ته رسیږوچی افغا نان داستعداد او ځینی فنونـوله مخی پخوانی حالت ته نه شـــی رسیدلی . ددی نه پرته دافغا نستان په نورو اکثرو ځایو نو کی چی کوم دیګو پونه او لرغونی سکی لاس ته راغلی له هغوی نه دا خبره جوتیږی چی داسلام دسپیځلی دین ترخپریدودمخه ددی هیواد خلك هم د هندوانو پشان د بید او د بودایی مذهب پیروان وو ، لکه چی په پیښـور او د یوسفزیو په سیمه کی هم د بودایی مذهب اوسیدو نکو اکثره نښانی موجودی دی . په تیره بیا د خاصو یوسفزیو دسیمی دشما لی غره * په لمـــــن کی په یوه ډبره کی دبودایی مذهب دخپریدو یو اعلان حك شوی دی چی تر اوسه هم مو جود دی.

ددی مذهب بنسټ ایښوونکی شاه سنګه ګوتم نومیده چی دمګده دیس دراجا سستهانګ له کورنی نه و ،دی دبکرماجیتی سنی نه ځلور سوه او د حضرت مسیح له زیږیدو نـــه (٥٤٧) کاله او له اوسنی وخت نه دوه زره دری سوه پنځه ویشــــت(٢٣٢٥) کاله وړاندی بودایی مذهب چی دفارس او عرب خلك یی بخشـــی او دتبت اوسیدونکی یی لامه بولی رواج کړ**. او دبید دمذ هب دبنا نولمانځنه یی وغندله او خپل مذهب ته یی داسی رونق ورکړ چی ډیرو خلکو یی پیروی ومنله او برهمنیانو هغه دراګش په نوم مشهور کړ.په پای کی په اتمی بکرماجیتی پیړی هغه وخت چی دبر همنیا نو په شمیر کی زیاتوالی راغی دغه مذهب له دغـــه ملك نه اوحتی له هندوستان نه هم په ورکیدو شو، خو په سراند یـــب (سر یلانکا) ،برما، تبت، جا پـــــان او چین کی تر اوسه پوری دبودایی مذهب دپیروانو شمیر زیــــات دی .

---

*دغه ډبره دشهبازګړهی نومی ځای نه ختیځ لورته دیوه کوچنی غر ه په لویدیځه لمنه کی مو جوده ده،خو حروف یی ډیر خراب شوی دی. (موء لف)

**دبودایی دین درواج زما نه چی په دغو نیټو کی ټاکل شوی ده ماته دتامل وړ ښکاری بودا غالباً په ٥٦٣ قم زوکړی او په ٤٨٣ قم مـــړ دی مولف چی دبودا دین رواج ٥٤٧ قم کی بولی نو باید بودا په ١٦ کلنی کی دخپل دین اعلان کړی وی اوداسی دنبوت داعلان له پاره دعقل ونقـل دواړو له مخی دمنلو نه دی بل دعیسوی سنی او بکرمی سنی تر منځ تفاوت ٥٧ کاله دی یعنی دبکرمی سنی پیل له ٥٧ قم څخه شوی دی دلته یـــی تفاوت ١٤٧ کاله ښودل شوی دی دریم ایراد دادی چی حیات افغانی په ١٨٦٥ ع کښل شوی دی او دلته له لیکلـــی تاریخ ٢٣٢٥ څخه چی ٥٤٧ وباسو ١٧٧٨ پاتیږی چی ٨٧ کاله دحیات افغانی تر تالیف وړاندی کال دی .

د افغانستان د سلطنت بیان

لکه څرنګه چې پورته ذکر شول ددغه ملك پخوانی اوسیدونکی هندوان ګڼل کیږی اوپه پیل کی دلته هندوراجاګانو سلطنت کاوه، دوی به کله آزاداو کله به چې هندی راجاګان دزوراو قدرت خاوندان وو، نود هغوی تابع به وو.

بالهیك دپس هم دهند دسلطنت یوجز ګڼل کیده ،خو ډیره موده وړاندی دسپیا مك زوی هوشنګ چې دکیومرث لمسی او دفارس دسلطنت بنسټ ایښو دونکی وډی سیمی ته راغی .دغه پاچا ډیر عادل اود پیشدادی کورنی دویم واکمن و، داسی روایت دی چې دپیښور دښار پرځای باندی ده د فرساور په نوم یوښار ودان کړ چې تر ورانیدو وروسته همدغه ځای ته نږدی دهندی راجا په نوم بکرام ښار آباد شو اوبیا دغه نوی ښار ته پرشعور نوم ورکړ شو اود ډیر استعمال په وجه په پښاور باندی بدل شو.

دایران سپه سالار پرغل

کله چې دمهاراج راجه بهار ورارهله خپل تره نه خپه اود ایران پاچا فریدون ته دمرستی دغو ښتلو په منظور ورغی په دغه وخت کی دایران دپاچا له خوا سپه سالار گرشاسب ابن الطرد دیوه پوځ سره دهغه دمرستی له پاره ددغه هیوادپه لاری دهند پر خوا وتاکل شو، چې دمهاراج اود هغه وراره تر سولی وروسته بیرته خپل هیواد ته، ستون شو، په هغه وخت کیدغه هیوادپنجاب په گډون دمهاراجا عرفپردمن دحکومت تر واك لاندی و. تر هغه لږه موده وروسته درستم دستان لوی نیکه! سام نریمان دایران پاچادامر له مخی د هندو ستان دنیولو په تیت له! فارس نه د پنجاب پــه خوا روان شو. دمهاراج له خواسپه سالار مالچند چې د هغه په! نوم دمالوه سیمه! مشهوره ده د هغه سره دمقا بلی له پاره پنجاب ته راغــیکه چیری یوه اتفاقی پیښه نه وه را مینځ ته شوی او بخت له ایرانیانو سره یاری نه وای کړی نــو ددوآبی په بست کی چې ددوار وسپه سالارانو قرار گاه وه نو سخته جگړه به رامینځ ته شوی وه خو په هغه وخت کی ددکن د سیمی رعیت دهند دواکمن په مقابل کی بغاوت وکــړاو د مهاراج زوی یې ووژه اوشوراج یې په شل وتمباوه، په دغــه وخت کی مالچند دا خبر واوریدم نــو دناچاری له مخی یې له ځانه سرهسوچ وکړ او دغه سیمه یې دلویدیځ پنجاب په گډون د ایران دپوځ مشرته ورکړل او سوله یې ورسره وکړه چې له هغه وخته راهیسی د کابــلاو زابل صوبی دنویو فتح شوملکو

نو په گډون دایران دپاچا له خواد گرشاسب اولادی یعنی د رستــم پلرو نو او نیکو نو ته په جاگیر کیورکړل شوی، په دغه وخت کــی مهراب نومی چې د ضحاك تازی لــه نسل نه و دکابل صوبدار سام نر- یمان ته باج ورکاوه چې دهغی دلورسودا به نه! د زال زوی رستــم

وزیر یده کله چی دایران پاچا منوچهر او سپه سالار نریمان مړه شول اود شهزاده نوذر تروژل کیدو وروسته دایران په سلطنت باندی دتوران پاچا افراسیاب بن پشنگ تر دولسو کلو تو پوری په زور او جبر سره قبضه ټینګه کړه ، نوپه دغه وخت کی چی دهندراجا فیروزرای دفارس دسلطنت ضعف ولیده نــو بیا یی پنجاب او غالباء دافغانستان ختیځی برخی په خپله قبضی کی راوستی وی، تر څو چی دایران مشهور پهلوان رستم دستان دوه زره څلور ســوه پنځوس (۲٤٥۰) کاله وړاندی دایران دپاچا یانو کیکاوس او کیخسرو په وخت کی دتوری په زور تر پنجاب پوری سیمی بیا په خپل واك کی راوستی.

درستم زوی فرامرز اکثراً پــه کابل یعنی غزنی کی اوسیده چــی دهغه اخلاق اوقدرت رعایا مطیعه او مطیع کړی وه.

گشتا سپ :

ترڅه مودی وروسته د بلــخ پاچا گشتا سپ چی په یو نانی کتابو- نو کی دارا هستا شپ لیکل شوی دی له رستم نه د غرور او کبر لــه مخی خپه شو. په هغه وخت کــی گشتا سپ دخپل زوی اسفندیار پــا راونیین تن په مشری د کابل اوبگرام یعنی پیښور په خوا د بکو ملتونو چتی سینی نه څلور سوه اکاله وړاندی *خپل زړه ور لښکر ولیږه، پنجاب او څینی لویدیځی ضلعی یی ونیولی او په هغه ځای باندی یی خراج وتاکه او د افغانستان ملك یی دایران پــه سلطنت پوری وتاړه .دهغه دوا کمنی په وخت کی زردشت داسفندیار او پاچا په ملاتړ دآتش پــرستی (اور لما نځنی) مذهب رامینځ ته کړ.

د کیدراج تسلط :

گشتاسپ اتر مړینی او زوی کسبین تر وژنی وروسته داسفندیار زوی بهمن دراز دست دایران پاچا شو. په هغه وخت کی کیدراج چی د ټجهو واهه له قوم نه و په مارواړ کــی بغاوت وکړ د پنجاب سیمه یی دختیځ افغانستان په گډون دایرانیا نــو نه بیرته ونیوله او د پخوانی بهیره په ښار کی یی چی دجیلم درود پــه غاړه یی موقعیت درلود خپله قرار گاه جوړه کړه، خو د بی تدبیری په سبب له رعیت له په تنگ او ناچار قنوج ته ولاړ او هلته مــړ شو.

---

*تر بکرما جیتی سنی څلور سوه کاله پخوا له ٤٥٧ قم سره برابریږی اما دزردشت او گشتاسپ زمانه تر دی ډیره وړاندی ده. "رشاد"

دلوی سکندر یرغل

تر تیدراج وروسته دغه هیواد په ملوک الطوایفی ډول اداره کیده او په مختلفو ریاستونو ویشل‌شوی و، لکه چی د بکرام یا پیښور په ښار کی یو ریاست او په سترام یـــا بنو کی بیل راجاوه راولپنډی دضلعی په توپ مانډیا له ښی چی په یونانی کتابونو کی یی نوم تاکسیل لیکـــل شوی دی ، یو قوی ریاست موجودؤ. په همدی ډول په کشمیر او نـــورو شاو خوا سیمو کی کوچنیو، کـــو چنیو خود مختاره راجاگانو واك درلود دکابل او کندهار حال هم همداسیو، خو غالباء لویدیځ افغانستان تـــش په نامه دایران په واکمنی پوری تړلی و.

په دی وخت کی د سکندر غوندی زړور پاچا ته د راتګ او فتوحاتـــو له پاره زمینه برابره وه، دغه زړور شاهنشاه دفیلقوس یاد مقدونی فیلپس زوی و، چی د عیسی (ع) تر زیږیدو (۳۳۳) کاله وړاندی اود حضـــرت محمد (ص) له هجرت نه (۸۷۰) کاله وړاندی او یا له اوسنی زمانی نـــه (۲۱۹۸) کاله وړاندی یوا ځی د دیرش زرو پلیو اوپنځه زره سپرو عسکرو سره دایران دسلطنت دنیولو پـــه نیت دهلسپانټ له ابنا نه تیر او اسیا ته ننوت اوتر څو جګړو وروسته دایران دپاچا دارا ابن داراب شاه په بی شمیره لښکرو ، بریالی شو. له دارا سره دباختر صوبه دار نمك حرامی وکړه اوویی واژه او دایران تخت ته یی پخپل جلوس سره زیب اوزینت ورکړ. ددی ستری فتحی نه څلور کاله وروسته دکابل له لاری پنجاب ته لاړ.

دا یرین په تاریخ کی لیکل شوی دی هغه وخت چی سکندر کابل ته ورسیده نو هغه خپل پوځونه په دوو ډلو وویشل ،یوه ډله یی دپیښور په خوا ولیږله چی داتك یا نیلاب پــه لاره دسند له رود نه تیر شـول ، دویمه ډله یی له ځان سره ملگری او .کابل، کونړ، باجوړ، سـوات او بونیر یی‌فتح کړل اود سند تر رودپوری په هغو سختو او صعب‌العبورو لارو راغی،که څه هم‌دی په‌لاره‌کی له ډیرو ستونزو او ربړونو سـره مخامخ شو خودلوټ له لاری بی‌شمیره‌مالونه دده دلښکرو لاس‌ته ورغلل. په هغه وخت کی ددغه ځای ښاروپږدومره ښه اعلا جنسیت لاره چـــی سکندر ددغو ښارو یو نسل خپل هیوادته ولیږه، خو اوس دهغه ډول‌ښاروپو نسل هم نه دی پاتی.

کله چی سکندر دمهابڼ غره تـه چی په یونانی تاریخونو کی یی‌دارنس دغره په نوم لیکل شوی، ور سیـده‌نو هلته یی یوه مضبوطه کلا فتح‌کړه، ددی کلاد موقعیت په باب د مورخینو تر مینځ دنظر اختلا فونه موجوددی.

ځینی وایی چی اتك ته مخامخ دکیدړ کلی پر غره باندی واقع وه، خوځینی یی موقعیت دمهابڼ په غره کی بولی،خو مؤلف وروستی قول تائیدوی،که‌ څه هم دهغه وخت او اوسنی وخـت‌دغرونو اوسیمو نومونه بالکل‌مطابقت نلری ،خودسکندر د سفر ذکر چی‌یوڅه په یونانی تاریخونو کی لیکل‌شوی دی له هغو نه پورتنی قول غالباًصحیح ښکاری، داسی اټکل کیږی‌چی په هغه وخت کی به ددغو ځایونوپه شاو خوا کی دبید مذهب پیروان اوسیدل، خو بودایی مذهب هم‌دخپریدو په حال کی‌و. داځکه چی تر دغه وخت دوه سوه کاله وړاندی ګبودایی‌مذهب بانی مړ شوی و.

لنډه داچی دسکندر دبخت ستوری‌مخ په ځلیدو واو اکثر راجاګان یی ایل کړل په تیره بیا دراولپنډی دضلعی دتکسیلا راجا په ډیر شوق‌او مینه سکندر اودهغه لښکری راوبللی،یواازی سکندر دقنوج دراجا پورس سره چی په سکندر نامه کی یی‌نوم‌فور لیکل شوی دی جګړه وکړه،کله‌ چی سکندر په هغه باندی بریالی‌شونو د خپل عالی همت په وجه یـــی پورس د پخوا په شان پخپل سلطنت‌پرینبود . سکندر تر ستلج پوری‌تول پنجاب پخپل واك‌کی راوست اوبیرته ستون شو او پدغه وخت کی یی‌خپل پوځونه په دریو ډلو وویشل. اوپه‌دریو مختلفو لارو باندی بیرته ستا نه شول. دا عالی همته پاچا دنوروهمو چارو د تر سره کولو نیت هم کړی و، خو مرګ ده ته مهلت ورنکړاو دځوانی په وخت کی د (۳۳) کالو په عمر د بابل په ښار کی دتبی له کبله مړ او د هغه ټول پلانو نه دده د مړینی‌سره یوځای له مینځه ولاړل.

د یونانیانو د تسلط بیان

لوی سکندر د افغانستان هیواد چی په هغه وخت کی د هند یانوله خوا بالهیک دیس او د یونانیانو له خوا بکتر یا بلل کیده ونیوه او دا ته یی یو یونانی امیر صوبدار وټاکه. د سکندر تر مړینی وروسته دده امراوو ترمینځ تربوی موډی پوری جګړی او ستونزی روانی وی.

د مسیح تر زیږیدو دری سوه دولس کاله وړاندی کله چی دغه جګړی پای ته ورسیدلی نو په شام کی یونانی سلوکس پاچا و، چی افغانستان هم د هغه د قلمرو یوه برخه وه. دی د شام نه افغانستان ته راغی او د دغه ځای ښه انتظام یی وکړ. اوله همدی لاری د هند د واکمن راجا چندرګپت ملاقات ته ورغی چی هغه خپله لورده ته ورکړی وه. افغانستان د عیسی (ع) له زیږیدو نه تر دوه سوه پنځوس کاله وړاندی پوری د سلوکس داولادی په لاس کی و. کله چی د هغه اولاده په خپلو منځو کی بی اتفاقه شوه او په جګړو یی لاس پوری کړ نو په دغه وخت کی تهویو دوتس دغه ځای خپـلواکمن شو. چی تر هغـــه

وروسته یې زوی دده په نوم سره دافغانستان وارث و، خو هغه د شام دامیر یو تهید یمس له خوا معزول او په خپله یې قدرت تر لاسه کړ، په دې ترڅ کې د سلوکس اولادې پخپلو مینځو کې سره سوله ولره، تر هغه وروسته دشام پاچا لوی انتی اکس د لو یو پوځونو سره افغانستان ته راغی او د یو تهید یمس په پوځونو یې بریا لیتوب تر لاسه کړ، خو هغه یې دخوا په شان په تخت بریښود او پخپله بیرته ستون شو.

تر یو تهید یمس وروسته دهغه زوی د یمترس قدرت تر لاسه کړ او هغه لویدیځ خواته دایران دخاوری زیاته برخه په خپله مقبوضه سیمې یعنې افغانستان کې شامله کړه او ختیځ ته دسند دملک ختیځې برخې هم دده په لاس کې وې.

په پای کې دیوکرمیدس په نوم امیر منځ ته راغی او د یمترس یې معزول او پخپله یې ځای ونیوه، دده په وخت کې د بکتریا یا دافغانستان هیواد ډیر پرمختګ وکړ. دهغه ناپوه زوی چې دخپل پلار هم نومی و خپل پلار ووازه دده په وخت کې دافغانستان لوه برخه دهغه په لاس کې پاتې شوه. او پاتې سیمې دشاو خوا حکامو له خوا ونیول شوې. دیونانیانو دواکمنۍ ددوری سکې اوس هم ددغه ملک په ځینو ځایونو کې ډیرې تر لاسه کیږي. چې داکثر وسکو په یوه خوا باندې داس تصویر او په بله خوایې د پاچانو او یوناني حروف تر سترګو کیږي.

داسې ډیرې سکې دسند د رود په لویدیځو څنډو کې د پخوا نیو وختونو او زړو ودانیو نه تر لاسه شوي دي او څرنګه چې یونانیان هم دهند وانو په شان بت پرسته وو نو له دې کبله داسې اټکل کیدای شي چې ډیر زر به پخپلو مینځو کې سره ګډ شوي وي.

مسلمانانو تر فتحې د مخه هغه خلک چې په دغه ملک کې اوسیدل هغوی تر اخپل تسلط وروسته دسرو کافرو او سیاپوشو کافرو په نوم یادول، چې له هغونه اوس هم د افغانستان په شمالي غرونو کې په دغه نوم لوی قوم اوسیږي چې دهغو په باب غالب ګومان دادی چې دوی به دیونانیانو له نسل نه وي.

دسکهتین (سهتین) یا تاتاریانو تسلط

تر یو نانیانو یاگریکو باکتریِ ینوروسته پر افغانستان باندی تر څه مودی پوری، تاتار یا نو هم قبضه درلوده. ددوی دتسلط څرنګوالی داسی دی، هغه وخت چی دبکتریِن کور نیِ دزوال په خوا روانه وه. نو په دغه وخت کی اسکتهین دتاتار او بخارا له خوا راغلل او دغه سیمه یی ونیوله چی دهغوی دوخت مضروبی سکی په دی سیمه کی ډیری تر لاسه شوی دی چی ددغو سکو په یوه خوا باندی دیوه ولاړ سړی انځور دی چی اوږده تاتاری توپی یی په سر ده. خو ددی سکونه پرته چی له هغوی نه ددوی دنوم پته څرګندیږی، ددغه قوم مفصل تاریخ لاس ته رانه غی خو داسی بریښی چی دوی بت پرسته وو.

داسی اټکل کیږی چی دګهکړ قوم چی ډیر شمیر یی د غزنوی سلطان محمود او د غوری سلطان شهاب الدین دواکمنیو په وخت کی د سند ساګر په دوآبه کی میشته وو، ددغه تاتاری قوم له نسل نه به وی ځکه په تاریخ فرشته کی چی دهغه وخت دګهکړو او ددوی دمذهب اورواجو په باب څه لیکل شوی دی نو هغه دپخوا نیو جاهلو تاتاریانو له رواجو نو سره ډیر ورته والی لری. داسی ښکاری چی ددغه قوم خلک هم ډیر زر د یونانیانو او هندوانو سره ګډ شوی دی او داسلامی پاچایانو دیر غلو نو په وخت کی ددغه قوم څخه هغه چاچی داسلام دین نه دی منلی اکثراً وژل شوی او یا جلاوطنه شوی او په غرونو کی میشته شویدی.

تر هغی وروسته هم تاتاریانو څو ځله پردغه ملک باندی یرغلونه کړی چی د هغو له جملی نه د چنګیز خان حمله ډیره مشهوره ده.

اردشیر بابکان

کله چی په افغانستان لی ددویم یو کرنیدس د بدنیتی او نالایقی په وجه بی انتظامی را مینځ ته شوه په همدی دول دایران سلطنت د اشکانیا نو د واکمنی په پای کی دروم د جګړی په سبب دومره ضعیفه شوی وه چی ټو تنه صوبداران خود مختاره شوی وو ، دغه دوری ته دملوك الطوا یفی دوره وایی :

په دغه وخت کی په کابل کی بابك نومی صوبدار و چی دهغه له لور نه ددریم ساسانزوی اردشیر بابکان وزیږیده *. دغه زړور ځوان په (۲۲٦) عیسوی کال د تهران پاچا اردوان وواژه، او په خپله یی دسلطنت واګی تر لاسه کړی .

---

* بابك دپارس صوبه دارو، په «کار نامك ار تخشبتری پاپکان» کی راغلی دی :

پاپك مرزبان و شتر داری پارس بوت
ترجمه بابك دپارس مرزبان او شهر یارو
(رشاد)

دی دفارس دواکمنانو نه دهغی‌کور نی بنسټ اینبود و نکی و چی ساسا نیان یی بو لی. هغه تو لسی‌سوبی فتح اوپخپله واکمنی کی یی شاملی کړی او کابل یعنی لوید یځ‌افغا نستا ن دهغه په لاس کی ؤخو په ختیځو بر خـو کـی د ده دسلطنت او وا کمنی کو م ثـبـو ت لاس ته نه‌دی راغلی .

بهرام گور :

دی دارد شیر نه څلور پښتـه‌ورو سته په (۴۲۰) عیسو ی کال‌د ایرا ن په تخت کښیناست خوده‌په ټول افغا نستا ن تش‌پنا مه قبضـه وکړه او دسند د رود پور ی یـی‌خپل حدود پراخه کړل خو تر هغـه ورو سته دغه هیواد د قباد تـرواکمنی پور ی دایرا نیا نـو لـه لاس نه ووت . او خود مختاره و .

نو شیر وا ن :

نو شیر وان بن قباد چی دآسیـا په پاچا یانو کی په عدل سره‌شهرت لری په (۵۳۱) عیسو ی کال دایران‌په تخت کښیناست‌او افغا نستان‌یی بیا ایل کړاو دخپلی وا کمنی حدودوته یی ختیځ خوا ته د سند تـر روده پور ی پرا خوا لی ورکړ .
هغه دبلو چستا ن په خلکو باندی‌چی مشهور غله وو یر غل وکـړ او هغوی یی تباه کړل .

هر مـز :

تر نو شیروا ن ورو سته‌د هغه‌زوی هر مز پا چا شو خو په ختیځ افغا نستان د هر مز او خسرو پرویزدوا کمنیو ثبو ت د ډیرو هڅـو سره سره تر لاسه نشو.

یزد گردیا یزد جورد :

تر شیرو په وروسته یـزد گردابن شهر یار به (۶۳۲) عیـسو ی کال دایرا ن پاچا شو ، دی ډیر ټیټ‌او دون همته سړی ؤ . دده پـه وخت کی اکثره صو بدا ران یاغیان‌شول لکه چی په افغا نستا ن‌کی‌هم همدا حال و، خو داسمه معلو مـه نه ده چی په هغه وخت کی به پـه لو یدیځ او ختیځ افغا نستان کـی‌څوك حا کمان وو ، خو غا لبا هنـد وانو په ختیځو برخه کی په خـودمختاره ډول ژوند کاوه ، او ددغـی بر خی عمو ما حالت همدا ســی‌دی هغه وخت چی دایرا ن وا کمنان دقدر ت خاو ندان او زور ورو و، نودغه سیمه ددوی‌په لاس کی‌وه،اوکله به چی دهندوستان کوم واکمن یا دپنجا ب کوم را جازو رتر لا سه کړ

نو دغه ملك به يی پخپله قبضه کی‌راو ست‌او کله به‌چی دد ی دواړو خواو کی فاتح پیدا نه شو نو ددغه ځای واکمنانو به پخپله دد غه ځای وا. گی په لاس کی نیولی .

لنډه دا چی دایرا ن پاچا یزدگرددااسلام د سپه سالار سعد بن وقاص له خوا د دو یم خلیفه حضر ت‌عمر(رض) دخلا فت په وخت کی په‌شلم هجری کال چی له‌هغه وخت نـــــه (۱۲٦۰) کا له تیر شوي دی،دقادـ سیی او نهاوند په خولویو جگـړوکی مات کړی شو. یزد گردد مروی په شاو خوا کی مړ شو او په‌ایران‌باند ی اسلا می فا تحینو قبضــــــه ټینگه کړه .

دویم فصل

داسلام له ظهور نه تر نن پوری :

په (۳۱) هجری کال یعنی ددریم خلیفه حضرت عثمان (رض) ابن عفان په وخت کی عبدالله ابن عامر چی دده ، سپه سالار احنف نو میده دخرا سان دنیو لو له پاره دیوه زړور لښکر سره و تاکل شو . هغه په ډیره لږه موده کی هرات ، باد غیس ، غور ، نیشا پور ، بلخ، طوس او نور فتح او په دغو ځا یو نو کی یی داسلام د ین خپور کړ .او په هر ځای کی یی مسلما نان حا کمان وټا کل .هغه وخت چی عبدالله دحج په نیت بیر ته عربستان ته ستون شو ، نودعجم وامیر قارن په (۳۳) هجری کال شلو یښت زره پو ځو نه دهرات،غور او نورو ځا یو نو نه را ټو ل کړل اوداعرابو نه ئی دخپلی آزا دی دبیر ته اخستلو په منظور دبغاوت جنډه ، او چته کړه .

عبدالله خازم:

کله چې عبدالله بن خازم په ډیره چټکتیا اسلامي پوځونه را ټول کړل نو قارن ته یې ماته ورکړه. ددې خدمت په بدل کې هغه ته دټول خراسان صوبداري ورکړل شوه. دی ډیر عادل او زړور سړی و، خو تر خورا لرې مودې پورې دخراسان حاکم پاتې شو چې په (٤٤) هجري کال زیاد د بن امیه دمعاویه بن سفیان له خوا دخراسان او بصرې والي شو.

عبدالرحمن بن سمره:

هغه وخت چې زیاد دبن امیه دخراسان او بصرې والي شو نو له نن ورځې نه دوه لس سوه شپږدیرش کاله وړاندې عبدالرحمن بن سمره دزیاد د حکم سره سم دکابل او افغانستان لویدیځ خوا ته پوځونه راولیږل اودغه ځایونه یې ونیول په هغه وخت کې مهاب بن ابي سفره چې دعربو دلوړ وامراء و څخه گڼل کیده کابل ته راغی او له هغه ځایه د پیښور په لاره په ختیځ افغانستان اود سند سا گرپه دوآبه کې یې دخپل دین له مخالفینو سره جهاد وکړ.

دی لومړی شخص دی چې یې په دغه ځای کې یې د اسلام ددین بنسټ کیښود، خو دغه زړور صحابي دختیځ افغانستان دنیو لو او دوامداري قبضې پر ته ډیر خلک ونیول او دمریانو په ډول یې له ځان سره بوتلل او بیرته ستون شو.

کله چې زیاد بن امیه تبدیل شو نو سلم دخراسان صوبه دارو ټاکل شو چې دنو موړي له خوا ابو عبیده بن زیاد دکابل حاکم وټاکل شو، دی ډیر زړه سوانده او نرم مزاجه سړی و په (٧٢) هجري کال هغه وخت چې دکابل خلکو په بغاوت لاس پورې کړ نو خپل حاکم یې بندي کړ.

طلحه بن عبدالله:

هغه وخت چې ابو عبیده بن زیاد دکابل دخلکو لخوا ونیول شو نو دخراسان دصوبه دار لخوا طلحه بن عبدالله کابل ته واستول شو. او دکابل له خلکو ته یې ابو عبیده په پنځو لکو درمو باندې واخیست، کله چې هغه له بند نه خلاص شو، په

دغه وخت کی طلحه دهــرات اوغوردلښکر و په ملګر تیا کا بل قهراء او جبراء فتح کړ او دخپلی خوا نــه یی خالد بن عبدا لله چی دخا لــد بن ولیدقریشی له نسل نه و* د کابل‌حا کم مقرر کړ، کله چی دغــــه حا کم دخرا سان دصو به دار لخــوامتهم او معزول شونو په دغه وخــت کی عر بستان ته تګ ورته ګــران‌ښکاره شو اود خپلی کور نـــی سره په زرمت کی میشته شو چــی بنګښی دد غه سړ ی له نســـل نه دی.

ولــــید :

دمروان د لمسی خلیفه ولید بـن‌عبدا لملك دخلا فت په وخت کـــی حجاج بن یو سف ثقفی دخرا ســان مو بدار مقرر شو. دی ډیر مد بـــر خو ظالم سړی و، دده دخلا فت پــه وخت کی محمــــد بن‌قاسم چی ځـوان سپه سالار اود بصری او خرا ســن‌دصو بدار حجاج وراره ودشپږ زره لښکر وپه ملګر تیا په (۷۰۵)عیسوی‌کال په سند باندی حمله و کــړ ه اود ګجرات او سند دوا لی را جا د اهر سره یی خو جګړی وکړی او پــه ورو ستی جګړی کی یی نو مــو ړی‌ جا ته ماته ورکړه اوراجاو و ژ ل شو . دغه با عزمه سردار ملتـــان‌اود افغا نستان دختیځو برخو جنو بی سیمی هم ونیو لی خو غالباء دما لګی‌دکان دغره لړی نه شما لی سیموته دهغه ډتلو ثبوت لاس ته نه د یرا غلـــــی .

لنډه دا چی دامو یا نو او عبا سیا نود خلا فتو نو په وخت کی هــــم دافغا نستان لو ید یځی بر خی‌ددوی‌تر لاس لاندی وی، خو په ختیځــــه برخه باندی دهغوی ددا یمی واکمنی‌کوم ثبوت نشته ، البته ددوی سردا ران دپو ځو نو په مشری دلتــــــه را تلل او لوټ به یی کاوه ، کلــه چی عبا سی خلیفه مامون بن ها رون‌الر شید دافغا نستان په لاری پــــه هندو ستان یر غل وکړ او درا جپو تانه له سر دارا نو نه یی ما تــــه

---

* خا لد بن عبدا لله بن یز یــــد لقسری دعر بو په «بجیله» قبیلـــی کی دقسر بن عبقر له او لادی څخه و،ددغه خالدنیکه یزیدد خالدبن‌و لید دزما نی سړی ودحضرت محمـــــــدصلی الـلـه علیه وسلم پـــــه صحبت مشرف سوی و ـ خالــد بــن لید بن‌مغیره (۲۱هـ قمړ)له مخزو ـ می قر یشو څخه دی، سیف الـلــه لقب یی و، خالد بن عبدا لــلــه القسری دخا لد بن ولید له اولاد ی‌څخه نشی کید ای . (رشـــــاد)

وخوړه* نو بیا بیرته بغداد ته ستون شو، چی تر هغه وروسته دعبا سیانو خلافت مخ په زوال شو، او د ملك اکثر وصو بدار انو د هغــــوی اطاعت پریښود ، یوازی بغداد او دهغو شا وخوا سیمی دبغداد د خلیفه په لاس کی پا تی شوی.

سامانی اسمعیل :

په هغو صو بدارانو کی چی دبغداد دخلیفه له اطاعت نه یی غاړه غړولی وه یوهم سامانی شاه اسمعیل و، دی چی دخراسان او ماوراءالنهرصو بدارو په (۲۷۹) هجری کال کی چی لـــــه (۸۹۲) عیسوی کال سره سمــــون لری کابل ، کندهار، زابل اوغز نی یی ونیول او بخارایی خپل دارالخلا فت وټاکه اوخپل ځان ته یی د پاچـــــا لقب ورکړ . دغه کورنی چی دساما ــ نیانو په نامه سره یاد یږی تر نوی (۹۰) کلو نــــو پوری په لو ید یځ افغا نستان، پاچایی وکړه . په د غه وخت کی دافغانستا ن په ختیځو برخو باندی دلاهور راجا قبضه در لوده .

الپتگین :

دی دسامانیانو د ځلورم وا کمـــن عبدا لملك له خوا دخرا سان حاکـــم وټاکل شو کله چی دبخارا پاچا مــــړشو نودده نه یو کوچنی زوی دمنصو ر په نامه پاتی شو. دخراسان امرا و ، لپتگین ته چی په خراسان کی ویــــو

---

* د هندوستان نامتومحقق او مورخ شبلی نعمانی (۱۳۳۲ ه.ق مړ) په الما مو ن (۸٤ مخ) کی لیکلی دی :

«داردو ژبی په ځینو نا معتبــروتار یخو نو کی راغلی دی چی عباسی خلیفه ما مون الر شیـــــــد (۱۹۸ـ۲۱۸ هق) پر خاص هندو ستان برید وکړ په څوجنگو کی راجپوتوته ماتهٔ ورکړ له ، اوپه ماتی ستون شـــو . دغه مطلب په معتبرو تاریخو نو کی نه دی راغلی، بلا ذری (۲۷۹ ه. قمړ) په فتوح البلدان کی فقط دومــــره راوړی دی افضل بن هامان د سندان سیمه ونیوله او یو پیل یی لــــــه فتحنامی سره مامون الر شید تــــه ورو لیږه او په سندان کی یوجوماتهم ودان کړ (وگ ۲٤٦ مخ)ـ سندان نه دی معلوم چیری واقع واو او س څه نو میږی ؟

سندان هر چیری چی وی خـــودراجپو تو له لاسه دما مون الر شیــــد ماته دکوم هندو مصنف دخیتی خبری دی چی هیڅ اصل نه لری .»

په ۲۰٤ هق مامون الر شیـــــد له مروی څخه دمشهد (طوس) پرلار بغداد ته ولاړ ــمامون دافغا نستا نخاوری ته هیڅ نه دی راغلی (رشاد)

لیك واستاوه اوپه هغه کی پــــی دمنصور دتخت کښیناستو په باب دد ه نظر وغوښت الپتگین په ځواب کـــی ولیکل چی منصور نوی ځوان او دسلطنت وړنه دی نوځکه باید دعبدالملـــــك وروړ پاچاشی ، خو دده د صــــلاح او مشوری تر رسید لو دمخه منصــــور پاچا شوی و کله چی منصور د غـــــه خبر واریده ناراضه شواو الپتگیـــن یی وغوښت، * خوځرنگه چی الپتگین ددغه امراجراء د ځان له پاره خطـــرگانه نوځکه له تلو یی انکار وکــړ . دبخارا پاچا دده ذ تنبیه کولو له پاره لښکری راولیږلی ، خو الپتگین ددوو جگړو په ترڅ کی په شاهی لښکـــــــــــرو باندی بریالی شواو درا تلو نکی له پاره یی دبخاراله پاچا سره جگـړ دمناسبه ونه بلله او په (۹۶۱)عیسوی کال کی چی د (۳۵۱) هجری کال سرده مون خوری خود مختاره شو او پـــه غزنی کی یی د نوی داراسلطنت ا و اچاهی اعلان وکړ . ده تر پنځلـــس کلونو پوری په لویدیځ افغا نستا ن باندی حکومت وکړ اوپه (۳۶۵)هجری کال کی چی د (۹۷۵) عیسوی کال سر دسمون خوری مړ شو . **

ابو اسحاق ابن الپتگین :

دالپتگین ترمړینی وروسته یی ځوی ابو اسحاق دغزنی په تخت با نـــد ی باند ی کیناست هغه دخرا سان پـــه بیلو لو سره منصور ته خپل زورور و ښود. ده تردوو کلولو وروستـــــه ځوانی په عمر له دی نړی نه سترگی پټی کړی . * * *

* ځینی نور کتابونه وایی :الپتگین دعبدالملك د زوی پر خواو ، په د ی باب دتعلقیاتو په برخه کی تفصیـــل وگوری (رشاد)

** الپ تگین د ۳۵۲ هـ ق کا لدبرات په شلمه (۱۳ ستمبر ۹۶۳ ع) مړدی ــ دده زوی ابو اسحاق ابراهیم د ۳۵۵ هـ ق کال د میانی د میاشتی په پنځه ویشتمه (۱۲ دسمبر ۹۶۶ ع)مړشوی دی .

دا بو اسحاق ابراهیم دپاچهی دوره د ری کاله و دری میاشتی و پنځه ورځی وه (الپتگین پنځه لس کاله پاچهی نه د،کړی (رشاد) .

*** دالپتگین دزوی ابو اسحاق ابراهیم وسبکتگین ترمنځ نه کاله بلکا تگیـــن او تر هغه وروسته تقریباً دوه کالــه پری تگین دغزنی پاچهی کړیده، ناصر ــ الدین سبکتگین د ۳۶۶ هـ ق کـــال برات په اوه ویشتمه (۲۰ اپریـــل ۹۷۷ ع) دغزنی پاچا شوی دی. رشا د

سبکتگین :

دابو اسحاق تر مړینی وروسته دسبکتگین نه پرته بل هیڅ شخص دسلطنت حقدار نه وو . سبکتگین پا اصل کی یو ایرانی شهزاده وچی دزمانی او روز گار د گردش په سبب دافلاس په حال کی دغزنی دپاچاالپتگین خدمت ته راوستل شوی واو کله چی نوموړی پاچاد هغه لیاقت ولیدهغه یی واخیست . نوموړی دخپل زړه ورتوب، پوهی اوښه نیت په سبب ډیر ژر د ترقی لوړو پړاوو نوته ورسیده ا و دالپتگین سپه سالار شواو په دغه رتبه کی نوموړی تردی حده نومیا لی شو چی ان تر ترکستان اوهندوستا ن پوری یی آوازی خپری شوی وی نو په دغه وخت کی ده دالپتگین لورځانته نکاح کړه . اود ټولو امراو په مشورو ا اتفاق نظر سره په (۹۷۷) عیسوی کال دغزنی په تخت کښیناست .

نوموړی د (۹۷۸) عیسوی کـا لـدهندو ستان په خوا یرغل وکـړ او دپنجاب دملك څو کلاوی یی ونیو لی اوپه اکثرو ځایونو کی یی جوما تو نه جوړ کړل اوپخپله دلوټ له ډیر مال سره غزنی ته راستون شو . په د غه وخت کی دپنجاب راجا جیپال داشتپا لزوی وچی دبرهمن په قوم پوری یی اړه لرله ، دسر هند یا انبالی نـه یولی ترپیښور ه پوری په اوږدو او دکشمیر نه تر ملتانه پوری په یسارددده محروسه ملك گڼل کیده یعنـی د افغانستان ختیځه برخه دده ترلاس لاندی وه .

کله چی نوموړی راجا دسبکتگین یرغل ولیده نویو لوی لښکر یـی راټول کړ اوله پا یتخت یعنی لا هو ر نه د افغانستان په خوا را روان شو ، له بلی خوا امیر ناصر الدین سبکتگین دخپل زړور پوځ سره سرحد ته دهغه مخی ته ور غی .

او دری ورځی دد واړو لښکروترمنځ جګړه روانه وه او سلطان محمـو د چی په دغه وخت کی د خپل پلاردلښکروشراو سردار وسره له دی چی ډیـر ځوان اوبی تجربه و په دغه جګړه کی یی ډیره میړانه وښوده او پـه ډیره چالاکی سره وجنګیده ، په پای کی راجا جیپال ته خپل لښکر کمزوری ښکاره شواو دپنځوسو پیلانو اوډیر ورو پیو په ورکولو ، سره یی سولـه وکړه ، اوخپل یومعتبر امیر یی دسبکتگین سره دیرغل ، په توګه پریښود اوځو مسلمان امیران یی دهغو شیانو دورکولو په منظور چی دسولی دقرار داد په وخت کی منلی وو له ځان سره لاهور ته بو تلل ، خوکله چی نوموړی

لاهور ته ورسیده دخپلو نا عا قبت اندیشه اوناپوهو مصاحبینو په مشوره یې تړون مات او مسلمان امیران یې ونیول اوغزنی ته یې ځواب ولیږه چې ترهغو چې ته زموږ هندو امیرخوشي نکړې موږ به هم مسلمان امیران خوشي نکړو هغه وخت چې سبکتګین ته دغه خبر ورسیده ، نو ډیر په غصه شو اود طوفان په شان دیو بې شمیره لښکر سره دپنجاب په خوا روان شو، راجاجیپال داجمیر ،ډهلی،کالنجر او نورو راجا ګانو نه مرسته وغوښتله او څرنګه چې هغوی هم خپله بقا دپنجاب راجا ته په مرستې ورکولو کې لیدله نو ځکه یې دخزانی اولښکرو دلیږ لو په باب یې هیڅ ځنډونه کړ .

راجا جیپال په ډیره زړور تیادیولك پوځ په مشری له لاهور نه دمقابلې په منظور دپیښور په خوارا وخوځیده اودغه خونړی جګړه به غالباً د سند رود لویدیځ ته دپیښور په شاو خواکې دهندوانو اومسلما نانو تر مینځ پیښه شوې وی په دغه زمانه کې هندوانو داتك له سیند څخه له پورې وتلو نه ډډه نه کو له په لومړی سرکې جګړه ترډیره وخته روانه وه اوسبکتګین له داسی یوه تاکتیك ،نه کار واخیست چې خپلی لښکر ی یې په څو برخو وویشلې او تازه دمه لښکری به یې میدان ته ورلیږلی دغه منظم تاکتیك ترهغه اندازی مؤ ثرواقع شو . چې بی نظمه مخالف پو ځ سره یې چې ډیر زیات اوبی شمیره ود ضعف آثار په دوی کې مینځ ته راغلل نو په دغه وخت کې اسلامی پوځ دخپل زړه ور قوماندان ترقیادت لاندې یو ځلی په غلیم یر غلو کړ اودپنجاب راجا بی شمیره پوځ تلف شو اوپاتی پوځ ماته وخوړه ا وپه تیښته یې پیل وکړ ، ا واسلامی فاتحو لښکرو دوی دسند تر روډ پورې تعقیب کړل، ډیر لوټ اومرګ یې وکړ .

تر دغی سوبی وروسته چې له هغه نه تر اوسه پورې اته سوه شپږ اتیا کاله تیریږی دافغا نستان ختیځه رخه دلاهور له ریاست نه بیله دسند تر رود پوری دغزنی په سلطنت پورې وتړل شوه ، اوخطبه او سکه دسبکتګین په نوم جاری شوه ، پاچا خپل یوامیرددوو زرو سپرو سره په پیښور کې پریښوده او دافغانانو (پښتنو) قو مچی په دغه ځای کې یې په پوو نده دول ژوند کاوه په کراری او تسلی سره تابع کړل اوددوی څه میږو نه یې له خپل ځان سره نوکران کړل ا و لښکر دمرستند ویانو په څیر یې په پیښور کې پر یښودل .

سبکتگین په ډیره پایدارۍ سره شل کاله پاچا یي وکړه او په (۹۹۷) عیسوي کال یې په تر مز کې چې په ترکستان کې موقعیت لري له فا نـی نړۍ نه سترګې پټې کړې.
د ده تر مړینې وروسته دغه کوچنی زوی اسمعیل د سلطنت داعی شو او یو لسنړالي ګولي یې رامینځ ته کړې . خو د محمود لخوا چې حقیقاً د سلطنت وارث و، ونیول شو.*

سلطان محمود غزنوی:

غزنوی سلطان محمود د خپل پلار سبکتگین تر مړینې وروسته د اسمعیل فسادونه له مینځه یوړل او پـه (۳۸۷) هجري کال چې لـه (۹۹۷) عیسوي کال سره سمون لري په تخت کښیناست .دی ډیر د لوړ همت او

اقبال خاوند واو په نظامي چارو کې یې ښه مهارت لاره اودغه برخې ته یې ښه توجه کړې وه. دی په محمدی(ص) شریعت ټینګ ولاړوء ،کله یې چې په (۱۰۰۱) عیسوي کال د لومړي ځل له پاره هند ته د تللو نیت وکړ

نو په دغه وخت کې د سلطان محمود لښکرې لس زره سپاره اود پلی پوځ شمیر یې تردی هم لږ وله بلې خوا د پنجاب د والي راجه جیپال له دولس زره تنه سپرو شل زره تنه پلیـو سپایانو او دری سوه جنګي پیلانـو

سره دغه زړور پاچاء سره د مقابلې له پاره د سند له رود نه تیـر اود هغه لاره یې ونیوله د پیښور پـه شاو خواکې (۳۹۲) هجري کال د محرم د میاشتې په اتمه نیټه چې د (۱۰۰۱)عیسوي کال د اګست د میاشتې لـه

پنځمی نیټې سره سمون خوري دواړو لښکرو ترمینځ سخته جګړه پیښـه او سلطان محمود د زابلي جنګیالیـو په مرسته د غلیم د لښکرو پـه زړه یرغل وکړاو بریالیتوب یې په برخه شو.راجا جیپال ماته وخوړه او د خپلـو دوو زامنو او څو تنو خپلوانو سرمږوندی ونیول شو اود محمود لښکرو ته د غنیمت بې شمیره مالونه په لاس ورغلل ،اوبریالي غزني ته ر استانه شول .

غزنوی سلطان محمود په جیپـال او نور جنګي اسیرانو باندي د مرګلن (عمري) خراج او جزئي ورکول ومنل او بیا یې خوشي کړل. او هغوی څو

---

* سبکتگین د ۳۸۷ هـ ق کال د برات په میاشت (اګست ۹۹۷ع) د مدرموی په رباط کې مړشوی دی ـ د مدرمو ی رباط د بلخ او بامیان تر منځ وا قـع دی په تر مز کې د سبکتگین د مرګ پیښه محمدقاسم هندو شاه استرآبادی په تاریخ فرشته کې راوړی ده ،دغی تیرو تنی حیات افغا نی ته هـم لار کړیده . (رشاد)

تنو سرکشو افغانانو ته یې چې لـه راجا جیپال سره یې سازش کړی ود مرګسزا ورکړه .

کله چې جیپال له بند نه خلاص‌شو نود بې عزتۍ ژوند یې‌ونه مانه او خپل زړه‌ور زوی انند پال یې‌خپل ولیعهد وټاکه اوپخپله یې ځان‌ژوندی وسوزاوه، دهغه په ځای انند پـال‌دلاهور په تخت کښیناست.

غزنوی سلطان محمود په (۱۰۰٤)عیسوی کال راجا بهاټیا* او پـه (۱۰۰۵) عیسوی کال دملتان حاکـم‌ابو الفتح لودی مطیع کـــړل .

ددغو نظامی عملیاتو په وخت کی ننداپال یوځل بیا په مقابلـــه لاس پوری کړ خوماته یې وکړه اود کشمیردغرونو خواته فراره شو، کله چې سلطان محمود غزنوی دتاتار له والی‌اکبر بیك خان سره له جګړی نه فارغه شو‌نو ځلورم ځل‌یې دپسرلی په موسم‌په (۱۰۰۸) عیسوی کال چې‌د (۳۹۹) هجری کال سره سمون خوری دانند پال بغاوت نه‌د غچ اخستلو پـه منظور دیری لښکری راټولی او د پنجاب په خوا روان شو، انندپال هم دغه کار ته متوجه واو دمخــــه یې دډیلی ،اجمیر، قنوج، او چیـن‌او کالنجر راجاګانو ته یې اسنازی‌لیږلی‌اود مسلمانانو دمخ نیوی له پاره‌یې چمتو کړی وو، په دغه وخت کی‌ټولو‌هندی راجاګانو او سردا رانو سره اتفاق کړی او دبی شمیره لښکروسره‌دافغا نستان په خوا روان شول،هغه وخت چې دواړه پوځونه دپیښور شاوخواته راورسیدل‌نو خیمی‌یې ودرولی، کله چې محموددښمن بی شمیره‌پوځونه چی‌ده یې قطعاء توقع نه لرله،ولیدل نو حیران شو‌او دخپل عادت په خلاف‌یې ددښمن پر پوځونو یرغل ونکړ،چې دواړو پوځونو تر څلوینبت ورځـــوپوری په یو بل باندی دحملی کولـــو جرئت ونکړ، چې په‌دغه ترڅ کی‌دانندپال دلښکرو‌شمیر ورځ په ورځ‌ډیریده ،د کهکړو قوم چې په هغه وخت کی‌دسند او جیلم په دوابه کی اوسیدل دانند پال له لښکرو سره یو ځـای‌شول، ځکه چې‌په هغه وخت کی‌ددوی مذهبی عقیده داسلام په خلاف وه.

لنډه داچې ددغی جګړی له پـاره‌ټولو هند وانو داسلام دخپریــــدو دمخنیوی له پاره داسی اتفاق وکړ چې‌ان ښځو خپلی ګانی دلښکرود ضرور ـ یاتو او نورومصارفو له پاره له لیری‌لیری ځایونو نه رالیږلی، کله چــی

---

*بهاتیه داوسنی بهاولپور په سیمه کی واقع وه ـ بهاول پور دپنجاب او سنده ترمنځ‌په پاکستان کی‌واقع‌دی. (رشاد)

محمود د دښمن کثرت او د هغو سرتیرنه ولیده نو په ډیر احتیاط سره یې د لښکرو د قرار گاه دواړو خواوو ته خندقونه وکیندل او په دې خیال چې له مخامخ نه یرغل وشي، نود غښو ویشتونکو یو ټکړه ټولگی د پاچا د حکم سره سم وړاندې ټک وکړ او په نظامي تاکتیک سره یې علیم جنړې ته وهڅاوه او خپلې قرار گاه ته یې وړاندې راوستل په دغه وخت کې د محمود لښکرو په ډیر زړه ورتوب سره پر هغو یرغل وکړ خو نتیجه برعکس شوه، ځکه د ککړو د قوم شو زره تنو ځوانانو چې سرونه او پښې یې لڅې او له دوی سره نا منظمې وسلې وې د اسلامي لښکرو له دواړو خواو نه تیر او غزنوي سپرو ته یې ځانونه ورسول او هر څه به چې مخې ته ورتلل له به انسان او یا حیوان ټول به یې له تیغ نه تیرول ان تردې چې په دغه وخت کې تقریباً څلور زره تنه مسلمانان شهیدان شول او گړی په گړی جگړې پراختیا موندله او نږدې وه چې سلطان محمود د ککړو د پلي پوځ د برترۍ په سبب ځان کوښه او جگړه د هغې ورځې له پاره بس کړي خو بخت له محمود سره دومره یاري وکړه چې ناڅاپه هغه پیل چې انند پال ورباندې سپور و د توپونو، توپکو د ډزو* او غښو د لگیدو له کبله وارخطاء او په شا وتښتیده، نو هندي لښکرو فکر وکړ چې گواکې انندپال وتښتیده، نو دوی هم په تیښته پیل وکړ او یو له بل نه مخکې کیدل او محمود د جگړې په میدان کې بریالیتوب ترلاسه کړ د شاهي امراوو له جملې نه عبدالله طایي د شپږ زرو تنو عربو سپرو سره او ارسلان جاذب د لس زرو ترکي او افغاني لښکرو سره د انند پال لښکر تر دوو ورځو پورې تعقیب او د انندپال ډیرې لښکرې ووژل شوې او د غنیمت بې شمیره مالونه د محمود بریالیو لښکرو ته په لاس ورغلل، تر هغه وروسته نوموړي واکمن په (۴۰۲) هجري کال کې د ملتان په حاکم داوعد بن نصیر بن حمید لودي** د بې ادبۍ له کبله په هغه باندې یرغل وکړ او تر نیولو وروسته یې د غور په کلا کې بندي کړ.***

---

*د ۴۰۰ هق سنې په شاو خوا کې د توپو او توپکو جنگ د تأمل وړ دی نه یم خبر چې مؤلف دا مطلب له کومه کړی دی؟ (رشاد)

** دابو الفتوح داوعد لودي د پلار نوم د لته نصیر راغلی دی خو په نورو کتابونو کې «نصر» لیکلی دی. (رشاد)

*** ابو الفتوح داوعد لودي یې د غورك په کلا کې بندي کړی و، غورك په غور کې نه دی، په کندهار کې دی، د کندهار د ښار شمال ته پنځوس میله لیرې واقع دی. (رشاد)

کله چې دلاهور راجا انندپال مړشو د هغه زوی په تخت کښیناست، په دغه وخت کې (٤٠٤ هجری کال) دننددونه کلا چې د بالناتو په غره او د جیلم په ضلع کې یې موقعیت درلود د سلطان محمود له خوا ونیول شوه او په (١٠٢٣) عیسوی کال یې چې د (٤١٤) هجری کال سره سمون خوري لاهور فتح او سلطان محمود د پنجاب لوړی اسلامی پاچا شو.

دجیپال لمسی داجمیر راجاته پناه یووړه، سلطان محمود په (١٠٢٤) عیسوی کال چې د (٤١٥) هجری کال سره سمون خوری د دولسم ځل له پاره دیوه لوی پوځ سره چې دوه زره تنه افغانان (پښتانه) هم په کې وو په هندو ستان یرغل وکړ او دکن په کجرات کې یې دسومنات مشهور معبد په خپله قبضه کې راوست اود لوی بت خواته ورغی او پخپل گرز سره یې د هغه پوزه او خوله ماته کړه.

تر هغه وروسته سلطان محمود لویدیځ خراسان فتح کړ او تر دومره فتوحاتو وروسته د (١٠٣٠) عیسوی کال داپریل دمیاشتې په (٢٩) نیټه د دری شپیتو کالو په عمر مړشو. دده دواکمنی په وخت کې د افغا نستان په ختیځه برخه کې د بت پرستی او برهمنی مذهب له مینځه ولاړ او د اسلام دین خپور شواو هغو مشرکانو چې د اسلام دین یې نه مانه یو شمیر یې ووژل شول او یو شمیر یې هم جلاوطنه شول.

سلطان مسعود:

د سلطان محمود تر مړینې وروسته د هغه مشر زوی امیر محمد دپاچاهی دعوه وکړه*، خو څرنګه چې مسعود دخپل پلار په وخت کې دهرات صوبدار و امیر محمد یې ونیوه او ړوند یې کړ او پخپله په تخت کښیناست. دهغه په وخت کې دغزنوی واکمنی زوال پیل شو. که څه هم هغه دخپلې واکمنی په پیل کې په هندو ستان باندې په زوورتیا سره یرغلونه وکړل او دختیځ خواته یې هم یو څه بریا لیتوبونه تر لاسه کړل خو دلویدیځ لوری نه دسلجو قیانو قوم یعنی ترکمان تاتاریان مینځ ته راغلل او دې یې تر سخت فشار لاندې ونیوه همداراز افغانانو (پښتنو) هم دسختو او صعب العبوره غرونو په دننه کې په بغاوتونو لاس پورې کړ، چې دهغوی دځپلو له پاره شهزاده ایزد یار و ټاکل شو او هغه افغا نان (پښتانه) یو څه تنبیه کړل. خو د سلجوقیانو قوم دومره زورتر لاسه کړ چې پاچا ته په غزنی کې

---

*محمد تر مسعود مشر نه و، دوی دواړه په یوه ورځ زوکړی و، دساعتونو په شمیر مسعود تر محمد مشر و، (رشاد)

پاته کیدل گران شول. نو ځکه دهٔدخپل پلار دوخت خزانه له ځانه سره واخیستله. او په دغه نیت چی له هندوستان نه به له ځان سره یوځونه.

ملکری او دغه مضر قوم به سمی لاری ته راولی دلاهور خواته لاړ او خپل رونډ وروور امیر محمد یی هم له ځان سره ملکری کړ، دلاری په اوږدوکی

په مار گله نومی ځای کی چی له حسن ابدال نه (۹) میله ختیځ لور ته موقعیت لری دخپل نمك حرامه پوځ له لاسه چی د خزانی دلوټولو نیت یی لری وونیول شو او بندی کړای شو. سلطان مسعود په (۱۰٤۰) عیسوی کال د خپل ناپوه وراره دحکم له مخی ووژل شو.

سلطان مودود بن مسعود:

کله چی دبلخ صوبدار مودود دخپل پلار دوژل کیدوخبر واوریده نو سمدلاسه غزنی ته راغی اود هغه ځای خلکو ده ته دده دمور وثی تخت مبارکی ورکړه او په تخت کښیناست، ده دامیر محمد له زامنو سره چی مشر یی دملتان او پیښور صوبدار وجګړه وکړه او بریالیتوب یی تر لاسه کړ

او بیا یی دخپل پلار له قاتلینو نه بدل واخیست. ده (۹) کاله پاچاهی وکړه مودود په (٤٤۱) هجری کال چی د (۱۰٤۹) عیسوی کال سره سمون خوری دقولنج په ناروغی اخته شواوله دی نړۍ نه یی سترګی پټی کړی.

سلطان ابوالحسن علی:

د مودود تر وفات وروسته لومړی دهغه شلور کلن ځوی په تخت کښینول شو خو تر پنځو ورځو وروسته ایړنه لیری کړی شواو دمودود وروور

ابوالحسن علی بن مسعود د (٤٤۱) هجری کال دشعبان دمیاشتی دجمعی په ورځ په تخت کښیناست، په دغه وخت کی علی بن ربیع دشاهی خزانی دوکیل میرك نه دقدرت په اندازه زر او جواهر تر لاسه او پیښور ته وتښتیده اود افغا نستان په ختیځه برخه کی یی تر ملتان نه پوری خپله قبضه ټینګه او افغانان یی دتوری په زور تابع کړل.

سلطان عبد الرشید بن محمود :

دهماغه کال په پای کی دسلطان محمود زوی عبد الرشید چی دخپل وراره مودود دحکم له مخی په یوه کلا کی بندی کړای شوی وه دمودود دمړینی خبر واوریده، نو دعبدالرزاق او نورو په مرسته له زندان نه خلاص او غزنی ته یی ځان ورساوه.

او وراندی تردی چی ابوالحسن علی ته یی دتوری زور وروښودلای وی هغه له تخت او تاج نه گوښه شوی و. هغه وخت چی عبدالرشید

غزنی ته ورسیده دخپل پلارپه تخت کښیناست اونو شتکین حاجب ته یی دهند دامیرالامراء منصب ورکړ اوهغه یی دلاهور صوبدار ی‌ته ولیږه نر یوه کال وروسته نمك حرامه طغرل‌چی دشاهی امراو څخه و عبدالرشید یی دمحمود له (۹) تنو نورو اولادونو سره وواژه، هغه وخت چی نوشتکین حاجب ته دغه زړه بوګنونکی اوخواشینو نکی‌خبرپه پیښور کی‌ورسیده نو ډیرپه قهرشواو دهغه دتدبیرله مخی نوموړی طغرل دنوی کال‌پـه لومړی ورځ کله چی په محمودی‌تخت باندی ناست و ووژل شو..

فرخ زاد ابن مسعود:

په دغه وخت کی فرخ زاد ابن‌مسعود په کومه کلاکی بندی و نـود نوشتکین په صلاء دخپل‌مور وثـی‌خرد نوشتکین دپوهی‌او زړو ور تیاپه پاچا پخپله یو لایق اوپوه سړی‌نه وسلطنت خاوند شو، که څه هم‌دغه وجه دوه ځله د سلجوق یعنی‌دترکمان‌دقوم دسردارانو سره په جګړه کـی بریالی شو. کله‌چی ددریم ځل لپار دهغوی پوځ دده له لاسه ماته‌وخوړه نوپه دغه وخت کی فرخ زادد نیـك‌نیتی له مخی دسلجو قیانو بندیا نـو ته‌دانعامونو په ور کولو سره‌هغوی‌خوشی کړل اود سلجوقیانو پاچا ته یی واستول. سلجوقیان دفرخزاد له نیك‌نیتی نه خوشحاله اود غزنوی قیدیانو سره یی اخلاص اوښه سلوك وکړ. فرخزاد تر شپږ کاله واکمنی‌وروسته په (٤٥٠) هجری کال دقولنج پـه ناروغی مړ شو.

سلطان ابراهیم بن مسعود :

دفرخ زاد ابن مسعود تر مړینـی‌وروسته سلطان ابراهیم دپاچاهی‌په تخت کښیناست دی ډیر پرهیزګاره‌او با تقوی سړی و. سره له دی چـی ځوان و،خو بیا یی‌هم نفسانی غوښتنی ترپښنو لاندی کړی ده په هرکال کـی دری‌میاشتی روژه نیوله هغه ځینی‌قرآن شریفو نه پخپل خط خطاطی او پـه مکی شریفی‌اومدینی منوری کی یـی کیښودل .

ده دخپلی واکمنی په پیل کی له سلجو قیانو سره سوله او داسی تړون سره وکړ چی ډیره د بل پـه کوزنیو چارو کی لاس وهنه نه کوی تردی تړون وروسته ،مسعود ثا نـی‌بن سلطان ابراهیم دسلطان ملك شاه سلجوقی دلور سره واده وکړچی ددغه وصلت په سبب ددوی‌تر مینځ سوله لاپسی ټینګه شـوه.

هغه وخت چی سلطان ابراهیـم بن مسعود دلویدیځو دښمنانو نه‌په دی ډول خلاصون ومومند نودهندانو له مینځه وړلو او مانولو په لټـه کی شو اوددی مقصد له پاره یی‌ختیځ‌خواته پوځونه ولیږل اوپه هندوستان

کې یې تر لیرې لیرې ځایونو پورې دومره سوبې په نصیب شوې چې هغه وخت پورې دده له اسلافو څخه هیڅ یوه هم دومره فتحې نه وې کړې او یولک هندوان یې دقیدیانو په ډول له ځان سره غزنی ته راوستل، ابراهیم بن مسعود څلویښت کاله واکمنی وکړه او په (۱۰۹۸) عیسوی کال کې یې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې.

سلطان مسعود ثاني بن ابراهیم:

تر ابراهیم وروسته یې زوی مسعود چې یو زړه سواند او نیک سړی و پاچا شو، هغه دلاهور حاکم امیر تغیا تګین ته دسپه سالارۍ رتبه ورکړه او پر هندوستان یې یرغل وکړ. دی دګنګا له دریاب نه تیر او هرځای به یې چې نیوه نو لوټاوه به یې او هغه وخت چې دلوټ له لارې یې ډیر مالونه ترلاسه کړل بیرته لاهور ته راستون شو.

دویم سلطان مسعود تر شپاړس کاله واکمنی وروسته چې په سوله او آرامۍ کې یې تیره کړه له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې.

ارسلان شاه:

دمسعود زوی ارسلان شاه د پلار له مړینې سره جوخت. خپل نور ورونه بندیان او په تخت کښیناست. خو بهرام شاه و تښتیده او خپل د ماما سلطان سنجر سلجوقي ته یې پناه یووړه. سلطان سنجر هم له بهرام شاه سره مرسته وکړه او پر غزني یې یرغل وکړ.

ارسلان شاه دوه ځله ماته وخوړه او د سلیمان دغره افغانانو (پښتنو) ته ورغی، خودسنجر دسپاهیانو له خوا تعقیب او ونیول شو ارسلان شاه دخپلې واکمنی په دریم کال دبهرام شاه دحکم له مخې ووژل شو.

سلطان بهرام شاه:

سلطان بهرام شاه ابن مسعود بن ابراهیم، په دغه وخت کې دیوه بې مدعي سلطنت مالک شو، دی څو ځله دهندوستان خواته ولاړ او محمد باهلیم چې دارسلان شاه له خوا دلښکر وسپه سالار ودبهرام په ضد په بغاوت لاس پورې کړ او تباه شو. سلطا بهرام شاه دخپل سلطنت په وروستیو وختونو کې خپل زوم قطب الدین غوري دسلطنت ددعیی له کبله ووژه، کله چې سیف الدین غوري داخبر واوریده او دخپل وژل شوي ورور دغچ اخیستو له کبله یې پر غزني باندې یرغل وکړ. بهرام شاه پخپل ځان کې دمقابلې توان ونه لیده نو ځکه یې د افغانستان ختیځو غرونو ته پناه یووړه او

سیف الدین په غزنی باندی پرته له کومی مقابلی قبضه تینګه کړه، هغه دغزنی په خلکو باندی اعتماد وکړ او خپل ورور علاوالدین یی دخپلو یو شمیر پخوانیو امراعو سره ،دغور خواتـه ولیږه اوده پخپله دغزنی رعیت راضی وسو ساتلای، لکه چـــــــی ـرمی په موسم لی دداوری د اوریدو په سبب دغور لاری بندی شوی نـوپه دغه وخت کی بهرام شاه دغزنی دخلکو په اشاره دافغانانو (پښتنو)لښکری له ځان سره ملګری او ځان یی دغزنی نیږدی سیموته راورساوه.

دغزنی خلکو په چل ول سره سیف الدین ونیوه او بهرام شاه ته یـی وسپاره خو بهرام د تاپرځی له امله سیف الدین دغوردامیرالامراسیدمجدالدین سره یوځای په ډیره رسوایـــــی سره و وژل او ددی جـــا هـلانـــه کار په اساس یی پخپل نوم دتل لـه پاره تور داغ ولګاوه. بهرام شاه په (۱۱۵۲) عیسوی کال تر پنځه دیرش کاله سلطنت وروسته مړ شـــو.

خســــرو شاه:

دبهرام شاه تر مړینی وروستــه یی زوی خسرو شاه دغزنی په تخت کښیناست په هغو ورځو کی ده ته داخبر راورسیده چی علاوالدین غوری دخپل ورور دمرګ دغچ اخستلو په منظور له ډیرو لښکرو سره راروان دی نوپه دغه وخت کی خسرو شاه پرته له کومی مقابلی غزنی پریښود او لاهور ته ولاړ اوهغه ځای یی خپل پایتخت وټاکه ،کله چی علاوالدین غوری غزنی ته راورسیده نود عام قتل حکم (یی وکړ او اکثره عالیشانه مانی یی وسوزولی او په تورو ایرویی بدلی کړی، هغه دسلطان محمود، سلطان مسعود او سلطان ابراهیم دقبرونو نه پرته دسبکتګین دکورنی دپاتی پاچاهانو قبرونه وسوزول اوخپله بیرحمی یی دښځو په وړلوسره پای ته ورسوله او خپل ځان ته یی دعلاوالدین جها نسوز لقب ورکـــړ.

خسرو شاه تر اوو کاله پاچاهی وروسته په لاهور کی له جهان نـه سترګی پټی کړی.

خســـرو ملك:

تر خسرو شاه وروسته دهغــه زوی خسرو ملك دلاهور په تخت کښیناست خسرو ملك دهند وستان په ټولو هغو صوبو باندی قبضه ټینګه کړه. چی په یوه وخت کی دهغــه داسلافو له خوا فتح شوی وی، خو

شهاب الدين محمد غوری یوازی دغزنی په نیولو چی ددغه کورنی پایتخت و اکتفاونه کړه اودپنجاب دنیولو تکل یی وکړ اوپه (۱۱۸۵) عیسوی کال کی یی په پیښور باندی چی په پخوانیو کتابونو کی یی دافسر ساور ، بکرام او پرشور په نامه سره راغلی دی ،لښکری ولیږدولی او د افغانستان ختیځی برخی یی دملتان په ګډون ونیولی اودهغه کال په پای کی دلاهور خواته ولاړ خومایوس بیرته راستون شو، خو په ختیځ افغانستان او ملتان کی یی علی کرماج حاکم وټاکه.

شهاب الدین محمد غوری :

په (۱۱۸۹) عیسوی کال په لاهور قبضه وکړه اودغزنوی کورنی واکمنی ته یی خاتمه ورکړه اوخسرو ملك یی دهغه دزوی ملك شاه ا ونوروخپلوانو په ګډون ونیول اوخپل وړور غیاث الدین یی دغورمربوطه سیمی فیروز کوه ته ولیږل اوهغوی یی دجرجستان په کلاکی بندیان کړل اودخوارزمشاه دحادثی په وخت کی ددور اندیشنی له امله نی دوی ټول ووژل شول او ددغی نیکمرغی کورنی حتی آثارهم پاتی نشول.

دغوری کورنی بیان د(۱۱۸۵) ع کال له پیل نه تر (۱۲۰۰) ع کال پوری

څرګنده ده چی موږ رخین دغوری کورنی پاچا هان دضحاك، تازی له نسل څخه بو لي ، دا هغه ضحاك دی چی د جمشید پاچا یی مات کړی اود ایران سلطنت یی غصب او قبضه یی وربانديکړی وه او بیا داصفهان کاوه اهنګر چی یو دیر زړور سړی او وروسته سپه سالار شوی دی دخپل همت اوشجاعت له مخی له فریدون سره مرسته وکړه. کله چی فریدون په ضحاك باندی غلبه وموندله او ضحاك یی وواژه نو په دغه وخت کی دضحاك له اولادی نه دوه وروڼه چی یو سوری اوبل سام نومیده دفریدون ملازمان وو، د ضحاك ترتباهی وروسته فریدون د هغه دنسل دعام قتل حکم وکړ، په دغه وخت کی دغه دوه وروڼه دځان له ویری دخپلو خپلوانو سره یو ځای فرار او په نهاوند کی میشته شول خرد توربن فریدون له خوا تعقیب کړای شول او څرنګه چی په سختو ځایونو کی میشته وو نو ځکه یی هغوی ته کوم زیان ونشو رسولای.

دسام تر مړینې وروسته دهغـه زوی شجاع * دخپل تره سوری نه خپه او دغور غره ته لاړ اوهلته یــی استوګنه غوره کړه او ویې ویـل زومیند یش یعنې له هغه مه ویرېږه له همدې کبله هغه ځای په زومیندیش سره مشهور شو** لنده داچې دهغه کورنی پښت په پښت دغور واکمنان وو، تر څو چې دڅلورم خلیفه حضرت علی بن ابو طالب له خواشنسب نومی دغور دواکمنانو مورث اعلی یعنی لوی نیکه په کوفه کی دغور دحکمرانی فرمان تر لاسه کړ.

عزالدین حسین:

دشنسب په اتم پښت کی دسلطان ابراهیم دغزنوی دحکمرانی دوخت سره سم عزالدین حسین چې ددغې کورنی بانی ګڼل کیږی دامیر حاجب منصب تر لاسه او په غزنوی کورنی کې یې واده وکړ او مسعود بـن سلطان ابراهیم دخپلی واکمنی په وخت کی هغه ته دغور ملك په مورثی ډول وباښه، عزالدین حسین له ځپلی غزنوی میرمنی نه (۷) زامن لری، په دی ترتیب لومړی فخرالدین چـی دبامیانو حکمران ودویم قطب الدین چې دغزنوی بهـرام شاه زوم وء .دریم شجاع الدین چی دځوانی په دوره کی مړشو، څلورم ،ناصر الدین چې دداور دسیمی حاکم وء ،پنځم سیف الدین، شپږم بهاو الدین سام، اووم علاو الدین حسین.

---

*دسام دزوی نوم شجاع نه و، شجاع یی صفت وچی دزړه ور معنا لـری، منهـــا ج السـراج جـوز جا نی په طبقات ناصری (۱-۳۸۰ مخ) کی کښلی دی:«سام وفات کرد وپسر اونیك شجاع ومبارز رسیده بود .» دغی تیر وتنی دتاریخ فرشتــــی(٥٤مخ) له لاری حیات افغانی تـه لار کړیده. (رشاد)

** زومیندیش چی دمنهاج سراج په فکر د «از اومیندیش» مخفف دی او دمندیش نوم له هغه شخه جوړدی ځکه دخندا وړ دتسیمی وجه ده چی دجمشید دلسمی فریدون په وختو کی زره پارسی لانه وه زیږیدلی او (از ـ او ـ میندیش) داوسنی پارسی کلمی دی اوبل دمندیش په نامـه ځای یوازی په غور کی نشته ،بلکه په نورستان کی هم دمندیـــش (ممدیش) په نامه یوځای ستته زما په خیال ددغو نومونو وروستی جـزء دیش دی چی دملك او وطن معنا لری(رشاد)

دحسین تر مړینې وروسته دغه اووه زامن چې دهغه ځای خلکو دوی دسبعه سیاره یاد اوو ستور و په نامه بلل په دووړ لو باندې وویشل شول یو د بامیانو واکمنان چې دلته دهغوی ذکر ته چندان ضرورت نه لیدل کیږی، دویم دغور او غزنی واکمنان.

قطب الدین:

دغور او غزني دواکمنانو لومړی واکمن قطب الدین وه، ده دسلطان بهرام شاه غزنوی له لور سره واده کړی و، خود سلطنت دداعیې له کبله په ښکاره ډول وژل شو، چې ددغې پیښې په سبب دغوری او غزنوی کورنی ترمینځ جګړی را منځته شوی چې ددغو جګړو په نتیجه کې غزنوی کورنې تباه شوه.

سیف الدین:

کله چې سیف الدین دخپل ورور قطب الدین دوژل کیدو خبر واوریده نو ځان ته یې دسلطان لقب ورکړ او دخپل ورور بدل یې واخیست او تر څه مودې پورې یې په غزني باندې قبضه ټینګه کړه. په دغه وخت کې بهرام شاه په ناڅاپي ډول غزني ته راغی او دغزني دخلکو دچل ول په سبب یې سیف الدین ونیوه او دمجد الدین سره یې یوځای وواژه.

بهاوالدین سام:

دی دغیاث الدین او شهاب الدین غوری پلار و. بهاو الدین سام دخپل ورور دبدل او غچ اخیستلو په منظور دلښکر په راټولولو بوخت وچې مرګ ده ته دده دخیالاتو دترسره کولو مهلت ورنکړ، او له جهان نه یې سترګې پټې کړی.

علاو الدین حسین:

تر بهاوالدین سام وروسته علاوءالدین چې په جهان سوز سره ملقب و دغزنی، کندهار او ګرمسیر سیمې فتح کړی او د غزنی تر ورانیدو وروسته یې دامفتوحه سیمې خپل وراره غیاث الدین ته وسپارلې او په خپله بیرته غور ته ستون شو.

تر څه مودې وروسته دخپلو وریرونو غیاث الدین او شهاب الدین نه په ویره کې شو او دواړه یې د جرجستان په کلاء کې بندیان کړل او په خپله په یوه جګړه کې د سلطان سنجر سلجوقی دسپاهیانو له خوا ونیول شو، خو سنجر په هغه باندې رحم وکړ او دپخوا په شان یې خپلې مقبوضه سیمې بیرته ورکړی او خوشې یې کړ. تردې پیښې وروسته ده ډیره موده

ژوند ونکړ په پای کې په (٥٥١) هجري کال مړاو له فاني نړۍ ئه یې سترګې پټې کړې.

سیف الدین:

دی دعلاوالدین جهانسوز زوی وچې دخپل پلار تر مړینې وروسته په تخت کښیناست او غیاث الدین اوشهاب الدین یې خوشې کړل تر یوه کال سلطنت وروسته نوموړی دترکانو له لاسه په یوه جګړه کې ووژل شو.

غیاث الدین محمد:

کله چې دعلاوالدین جهانسوززوی سیف الدین دترکانو سره په جګړه کې ووژل شو نوپه دغه وخت کې غیاث الدین محمد پاچا شو، هغه خپل ورور شهاب الدین محمد چې په حقیقت کې پاچاو سپه سالار وټاکه، غیاث الدین محمد په (٥٩٩) هجري کال وفات شو.

سلطان شهاب الدین محمد:

تر سلطان غیاث الدین محمد وروسته سلطان شهاب الدین محمد پاچا شو. ده دخپلې سپه سالارۍ په وخت کړد خپلې کورنۍ دهریوه واکمن په نسبت زیات فتوحات وکړل. دی دلوړعزم خاوند اودیر زړور سړی وده په (١١٨٩) عیسوي کال دغزنوي کورنۍ تباه اود افغانستان سلطنت یې ترلاسه کړ نوموړی په (١١٩١) عیسوي کال پر هندوستان یرغل وکړ اوماته یې وخوړه او دراجا پرتهی راج سره په لومړنۍ جګړه کې سخت ټپي شو خو دویم ځل دنو یو لښکرو په لګرتیا داجمیر او ډیلي په راجاګانو باندې بریالی اود ختیځ هندوستان پوري سیمې یې په خپل تصرف کې راوستې اوخپل مریي قطب الدین ایبک یې په ډیلي کې پرېښود قطب الدین په پوهه اوزړورتیا کې دخپل بادار په شان و له همدې کبله د هندوستان واکمن شو.

لنډه داچې شهاب الدین تر د غزني وروسته بیرته غزني ته راغی اود افغانستان او خراسان سیمه یې د خپلو خپلوانو تر مینځ داسې وویشله چې تخت فیروزه کوه اوغور یې خپل وراره محمد بن غیاث الدین ته ورکړ په بست، فراه، اسفراین اوګرمسیر کې یې د خپل تره زوی ضیاء الدین حاکم وټاکه. دهرات حکومت او دهغه توابع یې خپل خور یې

ناصر الدین ته ورکړ او کابل، کندهار او پاتی افغانستان یی دغزنی په دارالسلطنت پوری وتړل، له دی کبله چی ده نارینه اولاد نه درلوده نو ځکه یی پورتنی ویش عملی سر.

نوموړی پرسلجو قیانوحمله وکړه خو دهغو له لاسه یی ماته وخوړه او لاهور ته لاړ په هماغه کال یی دکهکړو په قوم چی دسند ساکرپه دوابه کی میشته او شخړی او فسادونه به یی رامینځ ته کول یرغل وکړ.

چی له دوی نه یی یو شمیر مسلمان کړل او اکثراء یی ووژل، او دتیراهه قوم چی دتیرا اوسیدونکی او دمسلمانانو دښمنان او مشهور غلـه وو د نوموړی قوم نه هم هغه شوك چی مسلمانان شول هغوی ته یی امان ورکړ. خوله ملك نه یی وشړل خوهغه چاچی داسلام دین ونه مانه هغه یی ووژل .تر دی انتظام وروسته یی په ترکستان باندی د یرغل نیت وکړ او هغه وخت چی له لاهور نه بیرته غزنی ته ستنیده نود سند دریاب په ختیځه څنډه په برمهیك نومی ځای کی چی غالباً به نیلاب ته نږدی * وی دشلو تنو کهکړوله لاسه دخوب په حال کی په چړو ووهل شو او په داسی حال کی چی دوه ویشت ټپونه یی خوړلی وو د(٦٠٢) هجری کال دشعبان دمیاشی په دریمه نیټه چی د(١٢٠٦) عیسوی کال سره سمـون خوری شهید کړی شو او د هغه امراوو ده تابوت غزنی ته یوړ. دغه شخص د غوری کورنـی دترقی باعث و چی په مرگ سره یی کورنی هم پای ته ورسیده.

ملك تاج الدین یلدوز:

د شهاب الدین تر مړینی وروسته اکثرو شاهی اراکینو او امراوء سره اتفاق وکړ او محمود بن سلطـان غیاث الدین یی چی د شهاب الدین وراره و له غور نه د غزنی په تخت باندی د کښینا ستلو لپاره راوغوښت خو هغه د فیروز کوه او غور تخت دځپل ځان لپاره مناسب وگانـه او ملـك تاج الدین یـلـدوز ته یی چی د شهاب الدین محمد لـه

---

* دغازی سلطان شهاب الدین سام غوری رحمة الله علیه دشهادت ځای «د همیك» نومیږی او په لویدیځ پنجاب کی د جهیلم درود پر جنوبی غـاړه واقع دی د راول پنډی ښخه چی کومه لار لاهور ته تللی ده دغه لار چی تر کوجر خان تیره سی ددهمیك نومی ځای لویدیځی خواته تیریږی. (رشاد)

نږدی مریا نو څخه و د مریتـــوبڅخه د آزادی‌لیك ولیږه او د غزنی تخت‌یی هغه ته وسپاره. تاج‌الد یـن‌یلدوز دنوموړی فرمان له مخی دغلامی نه آزاد او خپل ځان ته‌یی دسلطان‌لقب ورکړ او دافغا نستان دسلطنت

په تخت یی تکیه وکړه. دی،وروسته دپنجاب دنیولو په نیت چی دشهاب الدین دمړینی وروسته دقطب‌الدین‌ایبك په لاس کی و لاهور ته روان

شو اود غزنوی سلطان دنوم دعظمت‌او د پنجاب دحاکم دبی همتی له کبله یی په لاهور باندی قبضه ټینگه کړه. کله چی سلطان قطب الدین داخبر

واوریده نوله ډیلی نه په ده باندی‌دیر غل‌په منظور راروان او تاج‌الدین یلدوز یی په یوه جگړه کی تیښتی‌ته مجبور کړاو په داسی سرعت‌یی تعقیب کړ چی هغه ته حتی په غزنی‌کی پاتی کیدل هم گران کار وبریښیده

او په شلوزان نومی سیمی یی چی‌دسپین غره په سویلی برخه کـــی موقعیت‌لری‌استو گنه غوره‌او قطب‌الدین ایبك په غزنی باندی قبضه ټینگه کړه اود شرابو په څکلـــو‌او عیشونو باندی بوخت شو دداسی

غفلت اوزیات عیش‌په سبب سلطان‌تاج الدین یلدوز د سلطنت داراکینو په سلا د افغا نانو (پښتنو) اونورولښکرو سره له شلوزان.نه غزنـــی

ته راغی، کله چی قطب الدین دغه‌خبر واوریده نووارخطاء شوځکه کله

چی په داسی نازکه مرحله کـــی‌یی د مقا بلی توان نه لاره نو ځکه دسنگ‌سوراخ (سوری تیږی) پــه‌لاره لاهور ته وتښتیده ، تر هغـه

وروسته تر څه مودی پوری تاج‌الدین‌یلدوز د افغا نستان واکمن و، خـو دده دظلم او استبداد په سبب رعیت‌له ده نه خپه وو.

سلطان محمد شاه خوارزم:

دتاج الدین یلدوز له واکمنـــی‌نه لس کاله نه و تیر شوی چـــی د خوارزم پاچا چی د مخه یی دغزنی‌سلطنت ته سترگی پټی کړی وی د یوه زړور لښکر ـره‌پر غزنی یرغل‌وکړ او تر یوی لنډی جگړی وروسته

یی دغه ځای ونیوه او تاج الدیـن‌یلدوز خپل پخوانی جاگیر یعنـــی د شلوزان سیمی ته وتښتیده اوله‌هغه ځای یی په پنجاب یرغل وکړ او هغه ځای یی ترتهانیسر پـــوری‌ونیوه ددی فتنو په اثر د ډیلی‌واکمن سلطان شمس الدین التمش تر یوی‌سختی جگړی وروسته دی ونیوه او بندی یی کړ او سلطان تاج الدین‌په دغه زندان کی له جهانه سترگی

پټی کړی او افغا نستان د سندتر روده پوری د خوارزم دپاچا لاس ته ورغی.

دمغولی کورنی دواکمنی بیان

ددی قوم موء رث (لوی نیکه) مغل خان نومیده چی دیافث بن نوح (ع) له اولادی څخه و. دمغلو دواکمنی پیل او ددوی چټکه وده او وړاندی تګ د تاریخ یوه ډیره عجیبه پیښه ګڼل کیږی. په هغه وخت کی چی دغزنوی کورنی واکمنی مخ په ځوړ تیاوه، نو په همدغه وخت کی د تاتار له ملک نه چی په پخوا زمانو کی به اسکو تهیا بلل کیده دغه جنګیالی قوم راووت چی دهغی نه په (۱۲۱۰) عیسوی کال تموز خان چی هغه ته ددغه قوم لوی پیر کوکزاد چنګیزخان یعنی سترخان یا شاهنشاه لقب ورکړ، دخپلی پوهی او زړور تیا له مخی دخپل قوم، سردار شواو په ټول تاتار یی سلطه ټینګه کړه، هغه دنورو ملکونو دنیولو په منظور خپل پوځ ته دجنګی قواعدو او تاکتیکونو په ښودلو او زده کړه پیل وکړ. او هغه وخت چی دپوځ شمیر یی له شپږ ولکو نه واوښت نود ملکونو دنیولو تکل یی وکړ او د ختا ملک یی چی دچین په شمالی برخه کی موقعیت لری ونیوه او په دی علت چی محمد شاه خوارزم دافغانستان او خراسان واکمن دمغولو وکیلان او څو تنــه تاتاری سوداګران وژلی نو دی خواته یــی هم مخه وکړه.

چنګیز خان:

هغه وخت چی ددغو سوداګرانو وژل کیدو خبر چنګیز خان واوریده نو خپل پوځو نه یی راټول او دغــه اخستلو له پاره د خوارزم په خــوا

راروان شو او دخوارزم پاچا دخپلولښ شمیر پو ځو نو سره سرحد تـه ورغی اود هغه سره یې مقابله وکړه،ددوی تر منځه سخته جګړه پیښـه شوه چې تردیری‌مودی پوری دجګړ اتوازه خواوی سره په مساوی دول جنګیدلی ، خو کله چې د چنګیزخان‌دحکم له مخی دمغلودپوځ یوه‌تازه‌دمه دله چې د مرستی په منظور ساتـل‌شوی وه د غلیم د پو ځو نو په ښی اړخ یرغل وکړ. نو په دغه وخت‌کی دخوارزمیا نو مقاومت مات کړای شو خو سره له دی هم یې د شاه لــه خوا د سپا هیا نـــو دصفو نـو پــــه انتظا م بو خــــت‌وو، خوزیات شمیر سپا هیـــان یې وو ژل شول ، تــــــــر دی‌ما تې ور و سته سلطـــــــا ن محمد شاه خپل همت له لاسه ورکړاو تر لندو لندو جګړو وروستـه ، چنګیز خان کوچنی ځایو نه فتح‌کول‌تر څو بخارا ته نږدی شو. دبخارا محافظ چې د محمد شاه له خوا تاکل‌شوی و دهغه د بی همتی او بی‌تدبیری په وجه دبخارا ښار چې په‌هغه وخت‌کی دتولی اسیا د علم او فرهنـګ مرکز و دمغولو له خوا ونیول شـواو دوی په ډیرو ظلمو نواو زوزیاتی پیل وکړ.

په همدی دول تاتار یاغو دخپلی ناپوهی او جهالت په سبب په سمرـ قند، هرات او نورو ملکو نو کـــی‌په لکو نو بیګناه خلك ووژل.

کله چې سلطان محمد شاه پــه‌ځان پسی داسی ظالم لښکر ولیـده نو د ځان په وژلو سره یې له هغوی‌نه خلاصون ومو ند.

جلال الدین شاه :

تر محمد شاه وروسته دهغـــه یوه زوی‌جلال الدین شاه چې یوزړه‌ور سړی و د خپل پلار ځای ونیوه اوپه‌ډیر شجاعت او میړانه له چنګیزخان سره وجنګیده او نږدی و چې په جګړه‌کی بر یالیتوب تر لاسه کړی، خود هغه خپلوا نو او نږدی کسانو دهغه‌درایو په خلاف کارونه تر سره کول او دده تدا بیر به یې نه عملی‌کول.او هغو لو به په پر له پسی دول فتحی کولی او دیوی صوبی ترنیولووروسته به یې بله صوبه نیولـه او د خپلی واکمنی په قلمرو کی‌به یې داخلو له خو سره له دی هـــم جلال الدین د هغوی سره په نږدی‌نږدی واټونو کی جنګیده او په پای کی دسندرو دغاړی ته چـــی دده‌دملك ورومنتی برخه وه ورسیدل، دلته که څه هم د جلال الدین پوځ دغلیم د پوځ په پرتله لسمه برخه

هم نه و، خو د میرانی له کبلـه دومره لږ شمیر پوځ په ډګر کـې ثابت قدمه اوټول مرګ ژوبلــې لـه پاره چمتـو شـوی وو.

جلال الدین خپل ټول پوځ پـه یوه ځای سره راټول کړ او تـر دولسو ساعتو پوری یی ددښمـن دلوی پوځ په مقابل کی جګړه توده ساتلی وه. په پای کی د مغلو دپوځ یوی ډلی د لښکر په ښی خوا فشار راوړ او په یوه غره باندی یی چی دخو ارز میا نو پناه ګاه وه قبضه وکړه او ډیره تباهی یی را منځ ته کړه، تردی وروسته دجلال الدیـن سپاهیان تیت او پرك شول او هغه خپل آس دریاب ته ور لا هـو کړ. جلال الدین حقیقتاً یو زړ ور اړیا چا وع خو له بده مرغه چی بخت او د هغه ملګرو ورسره یاری اومرسته نه کوله، لنډه دا چـی د خوارزمیا نو د ماتی وروسته دسندتر رود پوری په ټول افغا نستان مغلو قبضه وکړه او له بلی خوا دفارس شمالی برخی هم د هغو لاس ته ورغلی، تردغو فتو حاتو وروسته چنګیز خان دخپل شهزاده خپل ولیعهد وټاکه او په (۱۲۲۷) عیسوی کال یی له نړی نه سترګی پټی کـړی.

د شیر خان یرغل :

د چنګیز خان تر مړینی وروسته یو ځل شیر خان چی د هند دواکمن سلطان محمود بن شمس الدین التمش امیرالامراءاودملتان اوسند صوبه ـ دارو په افغا نستان باندی یرغـل وکړ اودلږی مودی له پاره یـی غزنی د مغو لو له لاسه ونیـوه اوخطبه او سکه یی دهند د واکمـن په نوم جاری کړه خو لایی خپله قبضه په سمه توګه نه وه ټینګه کړی، چی د چنګیز خان لمسی هلاکو خان دغه ځای بیر ته ورنه ونیوه.

هلا کو خان :

دی دمغولی کورنی لومړنی شخص وچی د اسلام په سپیڅلی دین مشرف شو. ده د عباسی خلفاء وو له جملی نه وروستی خلیفه المعتصم بالله دبغداد له تخت لیری او د هغـه سلطنت باندی یی هم خپله قبضه ټینګه کړه دهلا کو خان دلمسـی ارغوان خان د واکمنی په وخت کی تیمور خان چی دافغا نستان دسترو چنګیزی امراءو څخه ګڼل کیږی پر ملتان یرغل وکړ او دډیلی دوا کمن غیاث الدین بلبن زوی محمدشاه شهید ته یی چی د ملتان حاکم وماته ورکړه،خو په خپله هم د تعقیب په وخت کی ووژل شو، تر هغه وروسته افغـا نستان دمغولو په قبضه کی وچی د هغوی له جملی نه دغه کسـان دیادولو وړ دی.

کورګانی تیمور :

دی چی د صاحب قران خطاب لری په (۱۳۳۶) عیسوی کال دامیر تر- مثای په کور کی زیږدلی دی ، کله چی سلطنت دده لاس ته ورغی نو په مرګ او ژوبله کی یی له چنګیزخانه هم پښه واړوله که دده دسلطنت ټولی پیښی په مشرح ډول ولیکل

په لنډ ډول باید وویل شی چی ده د خپل لوی عزم او زړور تیا په وجه افغانستان او ایران فتح کړل ، په اصفهان کی یی عام قتلونه وکړل. او بغداد یی لوټ کړ. همدا راز دده روس ملك ته هم لښکری ولیږلی تر دغو فتحو وروسته هغه دهندوستان دنیو لو نیت وکړ او هغه وخت چی دکابل او پیښور له لاری یی سرکښ افغانان (پښتانه) وځپل هند ته ننوت او دغه ملك یی لوټ کړ اوویی سوزاوه او په (۱۳۹۸) عیسوی کال یی ځان ډیلی ته ورساوه او دډیلی پاچا سلطان محمود ماته وکړه اوډ ډیلی کلایی تیمور ته پریښوده ،او تیموری پوځ په خپل زړه دډیلی ښار لوټ او تر نیمایی زیات یی وسوزاوه - کله چی تیمور د ډیلی په تخت کښیناست نو خپل ځان یی د هند واکمن ونوماوه دی یوازی پنځلس ورځی په ډیلی کی تم شو او د شمالی برخو په لوټولو یی پیل وکړ. ده میر ته کلا په خاوروایرو بدله کړه او له ډیرو هندی بندیانو سره بیرته خپل دارالسلطنت سمر قند ته ستون شو ، کله چی هغه ځای ته ورسیده تر څو فتحو وروسته یی دچین دملك خوا ته دتګ دتیاری په نیو لو بوخت وچی اجل مهلت ورنکړ اوله دی فانی نړی نه یی ستر ګی پټی کړی .

میرزا شاهرخ خان سعید :

د تیمور تر مرګ وروسته یی زوی شاهرخ چی د هرات صوبدار و افغانستان ، خراسان او سیستان ته یوځای وددغو ځایونو واکمن شو، کله چی دی هم مړ شو نو په دغه وخت کی د افغانستان په څو سیمو کی څو تنه لوی لوی سرداران پخپل سری شول لکه چی په هرات کی دشاهرخ زوی میرزا بایقراء او وروسته شاه حسین بایقرا حکمران شول په کندهار کی امیر ذوالنون حاکم و او په کابل او غزنی کی لومړی میرزاعمر شیخ او وروسته میرزا الغ بیګ قدرت په لاس کی درلود.

مرزا الغ بیک :

کله چې دابو سعید میر زازوی میرزاالغ بیک د کابل په تخت کښېنا ـ ست نو دده د واکمنۍ په وخت کې دیو سفزیو قوم اودخښی نوره اولاده له کابل نه وشړل شول او د پیښور خواته لاړل . میرزاالغ بیک په (۹۰۶) هـ کال وفات شو.

میرزا عبدالرزاق :

دمیرزا الغ بیک تر مړینې وروسته یې کوچنی زوی د کابل په تخت کښېناست او د هغو له ملازمینو نه یو تن چې زکی نو میده دېر قدرت تر لاسه کړ او د هغه د کبراو غرور نه رعا یا او امراء دېر په تنګ شول او دی یې دلوی اختر په ورځ وواژه دده تر مرګ وروسته هم د شاهي دربار داراکینو د بې اتفاقۍ او د پاچا دعمر د لږوالي له کبله د کابل خلکو په پریشانۍ او خپګان کې ژوند کاوه .

په داسې وخت کې دامیر ذالنون کوچنی زوی محمد مقیم چې د خراسان دواکمن سلطان حسین بایقرا لخوا دګرمسیر دسیمې حاکم و، دهزاره او تکدو زدلښکر ویه ملګر تیا کابل ته راغی :

میرزا عبدالرزاق په خپل ځان کې دجګړې او مقا بلې توان ونه لیده نو ځکه د لغمان سیمې افغا نانو (پښتنو) ته وروتښتیده او په کابل باندې پخپله محمد مقیم قبضه وکړه.

محمد مقیم :

دعبدالرزاق تر تښتیدو وروسته محمد مقیم د کابل واکې تر لاسه کړې او د مرزا الغ بیک دلور سره یې واده وکړ خو خپل رعیت یې خو ـ شحاله ونشو ساتلای.

محمد بابر :

په هغه وخت کې چې له محمد مقیم نه خلک ناراضه وو نو محمد بابر چې په ظهیر الدین سره ملقب دی دخپل پلار تر مړینې وروسته په ۱۴۹۴ عیسوی کال چې د (۸۹۹) هجری کال سره سمون خوري په دولس کلنی کې د فرغانې او اندیجان په تخت کښېناست خو دشیبانی خان ازبک دتسلط او دخپلو ورونو دبې اتفاقۍ په وجه دپوهې او هوښیارۍ اوزیار کالو سره سره یې بیا هم ونشو کړای چې خپل دغه سلطنت وساتي او کله چې له خپل سلطنت نه نا امیده شو نو دامیر محمد باقر په سلا او مشوره دافغا نستان دنیولو په نیت د هندو کش د غرونو له لرې

نه راتیراو د کابل په لوری راوخوځیده په دغه وخت کی محمد مقیم پخپل ځان کی د مقا بلی توان ونه لید ه، لو مړی یی ځان په کلا کی محصور کړ خو وروسته یی امانوغوښت او کلایی خوشی کړه او ظهیر الدین محمد بابر د افغا نستان په تخت کښیناست او په کابل یی د هندو ستان تر فتح وړاندی دوه ویشت کاله ، حکو مت وکړ. چی په دغه جمله کی یی څو کاله د کندهار په جګړو کی تیر کړل چی هلته شاه بیګ ارغون او محمد مقیم تـه ماته ورکړه او له کند هار نه یی د هغه لاس لنډ کړل همدا راز هغه مطیع او تابع کړل او تر هغـه تر هغه ځایه چی لاس یی ور رسیده وکړځوله هغه د مهمندو او یوسفزو وروسته یی پاملرنه ختیځ خواته دهزاره قوم او لو یدیځ افغا نستان یو سره ډیری جګړی وکړی او د باجوړ ملک یی ونیوه. او د یو سفزیو په قوم باندی یی خراج مقرر کړ او دشاه منصور یوسفزی له لور سره یی واده وکړ، تر هغه وروستـه یی دهندوستان دهغه وخت موجود لات په پام کی نیولو سره ددولت خان لودی په اشاره د پنځلس زرو سپرو په ملګرتیا د ډیلی سلطنت د نیو لو په نیت هغی خواته روان شو. له بلی خوا هم ابراهیم شاه ډ ډیر لک سپرو په مشری پـه داسی حال کی چی زر پیلان هم ورسره وو په پانی پت کی د مقا بلی لـه پاره تیار او ددوی تر مینځ سختـه جګړه پیل شوه ، ابراهیم د جنګ په چل او فن نه پوهیده نو ځکه یـی خپل لښکر په یوه ځای کی دصفونو په شکل سره غونډ کړی و مګـر بابر دیوزړه ورسپه سالار پـه توګه د خپلو لښکرو قیادت کاوه او هغو ته یی لارښوونه کوله او په ډیر معقو لیت او هوښیاری سره ددښمن له بی شمیره عسکرو سره جنګیده ، په دغه وخت کی د مغولی لښکرو هغه دوی ډلی چی د «تیولقمه» په* نامه یادیدلی دلښکر ددواړ وخوا څخه ووتلی او ددښمن په شایی برید وکړ، کله چی ددغه برید په نتیجه کی د غلیم په پوځ کی ګډوډی او تزلزل مینځ ته راغی نو د پوځ کینی او ښی خوا هم په زړه ورتیا سره په حملی پیل وکړ. په دغـه غم لړلی جګړه کی ابراهیم شـاه د پنځو شپږو زرو خاصه سپاهیانو سره ووژل شو او پاتی لښکری یی چی له مرګ څخه بـچ پاتی شوی خـورې ورې

---

*دغه کلمه د بابر نامې په پارسی ترجمه کی تو لغمه لیکلـی ده (وګ ۱۲۵ مخ)

شوی او نصرت او سوبه دبابر په نصیب شوه او ځان یې اکري ته ورساوه په (۱۵۲۶) عیسوی کال یې دهند په دارالسلطنت قبضه ټینګه او دډيلي په تخت کښيناست.

ظهیر الدین محمد بابر وروسته تر (۲۸) کلو پاچا هی چی بیلو بیلو ملکو نو کی یی وکړه په (۹۳۷) هجری یا (۱۵۳۰) عیسوی کال د پنځوس کلنی په عمر په اګره کی له فانی جهانه ولاړ اومړی یی دده د وصیته سره سم کابل ته راوړل شو او پردغه ځای کی خاورو ته وسپارل شو.*

دی ډیر زړور او لوړ همته پاچا و نوموړی په (۱۴۸۳) عیسوی کال کی زیږیدلی او د پلار له خوایی نسب تیمور ته او دمور له خوایی نسب چنګیز ته رسیده، په ځوانی کی یی له شرابو سره ډیره مینه لرله تر هغه ځایه چی له کابل څخه دباندی چی په یوه ښکلی بڼ کی یو ووړوکی ډندوکی (حوض کی) په تیږه کی کیندلی او له ارغوانی شرابو څخه به یی ډکاوه په دغه ځای کی به یی دعیش بزم جوړاوه او خپل یو بیت یی ددغه پلیت ډندوکی په غاړه کیندلی و:

نوروزنو بهار مي دلبری خوش است
بابر به عیش کوش که عالم دوباره نیست **

مګر کله چی دهند په تخت باندی کښیناست نو دشرابو له څکلو څخه یی توبه وکړه اود سرو زرو هغه پیالی چی شراب به یی په کی څکل په نغدی پیسو بدلی او دخدای په نوم یی په غریبانو باندی وویشلی او بیا به یی ټل له شرابو څخه پرهیز کاوه.

---

*دده مقبره دکابل په ګذرګاه نومی سیمه کی په یوه بڼ کی موقعیت لری چی اوس دباغ بابر په نامه یادیږی او غالباً به داهغه بڼ وی چی ده پخپله جوړ کړی دی. (ژباړونکی)

** دابیت دکابل دپاچا ظهیر الدین بابر (۸۸۸ـ ۹۳۷هق) نه دی ددی بیت ویونکی ابو القاسم بابر (۸۶۱ هـ.قمر) دی چی دظهیرالدین بابر تر زوکړی اوه ویشت کاله پخوا مړ شوی دی ابو القاسم بابر دګوډ تیمور کړوسی او ظهیرالدین بابر دنوموړي تیمور کودی و. دغی تیر وتنی نورو کتابو نو ته هم لار کړیده. (رشاد)

همایون :

دبابر تر مړینې وروسته په (۱۵۳۰) عیسوی کال دده زوی همایون چې په پلار باندې ډیرگران او پخپله هم یو پوه پاچا و دهند پر تخت کښیناست. او افغانستان دده ورور میرزا کامران ته په لاس ورغی، کله چې دورو نو ترمینځ نفاق مینځ ته راغی نو شیرخان پښتون چې دشیر شاه لقب یې کټلی او دسورله قبیلې څخه و همایون له هند څخه وشاړه او د هند تخت دده لاس ته ورغی. همایون دهند ستانیانو څخه ډیر مصیبتو نه گاللې وو او کله چې مجبور شو دسند له لارې افغانستان ته راشې نو دهغه بې مروتو او نامردو ورونو دی دلته پرې نښود. کله چې شاه طهماسب صفوی دغه خبرو اوریده نو هغه یې ایران ته وروغوښت او په اصفهان کې یې هغه دیوه میلمه په توگه وساته تر یوه کال وروسته له همایون سره نوموړی پاچا لښ زره تنه سپاره ملگری کړل او په کندهار او کابل یې یرغل وکړ او تر ډیرو جگړو او شخړو وروسته په خپلو ناپوهو ورونو باندې بریالی شو او د هغوی سیمې یې ونیولې او (۹) کاله یې په کابل باندې پاچاهي وکړه مگر په دغه موده کې کامران هغه ته حتی دیوه لحظې ارامۍ اجازه هم ورنکړه او څنگه چې کامران د همایون په وژلو پسې و نو د هغه له خوا ونیول شواو ړوند کړای شو، دویم ورور یې میرزا هندال چې د همایون په نسبت وفادار و د همایون د مخالفینو سره په جگړه کې ووژل شو کله چې همایون د کورنیو جگړو څخه لږ څه آرامه شو، نو د پښتنو زروسپړویو یوځ یې برابر او په هند باندې دحملې له پاره هغې خواته وخوځیده په دغه لښکر کښې کې له نوموړې سره یو شمیر پنجابیان هم ملگرې وو او په هغه جگړه کې چې دسکندر شاه سور او دده لښکر ترمینځ پیښه شوه همایون ته بریالیتوب وز په برخه شو او دیارلس کاله وروسته دوهم ځل لپاره د هند په تخت کښیناست ، خو یو کال وروسته په (۱۵۵۶) عیسوی کال دبام نه راولویده او له جهانه یې ستر گی پټی کړی .

جلال الدین محمد اکبر :

دهمایون تر مړینې وروسته دهغه زوی جلال الدین محمد اکبر پاچا شو . مور یې حمیده بیګم نومیده او سیده وه. * نوموړی د ۹٤۹ هجري کال د رجب دمیاشتی په پنځمه یاد (۱۵٤۲) عیسوي کال د اکتوبر دمیاشتی په خوارلسمه په امرکوټ کې زیږیدلی ودی د پنجاب د کلانور په ښار کې دهند په تخت کښیناست. ته وغواړو د دغه پاچا د دوری تولی پیښې ولیکو نو یو لوی دفتر غواړي، د افغانستان په هکله یوازې دومره باید ولیکل شی کله چې دهمایون دمړینې خبر خپور شو، میرزا سلیمان دبدخشان والي دهندوکش له غرو نو څخه د کابل دنیولو په مقصد راواوښت مګر د کابل دحکمران منعم خان دهوښیارۍ او زړه ورتیا په سبب یې ونشو کړای چې کوم بریا لیتوب تر لاسه کړي. نو بیر ته ستون شو. کله چې بیرم خان داکبر پاچا سپه سالار له هیمون بقال سره په جګړه بوخت و نو په دغه وخت کې د پارس پاچا صفوی شاه طهماسب دقزلباشانو یو لوی لښکر د سلطان حسین میرزا بن بهرام بن شاه اسمعیل صفوی ترقیادت لاندې د کندهار د نیولو له پاره دغې خواته راولیږه ،سلطان حسین میرزا په ډیره هوښیارۍ او کوښښ سره شاه محمد کندهاري چې داکبر شاه د سلا کار بیرم خان لخوا د کندهار حکمران و مغلوب کړای شو او کندهار د هرات سره یو ځای او په ایران پوري وتړل شو، د کابل صوبه اکبر خپل ورور محمد حکیم میرزا ته وسپارله او منعم خان د هغه سره د سلا کار په توګه مقرر کړای شو، محمد حکیم څو ځله بغاوت وکړ خو داکبر په ذریعه وتکول شو، خو اکبر د نوموړي د ښه سلوک او عالي همت په وجه محمد حکیم میرزا و بښل

---

*حمیده بیګم سیده (دفاطمی اولاد) نه وه، په سیرالمتاء خرین (۱/۱۵۲ مخ) کی لیکلی دی حمیده بیګم دشیخ الا سلام احمد النا مقی الجا می (۵۳٦ ه.ق مړ) له اولادې څخه وه ـ په نفحات الانس (۲۲۸ مخ کی) شیخ الا سلام احمد جامي النامقي احمد جامي النامقي دجریر بن عبدالله له اولادې څخه بلل شوی دی چې د حضرت محمد «ص» د وفات په کال مسلمان شوی دی . (رشاد)

شو ، کله چې نوموړی په کابـل کې په خپل طبیعي مرګ مړ شو نـو
اکبر پاچا د هغه زامن هندوستان ته وروغوښتل او دراجه بګوانداس
زوی کنورمان سنګ چې دجیپور رئیس . دکابل صوبه دار وټاکل شو، په
هغه وخت کې یو سړی چې جلا له نومیده، داور مړ له قوم څخه او د
پیر تاریك زوی و دتیرا او خیبـر په شاو خوا کې یې ډیر پښتانـه
بې لارې کړی او په غلا لار وهلو اونورو فسادو نو یې پیل کړی او لـه
سلطنت څخه یاغي شوی و، نو کنورمان سنګ ددوی غرنیو سیمو تـه
لښکر وروليږه او څيني بريالیتوبونه یې ترلاسه کړل هغه وخت دزین خان
کوکه ،راجه بیربل او نورو لـو یـوامراءو تر قیادت لاندی یو لښکر
د یو سفزیو پښتنو د ټکو لو له پاره سوات، بونیر او باجوړ ته واستا وه
شو، دغه پوځ دیو سفزو سیمی ته ننوت او په هغه ځای کی یی په لوټ
او مرګ – ژوبلي پیل وکړ او کلـه چې بونیر ته ور نږدی شول یو سړی
راجه بیربل ته چې د خپل وخت یو ډیر مشهور او پوه انسان و او نوم
یې حتی ترنن ورځـی پوری هـــم په عوامو کی دمتل په ډول اوریدل
کیږی، دغه خبر ورکړ چې افغا نان(پښتا نه) نن شپه د شبخون فکر
اری او دغه لاره له دری څخه یوازی ځلور کوسه دی او که چیری راجه
په دغه وخت حرکت وکړی او لـه کوتل څخه تیر شی نو د مخالفینو د
شبخون پلان به دناکامی سره مخامخ او بیا به دسوات ملك نیول اسانه
شی په دغه وخت کی راجا بیربـل سره له ډیری پوهی وغولیده او بی
له دی چی ددغه حال دواقعیت پته یی ځان ته څرګنده کړی وای پـه
دغه فکر چی فتحه دده په نوم تمامه شی پرته له دی چی دزین خان سره یی
مشوره کړی وی پوځونه یی ترخپل قیادت لاندی وليږدول، او دمړلویدو
په وخت کی دملندری په نوم غرنی دری ته ورسیدل افغا نانو (پښتنو)
په دغه غره کی ښه تیاری نیولـی او ځای په ځای شوی وو، نوددوی
تر مینځ سخته جګړه پیښه شوه او په دغه جګړه ،کی پښتنو د غرونو
له سرو څخه دوی په ډبرو ويشتل چی دغو ډبرو هم د ګولی کار کاوه،
همدا راز یی دغو تیرو او توپکـو په ذریعه شاهی لښکری په ډیر ه
سختی سره وټکوالی ،کله چی شپـه راورسیده ،له یوی خوا دشپـې
تیاری او له بله پلوه دلارو سره نا بلدی او هم د لارو خرابوالی دشاهی
لښکر څخه لاره ورکه کړه او غلیم دځلورو خواوو څخه دوی محاصره
او دوی یی له لویی ماتی سـره مخامخ کړل او دغه اووه یا اته زره
کسیز لښکر ددغه بی تدبیره عمل په نتیجه کی له مینځه ولاړ، پخپله
راجا بیربل، راجادهرم چند، خواجه عزت بخشی، ملاشیرین شاعر او نور
نامتو شاهی سرداران په دغه شپه ووژل شول .زین خان کوکه او حکیم

ابولفتح ، په ډیری سختی او خراب حالت سره ځانونه اټك ته د پاچا حضورته ورسول چی ددغه ماتی له کبله اکبر ډیر سخت خواشینی شو او راجا تو درمل یی دیوه لوی لښکرسره د سوات او باجوړ دنیولو له پاره ولیږل او په ډیره لږه موده کی یی دیوسفزیو څخه سخت بدل واخیست او سوات، باجوړ او بونیر یی ونیول او په مناسبو ځایو نو کی یی شاهی تانی جوړی کړی ، هغه یوسفزی چی له تباهی څخه خوندی پاتی شول په (۱۶۰۳) عیسوی کال میرزا رستم چی د سلطان حسین زوی او دشاه اسمعیل صفوی کړوسی * او دکندهارحاکم و د خپل ورور د مخالفت په اثر او د اوزبکو د فشار په سبب یی کندهار اکبر پاچا ته ورکړ او په خپله یی دپنځه زریز منصب قبول او د ملتان حاکم شو. په همدغه کال راجامان سنګ لاهور ته راغی او دهغه په ځای یی زین خان کوکه دکابل صوبی ته راولیږه نوموړی دغه صوبه تر کندهاره پوری په ښه وجه اداره کړه.

جلال الدین محمد اکبر ورو ستهتر پنځوس کاله پاچاهی په ۱۶۰۵ عیسوی کال په (٦٤) کلنی کی په اکبر اباد کی له جهانه ستر گی پټی کړی. او اوس یی قبر هملته په سکندره نومی ځای کی دی. دغه پاچا ډیر عادل، رعیت پالونکی او د ملکی او نظامی چارو په ترسره کولو کی یی ښه استعداد لاره .

ابوالمظفر نورالدین جهانګیر :

دجلال الدین محمد اکبر تر مړینی وروسته دده یوازینی زوی شهزاده سلیم (۱۶۰۵) عیسوی یا (۱۰۱٤) هجری کال د هندوستان او افغانستان پاچا شو او داکبرآباد (آکره) په کلا کی په تخت کښیناست او ځان ته یی دجهانګیرلقب غوره کړ.

دده په وخت کی دفارس پاچا شاه عباس په کندهار حمله وکړه او عبد العزیز خان د کندهار کلاداریی محاصره کړ. نوموړی ترڅه مودی پوری د ایران له پوځ سره مقابله وکړه اوکله چی دمرستی له رسیدو څخه نا امیده شو نو پناه یی وغوښته او د کندهار کلایی هغوی ته پریښوده او کندهار ایرانیانو ته په لاس ورغی .

نور الدین جهانګیر په (۱٦۲۷) عیسوی یا (۱۰۳٦) هجری کال دوروستی ځل له پاره کابل ولیده او په لاهورکی دساه لنډی په مرض وفات شو

---

*میرزا رستم د سلطان حسین زوی دبهرام میرزا لمسی او دشاه اسمعیل صفوی کړوسی و ه. (رشاد)

او دلاهور ښارته نږدې د راوي د رود په لويديځه څنډه د شاه‌دري په سيمه کې ښخ شو.*

شاه جهان:

دجهانګير تر مړينې وروسته شهزاده‌خرم دشاه جهان په تخت کښيناست هغه دځپل سلطنت په پيل کې شهزاده‌داراشکوه د کندهار دنيولو له پاره راوليږه. نوموړي په افغانستان‌کې څو ياغي سيمې ايل کړې، مګر ډير زر د هندوستان د عياشي‌بزمونه ور په ياد شول او سره له دې چې غزني ته رسيدلی او هم يې‌دايران پاچا د مړينې خبر اوريدلی و مګر سره‌له دې هم بيرته هندوستان‌ته ستون شو په دريم کال دشهزاده مراد بخش په سرداري او د علي‌مردان خان، اصالت خان او بهادرخان په قوماندانۍ يو لښکر د بلخ دنيولوله پاره د نذر محمد خان او زبيک سره مرستې په نامه د افغانستان‌په لور راوليږه کله‌چې شهزاده‌پيښور ته راورسيده‌نوخليل ،مومند، ګګياني، محمدزي، اپريدي، ختك‌او اورکزي افغانانو (پښتنو) څخه يې هم‌ايله‌جاري (حشري) سپاره او پلې‌پوځونه راټول اود کابل له لوري د هندوکش‌په خوا روان شو، خو د واورې اوربښت، اذوقې او نورو ضروري‌موادو کم والي له امله دغه پوځ‌ډير ربړ و نه وګالل، په دغه وخت کې‌يوسير غله چا حتی په يوه روپۍ هم سپاهيانو نه ورکوله، د نذرمحمد خان زوی خسرو سلطان هم دغه لښکر سره يو ځای شو، کله‌چې دغه پوځ‌بيله کومې مقابلې د بلخ ښار ته ورننوت نو شاهي‌امراوو‌داسې فيصله وکړه چې په دغه‌ځای کې دې سکه او خطبه دشاه جهان‌په نوم جاري کړای شي، نو څرنګه چې دوی ښار ته ور داخل شول نو داسې‌جار يې وواهه چې دلته دشاه جهان پاچاهي او حکم چليږي، کله چې‌دغه‌خبر نذر محمد خان واوريده چې دمرستې په ځای دوی د هغه ملك‌نيولی و نو هك حيران شو، نو دځان دخلاصون له پاره ايران ته وتښتيده‌اودغه غزل يې ديران پاچاته وليکه:

تاج ازهدهد مازاغ ربوده است به مکر

من به درګاه توای شاه ازان امدام

---

*دجهانګير مغول مرګ د ۱۰۳۷ هق‌کال د صفرې په اته ويشتمه پيښ دی (رشاد)

شاه جهان د شاهزاده مراد بخش دغه سست انتظام خوښ نه شو او شهزاده اورنګ زیب ته یی امر وکړچی دهماغه لښکر په واسطه بخارا ونیسی ، ددغه امر سره سم اورنګ زیب د بخارا د نیولو په نیت رهی شو. مګر دازبکو د قوم یرغلونه وربانديپیل شول او ددغو یرغلونو څخه تر هغه اندازی په تنګ شوچی حتی په بلخ کی اوسیدل هم ور ته ګران شول، دښمن ورځ په ورځ غښتلی کیده تر څو په پای کی امیرالامراء علیمردان خان نذر محمدخان له ایران څخه راوغوښت او عذر ئی ورته وکړ او بلخ یی بیرته هغه ته وسپاره او شاهی لښکری بیرته کابل ته راستنی شوی.

بیا یو لښکر دکندهار دلانجی داوارولو له پاره هغی خواته ولیږل شو ددغه لښکرمشر شهزاده اورنګ زیب و، دکلاد کلکوالی او په کلاکی ددفاعی وسایلو دزیاتوالی له امله یی کوم بریا لیتوب تر لاسه نکړ او شهزاده بیرته راستون شو، په غه وخت کی شاه جهان ډیر ناروغ شو، کله چی دده زامنو دغه خبر واوریده نو دڅلور واړو یعنی دارالشکوه ، شجاع، اورنګ زیب او مراد بخش ترمینځ شخړی رامنځ ته شوی اوددغو شخړو اور په هغه اندازه قوی وسره له دیچی شاه جهان جوړ شو، بیاهم دغه اور مړ نه شو، اورنګ زیب چی تر ټولو زړه ور وتر ډیرو جګړو وروسته یی په خپلو وروڼو باندی غلبه وموندله او له بده مرغه یی خپل پلار هم ونیوه .

عالمګیر :

کله چی اورنګ زیب په تخت کښیناست نو د عالمګیر لقب یی غوره کړ او پلار یی په (۱۶۶۶) عیسوی کال وروسته له اتو کالو زندان څخه له جهانه سترګی پټی کړی .

اورنګ زیب د خپل پلار په شان خپل ټول ورونه او حتی ددوی نارینه اولادونه هم ووژل، دده په دوره کی د افغانستان خلکو په بغاوتونو لاس پوری کړ، چی له ټولو څخه لوی اغتشاش په کابل کی پیښ شو، دیوسفزیو قبیلی په مسلسله توګه دچچ هزاره په ضلعی یرغلونه پیل کړل او شاهی انتظام او اداره له داسی بی نظمی سره مخامخ شوه، چی په نتیجه کی یی حکومت له لوی مصیبت سره مخامخ شو. د کابل صوبداران او حاکمان زرزر تبدیلیدل، له بله پلوه دیوه قام سردار ته په بل قوم کی د ټیکی او (اجاری) ورکولو دغه بی نظمی لا پسی زیاتی کړی .

کله به چې د یوې سیمې حاکم یا صوبدار بلې سیمې ته بدل شو، نو هغه به د نوي حاکم دبدنامولو له پاره خلك فساد ته تشویقول، په دغه وخت کې یو بیګا نه سړی د یو سفز یو سیمې ته لاړ او هلته یې ادعا وکړه، چې دی شهزاده شجاع دی، داورنګ زیب څخه یې د ځان ژغورلو له پاره له دوی څخه دپناه غوښتنه وکړه، مګر د شجاع په باب حقیقت دا و چې نوموړی ددکن خواته تللی او هلته د راجا اراګان د بد عهدی او بې همتی له امله له منځه تللی و او غرنی افغانان (پښتانه) بې له دې چې کوم فکر یې کړی وي هغه یې اصلي شجاع وباله او یو لوی لښکر یې راټول کړ او توربیلۍ ته مخا مخ دستا نی تر څنګ یې جګړې ته تیاری ونیوه. دوی دزړه ورتیا په سبب د سند له رودە څخه پوری او د چهچه سیمې ته ورننوتل. دا تپك کلادار (کوتوال) کامل بیك دمراد قلی ګهکړ په ملګر تیاد دوی مقابل ته راووت او د دواړو خواو تر مینځ سخته جګړه پیل شوه په دغه جګړه کې دیو سفز یو دهقا نی (قومي) لښکر سخته ماته وخوړه ددوی زیات شمیر د جنګ په ډګر کې ووژل شول او ځینې یې چې ژوندي پاتې شول هغوی د تیښتې په وخت کې د سند په رود کې ډوب شول او پاتې یې په تیښته سوات ته ورسیدل او هلته څه موده وروسته مصنوعی شجاع په خپل مرګ مړ شو.

کله چې د عالمګیر له خوا شهزاده بهادر شاه دافغا نستان داداری، د منظمو لو له پاره کابل ته راولیږل شو نو هغه دخپل نیك تدبیر او ښو اخلاقو په وجه اکثره خلك مطیع کړل او حتی د بنو، دوړ، خوست او شلوزان دوره یې وکړه او دغه سیمې یې یوازی تش په نامه تابع کړې.

په (۱۱۱۸) هجری کې چې د (۱۷۰۷) عیسوی کال سره سمون خوری عالمګیر د (۹۳) کلو نو په عمر وروسته له دې چې څلویښت کاله پاچاهي یې وکړه* له فانی جهان څخه ولاړ.

---

*داورنګزیب عالمګیر د پاچهۍ موده په قمری حساب پنځوس کاله واووه ویشت ورځې ده، د ۱۰۶۸ هق کال د میا نی په لومړی ورځ کې دخپلې پاچهۍ اعلان کړی او د ۱۱۱۸ هق کال د میا نی په اته ویشتمه مړ شوی دی. (رشاد)

شاه عالم:

شهزاده بهادر شاه دخپل پلار ترمړینی وروسته کله چی خپل دوه واړه ورونه یې مغلوب کړل دشاه‌عالم په لقب‌ددیلی په تخت کښیناست او افغانستان کابل او ختیځی سیمی‌یی تر واکمنی لاندی وی، مگر په کندهارکی یو ډیر پوه‌مشرچی حاجی‌میر خان نومیده مینځ ته راغـــی .

حاجی میر خان:

دی چی په میرویس باندی مشهوردی دغلزی قبیلی دهوتکو له ښناخ څخه واووړځ په ورځ په کندهارکی‌دنفوذپه زیاتو لو بوخت و. په دی ډول چی په کندهار کی د خانـــــــی او اربابی منصب له مخکی څخه په ابدالی قوم پوری تړلی و. کلـــه‌چی ددغه کورنی څخه حیات سلطان د کند هار له صوبدار سره وجنگیده‌او د ایران پا چا دښمنی یی پخپله غاړه واخیسته اوله داړه داو رنگـزیب عالمگیر دربار ته ور وتښتیده، اورنگز یب په کند هار باندی دیرغل‌پخاطر ده ته د پنځه سویز منصب ور کړ او حکم وشو چی د ملتـان دښځړی داوارېدو پور ی د ی، دی‌په ملتان کی واوسی .

کله چی حیات سلطان له کندهارڅخه ووت نو په هغه وخت کـی د کند هار د صوبدار د غوښتنـــی‌او دایران پاچا دحکم سره ســـم میر ویس ته د کندهار دشاوخـواسیمو د پښتنو سرداری ورکړای‌شوه مگر تر لږی مودی ، وروسته دده‌دغرور او تکبر په وجه د کندهارحاکم ناراضه شو او پا چاته یی د هغـه دلاسه یو له شکا یته ډك لیـــك واستاوه ، پا چا میر ویس خان خپل‌دربار ته ور وغو ښت څه موده یی چی هلته تیره کړه نو د پاچا څخه‌یی حج ته د تللو اجازت واخیست او له حجازه کندهارته راستون شو.او نو موړی‌خپله پخوانی رتبه‌ساتلی وه، په ددغه وخت کی دایران پاچـا له خوا په کندهار کی گرجـــی شاهنواز خان صوبداوپه پوځ کی‌هم‌دده د قوم او هم قزلباش سپاهیان دیر زیات را ټول کړای شوی وو .

شاهنواز خان گرجی ډیر تنـــد مزاج(قهرجن) او بی انصافـــــه سړی و، دی د خپل قوم دتر قـــی‌او عزت غوښتونکی و مگر افغانانو (پښتنو) او قزلبا شا نو ته یی په سپکه سترگه کتل نو ځکه دغو دوو قومو نو له‌ده‌سره مینه نه لرله‌او د هغه سلطه یی نه غوښتلـــه.

په دغه وخت کی شاهنواز خـان د بلو چستان د داداوی دتنظیمولو لـه

پاره یو لښکر هغی خواته ولیږه کله چی دده اعتباری پوځ له ده څخه جلا شو نو په دغه وخت کی میر ویس خان له قزلباشو سره سلا اومشوره وکړه او په کندهار یی یرغل وکړاو بر یالی توب یی په نصیب شواو د کندهار صوبدار شاهنواز خان یی وواژه او په دغه ځای یی قبضه ټینګه کړه، او هغه لښکری چی د شاهنواز خان په حکم بلو چستان ته تللی وی کله چی یی دا زړه بوګنوونکی خبر واوریده نو د هرات او مشهد په خوا روان شول په دغه وخت کی د ایران سلطنت لخوا دری ځله په کندهار برید وشو، خو د دغه ځای په نیو لو بریالی نشول ، کله چی میر ویس خان د کندهار استقلال تر لاسه کړ نو د توری په زور یی نیول شوو سیمو ته پراختیا ورکړه او ددور اندیشی په سبب یی خپل وراره د شاه عالم پا چا حضور ته ور ولیږه، نوموړی په سرهند کی چی د امبالی له نوا حیو څخه و پا چا سره وکتل او د هند پاچا تش په نامه د پنځه زره کسیز منصب میر ویس ته او دری زره کسیز په خپله ده ته ورکړ او کندهار یی ده ته په دی شرط وسپاره چی په خطبه اوسکه کی د شاه عالم نوم ذکر شی. میر ویس خان شو کاله دقوم مشری په غاړه درلوده او ځکه چی د ډیر عمر خاوند و مړشو او دده څخه وروسته عبد العزیز دده ځای ونیوه.

عبد العزیز :

عبد العزیز د میر ویس خان ورور و او دده ترمرګ وروسته یی شپږ کاله دده په ځای حکو مت وکړ *او هغه وخت یی چی له نړی څخه سترګی پټی کړی نو شاه محمود مینځ ته راغی.

شاه محمود :

عبدالعزیز تر مړینی وروسته دمیر ویس مشرزوی شاه محمود دهغه ځای ونیوه او هغه دایران دولت له ضعف او بی نظمی څخه په استفادی کولو سره په هغه ځای یرغل وکړ.

نوموړی دغه لوی ملک ونیوه او څه موده یی په اصفهان کی تیره کړه. تر څو یی له جهانه سترګی پټی کړی.

---

*دعبدالعزیزخان دپاچهی موده دیوه کال په شاو خوا کی وه، په حیات افغانی (٦٦مخ) کی چی دده دپاچهی موده شپږ کاله ښوول شوی ده صحی خبره نه ده. (رشاد)

شاه اشرف:

دشاه محمود تر مړینې وروسته دمیرویس وروړشاه اشرف پاچاشو * له سطحي څخه وزغوره، او یوازې دنادر په سپه سالاری ایران دغلجیو، خو دایران پاچا شاه حسین صفوي اکندهار صوبه دشاه اشرف په لاس کې پاتې شوه ، ** په پای کې شاه اشرف له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

شاه حسین:

دشاه اشرف هوتکي تر مړینې وروسته *** دمیرویس زوی شاه حسین پاچا شو. نوموړی دیره غازی خان فتحه او لوټ کړ دهوتکي کورنۍ دسلطې سره سره کابل او ختیځ افغانستان دپخوا په شان دهندوستان سلطنت تر اداري لاندې وو.

دلویدیځ افغانستان حالات خو په هغه شان وو چې وړاندې بیان شول خو په هند لی کله چې شاه عالم په (۱۷۱۲) عیسوی کال مړ شو نو د معز الدین جهاندار شاه د شخړې دله منځه وړلو وروسته فرخ سیر پاچا شو .

فرخ سیر :

فرخ سیر د شاه عالم لمسی وچې د سید عبد الله او سید حسین په مرسته په (۱۷۱۳) عیسوی کال په تخت کښینا ست ، د نوموړی په وخت کې د انګریز د استعمار نیالګی دهندستان په ځمکه کې کیښنو د ل شو اوزیښې یې وځغلولې. فرخ سیر په (۱۷۱۸) عیسوی کال دنوموړو دوو سیدانو له خوا ووژل شو .او د شمس الدین او رفیع الدوله

---

* شاه اشرف دمیرویس نیکه وړور نه و ،وراره یې و- دشاه اشرف پلار عبدا لعزیز (یادځینو په قول عبدا لله) نومیده .(رشاد)

**کندهار دشاه اشرف په لاس کې نه و، شاه حسین (دشاه محمود وړور) دکندهار والي و. (رشاد)

***شاه حسین دشاه محمود هو تک تر مرګ وروسته په کند هار کې جلا پاچهي جوړه کړله؛ او د شاه اشرف تر لاس لاندې نه و.

(رشاد)

له شخړې وروسته *د شاه عالم بل لمسي دروشن اختر په نامه او د محمد شاه په لقب دپاچاهۍ په تخت کښېنول شو.

محمد شاه:

کله چې محمد شاه پاچا شو نو سلطنت له ډېرې تباهۍ سره مخامخ شوی و. په ختیځ افغانستان او کابل کې صوبدارانو او فوجدارانو ته د ځان خلاصون هم مشکل و او په دغسې وخت کې نادري بلا رامنځ ته شوه.

ایراني نادر شاه:

نادر شاه اصلاً ترک او د افشارله ښاخ څخه و. پلار یې رضا قلي نومېده چې د یوې کوچې قبیلې مشر و او په خراسان کې اوسېده. نادر خپله پلر نۍ وظیفه پرېښې او په لوټ او غلا یې لاس پورې کړې و او د خپل زړه ور توب په وجه کله چې غلزي (غلجو) افغانانو (ښه نو) په ایران سلطه ټینګه کړه، سپه سالار مقرر شو او د ایران سلطنت یې د پښتنو له منګلو څخه وژغورو.

نادر په (۱۷۳۶) عیسوي کال په ډېره بې رحمۍ سره د ایران پاچا له تخته راکوز او ستر ګې یې ور باندې وایستلې او پخپله د پاچاهۍ په تخت کښېنول شو. نو موړی کله چې د ایران چارې منظمې کړې نو د افغانستان د نیولو تکل یې وکړ او د هرات په شاو خوا کې یې ابدالي پښتنو ته ماته ورکړه اوایل یې کړل. ترهغه وروسته چې ده ابدالي لښکرې هم له ځان سره یو کړې نو د کندهار خواته چې په هغه وخت کې دغلزائي کورنۍ ارالحکومت وراروان شو. غلجي شاه حسین د نادر سره د مقابلې په منظور تیارې ونیوله او د کندهار په ښار کې یې ځان محاصره کړ او کله چې په محاصره کې تنګ شو نو خپله مشره خور یې چې زینب نومېده** او ډېره پوهه ښځه وه د څو تنو نورو مشرانو سره د نادر

---

* شمس الدین او رفیع الدوله یوسړی دی. حقیقت دادی چې د فرخ سیر تر وژلو وروسته – سیدانو ورونو د شاه عالم لمسی د رفیع الشان زوی رفیع الدرجات چې محمد نومېده پاچا کړ. رفیع الدرجات دوې میاشتې شمس الدین رفیع الدوله پاچا کړ شو. سیدانو ورو بو دده مشر ورور او یوولس ورځې پاچهي وکړه، مړده دری نیمی میاشتی پاچهي وکړله دی هم ومړ، تر ده وروسته سیدانو ورونو دشاه علم لمسی دخجسته اختر زوی روشن اختر پاچا کړ او د محمد شاه لقب یې ور کړ.
(رشاد)

** اصل- زینت

دربار ته ولیږل اوامان یې وغوښت، نادر هم امان ورکړ هغه د خپل قوم له نورو سردارانو سره نادري دربار ته ور غله او عذر یې وغوښت نادرهم هغه ټول وبخښل اوخپلو خپلوانـو سره یې مازندران ته ولیږل. همدا راز ابدالي قبیله یې د هرات له شاو خوا څخه کندهار ته ولیږ دوله او دهغو په ځای یې دهوتکواو توخي غلجیو قبیلې هرات تـه ولیږلې په دغه ډول نوموړي یـو نظم او نسق منځ ته راوړ دکندهار زوړ ښار یې متروك او دهغه تـر څنګ یې یو نوی ښار دنادر اباد په نامه جوړ او ددغه ځای اداره یـې عبدالغني خان علیکوزي (الکوزي) امیر افغان ته یې وسپارله او پـه خپله دکابل په خوا روان شو ، د دغه ځای رئیس شاه درګاهي تر یوې لنډې جګړې وروسته تسلیم شـو

اوپه (۱۷۳۸) عیسوي کال پـه کابل باندې دنادر قبضه ټینګه شوه نوموړي یو استازی ددیلي پاچـا محمد شاه ته ورولیږه ، خودغـه استازی په جلال آبادکې ووژل شو او دغه خبرې په هند باندې دحملې زمینه برابره کړه ، دهند دپاچا له خوادکابل صوبدار ناصر خا ن چـې په پیښور کې اوسیده یوسفزیوا و نور پښتانه یې سره یو کـړل او د خیبر په دره کې یې دنادر د لښکر ومخه ونیوه او ددرې دبندوالي لـه امله یوه میاشت اوږده ورځې د نادر لښکرې دلته تم شولې ترڅو پـه پای کې دملك سرورخان اورکزي افغان (پښتون) په مرسته اولار ښوو نه نادر دلسوز رو سپرو په ملتیا په هغه لار رهنمايي کړ چې امیر تیمور ور باندې هندوستان ته تللی و .

په دغه ترتیب یې دنادر لښکرد ناصر خان دلښکرو وروستیو برخو (شاو خوا ته) ورسولې او په دغه وخت کې دنادر او ناصرخان دلښکرو ترمینځ سخته جګړه وشوه چې پـه نتیجه کې ناصرخان ماتې وکـړه ، تېې او ونیول شو څوموده نظربندو او په پای کې دلاهور په شاو خوا کې دکابل او پیښور صوبه دارۍ ده ته ورکړل شوه او دنادر له حضوره رخصت کړی شو .

نادر په (۱۷۳۹) عیسوي کال کې ډیلي ونیوه اوخلك یې قتل عـام کړل تقریباً دشلو کروړو - روپیـو په اندازه مال یې لوټ اوهم یې تخت فیروزه *له ځانه سره راوړ، نـوموړي داټك له سیند څخه راپورې او دسیندرود یې دخپل سلطنـت سرحد وټاکه .

تر دغو سوبو او فتوحاتو وروسته کله چې نا در بیرته ایرا ن تـه ستون شو په ظلمونو یې پیل وکړاو خلك د دغه بې ځایه ظلـم په

---

* ددغه تخت نوم تخت طاوس و. (رشاد)

اثره له ده ځخه ناراضه شول تردیچی دی یی د (۱۱۶۰) هجری کال دجمادی الاخر دمیاشتی په یوولسمه دیکشنبی په شپه ،دمحمد خان قاجار ایرانی، موسی بیک افشار خلجانی، کوجه بیک افشار رومی او څو نورو ملکروچی دشاهی سراپردی سا تونکی وو، نمك حرامی وکړه او په نیمه شپه دده دخوب کوټی (ځای) ته ورننوتل او ددغه سرکش انسان سر یی له تنی ځخه بیل اودغه خبر په اردو کی هم خپور شو.

شبانګاه سرتخت وتاراج دا شت
سحرګه نه تن سرونه سرتاج داشت

بیك ګردش چرخ نیلو فری،
نه نادر بجاماند ونه نادری

په دغه وخت کی احمدخان سدوزی چی دنادر دابدالی پوځ افسر و دغه خبر واوریده پخپل دری زره کسیزه ابدالی سپور پوځ یی تیار او ټوله شپه یی په ولاړی تیره کړه اوکله چی سهار شو افشاری او قزلباشی اله ګوله کوونکو سره په جنګ بوخت شو، په دغه جګړه کی بریالیتوب احمد خان ته ور په برخه شو او دنادرشاه دلښکر ټول مال او شته یی له ځان سره کندهار ته راوړل.

وسدوزايي كورني واكمني د (۱۷٤۷) عيسوي كال له پيل څخه تر (۱۸۰۹) عيسوي پوري او په هرات كي تر (۱۸٤۲) عيسوي پوري

د سدوز يانو د اصل او نسب په باب معلو مات په دو يمه برخه كي راغلي دي .

سدوزى يا ابدالى احمد شاه :

دنادر تر مړينى وروسته دده تو له خزا نه او مالونه احمد شاه ته په لاس ورغلل .

نوموړى هغه له ځان سره كندهار ته راوړل او دلته د (۱۷٤۷) عيسوى كال داكتوبر په مياشت كي *دافغانستان پر تخت كښيناست او داصابر شاه مجذوب درويش د لارښوونى په اساس يى داحمد شاه در دورا ن القاب غوره كړل او دغه فقير تــه احمد شاه ډيره عقيده لرله اودخپل قوم نوم يى له ابدالى څخه پــه درانى واړاوه له افغا نانو څخــه نوموړى لومړى سړ ى دئ چى پــه افغانستان كي يى دنوى افغا نستا ن دسلطنت بنسټ كيښود .

---

*لوى احمــد شاه بابا د(۱۷٤۷) ع كــا ل د جو لائى د ۱۵ د مخــــه پاچا شوى دى يعنى ددغه كال تــراكتو بر درى ميا شتى دمخه پاچهى ته رسيد لى دى . (رشاد)

احمد شاه د سلطنت په لومړی کال دکابل نیو لو او د پیښور صوبدار ناصر خان د ټکو لو لپاره د کابل خواته را روان شو، په یوه یرغل سره نوموړی غزنی ونیو او هم یې له کومې مقا بلې فتح کړ. ناصر خان هم د جنګ لـه پاره تیاری ونیوله خوهغه وخت چې تول افغا نان (پښتانه) له نوموړی څخه وګرځیدل او د خپل همقو مه پا چا احمد شاه په خوا ودریدل اوهمدا راز عبد الصمد خان چې دپیښور له لویو زمیندارانو (ځمکه والو) څخه او په قوم محمدزی او د دوابې او اشنغر رئیس و له ده څخه وتښتیده او په جلال آباد کې د احمد شاه له لښکرو سره یو ځای شو نو په دغه وخت کې ناصر خان په خپل ځان کې د مقا بلې توان ونه لیده له پیښور څخه دراولپنډۍ ضلعې د چهچه علاقې ته وتښتیده. او داحمد شاه د حکم سره سم نوموړی دده درانی پوځ د سپه سالار سردارجهان خان لخوا د چهچه او هزاره سیمې پورې تعقیب کړای شو او دلاهور خواته وتښتیده.

کله چې احمدشاه دافغا نستان داخلی چارې سمبال او منظمې کړې نو دغه زړور پا چا شپږ ځله پـه پرلپسې ډول په هند او پنجاب باندې یر غلو نه وکړل ، لومړی ځل انبا لې ته نږدې د هند او درانی پا چا لښکرې سره مخا مخ شوې او د دوی ترمینځ جګړه پیښه شوه که څه هم په دغه جګړه کې نواب قمر الدين خان دهند وزیر المما لک و وژل شو، خو احمد شاه بیله نوم ښکاره بریالیتوب څخه راوګرځیده. په دویم کال ده هرات ونیوه او دخپل هیواد په قلمرو کې یـې شامل کړ.

احمد شاه د هندخواته په دویم یرغل کې ملتان او لاهور فتح کړل او د لاهور صوبدار میر منویې دځان لخوا دپنجاب ګور نر مقرر کـړ.

په دریم یرغل یې په ډیلـی (شاه جهان آباد) باندې قبضه ټینګه کړه ده سپه سالار سردارجهان خان او وزیر شاه ولی خان دیوه لوی لښکر سره د متهرا خواته ولیږل دوی نوموړی ښار لوټ اوډیر مالونه یې د غنیمت په ډول له ځانو سره راوړل. په دغه وخت کې احمد شاه د ډیلی دپاچا دویم عالم ګیر په سلادمحمدشادلور نکاح کړه او دنوموړی عالمګیر ثانی لور یې خپل زوی تیمور تـه واده کړه.

په دغه ډول یې د تیموری کورنی له پا چا یا نو سره د خپلوۍ ریښې او مزی ټینګ کړل او بیرته افغـانستان ته راستون شو.

دده ځلور مه حمله د (۱۷٦۱) عیسوی کال * د جنوری د میا شتی په اوومه نیټه تر سره شوه، په دغه جګړه کی دده لښکرو په پانی پت کی دمرهټې بی شمیره لښکر و ته ماته ورکړه او دجنګ ډګر یی دهغوی په وینو رنګین کړ، په دغه جګړه کی بی شمیره لښکری تباه شولی، دده پنځم او شپږم یرغلو نه د یاغـــی سکا نو د ټکو لو په منظور تر سره شول، او کله چی یی په دغو یرغلونو کی بر یالیتو بو نه تر لاســه کړل نو له پنجاب څخه بیر ته راوګرځیده .

احمد شاه تر دغه یرغلو نـــوروسته نور خو کاله هم په آرامی سره په کند هار کی پاچاهی وکړه ترڅو په پای کی تر (۲٤) کاله واکمنی وروسته د پوزی په ناسور اخته شو او ددغه مرض له امله یی له فانی جهانه سترګی پټی کړی ** ،ددغه پا چا ډیر ښه او حمیده صفات تر اوسه هم په افغا نستان کی مشهوردی .

سدوزایی تیمور شاه :

داحمد شاه تر مړینی وروستـه له ده څخه دغه ځلور مشهور زامن تیمور، سلیمان، سکندر او پرویز پاتی شول *** ،تیمورچی ترټولو مشرو دپلار له خوا دهرات صوبدار ټاکل شوی و او شاه ولی خان بامی زی د احمد شاه وزیر المما لك له تیمورڅخه خپه و نو ځکه یی سلیمان د کند هار په تخت کښیناوه، کلــه چی تیمور شاه چی واقعاء دپاچا هی مستحق و دغه خبر واوریده دجنګ په مقصد د کندهار خواته راروان شو، ځنګه چی شاه ولی خان غوښتل تیمور بی له جنګه په چل ول سره ونیسی نو د دوه نیم سوه سپروسره مخی ته ورغی او په فراه کی دده نظامی کمپ ته ورننوت خو وړاندی تر دی چی د تیمور شاه سره وکتلای

---

*دغه سنه په اصل کی ۱۸٦۱ چاپ شویده . (رشاد)

** دلوی احمد شاه باباد پاچاهی موده په شمسی حساب تقریباً ځلیرویشت کاله اویو ولس میاشتی ده چی پـه قمری حساب پنځه ویشت کاله و او وه میاشتی خو ور ځی ځینی جوړ یـــږ ی . (رشاد)

*** دلوی احمد شاه بابا دری نـــورزامن هم ووچی دشهزاده سنجـــر، شهزاده شهاب او شهزاده دا را ب په نو مو نو یادیدل دشهزاده شهاب واده په ۱۱۸۵ هـ ق کال دحسن خان الکوزی له لور سره شوی و، دده عمر دواده په وخت کی تر اوه لســـو کالو لږ و .

(رشاد)

شي دلوموړی تیمور په حکم او دقاضي فيض الله په مشوره وزیر شاه ولي خان د خپلو دوو ځوانو(ژنو) زامنو او دوو خوريو نو سره یو ځای ووژل‌شول او کله چې دتیمور شاه فکر دوزير شاه ولي‌خان له خوا مطمئن شونو کند هار ته ورننوت، ده د سليمان شاه عذرومانه او عفوه یی کړ او په خپله دافغانستان په تخت کښينا ست .

کله چې تیمور شاه پاچا شو په کابل کی عبد الخالق خان نومی‌درانی دپاچاهی دعوه کړی وه او یولړ الی‌کولی یی رامینځته کړی وی نو تیمور له سپه سالار خان‌جهان سره دکابل‌خواته راغی اوپه هغه جګړه کی‌چی په دغه ځای کی ددوی تر مینځ پیښه شوه، عبدا لخالق خان ونیول شو او دتیمور شاه دامر سره سم‌ړوند کړای شو، او تیمور شاه‌دهغو خدمتو نو څخه خوښ شو کوم چی‌په دغه جګړه کی یی تر سره کړی وو، له دی امله یی پاینده خان بارکزی‌ته دسرفراز خان‌لقب ورکړ.

تیمور شاه به عموماً ژمی په پیښور کی تیراوه په اوړی‌کی به کابل ته راته، یوځل فیض الله خلیل دپیښور رئیس بغاوت وکړ. مګر ددوی دغه بغاوت ناکام او نوموړی دخپل زوی سره، یوځای ووژل‌شو.

تیمور شاه دوه ځله په پنجاب یرغل وکړ او د سکانو غوبن ونه یی تا و ا و هغو ی یی‌متنبه کړل . او ار سلا خان مومند چی د ډکی او سیدو نکی وسره له دی چی پناه یی اخستی وه دتیمورپه ذریعه ووژل شو او د اده په لمنی یو تور داغ شو،همدا راز کله چی فتح خان اتمان خیل‌طاهر خیلی دګهند کر دغره رئیس دفیض طلب محمدزی‌په اعتباردتیمورددربار ته‌حاضرشو،هغه هم‌ووژل‌شو.

تیمور شاه دیرزامن لری چی‌کاله سلطنتد (۱۲۰۷) هجری کال دشوال دمیاشتی په او ومه چی د ۱۷۹۳ عیسوی کال سره سمون‌خوری له دغه جهانه کډی بار کړی او په کابل کی ښخ شو.

شاه زمان:

تیمور شاه ډیر زامن لری چی دمشهورو زامنو نومونه یی په دی ډول دی :

لومړی هما یون چی‌تر ټولو مشرو،دویم محمود، دریم شاه زمان، څلورم عباس ، پنځم شجاع الملك ، شپږم‌شاپور، اووم حاجی فیروز الدین .

دتیمور تر مړینی وروسته دهغه‌دریم زوی شاه زمان دامیرانو په سلاپه تیره بیا ددوست محمد خان‌بارکزی پلار پاینده خان بارکزی په مرسته په تخت کښينا ستہ ،په دغه وخت کی همایون په کند هار او

محمود په هرات کی حکمرا نان وو،کله چی همایون دشاه زمان دپاچا
کیدو خبرواوریده نو دا عترا ض نـه وروسته یی په جګړه لاس پوری کړ،
مګر په دغه جګړه کی یی ماته وکړه او وتښتیده، خو ددیره اسمعیل‌خان
په لیه نومی ځای کی دنواب محمدخان سدوزی لخوا ونیول‌شو، اود شاه‌زمان
په امر یی دواړه ستر کی وایستل شوی ځرنګه چی شاه زمان یو ساده
پاچا ونودغه په وخت کی بارکزیانودیر نفوذپیدا کړاو خصوصاء پاینده
خان ته ډیر اختیار ورکړای شـو،دوروښو تر مینځ نفاق ډیره تباهی
رامینځ ته کړه او د سردار پاینـده‌خان پـه سلا ډیر درانـی سرداران
دشاه محمودسره دسازش اویوکیدوپه پلمه ووژل شول. نو ځکه دقوم
سردارا ناو دسلطنت دربار یان لـه پاینده خان څخه ناراض وو، په تیره
بیا رحمت الله کامران خپل سدو زی دوفادارخان لقب ورکړ شـوی ا و
وزیر المما لك وغو ښتل چی په هره بڼه وی پاینده خان ته ضرر ورسوی
او پاچایی په دغه خبره چی پاینده‌خاز او شاه شجاع الملك غواړی هغـه
معزول کړی، د پاینده خان وژلوته چمتو کړ .

سره‌له دی چی‌پاینده خان د پاچاله دغی ارادی څخه خبـر و او دده
زامنو لکه فتح خان او نورو ده‌ته خپل اصلی وطن یا ګرشك خواتـه
دتښتید لو مشوره ور کړه، خو دغه‌زړور سردار تیښته شرم وګڼله نو
ځکه یی دغه سلاونه منله ، شاه زمان‌هم بی تدبیری وکړه‌او پاینده خـان
بارکزی چی د سر فراز خان لقـب‌یی ورکړی و ، قمر الدین خـان
امین الملك، هزار خان غلجی، محمد عظیم‌خان الکوزی ،اسلم‌خان اونور
څو تنه سرداران یی ووژل*، اوددغه کار نتیجه داشوه چی په ټول افغا-
نستان کی الی ګولی او فسادو نـه‌را مینځ ته شول دمرحوم سردار

---

*دا نو مونه په حیات افغانی کـی‌سم نه‌دی کښلی (وګ ۷۲مخ)ددغو
نومونو صحی بڼه داسی ده.

۱- نور محمد خان امین الملك (بابړ)د قمر الدین خان امین الملك پـر
ځای

۲- محمد عظیم خان دمیرهـزارخان‌الکوزی زوی‌ـدهزارخان غلجی اومحمد
عظیم خان الکوزی پر ځای

۳- اسلام خان پوپلزی ضبط بیګـی‌داسلم خان پر ځای
په دغه سازش کی د لاس لرلو په ګناه نه تنه نور هم ټیول شوی‌وو.
(رشاد)

پاینده خان مشر زوی فتح خان دشاه‌زمان له وروور ، شاه محمود سره‌یو ځای شو، دوی دواړو دیری لښکری‌را ټولی او په کندهار او غزنی باندی یی قبضه ټینګه کړه او په کابل باندی یی یرغل وکړ، کله چی

دغه خبر په پیښور کی شاه زمان‌واوریده نو دغی خواته راروان شو، دلته دی له یوه دیر زیور سپه سالارسره مخامخ شو، څرنګه چی دده د پوځ ډراندی برخی نمک حرامی وکړه،نو موږی ماته وخوړه او ونیول شو او دجګ دلك (جګدلك) په دره کی‌دشاه محمود په امر روند کړی شو،او وزیر وفادار خان چی د پاینده خان‌دمرګ پلان یی جوړ کړی و د خپل وروور سره یو ځای دکابل دبالاحصار په کلا کی ووژل شو.

شاه محمود :

دشاه زمان تر ړندیدو وروسته دامیر دوست محمد خان مشر وزیر فتح خان بارکزی په مرسته او کمك‌شاه محمود په تخت کښیناست‌نو موږی فتح خان خپل وزیر اعظم وټاکه اودشاه دوست لقب یی ورکړ.

فتح خان خپل کشر وروور دوست‌محمد خان له ځان سره ستو[...] او د میواد دچارو په تر سره کولو بوخت‌شو.

شاه شجاع الملك :

نو موږی چی د شاه‌زمان سکنی‌وروور و کله چی یی دهغه دله منګه تلو خبر واوریده د حافظ شیر محمدخان بامیزی په مرسته چی دی داحمد شاه د مشهور وزیرشاه ولی خان‌زوی‌و، د خیبر له شاو خوا ځخه یی دیری لښکری راټولی او په شاه‌محمود باندی یی یرغل وکړ.

په هغه جګړه کی چی ددوی ترمینځ پیښه شوه بریا لیټوب شجاع ته وړیه برخه‌او شاه محمود ونیول‌شو او غوښتل یی چی هغه د خپل وروور شاه زمان‌په بدل‌کی روندکړی‌خو په خپله لشاه زمان هغه له‌دغی ګناه ځخه منع کړ چی هغه ددی له‌پاره چی محمود د خپل سکه وروور هما یون په بدل کی شاه زمان روندکړی واو اوس‌نو بدل پوره شوی‌و.*

شاه شجاع‌ځلور کاله‌او څومیاشتی‌سلطنت وکړ، مګرکله چی‌دی‌دکشمیر صوبدار عطاء محمد خان د[...]کولو له‌پاره چی یاغی شوی وه هغی خواته

---

*هما یون او محمود سکه وروڼه نه و،د شهزاده هما یون مور افشاره او دشاه محمود مور بارکزی پښتنه‌وه .

(وهـــاد)

ولاړ اویرغل یې وربا ندی وکړ، پخپله مغلوب اوونیول شو، په دغه وخت کی شاه محمود له قیده خلاص او پــه افغا نستان باندی یی قبضه ټینګه کړه، او دهرات صوبدار یی حاجی فیروز الدین ته ورکړه، همــدا راز شاه شجاع هم دکشمیر له بنده خلاص شوی و او په کابل او پیښور کی په پاچاهی بوخت و، په دغه وخت کی په افغانستان کی دوه پاچا یان موجود وو، یو شاه محمود او بل یی شاه شجاع.

شاه شجاع څه موده پاچاهی وکړه او شاه محمود یی هم له تخته راکوز کړ.

مګر تر ډیرو آلوکو لو وروسته او دبارکزیو دقدرت موندلو له امله شاه شجاع له پاچاهی څخه وشړل شو، خو بیایی هم هڅی کولی، کله به یی له یوی خوا او کله به یی له بلی خوا په حملو لاس پوری کاوه.

په (۱۸۰۳) عیسوی کال وزیــرفتح خان دکشمیر په صوبدار عطاء محمد خان باندی له دی امله یرغل وکړ چی هغه له شاه محمـــــود څخــه یــا غــی شــوی او شجاع سره یوځای شوی وه او پــه هغه جګړه کی چی ددوی تر مینځ پیښه شوه فتح خان ته فتحه وزیه برخه او عطاء محمد خان ونیول شو دهغه وروور غلام محمد خان لاهور ته ولاړ او د رنجیت سنګ په خوښه یــی خپل کوچنی وروور جهاندار خان تــه چی د اټک کلا دار ولیك ولیږه او په هغه کی ور څخه وغوښتل چی داټك کلا دی په سکانو باندی وپلوری ،هغه هم دیولك روپیو په بدل کــی دغه کلا سکانو ته ورکړه.

له (۱۸۰٤) عیسوی کال څخــه داټك ختیځه برخه درنجیت لاس ته ورغله، او کله چی دغه خبر کابــل ته ورسیده نو فتح خان او دوستــ محمد خان د اټك کلا د بیر ته نیولو له پاره هغی خواته د لښکرو سره روان شول او په (۱۸۱۳) عیسـوی کال د رنجیت له (۳۰) دیرش زره کسیز پوځ سره مخامخ شو خو ماته یی وخوړه . کله چی درانیان بیرته راستانه شول نو هلته خبرورورسیده چی شاه شجاع دشهزاده حیدر پــه مرسته ددیره غازی خان په صوبدار نواب عبدالجبار خان باندی یرغل کړی خو نواب عبد الجبار هغوی په شاتمبو لی دی ، په دغه وخت هــرات ته دایران پاچا دلښکر دراتلواو دهرات د نیو لو خبر هم خپور شــو.

له بله پلوه شهزاده کامران له خپل پلار شاه محمود څخه غوښتی و چی هرات دی له حاجی فیروز الدین څخه. واخیستل شی او ده تـه دی ورکړای شی نو ددغه شخړو د حلولوله پاره فتح خان اوامیر دوست محمد خان هغی خواته روان شول، هغـــوی دوست محمد خان چی په هغه وخت کی هم په منصوبه بازی کی بـــی مثاله و په هرات کی پریښود پـه خپله فتح خان او حاجی خان کاکـــړ دایران والی فتح علی شاه قاچار سره د مقا بلی لپاره وړاندی تګ وکـړ. په دغه جګړه کی سره له دی چـی د ایران دفوځ شمیر دریو لکوتـــه رسیده ماته وکړه او تر مشهد پوری دافغا نی قواو له خوا تعقیب کـړل شوله بله پلوه دوست محمد خـان په مشوره یی حاجی فیروز الدین پـه هرات ونیوه او د فتح خان پـــه مشوره یی حاجی فیروز الدین پـــه دغه پلمه ونیوه چی د شاه محمودسره یی دده د سرګردانی او اوارکی په وخت کی مرسته نه ده کړی. اودخپلی بی ځایه تمی له امله یـــی شاهی حرم سرای هم لوټ کړ اوپرته له دغه بی همتی یی داګستاخی هم وکړه چی د شهزاده محمد قاسم لـه میر منی حجه یی چی دشهزاده کامران خور وه د هغی مرصع کمر بند یـــی چی دوه لکه روپی بیه یی لر لــه په جبر سره دوست محمد خان دخواجه سرایا نو په ذریعه تر لاسه کړاو هغی کامران ته داحال ورولیږه. کامران ډیر په غصه شو او قسم یی وکـړ چی له دوست محمد خان څخه بـــه بدل واخلی او کله چی فتح خان دغه خوا شینو ونکی خبر واوریده دی هم ډیر په غصه شو او دوست محمدخان یی ملامت او ورته ویی لیکل کلـــه چی درستون شم نو تا به ژونـــــدی پرینږدم، او دوست محمد خان هم له دغه تهد ید څخه وبیریده او خپـل ورور محمد عظیم خان ته چی پـــه کشمیر کی و ورغی.

شهزاده کامران چی له وړانـــدی څخه هم د فتح خان له جاه او جلال سره یی حسد لاره ، په دغه فکر چی د شاهی حرم په نسبت به دغه بی حرمتی او ګستاخی دوزیر فتح خان په مشوره شوی وی، دغه زړه ور سردار چی دایران بی شمیره لښکروته یی ماتی ورکړی اوپه خپله هـم زخمی شوی و په هرات کی ړونـــد کړ. هغه وخت چی ړوند وزیر فتح خان کند هار ته ورسیده او شاه محمودد شاه دوست دغه حال ولیده پـــه ښکاره یی ډیر افسوس وکړه

خو کله چې بارکزي قبیلې هغه تیری ولیده په تیره بیا دپاینده خان
زامنو چې شمیر یې اوولس تنو ته رسیده او ټول ځوانان او د قوي
ارادې خاوندان وو، داسې سلا او مشوره یې وکړه چې دشاه شجاع او دسدوزي
کورنۍ جرړې له بیخه وباسي او له درانی کورنۍ څخه هیڅ یو به هم پاچا
یې ته نه پریږدي او سید میر واعظ* چې د صحیح نسب خاوند او سید دی
پاچا کړي او ټول له هغه څخه اطاعت وکړي چې دغه خبر شاه شجاع
چې په دغه وخت په پیښور کې وو اوریده کابل ته راغی او هغه یې
تناه سیدیې وواژه * هغه وخت چې کابل او دهغه د شاو خوا اوسید —
نکو افغانانو (پښتنو) چې نوموړی سید ته یې عقیده لرله دغه خبر
واوریده، نو له شاه شجاع څخه وګرځیدل او دده په ضد راوپاریدل
په دغه وخت کې شاه شجاع په دې وپوهیده چې د هغه اوسیدل نور نو
په افغانستان کې ګران دي، نو ځکه یې په (۱۸۰۸) عیسوي کال د افغا—
نستان له سلطنت څخه لاس په سرشو او پنجاب ته لاړ له بله پلوه
شهزاده کامران د فتح خان دروندولوسزا لپاره وګنډله او په ډیره بې رحمی
سره یې هغه غزني ته نږدې په حیدر خیلو کې وواژه، او دده په
مرګ سره ټولو افغانانو (پښتنو) سدوزیان د ملک دښمنان وګڼل
او هرې خواته د بغاوتونو اوفسادونو لمبې بلې شوې چې محمود او کامران
دغه اور مړ نشو کړای، نو ځکه دواړه هرات ته لاړل هلته محمود
څه موده وروسته مړ شو او کامران د هرات د صوبې حکمران شو.

---

*میرواعظ د کابل د شعیه ګانو له خوا وواژه شو، زیارت یې د کابل د ښار په بارانه کې دی.
(رشاد)

دبارکزي قبيلي حکومت

د سدوزي کورني د له منځه تللو وروسته دسردار پاینده خان بارکزي، زامنو کابل ،غزني، کندهار اوپيښور پخپلو منځو کي سره وو يشل چي کابل او غزني ددوست محمد خان په برخه ورسيده چي په حقيقت ني د ټولو ورونو سر کښي و، ددغو شخړو په نتيجه کي د افغانستان سلطنت د ډيرو کړاوونو سره مخامخ شو او له اټك ځخه ختيځ خواته ملکو نه او کشمير رنجيت سنګ و نيول او بلخ د بخارا پاچا د خپلي واکمنۍ په قلمرو کي شامل کړ او د سند اميران هم بيل شول، يوازي هرات دمحمود زوی کامران په قبضه کي پاتي شو، په نور افغانستان بارکزيانو سلطه ټينګه کړه.

هغه وخت چي شاه شجاع له افغانستان ځخه خارج شو دلاهور والي رنجيت سنګ ځخه د کوه نورالماس واخيست او په (۱۸۰۹) عيسوي کال يې د لوديانه په چوني کي انګريزانو ته پناه ور وړه، نو انګريزي سر کار هم د ترحم له مخي‌ده ته د مياشتي ځلور زره روپي وټاکلي خو څرنګه چي د شاه شجاع په سر کي د پاچا هي فکر

وتلی یی دافغانستان دنیولو نیت‌لاره‌په دغه تر تیب یی په (۱۸۳۳عیسوی کال) د مارچ دمیاشتی په (۱۲)نیته**درنجیت سنگ سره سلا وکــړه او** دواړو سره هم فکر او دافغانستان‌نیو لو په هکله **یی یو تړون لاس‌لیک** کړ .

انگریزانو یوازی د شلوروز میاشتو تنخواه په پیشکی ډول ورکړه.اوبل هیڅ ډول یی په دغه تړون کــــی‌اشتراك و نه کړ .

شاه شجاع د رنجیت سنگ پــــه‌مشوره د سند له لاری چی د. سنـــد امیران یی هم خپل کړی وو، کندهارته **ورننوت او دکندهار کلا یــــی محاصره کړه، په دغه وخت کــــی**امیر دوست محمد خان په ډ یــر ه سختی یو لښکر راټول او ځان یـــی‌کند هار ته ورساوه، کهن دلخـــــان (کندل خان) پردلخان او نور هــــم‌له **محاصری نه خلاص او لـــه ده** سره یو ځای شول او په جگړه یـــی‌پیل وکړ په دغه جگړه کی شاه‌شجاع ماتی وخوړه او د هرات خواته ولاړاو له دغه ځایه بیر ته هندوستان ته ستون شو .

په ختیځ افغانستان باندې د سکانو تسلط

دسکا نو په فرقه کی لومړی سړی چی ډیر شهرت یی وموند دمهان سنگ زوی رنجیت سنگ و دغه داقبـــال ښښتن سردار په (۱۷۸۰) عیســوی کال کی زیږید لی و ،کله چی کوچنی و نو ددانو (چیچك) په ناروغـــی اخته او په هغه اندازه دانی ور باندی راوختلی چی دژوندی پاتی کیدوطمع یی نه وه،خو وروسته له دغی ناروغی جوړ مگر خپله یوه ستر که یی لــه لاسه ورکړه.

په (۱۷۹۷)میلادی کال کله چی شاه زمان دکابل پاچاشو پرپنجاب یی یرغل وکړ خو په (۱۷۹۸) عیسوی کال له لاهور نه دبیرته تگ په وخت کــی رنجیت سنگ هغه وخت له شاه زمان سره مرسته وکړه او دهغه توپونه یی دجیلم له سین څخه راوا یستل،ددغه خدمت په بدل کی شاه زمان هغه ته په لاهور باندی د قبضــی اجازت ورکړ .

په دغه وخت نی چیت سنگ اونورو په لاهور باندی تسلط درلود، ر نجیت سنگ د پا چا پـــــه ا جا ز ه یــــــو پو ځ بر ا بــــر

او لاهوریې ونیوه او ورځ په ورځ یې دتورې په زور خپل قلمرو پراخاوه په (۱۸۰۱) عیسوی کال یې داتک کلا له پښتنو څخه دپیسو په مقابل کې واخیستله .

د (۱۸۰۶) عیسوی کال دجنوری دمیاشتې په دریمه نوموړی له شاه شجاع سره چې له افغانستان څخه یې لاسونه لنډ او هند ته تللی و، وکتل خودبې همتی او طمع له امله نوموړی له شاه شجاع څخه دکوه نور، الماس په زور واخیست .

په (۱۸۱۸) عیسوی کال کې نوموړی د یوه پوځ په ملګرتیا داټک لویدیځ خواته یرغل وکړاو دسه یې خیرآباد او جهانګیره ونیول او د نوامبر دمیاشتې په شلمه پېښور ته ورسیده هلته ددوست محمد خان ورور یار محمدخان دده سره د مقابلې توان په ځان کې ونه لیده او د خیبر خواته وښتیده، مګر د رنجیت سنګ دټګ سره سم نوموړی بیا په پېښور قبضه ټینګه کړه .

په (۱۸۱۱) عیسوی کال رنجیت سنګ د منکیرا کلا اوليه ونیوله او د منکیرا نواب ته یې داسمعیل خان دیره ورکړه ، په (۱۸۲٤) عیسوی کال د سردار هری سنګ نلوا په سر او مشوره چې نوموړی یو سپه سالار و رنجیت سنګ بیرته پېښور خواته راوخوځیده او دلته تر یوې سختې جګړې وروسته چې په هغې کې پهولاسنګ اکالي هم ووژل شو، د هری سنګ د زور تر یوه لاندې محمد عظیم خان دراسی نیښنې ته مجبور شو. او (۱۸۲۵) عیسوی کال د مارچ د میاشتې په اولسمه نیټه پېښور بیرته دسکانو لاس ته ورغی .

سکانو په (۱۸۲٤) عیسوی کال دبنو ضلعي ته هم لښکر ولیږه په (۱۸۲۹) عیسوی کال دسید احمدصاحب په نامه یوه هندو ستانی سړی دسکانو په خلاف دجهاد جنډه ور پورته او دیوسفزیو په سیمه باندې یې قبضه ټینګه کړه. له دغې ورځې دستا نه سیمه چې دمهابن دغره په لمنه کې موقعیت لري او دسندرود په غاړه پرته ده دمجاهدینو په مرکز باندې بدله شوه، په (۱۸۳۱) عیسوی کال نوموړی سید چې خلکو په میا صاحب باله دهزاره ضلعې په بالا کوټ نومې سیمه کې تر څوجګړو وروسته شهید شو. تر هغه وروسته دافغانستان ختیځې سیمې یعنې پېښور، هزاره او دیره جات د سکانو لاس ته ورغلې، خو د پېښور څخه پرته یې په نورو ضلعو کې پوره تسلطنه درلود او هلته یې چاونی موجودې نه وې، په پېښور کې هم ددوست محمد خان معاند (   )-

وروور سلطان محمد خان د هشتنگر(هشنغر) ، دوابه کوهاټ د سیمو په ور کولو سره د سکانو قبضـــه او تسلط ټینګ کړ، همدغه سلطان محمد خان و چې د خپلې منصوبـــه بازۍ او غلط تدبیر په وجـه یې د امیر دوست محمد خان اراده د سکانو سره د جهاد په مقصد شنډه کړه د رنجیت سنګ دحالاتو له څیړ نــې څخه دا خبره څر ګند یږي چې دی د زړور تیا او پوهې سره سره دراتلونکې له پاره د ځان سره کوم فکر نه لاره، پخپل ژوند کې یې د خپل نوم د لوړولو له پاره یې ډیر کوښښ وکړ، مګر داسې هیڅ کار یې ونکړچې دده ترمړینې وروسته یې په کار شي. داتك دلوید یځو څنـدو په سیمو باندې دده یرغل نو موړی ته ډیر زیا نونه ورواړول، او د بې شمیره پیسو دمصر ف سره سره یې خپـل زړه ور سپه سالار هرۍ سنګ هـم له لاسه ورکړ چې دا هم دده لپاره لوی زیان و. که دغه مهاراجا لږ دراتلو نکې په فکر کې وای نو دده د واکمنۍ له پاره اټك یاد سند رودلوید یځه خوا یوه معقوله او ښــه پوله وه، ددغه زیان له سببـه درنجیت سنګ وینا ده چې هرۍ سنګ زما په غاړه کې پیښور دحیوانا تو په شان په غاړه کې غړوندی راواچاوه.

د کابل په سلطنت او لویدیځ
افغانستان باندې د انګریزانو یرغل

تر اوسه داسې کوم قوي دليل نه شته چې د هغه له مخې د بل ملك په واکمنۍ کې لاس وهنه منا سبه او ضرور وګڼل شي ، مګر په هغه وخت کې چې ځينې کارونه د فوځ او زور له لارې بايد حل شي، چې هغه دلايل په لنډ ډول ليکل کيږي.

کله چې سکانو په ختيځ افغانستان قبضه ټينګه کړه، نو دوست محمد خان غوښتل پېښور بير ته ونيسي خو څرنګه چې ده يوازې نشواى کولاى دغه کشا له حل کړي نو ځکه يې د بخارا او ايران پاچاهانو څخه د مرستو غوښتنه وکړه. په ايران کې د فتح علي شاه تر مړينې وروسته د ميرزا عباس زوى محمد شاه پاچا و. دغه نوى او کم عمره پاچا هيله من و چې د خپل مرحوم پلار اراده د هرات نيولو په باب عملي کړي او داسې فکر يې کاوه چې د هرات تر نيولو وروسته به په افغانستان باندې دا يرانيانو واکمنۍ داتك تر سينده پورې ټينګه شي او مخکې تر دې ايرانيانو د روس پاچا د يرغل له وېرې د انګلستان له پاچا څخه مرسته غوښتې وه. د دغه

مقصد له پاره چې دی خپل ملــکـ د بهر نیو دښمنا نو څخه وژغوري نه داچې په خپله په نورو هیوادو باندی یرغل وکړی، نو موږی تــه دانګلستان څخه نغدی پیســـی او دایرا نی لښکرو د روزلو له پاره څو تنه انګریزی افسران رالیږل شوی وو، چې د هغوی د نظا می روزنــی په اثر ایرانی پوځ که څه هــــم دروسانو له پوځ سره نشو برتله کیدای خو د افغا نستان له سپاهیانو څخه ښه وو.

کله چې محمد شاه د هرات دنیولو نیت وکړ نوهرو مرو یی باید دروس پا چا اجازه تر لاسه کړی وای یا په بل عبارت دروس پاچا اجازه ضرور وه، انګریزا نو غوښتل چې دایــران پا چا د افغا نستان د نیولـــو اراده ونکړی خو دوی دروس دنماینده په مشوره او تشو یق په هرات باندی دیرغل نیت وکړ، او پــــه (۱۸۳۵)عیسوی کال یی د هـــرات، کابـل او کند هار دنیولو په نیت پوځونـــه راتول کړل، څرنګه چې وړاندی تر دی دروس او ایران تر مینـــځ نفاق موجود و اوپه دغه یرغل کی دروس له نماینده سره سلا او مشوره شوی وه، نو ځکه دلته شك مینځ ته راغی چې له دغه یرغل څخه به دروس کوم بل مرام او مقصد وی، په همدغه وخت کی دکندهاری سردارانو چې ددوست محمد خان ورونه وو. خپل یو معتمد ایلچی، لی ددی پیغام سره دایران پاچا ته وروليږه چې دیر غل په وخت کی به موږ له تا سره یوشو او دایرانی نادر شاه په څیر به تر دیلی پوری وړاندی تګ وکړو، دایران پاچا دربار کی ددغه نماینده دیر تود هر کلی وشو او دکند هاری سردارانو خبره ومنل شوه که څه هم دایران دپاچا وزیر دانګلستان نماینده ایلس ته ویلی وو چې دا ایلچی لیونــی دی او، دایران پاچا اصلاء په هندوستان باندی دیرغل نیت نـــه لری.

لندن داچې د (۱۸۳٦) عیسوی کال دسپتامبر په میاشت کی دایران پاچا دهرات خواته خپلی لښکری ولیږلی، دهرات والی شهزاده کامران خپل استازی دسولی له پاره ورو لیږه دانګلستان نماینده هم دسولی مشوره ورکړه او بلکی په دغه با ب یــی ټینګار هم وکړ. خو کله چې دروس نماینده راورسیده اود دوارو پـــه خلاف یی سوله ونه منله اوایرانیانو ته یی دجګړی مشوره ورکړه ،پــــه نتیجه کی ایرانیانو دغوریانو کــلا ونیوله او ایرانی پوځ هرات تــــه مخامخ خیمی ودرولی، په دغه وخت

کی دکابل والی امیر دوست محمدخان نظر ښکاره نه و، له دی کبله دهند گورنر جنرال لارد آکلنـــد ، یو نماینده چی میجر سکندر بر نس نومیده کابل ته راولیږه چی دکابل امیر* اراده ځانته معلو مه کړی ، مگر ددوست محمد خان نیت بل څه و، هغه دایران داستازی درسیدوله امله برنس ته مجهول مکتوب ورکړاو رخصت یی کړ، ددغه لیك په ځواب کی د هند گور نر جنـــرال دوست محمد خان ته ولیـکل چی د سولی په مقصد به انگریزی سرکاردرنجیت سنگ سره منا سبه مرسته وکړی او ته به هم د پخوا په شان په خپله مقبو ضه سیمی سلطـــه تینگه وی، خو په دغه شرط چـــی دافغا نستان په ختیځو ملکو (سیمو) څه غرض ونکړی خو ددغه لیك ځواب هیڅ ونه لیکل شو، په هغه وخـت کی داسی فکر کیده چی په هـــرات باندی به ضرور دایرا نیانو تسلـط تینگ شی او همدا راز به د هیواد ، لویدیځی سیمی د رو س لاس تـــه ورشی او بیا د انگریزی هند سـره مزا حمت دمینځ ته راتلو امکا نات مو جود و، له دی امله داخبره ضروری معلومیده چی دلوید یځو سیمو پـه چارو کی یو څه مداخله وشی پـه داسی حال کی چی د روس پا پچا په وار وار لیکلی وو چی په دغو شخړوکی زه هیڅ مقصد نلرم نو د هنـد اراده ** خو یو نـــا ممکن کار دی.

له بله پلوه شاه شجاع د کابل سلطنت داعی او حقدار و او هـــم داسی پوهول شوی و چی دافغانستان تول خلك دده غوښتو نکـــی دی او دده پلو یان د بارکزیو په پرتله زیات او تر هغو پیاوړی او زورور دی او هم رنجیت سنگ چی په دغه وخـــت کی ددوست محمد خان سره په جگړه بو خت و، د شاه شجاع سره یـــی دوستی لرله، په دغه فکر چی که چیری انگریز رنجیت سنگ او شاه شجاع سره یو شی نو په اسانی سره به وکړای شی چی شاه شجاع دافغا نستان په تخت کښینو ی ، نو پـــه هغه وخت کی به د افغا نستان حکومت دهند تابع وی او دهندو ستان او لویدیځو سلطنتو تر مینځ بـــه یو حایل مینځ ته راشی نو له دی

---

*دلته موء لف د امیر د کلمی پـــه ځای د پخوا په شان د والی کلمـه استعمال کړی ده. (ژبـــاړونکی)

** دلته ښایی د موء لف یا کاتب نه کومه کلمه لوید لی وی اودروس پاچا مقصدد هندنیول وی .(ژباړونکی)

امله د(۱۸۳۸) عیسوی کال د جون د میاشتی په (۲۶) نیټه ددوی درو (شاه شجاع، انګریزانو او رنجیت سنګ) تر مینځ په لاهور کی یو ترون لاسلیك شو. او ددغه ترون له مخی یو انګریزی پوځ له بنګال څخه د سند رود په خوا واستول شو او هلته له هغه سره د بمبئی د مرکز خاص پوځ یو ځای شو په دغه موده کی ایرانی محمد شاه د هرات په تسخیر او نیو لو بوخت و، لکه څنګه چی د (۱۸۳۸) عیسوی کال د جون د میاشتی په (۲۳) یی د روس د دولت نما ینده په مشوره په یوه لوی پرغل لاس پوری کړ. خو پــه دغه جګړه کی یی نه یوازی ماتــه وخوړه بلکی زیات زیانو نه هـــم ور ورسیدل ، او افغا نانو (پښتنو) په ډیره میړانه هغه په شا وتمبول، خو سره له دی هم ایرانی پوځ هرات محا صره کړی و تر څو د همدغـــه کال د جولای د میا شتی په لسمه مستر مکنیل د انګلستان نما ینده ګرنیل استادهه له دغه پیغام سره دایران پاچا ته ورواستاوه چی کــه چیری په هرات باندی تیری تـــه دوام ورکړی شی نـــو دا بـــه دانګلستان پا چا د نارضا یت اوخپګان سبب شی، دغه پیغام دایران پـــه والی تاء ثیر وکړ.

لکه څنګه چی یی داګست دمیاشتی په څلیرویشتمه نیټه د پوځ بیرته تګ منظور او د (۱۸۳۸) عیسوی کال روس پاچا هم خپل نماینده راوغو- پوځ بی له دی چی د کامران سره یی کومه سوله او یا عهد نامه امضاء کړی وی، دایران په خــوا روان شو د روس پا چا هم خپل نما ینده راوغو ښت او د هغه په ځای یی یو بـــل نما ینده په ایران کی وټاکه او د کند هاری سردارانو عهد نامـــه ونه منل شوه او ددغه پیښی خبر انګلستان ته واستول شو اوڅرنګه چی دا امر د (۱۸۳۹) عیسوی کال دمارچ د میا شتی په پنځمه نیټـــه تر سره شو چی په دغه وخت داسی ویل کیدل چی انګریزی پوځ افغـــانستان ته د راتلو نیت لری نو له دی څخه دا خبره څرګند یږی چـــی د روس پا چا نه غوښتل ددوی پـــه مقا بل کی کوم مزاحمت مینځ تـــه راوړی. لنده دا چی د انګریزی سرکار پوځ وروسته تر هغه چی د سنـــد او بلو چستان یاغی او متمرد امیران یی وتکول په همد غی لار پـــه (۱۸۳۹) عیسوی کال د فبروری د میاشتی په (۲۲) نیټه د سیوان څخه د بولان دری لـــه لاری د کند هار خواته راروان شول، په داسی حال کی چی نولس زره ، دری سوه او پنځوس تنه دانګریزی سرکار پوځ او شپږ زره تنه د شاه شجاع پوځ

ور سره و داوبو دکمبنت له املـه دغه پوځ ددیرو دبرونو له کاللـو وروسته دهمدغه کال د می د میاشتی‌په څلورمه نیټه کند هارته ورننوت، ددغه ځای سردار وتښتیده او دهمدی کال دمی د میا شتی په اتمه شـاه شجاع په کند هار کی ددوهم ځـل‌لپاره د افغا نستان په تخت کښینول شو او وروسته تر دی چی دغه پوځ‌شپږ اونی په کند هار کی تم، شو بیا دترنك له لاری دغز نی په خــواوان شو او تر یوی سختی جگړی وروسته د (۱۸۳۹) عیسوی کال دجولای د میا شتی د (۲۳) نیټی په سهار انگر یزی لښکرو په یوه‌سخت‌برید پیل وکړ او کله چی د غزنـی دروازه یی دبارو تو په ذریعه ماته کړه نوغزنی ښاریی ونیوه اوهغه وخت چی دغه‌خبر دوست محمد خان‌واوریده‌نو هك حیران شو او سمد لاسه یی د ســـو لـــی پیشنهاد وکــړ.

خو کله چی د انگریزا نو دسولی‌شرایط ده ته وویل شول هغه یــی دسختی په اثر ونه منل او ځر نکه‌چی‌یی په ځان کی د مقا بلی تــوان ونه لیده نو ځکه د ترکستان خواته وتښتیده، او توپ خانه یی انگریزی پو ځو نو ته په لاس ورغله اودوی‌په داسی حال کی چی له دغی فتحی څخه ډیر خوشحا له وو کابل تـــه‌ننو تل او د ځینو غلجی سردارانـو پرته یی ټول ملك تابع شو.

دامنیت د ټینګو لو لپاره جنرال‌سر جان کین د کلات کلا ونیو له‌او تر هغه وروسته د یوه پوځ پـــه‌ملگر تیا د اټك له لاری بیر ته دهند خواته ولاړ او یو څه پوځ یی د شاه‌شجاع دساتلو له پاره په کابـــل کی پریښود.

امیر دوست محمد خان بخارا ته‌ولاړه او د بخارا له پاچا څخه یـی د مرستی غوښتنه وکړه، خو دبخاراپا چا ددی پر ځای چی مرسته ورسره وکړی هغه یی بندی کړ. امیردوست‌محمد خان د (۱۸۴۰) ع کال داگست په میا شت کی‌له زندان څخـــه وتښتیده، هغه یو څه پوځ راټـول کړ. لومړی یی د بامیانو سره نږدی‌او دوهم ځل یی دغور بند دری تـه نږدی دانگریزی پو ځو نو سره پـه جگړه لاس پوری کړ خودواړه ځلـه له ماتی سره مخا مخ شو. کله چی‌امیر دوست محمد خان ځان افســر ته سپاره. انگریزانو ته یوازی دیوه‌تن په ملگر تیا کابل ته راغی اوځان یی دانگریزی پوځ افسر ته وسپاره.انگر یزانو دی له هغه ځای څخــه هندو ستان ته ولیږه او هلته دهنددحکو مت لخوا دکال دوه لکه روپی تنخواه ورته وټاکل شوه او پــه لودیانه کی داوسیدلو امر ورتــه

وشو، تر هغه وروسته په افغـــانستان کی واړه واړه جنگونه موجود وو، د هما غه کال داکتو بر پـــه میا شت کی افغا نا نو (پښتنو) دکابل او جلال آباد تر مینځ لاره بنـــده کړه او کله چی د انگریزی پوځ یو تولگی د جنرال سیل په مشری دلاری دخلاصولو له پاره له کابل نـــه جلال آباد ته روان و نو له هغوی سره په ډیره زړورتیا وجنگیده او ځان یی جلال آباد ته ورساوه، خو هلته بیا محاصره شو، په دی وخت کی په ټول افغا نستان کی دشورشونو جنډی پورته شوی. د ۱۸٤۱ عیسوی کال د نوامبر د میا شتی په دویمه سر الکساندر برنس د کابـــل پـــه ښار کی ووژل شو که په هغه وخت کی د کابل د پوځ کما نیر (قوماندان) ددی فسادونو مخه نیولی وای. نودومره ستو نزی به مینځ ته نـــه وی راغللی، مگر زړه نا زړه هغـــه خپل وخت له لاسه ورکړ او وروسته ددوست محمد خان د زوی محمد اکبرخان په چل او وعدو باندی داعتبار څخه دا نتیجه حاصله شوه چـــی د(۱۸٤۲) عیسوی کال د جنوری پـــه میا شت کی (٤٥۰۰) جنگیا لـــی‌سپایان او دولس زره بهیر کی‌خلک دکابل نه د هند په خوا روان شول* چی له هغو څخه ځینی یی دواورو د اوریدو له کبله او ځینی یی دمحمداکبر خان دچل او فریب له املـــه له مینځه ولاړل، یوازی یو ډاکتـــرژوندی پاتی شو.**

۱

ددی خوا شینوونکی خبر داوریدوسره په کندهار او غزنی کی هـــم شور شونه منځ ته راغلل د بـــی‌وفایی خبره خولا داده چی صفدرجنگ چی د هغه پلار شاه شجاع دانگریزانوپه زور د افغا نستان واکمنی گټلی وه هغه هم د جنرال ناټ د لښکروسره په کند هار کی وجنگیده، خو ماته یی وخوړه .شاه شجاع دانتظام‌دمنځ ته راوړلو له پاره د کا بـــل د بالاحصار له کلا څخه ووت، پـــه دی وخت کی ددوست محمد خـــان

---

*دغه شمیر انگریزا نو پخپلـــوکتا بو کی لیکلی دی خو غلام محمد غبار ددوی شمیر اوه‌لس نیم زره بولی (وگ. افغا نستان در مسیـــر تاریخ ٥٦۱ مخ) او احمد علی کهزادیی په بالاحصار کابل ۲/۳۱٦ مـــخ کی اولس زره ښیی. (راشـــاد)

** دغه ډاکتر برایدن نومیده پـــه ۱۸۷۸ع کال د اووشپیتو کالو پـــه عمر (مړ) یعنی تر دغی غزا وروسته ۳٦ کاله نور ژوندی و. (رشـــاد)

دپلو یانو له خوا چې ورته د مخه پېشوی وو د توپك په ذریعه په نو موړی ځو ړزی وشوی چې لــــه هغو څخه دوی گولی دده کوم حساس ځای ته ور برابری شوی وی چــــې د هغو د ټپ له امله مړشو. په دغه وخت کې دلارډ اکلینډ پر ځای لارډ البنرا دهندو ستان گورنر جنرال وټاکل شو. او هندوستان ته راغی نوموړی ته د شاه شجاع تر مړینی وروسته دا مناسبه ښکاره شوه چې په افغا نستان کې باید هیڅ ډول مداخله ونه شي او ددی هیـــوادخلك هر څوك چې غواړی خپل پا چا وټاکي مگر دومره امر یې وکړ چــې جنرال پالك دې د جلال آباد لــــه لاری او جنرال ناټ دې د کندهـــارله لاری کابل ته ور شی، اکبرخان دې له کابل نه وشړی انگریزی بندیانّ دې خوشی، نږدی کلی دی وران او سرکاری پوځ دې بیر ته راستون شی. ددی حکم مطا بق د (۱۸٤۲) عیسوی کال دسپتمبر د میاشتی په (۱٦) نیټه جنرال پالك تر یو څو جگړو وروسته کابل ته ورسیده اوجنرال ناټ هم دغلزایی کلات، گرشك، او غزنی کلا گانو تر ورانو لو وروسته کابل ته ننوت. انگریزی بندیانچی صالح محمد دمحمد اکبر خان پــــه حکم ساتلی وو، نو موړی د شلـــو زرو نغـــدو روپـــو او د میاشتـــې د زرو روپو پنشن داخستلو پـــه بدل کی (۷۰) اویا تنه انگـــریزی قید یان د جنرال ناټ لښکرو تـــه ورسول او محمد اکبر خان له کابل څخه کو هستان ته وتښتیده پـــه دی ډول انگریزانو تش په نامـــه افغا نستان ونیوه او له کابل څخه بیر ته ولاړل او د (۱۸۷۲) عیسوی کال د نوامبر د میاشتی په شپږمه پیښور ته ورسیدل.

تر هغه وروسته دوست محمدخان د خپلو ټولو خپلوا نو سره یو ځای ددوستی د شرایطو د منلو سره خوشی او د افغا نستان دغه لویه لانجـــه پای ته ورسیده.

په تحریری ډول ددغی جگړی بیان په تیرو پاڼو کی راغلی، خو پـــه افغا نستان ددغه جنگ په باب په شفاهی ډول داسی ویل کیږی، کله چی انگریزی پوځ د کند هار له لاری افغا نستان ته رانوت ددی سره سمه داسی آوازه شوه چی د سکانو پوځ د پیښور له لاری افغا نستان تـــه راځی ددغه خبر په اوریدو سره ځینو شاعرانو په پارسی او پښتو ژبـــه په دغه باب د شعرو نو په ویلـــو پیل وکړ او خلك یې جهاد ته راوبلل او داسی یې ورته ویل چی لـــــه دواړو خوا وو څخه ددین دښمنان راغلی دی، دغو شعرو نود خلکـــو په افکارو تاءثیر وکړ، همدا راز

علماء وو هم سپینی جندی وتړ لړد جهاد په باب یی کلی په کلــی وعظو نه پیل کړل چی د مذهبـــی تعصب په اساس د خلکو وینی په غورځنګ راغلی له دی امله د کندهار پوځ سره د مقا بلی له پاره خوارلس زره سپاره او دیرش زره پلی مسلما نان د مقر او غزنی لــه شاو خوا څخه راټول شول، انګریزان تر یوی سختی جګړی وروسته پـه دی بریالی شول چی غزنی ونیســی او غلام حیدر خان د غزنی له بالاحصار څخه دیوه پړی (رسی) په ذریعــه راښکته شو او وردګو ته یی پناه وروړه* سره له دی چی غزنی نیول شوی و خو بیا هم افغا نان (پښتانه) تر دولسو ورځو پوری د انګریزانو سره وجنګیدل، په دغه وخت کی شاه شجاع الملک د غلجیو مشرانــو او د پښتنو نورو سردارانو ته لیکونه ولیږل او هغه یی داسی وپوهول چی انګریزان زمونږ په هیواد کی غرض او مدا خله نه کوی، یوازی زما دمرستی له پاره راغلی دی او د کابل د چارو دمنظمولو څخه وروسته به د پیښور له لاری بیر ته هندوستان ته ولاړ شی ،نوریی ددوی دخــو شحالی له پاره دا هم لیکلی وو چی د کابل د نیو لو څخه وروسته بـه خیبر د لاری په پیښور یرغل وکړی او مونږ به د سکانو له شر څخــه خلاص کړی چی دا خبر هغوی تــه ورسیده نه یوازی تسلی بلکــــی د شاه شجاع په راتللو خوشحال هم شول او دیرو د هغه اطاعت ومانه او ایله جاری او قوی لښکری بیر ته خپلو کورو نو ته ستنی شوی. په دغو جګړو کی د غلجی قبیلی داندړ ښاخ لوی ملکان چی د خپلو قبیلو دلښکرو په سر کی جنګیدلی وودادی:

بخشی خان ، سکندر خان، سراندازخان ، عبد الله خان او بهاول خــان او د نو موړی قبیلی دترکي ښـاخ مشران مرتضی خــان او میر زاخان او دسلیمان خیلو ملکان مهتر موسی او لوت خان و اودورد ګــو ښاخ لښکری دخدای نظر خان، اکرم خان او میر علم خان تر مشری لانــدی جنګید لی وی دفارسیوا نا نو مشر سردار محمود خان اودهزاره قــوم افسران جعفر علی او بختیار علـــی نومیدل .

دغزنی دشغړی تراوار یدو وروسته شاه شجاع له انګریزی پوځ سره کابل ته راغی او امیر دوست محمدخان د ځلورو سوو تنو سپا هیانــو سره د کوهستان په خوا وتښتیده او دهغه زوی او ولیعهد محمداکبر خان

---

*حقیقت داسی نه دی ، سردار غلام حیدر خان غازی دجنګ په میدان کی نیول شوی دی ، ددی پیښی تفصیل د تعلیقا تو په برخه کی وګــوری.

هم د تر کستاق خواتــــه ولاړ .شیر علی خان او محمد امین خان هم دزرمت په خوا وتښتیدل او هلته یې پناه یووړه ، شمس الدیـــن خان، محمد افضل خان او سلطان خـان دغلجو، ملك ته د بغاوت د مینځ ته کو لو له پاره ولاړل.

شجاع الملك دخان شیرین خـان په معر فت دوست محمد خان پـــه چل ول سره کابل ته راوغو ښت او انګریزانو ته یې داسې وښود له چې دوست محمد خان په خپله راغلی دی ، کله چې دوست محمد خان ونیول شو او هند ته واستول شو، نــــو بارکزي او جبار خیل غلجي چــې ددوست محمد خان سره یې دوستی لرله د جګړې لپاره تیــار شول، له دوه نیم کاله آرامی وروستــه ناڅاپه اغتشاش او شوز شو نـــه منځ ته راغلل او ددغه عام او مشهور شورش علتونه چې په دغه هیواد کې مشهور دی پـــه لانــــدی ډول دی :

لومړی :

دامیر دوست محمد خان نیول چې دهغه په سبب محمد اکبر خان اود امیر نور زامن نورو قومونو او قبیلو ته ور غلل او له هغو څخه یې دمرستې غو ښتنه وکړه او ددغو شور شونو په سر کې ودریدل .

دویم :

ځینو خلکو ویل چې شاه شجاع، عبدالله خان اڅکزي ، امین الله خان تاجك لوګري، مهترموسی خان، عزیزخان او محمد شاه خان غلجي مشران ، دده افغا نانو اخوند ملا عزیز او د قـوم نور مشران راغو ښتي او په پټـه یې هغوی ته ویلې چې انګریــزان غواړي دوی هم ونیسي او د امیــر دوست محمد خان په شان یې لـــه وطن څخه وشړي او د شاه شجـاع ددغه بې وفایي علت بې اختیاري او واك نه لرلوو نو ځکه له انګریزانو څخه ناراض او هم پوهیدلی و چې انګریزان غواړي خکو مت پخپل لاس کې وساتي او ددوی حکم جاري وی او دی یوازې تش په نوم پاچا وي .

دریم :

ځینو خود غرضو خلکو داســـې تبلیغ کاوه چې انګریزانو حکم کړی چې ټولې منکوحه او غیر منکوحـــه ښځې فاعل مختاری دی، یعنی هرڅــه چې یې زړه غواړي هغسې ژونـــد کولای شي ،خو څنګه چې په افغانا نو کې د ښځې دا ډول آزادي تـرقتله هم ګرانه ده ، نو له دی امله وارخطاء شول .

څلورم:

دانګریزانو کمپو نو ته دبنځوتګ ژانګ هم خلک په غیرت راوستل او په هغوی کی یې له انګریزانو څخه د کرکی او نفرت احساس راوپاراوه.

سربېره په دغو عواملو د کابل ښار ترڅنګ په باغ شاه کی دسید مهدی اتش نفس په خانقاه کی دلویو منصبدارانو د خبر تیا وو نه پرته څو تنو انګریزی سپاهیانو خپل آسونه تړلی وو او څرنګه چی د کابل په شاو خوا کی نوموړی ډیر معتقدین لرل چی د انګریزانو دغه عمل په دوی ډیرزیات تاثیر وکړ او هم په دغه وخت کی محمد شاه خان جبار خیل یوه ورځ کله چی د سهار لخوا به راپاڅیده داسی وویل چی نن شپه ما دغه بزرګ په خوب کی ولیده چی راته یی وویل ، ددومره ډیرو مریدانو سره سره بیا هم زمامزار ته بی احترامی کیږی او په سپکه سترګه ورته لیدل کیږی نو اوس فوراء خپلی توری راواخلی او دبنمن له ملک څخه وباسی فتح او سوبه به ستا سی په نصیب وی او دغه خبره چی نوموړی له خپل ځان څخه جوړه کړی وه. په خلکو ډیر تاثیر وکړ، او دهغی جګړی په نتیجه کی چی په دغه وخت کی پیښه شوه دسر کاری پوځ ډیر کسان ووژل شول.

دسکندر برنس (الکسندر برنس) تر وژل کیدو وروسته دپوځ پاتی برخه چی د جلال اباد په خوا روانه شوه په هغی باندی محمد شاه خان او د غلجی قبیلی نورو خانانو چی دخپلی قبیلی او نورو قومونو څخه یی لښکری راټولی کړی وی یرغل وکړ او د تیزین او ګند مک په سیمو کی یی د انګریزانو سره په جګړه کلاس پوری کړ او څرنګه چی په دغه وخت واوره هم اوریدلی وه نو ځکه په دغه جګړه کی انګریزانو ماته وکړه. همدا راز په غزنی کی مهترموسی خان سلیمان خیل دانګریزانو سره په جګړه لاس پوری کړ، اووروسته له ډیرو جګړو یی انګریزانو ته دغزنی څخه دوتلو او کابل یا کندهار ته دتللو پیشنهاد وکړ ، ور ته یی وویل چی تاسو ته به کوم زیان ونه رسیږی کله چی انګریزی پوځ پر دغه خبره اعتماد وکړ او له غزنی څخه ووت، پر هغوی باندی هم افغانانو (پښتنو) یرغل وکړ په دغه وخت کی په غزنی کی هم ډیره واوره اوریدلی وه، دافغانانو ډیرغل په سبب دانګریز پوځ ته زیات تاوانونه واوښتل او هغه چی ژوندی پاتی شول ونیول شول او ددغه قیدیانو دخلا صیدو تر ورځی پوری یی ډیری ستونزی وګاللی. تر هغی وروسته چی انګریزان په غزنی کی مات کړای شول، ټولو خلکو خصوصاء دغلزی

قبیلی دکابل په خوایرغل وکړ. مهترموسی سلیمان خیل ،سرانداز خان او بهاول خان اندړ، محمد شاه خان اوعزیز خان جبار خیل دخپلو قبیلو په مشری ددغه لښکر افسری په غاړه واخسته اود امیر دوست محمد خان زوی وزیر محمد اکبر خان د تولوڅخونکی او هم د تولو په سر کی ودریده . کله چی شاه شجـــاع دشجاع الدوله خان په تدبیر ووژل شو. نو په دغه وخت کی پرتــــه له بارکزیو څخه بل څوك د پاچایی وړ نه وو نو ځکه د کابل د قیام څخه ورو سته امیر دوست محمد خان له بنده خلاص او بیرته خپل ملك تـه راغی او په تخت کښینا ست، ددغه قیام نتیجه دا شوه چی د انگریزانو نوم په افغا نستان کـــی بد شو.

لویدیځ خواته :

تر دغه قیام وروسته په لویدیځه برخه باندی د بارکزیو تسلط نه ؤ و مگر هرات تر (۱۸۴۲) عیسوی کال پوری د شاه محمود زوی شهـزاده کامران په لاس کی و چی وروسته نو مو ړی د خپل وزیر یارمحمد خان علیکوزی (الکوزی) په واسطـــه په (۱۸۴۲) عیسوی کال ووژل شو او یار محمد خان په هرات بانـــدی خپله قبضه ټینگه کړه. کله چی یار محمد خان مړ شو نو د هغه زوی سردار سید محمد خان دخپل پلار ځای ونیوه او هغه وخت چی ده ته دماغی ناروغتیا پیدا شوه او پـــه نتیجه کی یی په ملك کی بی انتظامی منځ ته راغله نو په دغه وخـت کی عیسی خان کوهی په هرات باندی قبضه ټینگه کړه او له ده څخـــه هرات د سردار محمد عظیم خان زوی سلطان احمد جان د امیر دوست محمد خان وراره د ایران شهزاده پـــه مرسته ونیوه.

سر بیره پردی بلخ او کندز چی د بخارا سهیل او د هندوکش شمال ته دجیحون دریاب په څنده واقع د ی په (۱۸۵۰) عیسوی کال کـــی دامیر دوست محمد خان مشـر زوی سردار افضل خان د پوځ په زوررونیوه او د خلکو د نه رضایت او د وړومشرانو د بغاوت او فسادونو پـــه سبب میمنه، سرپل او شبر غـــان باندی یی هم قبضه ټینگه کړه، د کابل والی امیر دوست محمد خـــان په (۱۸۵۶) عیسوی کال دانگریزانو سره یو نوی تړون لاسلیك کړ چی دلته یی دموضوع داوږدوالی په سبب له ذکره څخه ډډه کیږی، خو لنـډمطلب یی دادی چی نو موړی بـــه د انگریزی سر کار سره تل دوستی کښی په دی دول انگریزی سر کار دی دول انگریزی سرکار دهغــــه سره د دوستی اړیکی ټینگی کـړی. د (۱۸۶۲) عیسوی کال په پیل کی یوه تیمنی سردار چی عبد الغفور خان نو میده او د غور د سیمی دتیوره د علاقی مشر و د کورانی دښمنی په

سبب یې خپل یو خپلوان چې دفراه د سیمې اوسیدو نکې و ووازه، دفراه مضبوطه کلا دکندهار او هرات په لار کې پرته ده، د تیمنې سردار ددغه ظلم او تیرې په سبب دامیر دوست محمد خان زوی محمد شریف خان چې د نو موړې کلاء حکمران وپه قهر شو او له خپل پلار امیر دوست محمد خان څخه یې ددې اجازه وغوښته چې عبدالغفور خان ته سزاء ورکړې او امیر دوست خان تر څه ځنډ نه وروسته هغه ته اجازه ورکړه. کله چې دهرات والي سلطان جان ددغه حال څخه خبر شو نو اعتراض یې وکړ دسلطان، جان ښځه چې دامیر دوست محمد خان لوروه دخپل زوی شهنواز خان سره یو ځای دهرات نه په دې غرض د فراه خواته ولاړه چې ددغو کورنیو تر منځ کوم فساد او جګړه منځ ته رانشي. دمحمد شریف خان تر لیدلو وروسته داخبره داسې مشهوره شوه چې دامیر دوست محمد خان د لور د غوښتنې په سبب عبد الغفور خان وبخښل شو، عبدالغفور خان ددغې خبرې په اوریدو سره خپلو ملګرو ته دخوریدو او هرې خوا ته دتللو اجازه ورکړه په دغه وخت کې محمد شریف خان ناڅاپه دشپې لخوا پر عبد الغفور خان باندې یرغل وکړ، او هغه تیښتې ته مجبور شو اود نوموړې ټول ملک محمد شریف خان ته په لاس ورغی. نوموړی عبدالغفور خان ،خپل موږی،دهرات والي سلطان جان ته ورغی. دمارچ دمیاشتې په پیل کې سلطان جان دعبد الغفور خان سره دمرستې له کبله دسبزوار (شینډنډ) خواته چې دهرات او فراه تر مینځ موقعیت لري وخوځیده. دهغه سره اته زره سپایان، درې توپونه او ددغو پرته په زیات شمیر ایله جاري *سپاهیان هم ورسره وو کله چې دغه لښکر خلعت ګاه ته چې له فراه نه څلور نیم میله فاصله لري ورسیده په دغه وخت کې دامیر دوست محمد خان نوي ځوان شوی ځوی سردار سیف الله خان دفراه په کلا کې وله ده سره څلور ټولګی پلې سپایان، دوه سوه ایلیچیان*، دوه سوه سپاره اوڅلور اړه توپونه هم موجود وو، خودکلا

---

*جزا یلچي یا جزائر چي ــ تفنګداران

جزائل یو راز اوږد توپك و. سپك یې جنګیا لو پراوږو اخیستل اودرانه یې پر اوښانو یا پیلانو بارول .

حمید مومند په نیرنګ عشق کې ویلي دي

جزائل چې واخلي اور کله پټیږي
که هر څو یې پټوی لا څرګندیږي

داسرار صمدي په تعلیقاتو کې دجزائل اوږده اووه اته فوټه ښودل شوي دي . (رشاد)

دروازی دفراه دخانانو په لاس کی وی، ترنولسو ورځومحاصری څخه وروسته ددغو خانانو له جملی څخه خان‌محمدخان عیدوخیل ،جبارخان نورزی اومحمدخان اڅکزی دروازه‌خلاصه کړه سیف‌الله‌خان‌مجبور شوچی کلا پریږدی اما ددی‌له پاره چی بنځی په کلا کی وی نــــومحفوظ پاتی‌شو. خود سپایانو څخه وسلی وا خیستل شو ی‌اوله کلا څخه بهر وایستل شول او هغه وخت چی دغه خوا شینوونکی‌خبر په جلال‌ابادکی امیر دوست‌محمدخان ته ورسیده، نو نوموړی سمد لاسه دکندهارمشرانوته لیکونه ولیږل‌او دمحمد امین‌خان اطاعت ته یی راوبلل او دجلال‌اباد‌کابل، غزنی او کوهستان دسیمـــــی خانان یی‌دلال‌پوری سعادت خان‌سره‌دی ته راوبلل چی دخپلو ملکـرو، سره دنوکری له پاره حاضر شی اوخپله ترلږتم‌کیدو وروسته دکندهار پرخوا روان شو اود (۱۸٦۲)عیسوی‌کال دجون دمیاشتی په نهمه نیتــه گرشك ته ورسیده، دجون په (۱٦) له کومی مقابلی پرته دهلمند لــه سیند څخه پوری ووت* اود فراه‌خواته روان شو او تر یوی سختـــی محـــا صـــری نـــــه وروستــه‌د کلا حاکم میر افضل خان ددغه کال دجون د میاشتی په (۲۹) فراه امیردوست محمد خان ته وسپارله او د دغه مطلب د تر لاسه کو لو وروسته‌امیر دوست محمد خان پریکړه وکړه چی هرات ونیسی او هغی خواتـــه‌روان شو او د سلطان خان پوځ چی غوښتل یی‌فراه ته راشی‌په شاوتمبول‌شو .

د جولای د میا شتی په (۲۸) دامیر دوست محمد خان لښکرو دهرات په محاصری پیل‌وکړ ددغی اوږدی‌محا صری په دوران کی چل اودوکه مو جوده او له یوه لښکر څخه بــل‌لښکر ته د سپا یانو تیښته ډیره‌وه.

ددغی محاصری په دوره کـــی‌دسلطان جان میر من چی ډیره پوهه ښځه او د امیر دوست محمد خـان‌لور وه له جهانه ستر گی پټی کړی.

د (۱۸٦۳) عیسوی کال د اپریــل‌د میا شتی په شپږمه پخپله سلطان جان هم مړشو، او اکثرو خلکوداسی‌فکر کاوه چی نو موړی ته په زهر

---

*دلته گرشك او هلمند وړانـدی‌وروسته راغلی دی- څوك چی لــه کندهاره فراه‌ته ځی دهلمند ترروډچی پوری وزی گرشك ته رسیږی.

ورکول شوی وی او په دغه وسیله به وژل شوی وی. خو سره له دی هم امیر دوست محمد خان د هرات نیو لو کلکه اراده لرله. تر څه مودی پوری د مرحوم سلطان جانزوی شاهنواز خان په میرانه دهرات له ښار څخه دفاع وکړه، خو په پای کی د (۱۸۶۳) عیسوی کال دمی میاشتی په (۲۷) اوه ویشتمه امیردوست محمد خان په کلک یرغل لاس پوری کړ او د کلاء د دروازی د سپاهیانو دغداری په سبب هرات ونیول شو او ددغی فتحی خبر لاخپور شوی نه و چی د (۱۸۶۳) عیسوی کال دجون د میاشتی په نهه نیټه یا په (۱۲۸۰) هجری کال امیردوست محمد خان له جهانه سترګی پټی کړی *او تر ده وروسته امیر شیرعلیخان چی د خپل پلار له خوا ولیعهد ټاکل شوی و پاچا شو.

امیر شیر علی خان، محمدشریف خان په هرات کی پرایښود او په خپله د شاهنواز خان سره چی په نظر بند دول یی نیولی و بیرته کابل ته راستون شو. او په دغه وخت چی امیر شیر علی خان د خپل پلار ځای ونیوه نو ورونو یی له ده سره دمخا لفت جندی اوچتی کړی او تر ټولو مخکی محمد اعظم خان چی د خوست او کرمی د سیمی حکمران و دشیرعلی خان په حکومت اعتراض وکړ او پاچایی یی دمحمد افضل خان حق وګڼله ځکه نو موړی دمحمداعظم خان سکه ورور او د مرحوم امیر دوست محمد خان تر ټولو مشر زوی و، خو شیر علی خان دغه خبره ونه منله ، کله چی محمداعظم خان یاغی شو نو په دغه وخت کی دشیر علی خان زوی دمحمد رفیق خان په ملګری تیا هغی خواته یرغل وکړ او د خوست او کرمی سیمی چی محمد اعظم خان په لاس کی وی ونیو لی .او محمد اعظم خان د پوخ دنه رضایت او دار له کبله ددوی سره مقابله ونه کړای شوه نو ځکه یی دځان دخلاصون له پاره خپل ټول شیان پرېښودل او یوازی د (۲۵۰) سپرو سره د کوهاټ سیمی ته چی د انګریزا نو د سلطنت په حدود کی پروت و پناه یووړه او هلته یی له میجر هوجمش سره چی د پیښور دضلعی کمشنر و وکتل او د پنجاب دحکو مت دامر سره سم په دیره مینه ده ته هر کلی وویل شو او په راولپنډی کی د کورنیو شخړو اوجګړو تر پای ته رسیدو پوری ده ته داوسید لو ځای ورکړل شو او دمیلمه په دول لومړی دوره ځی یو نیم سل

---

*دامیر دوست محمد خان دمړینی دتاریخ په باب د تعلیقا تو برخه وګو رئ.

روپۍ خرڅ ورته ورکول کیده، خوهغه وخت چې د سپروشمیر یــــې کم شو نو بیا انګریزي سرکار دورځې ورته پنځوس روپۍ وټاکلې او تر نن ورځې پورې په راولپنډۍ کې دی.

کله چې محمد اعظم خان په دې ډول د شیر علی خان په ذریعه له ملک څخه وشړل شو، نو شیر علی‌خان محمد افضل خان ته چې په دغه وخت کې دبلخ والي ومتوجه شو،اوهغه هم دکابل په لور شیر علی‌خان سره دمقابلې له پاره راروان شواوپه دشت سفید کې ددواړو لښکرو تر مینځ خونړۍ جګړه پیښه شوه ،څرنګه چې محمد افضل خان زړه ور سپه سالار او پوځ یې هم ډیر منظم و نو ځکه شیر علی خان ونکړای‌شول مغوی ته ماته ورکړي. له دې امله شیر علی خان هغوی ته دسولـــې پیشنهاد وکړ او دځو ورو شرطونوپه منلو سره ددواړو خواوو ترمنځ سوله وشوه او په مزار شریف کې دواړو ورو نوپه قر آن قسم وکړچې له دغو شرایطو څخه به سر نـــه غړوي او کله چې په دوهمـــه ورځ محمد افضل خان دشیر علی خان دلیدلو له پاره دهغه دربار ته ورغی نـــو شیر علی خان له خپلې ژمنې څخه واوښت ،خپل قسم یې مات او محمد افضل خان یې ونیوه دهغـــه زوی‌عبد الرحمان خان وتښتیده (دبخـــارا پاچا ته ورغی او له هغه څخه یـــې‌دمرستې غوښتنه وکړه. شیرعلی‌خان دخپلې دغې عهد شکنۍ په سبب په ټول افغا نستان کې بد نامه او خپل اعتبار یې له لاسه ورکړ.

دکند هار حاکم محمد امین خــان،محمد شریف خان او دشیر علی‌خان نور ځو وروڼه دده څخه بیــزاره اوخود مختاره شول چې ددوی په مقابل کې شیر علی‌خان پوځي تیاری نیسي،اوس باید ولیدل شي ددغو کورنیو شخړو او فسادو نو پای به څه وي.خو پیل یې ناقص دی.

دلویدیځ افغا نستان ټول عایدات دبلخ دسیمې په ګډون د ځمکـــې حاصلاتو ، سودا ګری او نورو لــه درکه دکال تقریباء یو کروړ (لس میلونه) روپۍ دی چې لـــه دغـــې‌جملې څخه پنځوس لکه دکا بل کنـــد هار او د افغا نستان له نورو اصلی بر خو څخه او پنځوس لکه د هرات او ددغه ځای له توابعو او پاتـــې دبلخ او نورو ځایونو څخه حاصلیږي، که څه هم په ځمکو باندې محصول‌ومره ډیر نه دی خو ډیره بی‌انتظامي پکې‌موجوده ده‌اود ځمکو دمالکانوحق یوازې د توري په زور کې خوندي

دی . د سودا گری دمال په محصول کی هم سخت‌گیری او بی تدبیری موجوده ده او که د انصاف له مخی‌دمحصو لاتو چاری په منظم ډول تر سره شی، دړعایاوو د حال دښه کیدواو د هغوی دسوکالی په څنګ کی به د عایدا تو اندازه هم لوړه شی.

درعیت د قضایی چارو داجراءکولوله پاره دلویدیځ افغا نستان دحکامو له خوا په مر بو طو سیمو کی‌قاضیان‌مقرر شوی دی، که څه هم په ښکاره ډول داسی ویل کیږی چی دقرآن د حکم سره‌سمی‌فیصلی کوی، خوکله چی حقیقت درعایاو څخه واوریدل‌شی داسی معلو میږی چی د قاضیانو اداره او څارنه دحکامو له خوا تش‌په نامه ده ، قاضی چی له هری خوا څخه خیته مړه او څه تر لاسه کړی‌د هغی خوا په ګټه فتوی ورکوی‌او په دغه ډول دوی دظلم موجب‌ګرځی‌نو درعیت دپالنی لپاره باید باتدبیره او هوښیار حاکمان منځ تـه راشی.

د افغا نستان ختیځه برخه :

دانګریزا نو دیرغل سره سره دافغا نستان ختیځه برخه دسکا نـو په لاس کی پاتی شوه، خو کلـــه چی د (۱۸۳۹) عیسوی کال د جون دمیا شتی په (۲۷) د لاهور والـی‌رنجیت سنګ مړ شو، نو دده دمرګ سره یو ځای د سکا نو دعظمت دوره هم پای‌ته ورسیده. درنجیت سنګ تر مړینی وروسته دده زوی کهړک‌سنګ چی یو بی همته او ساده سړی و دچارو واکی په لاس کی ونیولی،خو دی دکنور نهال سنګه لخواونیول شو او پخپله یی دهغه ځای ونیوه.

د (۱۸٤۰) عیسوی کال دنوامبرپه میا شت کی کهړك سنګ مړ شو او په همدغه ورځ نونهال سنګ هم‌چی د خپل پلار له سوزولو څخه فارغ او غوښتل چی ښار ته را شی خـودیوی دروازی ، د لویدلو په سبـب سخت ټپی او مړ شو او دده مـــوررانی چند کور درنجیت سنګ دزوی شیر سنګ له خوا چی دوزیر دهیان‌سنګ په مشوره په تخت کښینول شوی وو وژله‌شوه تر هغه ورو‌سته په (۱۸٤٤) عیسوی کال شیرسنګ هم دلهنا سنګ او چیت سنګ سندهانوالیان په ذریعه ووژل شو او په همدغه ورځ وزیر دهیان سنګ هم‌مړ کړای شو،ورپسی په خالصه پوځ کی داسی بی اتفاقی رامنځ ته شوه‌چی هر سك سردار به چی هغوی‌ته زیاته تنخوا او ډیر انعامونه ورکول‌نو په هغو باندی به یې هر څوك‌چی

غوښتل هغه به یی وژل لکه چی په همدی ډول راجه سوچیت سنګ، راجه هیراسنګ کنور پشاور سنګ، سردار جواهر سنګ او نور څو تنه سك سرداران په خپلو منځو کی د جګړو په سبب ووژل شول ، په پای کی ددلیپ سنګ مور رانی جنده په مشوری راجه لعل سنګ توشیخانیه ته دوزارت منصب ورکړای شو څرنګه چی ده هم خپل ځان په خطر کی لیده نو له دی کبله یی له دربار سره سلاو مشوره وکړه او داسی پریکړه وشوه چی دانګریزانو سره په جګړی لاس پوری کړی، نو ځکه پوځ ته داسی امر وشو چی دفیروزپور خوا ته حرکت وکړی د (۱۸٤۵) عیسوی کال دنوامبر دمیاشتی په (۲۳) نوموړی پوځ هغی خواته وخوځیده او په داسی حال کی چی دخالصه پوځ په بریا لیتوب باندی یی عقیده درلوده دستلج له سین څخه پوری وتل، کله چی دغه ناڅاپی خبر دهند ګور نر جنرال لارډ هارد نګ تـــه ورسیده نو د نوموړی له خوا ددغه کال ددسامبر دمیاشتی په (۱۳) یو اعلان خپور شو چی لنډ مقصد یی داوء دسکانو پوځونه چی د (۱۸۰۹) عیسوی کال دتړون په خلاف دجګړی په اراده دستلج له سین څخه تیر شوی دی نو په دی سبب دستلج دی خوا غاړی دی ضبطی او د انګریزی سرکار په نیول شوو سیمو پوری دی وتړل شی.

دانګریزانو د قبضی څرنګوالی :

څرنګه چی دافغانستان په ختیځو برخو او د پنجاب په صوبی باندی انګریزانو تسلط ټینګ کړی و ، نو ځکه دا مناسبه بریښی چی دپنجاب دنیولو دڅرنګوالی په باب یو څه روښانه کړای شی .

کله چی دسکانو له خوا ناڅاپی عهد شکنی وشوه او پخپله وعـــده باندی ونه دریدل، نو په ډیره چټکتیا سره نواب، ګورنر جنرال او دهند سپه سالار پوځونه راټول او دسکانو سره یی دجګړی حکم وکړ په دغه وخت کی دسکانو سره څلور جګړی تـــر سره شوی، چی په څلور واړو جګړو کی سکانو ته ماته ورپه برخه شوه.

نوموړی جګړی په دی ډول دی:

لومړی دمدکی جګړه :

چی د (۱۸٤۵) عیسوی کال ددسمبر دمیاشتی په (۱۸) پیښه شوه، په دغه جګړه کی انګریزانو د سکانو څخه (۱۷) توپونه تر لاسه کــــړل.

دویمه دفیرو شهر جګړه:

دغه جګړه د هماغه کال ددسمبردمیا شتی په یوویشتمه منځ ته راغله او د سکانو مشر راجه لعل سنګ نومیده ، په نو موړی جګړه کی سکانو (۷۳) توپونه په میدان پریښودل .

دریمه جګړه :

چی د (۱۸۴٦) عیسوی کال دجنوری دمیا شتی په اته ویشتمه نیټه په الی وال کی درنجور سنګ سره وشوه، ډیر سکان په دریاب کی ډوب او ووژل شول او همدا راز پنځوس توپونه انګریزانو ته په لاس ورغلل .

څلورمه جګړه :

دسکانو او انګریزانو ترمینځ څلورمه اووروستنی جګړه دهمدغه کال دفبروری دمیاشتی په لسمه نیټه په سیروان کی واقع شوه، په دغه جګړه کی سکانو بیخی ماته وکړه او سردارشام سنګ اتاری واله هم په همدی جګړه کی ووژل شو .

دا ښکاره خبره ده چی د سکانودماتی سبب ددوی ترمنځ بی اتفاقی او نفاق و که نه داد امکان نه لیری وه چی انګریزان دی په یوه لږ شمیر پوځ سره وکړای شی د سکانو لوی لښکر په اسانی سره مات کړی.

لنډه دا چی د سکانو تر ماتی وروسته نواب ګورنر جنرال لاهور ته داخل شو او د رنجیت زوی مهاراجه دلیپ سنګ ددغو جګړو علت دپوځ بغاوت وښود او د ګورنر جنرال څخه یی معافی وغوښته او عذر یی ورته وکړ چی دده عذر ومنل شو او ددواړو خواو ترمنځ د (۱۸۴٦) عیسوی کال دمارچ دمیاشتی په نهمه نیټه تړون لاسلیک شو چی ددغه نوی تړون له مخی دجنګ تاوان له درکه جالند هر ، دواب ، کشمیر او هزاره دنورو غرنیو سیمو سره انګریزی سرکار ته ورکړل شول پاتی ټول پنجاب دلیپ سنګ ته پریښودل شو، همدا راز د پنجاب دوالی په غوښتنه یو سیاسی نماینده په لاهور کی وټاکل شو او څو تنه نور نماینده ګان ددغه نماینده دمرستیا لانو په توګه د ضلعو دچارو د تنظیم او امن له پاره دلته راولیږل شول، لکه څرنګه چی د ختیځ افغانستان په

پیښور کی جارج لارنس او په بنواودیره‌جاتو کی‌سر هربرټ اډوارډس دحاکما نو په توګه دنده سرته رسوله.

تر دغه وروسته په (۱۸۴۸)عیسوی کال کی د پنجاب په سیمه کی‌یو لوی اغتشاش منځ ته راغی.لومړی ځل دیوان مولراج په ملتان کی شور شونه پیل او دوه تنــه انګر یزی افسرانی‌یی ووژل اوورپسی چترسنګ دهزاره په سیمه کـــی‌په بغاوت لاس، پوری کړ او کلـه چی په پیښور کی سك سپاهیان‌یاغی‌شول نو جارج لارنس او میرمن یی په کوهاټ کی سلطان محمد خــان‌بارکزی ته ورغلل او هلته یی پناه وغوښته او نوموړی انګریز دسرهنری‌لارنس ورور وچی سلطان محمدخان بارکزی یی خوشی کړی و خوسلطان‌محمد خان په پښتنی ننګ باندی‌تور داغ ولګاوه او جارج لارنس اودهغه‌میرمن یی‌د (۱۸۴۸) عیسوی کـــال د دسامبر د میاشتی په دریمه نیټه‌سکانو ته په لاس ورکړل او همدا ډول کرنیل سرهر برټ اډوارډس‌په ټول قدرت سره دملتان په نیولـو بوخت و، ددغه شورشو او بلوا په‌وخت کی هم د ملتان پر ته څـلور جګړی پیښی شوی، چی په وروستی‌جګړه کی چی‌د (۱۸۴۹) عیسوی‌کال دفبروری دمیاشتی په یودیر شمـه نیټه په ګجرات کی پیښه شوه‌سکانو سخته ماتی وخوړه او په راولپنډی‌کی شیرسنګ او چتر سنګ دواړه‌ د انګریزی پوځ‌افسرانو‌ته تسلیم‌شول.

ددویم شورش درفع کولو څخــه‌وروسته‌ د (۱۸۴۹) عیسوی کال‌دمارچ د(۲۹) نه ویشتمی نیټی داعلان پــه‌سبب ټول پنجاب او هم د افغانستان ختیځی برخی دانګریزی واکمنی‌جزوګڼل شوی دختیځ هند کمپنی ټیکه له منځه ولاړه او له (۱۸۵۹) عیسوی‌کال څخه ملکه وکتوریا دانګلستان شهزادګی دهندو ستان واکمنه‌شوه،په دغه وخت کی دافغا نستان‌ختیځی سیمی پر دوو برخو او پنځو ضلعو‌باندی وویشل شوی‌چی‌په هره‌برخه کی‌یو کمشنر ،په هره ضلع کی یودیپټی کمشنر او څو تنــه اسسټنټ کمشنران اواکسترا اسسټ کمشنران‌په عدالت سره چاری تر سره کوی. دختیځ افغا نستان یاد هغو برخوعایدات چی دانګریزی سرکار په لاس کی دی‌دکال‌شلو‌لکو روپیوته رسیږی.

دسر حد او یاغی قومو نو دانتظام‌څرنګوالی:

څرنګه چی معلومه ده دافغانستان‌ختیځی سیمی چی دانګریز سرکارله خوا نیول شوی یعنی دیره جات اودپیښور لویدیځ او قطبی برخو پــه

غرنيو سيمو کی ازاد قومونه ميشته دي اود انګريزانو تر راتګ وړاندی دغو خلکو اوارو ملکو نو ته دښکارځای په سترګه کتل دوی ډيره موده څه دمذهبی تعصب او په زياتــه اندازه دځپل طبيعی او فطری خاصيت په سبب په دغه ملک کی دغلاووپه کولو اودلارو په وهلو بوخت وو ، او انګريزانو ددوی دحملو مخه پــه دی ترتيب نيولی وه چی، ددوی دتيری په وخت کي به يي ددوی ملك تــه لښکری ليږلی او ياغيان او مفسدين به يی تکول او دتوری په زوز به يی دراتلو نکی له پاره دامن منځ راوړلو کوښښ کاوه .

دپيښور ضلعی ديوسفزيو سيمی په شمالی او لويديځو غرنيو برخو کی حسن زی او متعصب هندوستانی وهابيان* (مجاهدين) په ستانه او دمهابن غره په شاو خوا کي ميشته شوی دی .

څو ځله انګريزی سرکار ، دهغوی دټکو لو له پاره ددوی سيمو تــه پوځونه ليږلی دی. په (۱۸۵۸م)عيسوی کال دستا نه په سيمـــی باندی د ميجر جنرال سر سډنی کاټن تر مشری لاندی يرغل وشو او تـر هغه وروسته دا مازی او جــدو ن له قبيلو سره داسی پريکړه وشوه چي بيا به په ستانه کي هغوی داسي آواره هندو ستا نيو ته دميشتــه کيدلو اجازه نه ورکوی چی هغوی دانګريزی سر کار رعيت ته کوم تکليف پيښ کړی، خو په (۱۸۶۱) عيسوی کال د چمله سيمی په ملکا کی چــی دنوموړی سيمی په منځ کی موقعيت لری، دامازی او جدون قبيلو دعهـد ماتو لو په سبب په هما غــه ډول هندو ستا نيان را ټول او دانګريزی سر کار دبيګناه رعيت په زورولو يی پيل وکړ چی ددغه عمل له منځـه وړلو له پاره په (۱۸۶۳) عيسوی کال کی يو ټولګی پوځ دبرګډيرجنرال سر نيول چمبرلين تر مشري لا ندی دانبيله دری له لاری دغی غرنـــی سيمی ته ولیږل شــو د (۱۸۶۳)عيسوی کال داکتو بر د مياشتـــی په شپږويشتمه په دغه ځای کــی سخته جګړه پيښه شوه چی دبونير او سوات او سيدو نکو هم دچمله له خلکو سره مرسته کوله په پای کی تر ډيرو جګړو وروسته دانبيلــه ، لعلو او ملکا سيمي وسو زول شـوی دچمله او بونير داسيدو نکو څخــه څو تنه ديرغمل په ډول په دی منظور راوستل شوی چی په راتلونکی کی به هندو ستانی مجا هدين هلته نــه

---

*«هندو ستا نی وهابيان» دتعليقاتو په برخه کی وګوری .

اوسیږی، او انګریزی پوځ هم بیرته راستون شو .*

په همدغه ډول مومندو، پنډیا لیو او موسی زیو چی د سوات سیند د دواړو غاړو په غرنیو سیمو کې اوسیږی او له انګریزی سرکار سره کډی پولی لری تر هغه ځایه چی ورته ممکنه وه د سرکار رعیت ته به یی زیانونه رسول، خو د(۱۸۶۱) عیسوی کال دجنوری په میاشت کی ددوی مشر سردار نواب خان په خپله تسلیم او دانګریزانو حکم ته یی غاړه کیښوده په (۱۸۶۳) عیسوی کال دمومندو قبیلی دموسی زیو ښاخ او نورو دسعادت خان دزوی سردار سلطان خان تر مشری لاندی دلعل پوری په سرحدکی په ډیر زړه ور توب سره الی ګولی او فسادونه رامنځ ته کړل خودانګریزی سرکار د یوه ټولګی پوځ لخوا تیښتی ته مجبور شول ، مګروروسته دامیر شیر علی خان زوی او ولیعهد سردار محمد علی خان له خوا نو موړی سعادت خان ونیول شو او پدی ډول یی په راتلو نکی کی دفسادونو مخه ونیوله .

دپیښور او کوهاټ په سرحد کی دخیبر له دری څخه ختیځ خواته د ختکو تر غره پوری داپریدو جنګیالی قوم پروت دی په لومړی سرکی ددوی لخوا ډیری پیښی رامنځ ته کید لی چی د ځو جګړو نه وروسته تر یوی اندازی له خپلو کړو څخه واوښتل خو ځینی یی تر اوسه هم کله کله الی ګولی او فسادونه رامنځ ته کوی. هغه دره چی له هغی څخه د کوهاټ او پیښور لاره دغرونو په مینځ کی تیریږی په هغه ځای کی ددوی الی ګولی موءثری دی. داپریدو قبیله د ښه خوی تر څنګ زړه ور هم دی، ددغه قبیلی سهیل ته لږ څه د کوهاټ ضلعه خو اکثراء دانګریزی سرکار دنیول شوو سیمو څخه د باندی داورك زیو قبیله میشته ده خو په دغه سرحدکی دوزیرو قبیله دیادونی وړ ده، چی په مفصل ډول به یی بیان ددغه کتاب د دویمی برخی په څلـو رم باب کی راشی د بیټنیو او وزیروسهیل ته د شیرانیو قبیله پرته ده چی دوی هم څه موده دانګریزی سرکار په مقابل کی الی ګولی رامنځ ته کولی خو اوس غلی شوی دی .

دډیره غازی خان د ضلعی په لوید یځو برخو کی دبلوڅو دقومونو څخه د مری قبیله هم ډیره دشراوفساد غوښتو نکی ده.

---

*ددغی غزا په باب دتعلیقاتو برخه وګوری .

موء لف چې تقریباء څلور کاله یې په سرحد کې کار کړی دی، د خپلې تجربې او ددغه ځای د خلکوپه کړو وړو باندې په پوهیدولو سره چې د سرحدي چارو دانتظام له پاره ډیر ښه کار کڼل کیږي، غواړم یو څه ولیکم .

دا څرګنده خبره ده چې دغه آزادقبایل چې دسرحد په غرنیو سیمو کې زمونږ ګاونډیان دي اکثراء ساده، بې علمه، کینه کښ،حساس ،ناعاقبت اندیش او متعصب دي، * ددغــــه ډول خلکو سره په سوله کې ژوند کول ډیر مطلوب کار او ددوی په روحیه ډیر موء ترڅ دی، خو په ځینو وختو نو کې د مغوی سمد لاســــه تکونه هم موء ته او مطلوبه ده .

په دغو قو مونو کې عموماء دوه‌ډوله خلک‌لیدل کیږي، یوه ډلــه مغه دي چې مغوی د ځینو شیانــو داخستلو او تجارت په منظور داڅګر- یزی سرکار سیمو ته تګ راتګ‌کوي‌دویمه ډله مغه دی چی دغو سیمو ته لږ تګ راتګ کوي یایې هیــڅ‌نه کوي، کله چې داڅګریزی سرکار له علاقې څخه دباندې، غلا، لاروهنه او یا بله کومه پیښه وشي باید سرکاري افسر په دې لټه کې شــيچې د مجرم هویت پیدا کړي او په دې وپو هیږي چې ددغه جرم مجرم‌څوک دکومې قبیلې او دکوم ښــاخ څخه دی. دغه کار که څه هم پــه‌غرنیو سیمو کې معلو میدلای شي، مګر د جاسو سانو په خبره څو چې‌نوموړی خبره دڅو تنو نورو له خوا هم تاء ئید شوی‌نه وی، باید اعتبارونه کړای شي. کله کله جاسوس دحقا یقو په خلاف هم خبري کوي ،کله چې دا څرګنده شي چې مجرم په کومې یوی قبیلې پوری تړلی دی ،په دغه خبری پوهیدل هم ضروردی چې که چیرې د مغه قبیلې تګ‌راتګ‌زمونږ سیمې ته بند شي، نو دمغه قبیلې خلک به زمونږ دعوا دمجرم‌سرې به حاضر ولو یا دغلاء شوی مال په بیرته راوړلو یا څرنګه چې انصاف غو ښتنه کوي . ومنې هغه کله چې ځواب مثبت وي نو دقبیلې‌ملکا نو ته خبر ورکول کیږي چې په دومره موده کې مال یا مجرم بایدحاضرکړای شي، که‌چیرې هوی ځانونه بیګناه بولی نو په ټاکلې موده کې‌دې‌محکمې ته‌حاضر او ددغه الزام څخه دې د ځان دفاع وکړي، او که نه تر دغه مودې وروسته ددلســـ

---

*قلم ددښمن ددوست په لاس کـې‌دی . (رشاد)

قبیلې د خلکو تګ راتګ سره کـارۍسیمی ته تر هغه پورې په مطلــق دول بند يږی تر څو چی له جرم څخه يی برائت نه وی حاصل کړی اودعوا

هم نه تر سره کیږی، که په دغــه تاکلی موده کی څوك ښکاره نه شی نو فوراً دهغی قبیلی خلکو دتــــګراتګ لار بنده او هر څوك چی ددغی

قبیلی لیدل کيږی او لاس‌ته ‌راځی هغه دیرغمل په دول نیول‌کیږی او

هغه مال چی له دوی سره وی‌هغه هم ضبط کیږی تر هغی چی دغه خلك

دعوا ومنی او مال، یا مجرم یادمال‌بدل چی حاکم تاکلی تادیه کړی،په

اکثرو معاملو کی دغه تجربه ازمویل‌شوی او نتیجه یی ښه راوتلی ده،

دوهم دول یی دادی هغه وخت چی‌دا ثابته شی چی مجرم دهغه قـوم (قبیلی) دی چی زمونږ سیمی ته یی‌دتګ راتګ کم یا بی ارزښته دی نو

دجامی دوینا له مخی، ((که‌جز جهل‌بر جهل نارد شکست.)) نو په دغه

وخت کی‌په آرامی‌سره دمجرم دقبیلی‌چی کوم سړی آویا مال لاس ته‌راځی

هغه نیول کیږی او د یرغمل په دول‌ساتل کیږی او وروسی دغی قبیلی

ته پیغام استول کیږی‌تر څوچی مال‌یامجرم نه وی حاضر شوی دغه مال

په لیلام او یرغمل کسان به هم‌بندیان پاتی‌شی که څه‌هم ځینی حاکمان دا

وروستی‌تجویز غوره‌کنی اوپه ښکاره‌دول، له هغه څخه دمال دبیرته اخستلو

ګټه تر لاسه کیږی، خو دغرنیو خلکوله طبیعت سره هم آهنګی او یووالی نه لری او همدا راز د انګریزی سرکار د مشهور ریښتین توب او عدالت

په خلاف دی ، دا ځکه چی دداســی‌نا ځایی نیو لو څخه خلك مونږ په

درواغو او فریب محکو موی اوزمونږ‌عدالت ته د ظلم او تیری نسبــت

ورکوی . نو تر هغه ځایه چی‌امکان‌ولری له دغه قوم سره باید پــه

سمه لاره چلند نه اوپه معقول‌دول‌و نیول‌شی او بیا کیدای شی چی بدل پــه

زور تر سره شی، او هم هغوی تــه دعذر کولو او د الزام اوتهمت پــه

مقا بل کی له ځان څخه ددفاع کولووخت ضرور ورکړای شی تر څــو د

انګریزی‌سر کار له منصر فه ملکونوڅخه دباندی سیمو خلکو ته داڅرګنده

شی چی انګریزی سر کار دعدالــت‌او انصاف په لار روان دی او کــه

هغه ته اول وګړی چی په هیوادکی‌دننه ژوند کوی او که له پولوڅخه

دباندي تولو ته په یوه سترګه کوري او ورته یو ډول دی له دغه کار څخه ښه نتیجه لاس ته راتلای شي، مګر پدی باید وپوهیږو چې پورتني ذکر شوی لاري چاری عام شکل لري او سرحدی انتظام تر هغه اندازی حساس او نازك دی چې هره پیښه باید په دقت سره وڅیړل شي او غور ورباندی وشي.

د هغو قومونو سره چې تړون شوی وی دهغوی سره باید ددغه تړون مطابق عمل وشي ، هغه افسرا نو او منصبدارا نو چې په سرحد کی کار کړی او په دغه مکله دتجربی خاوندان دی ټول په دغه باب یو نظر لري چې که چیری دغو نیو سیمو مجرمانو نیول یوازی په دوی پوری منحصر شي نو دسرحد دچارو انتظام به په صحیح ډول ونه کړای شي او اداری نظم به په کی منځ ته را نشـــــــی ، داځکه چې کله به هغه مجـــــــرم د یوه یا څو تنو سره غــــــر نیو سیمو ته ورتلونکی نــو بیا پخپله د هغه نیول د یرګران کاردی نو له دی امله باید ددغه مجرم ټوله قبیله د نیولو او مواخذی وړوګڼل شي څو په دغه باب ددغی خبری کول هم ضروری دی، چې تر ټولو وړاندی دهغه قبیلی دښاغ خلك چې مجرم وریوری تړلی دی او ښه او بدیي په دغه مجــرم باندی تاءثیر لری باید ونیول شي او وروسی له ټولي قبیلی څخــــه پوښتنه کیدای شي تر څو خلك خپله ذمه واری او مسئولیت سره مشترك وګڼی په دغه ترتیب په داســــی پیښو کی کمښت منځ ته راتلای شي او خلك په دی پوهیږی چې په ډیره اسانی سره دسرکار عدالت مونـږ نیولی شی او پوښتنه او بدل راځخه اخیستلای شي او دهغی ګټی څخــه چې دغلا او لاروهنی څخه تر لاســه کیږی زیان رارسیږی په هره قبیله ،ښاغ او قوم باندی دپوهیدو له پاره باید ددغه کتاب څویمه برخه ولیدل شي.

کله کله د سرحدی خلکو د جهالت په سبب داسی دوني او سختی پیښی منځ ته راځی. چې ددغو پیښو دبدل اخستلو او بیا تکرار دمخنیوی په سبب سرکار مجبوریږی دمجرم قبیلی غرنیو سیمو ته لښکر ورولیږی او هغو ته سزا ورکړی تر څو په دغه ترتیب هغوی عبرت واخلی او په دی وپوهیږی چې انګریزی سرکار نـه یوازی دسوالی اله لاری بلکی دتوری په زور هم خپلی متصرفه او تر لاس لاندی سیمی ساتلای شي، مګر دغه کار باید په ډیر احتیاط سره تــــرسره شي تر څو دمجرمی قبیلی نــه پرته نورو خلکو ته کوم زیان ونه رسیږی او دوی زمونږ دښمنان نه شی او مجرمی ډلی او ددوی ګاونډی قبایل دپوځونو دلیږدولو علت یوازی

دجرم بدل اخیستل دی .خو په اوسنیوخت کی دی ډول سختو پوځي‌عملیاتو
ته لږه اړتیا احساسیږی او دبهرنیو یرغلونو دمخنیوی او دداخلی‌انتظام
په منظور دسرکار له خوا دسرحدی‌ضلعو په تیره په پیښور کی ډیره
لویه چاونی جوړه شوی وه چی هلته یو پوځ د میجر جنرال تر قیادت‌لاندی
پروت دی. په کوهاټ، بنو، مردان،دیره اسمعیل خان، راجن پور او دیره
غازی خان په ضلع کی دضرورت په‌اندازه پلی او سپور لښکر اوهم
توپخا نه موجوده ده او هم د ضلعو اکثروځایو نو کی پولیس (څارندوی)
په کار بوخت دی، ددی نه پرته دغرنیو سیمو دغلو دټکولو اوله‌منځه
وړلو له پاره دهغو غرونو په لمنوکی چی په سرحد کی موقعیت لری
په‌مناسبو ځایونو کی څو کـــی اوسر حدی سپایان، میشته شوی دی‌او
کله‌چی دداسی پیښو خبر دوی تـه ورسیږی نو سمدلاسه دغر ینـــو
مجرمانو په تعقیب‌پیل‌کوی‌او ددوی‌دتګ‌راتګ‌لاری‌او دری بندوی‌تر څود مجرم
دتیښتی لاره بنده او ونیول شی اوغلا شوی مال بیرته تر لاسه شی،
دغه ډول څوکی دانګریزانو په مروجه‌ژبه کی دپوست په نامه یادیږی.
او بی‌له شکه دغه ډول تنظیمات‌ډیر ګټور دی. په‌دی شرط چـــی
سرحدی قوما ندان یا افسر تکړه اوفعال وی .

دسرحدی ساتو نکو، پوځونو اوددوی ملکی ملازمینو تنخواه خرڅ او
نور چی دافغا نستان په دغه ختیځه برخه کی دانګریزی سرکار له‌خوا
کیږی هغه ددغه ځای تر عایدا توډیر زیات دی خو دغه مصرف چی‌په
دغه ځای‌کی دانګریزی سرکارله خواکیږی هغه باید ډیر معقول اوپه‌ځای
وګنڼل شی .

داځکه چی دغه سرحدی پوځونه نه‌یوازی‌دملک داخلی‌چاری تنظیموی
او ساتنه یی کوی بلکی دخارجی‌دښمن په مقابل‌کی‌هم د لویدیځ هند
ددروازی څخه دفاع کوی. په تیـروخت کی په هند باندی اکثره‌یرغلونه
له دغی لاری سرته رسیدل خواوس‌له لویدیځ خوا څخه دداسی یوه‌خطر
فکر نه شی کیدلای، اوهـــم اوس‌دهندو ستان پاچا تر هغه اندازی بی
خبر او عیا ش نه‌دی چی مثلاء تیموراو یا نادر دی د ډیلی دروازی تـه
را ورسیږی نو په دغه وخت کی‌دی‌شاهنشاه دعیاشی له بزم‌څخه درزم
په فکر شی داسی فکر کیږی چی‌په‌راتلونکی کی به داسی یو وخت‌راشی
چی لویدیځ خواته به ددوو لایقوپاچا یانو د سلطنت پــو لی سره
ونښلوی .*

---

* له دغودوو لایقو پاچاهانوڅخه مراددروس او بر یتا نیا دولتو نـه دی .
(رشاد)

دسرحد دپولو موقعیت :

دموءلف په نظر دپنجاب لویدیځی پولی چی دهندوستان سر حد دی ډیر
شه موقعیت لری، داځکه که چیری داسی یو وخت راشی چی په هندو –
ستان باندی دلویدیځ لخوا بریدوشی. نو دغه تقویه شوی ځای دجګړی او
دفاع له پاره ډیر مساعد دی، په دی سبب چی دښمن به په لویدیځو غرنیو
سیمو کی ډیر ستومانه شوی او ډیر کړاو به یی لیدلی وی نو ځکه کله
چی دغو پولو ته راور سیږی نو زمونږ تازه دمی لښکری
به په آسانی سره په هغوی باندی غلبه ومومی . دوهمه دا چی دغه
ځای ته دضرورت په وخت کی له پنجاب او نورو میدانی او اوارو سیمو
ښخه ډیر ژر او بی تکلیفه مرسته او اذوقه رسیدلای شی . په داسی
حال کی چی دښمن ته دلوید یځو غرنیو سیمو ښخه دمرستی ، ذ خیری
او آذوقی رسول ډیر گران او تقریباً ناممکن کار دی. نو ځکه د هندسلطنت
باید دموجوده پولو په دننه کی پیاوړی اودغه کار د نورو ملکو نو
له نیولو ښخه ډیر ښه او گنړوردی .
که چیری مونږ له دغه سرحد و نوښخه تیراو خپل هیواد ته دلو یدیځ
په خوا پراختیا ورکړو چی حکو مت او س داسی کومه اراده نه لری ، نو
زمونږ له پاره به د قیسی (کیسی) غر دمرستی اونورو ضروری شیانو
دنه رسید وله امله هماغه حکم ولری. کوم چی دښمن ته یی ددی خوا ته
راتګ (یرغل) په وخت کی لری .
که چیری زمونږ پولی شمال خواته دهندو کش ترغرونو پوری، اولویدیځ
خواته ترسیاه کوه پوری چی د هرا ت لویدیځ ته پروت دی وغزول شی
نو بهرنی دښمن ته به له موجوده پولو ښخه ، هم دهغو پولو نیول گران کار
وی ، که ښه هم د هغو پولو په منځ کی به ښه موده مونږ له مشکلا تو او
سختیو سره مخامخ شو ، خو وروسته به د تجارت دوړاندی تګ چی دمنځنی
آسیا اونورو ملکونو سره به ښه وده وکړی او همدا راز دنورو عام المنفعه
کارو نو ښخه به دنیا ته ډیره گټه ورسیږی ، خودا امرانصاف نه شی
منلای اوهم ... مت دغه خیال نه لری چی بی موجبه دی دلویدیځو ملکو نو
په چارو کی لاس وهنه وکړی شی خو که چیری اصل حقدار یاافغانستان
له خپل هوډ ښخه واوړ ی یاکوم بل دښمن دشمال له خوا دیرغل کو لو
خیال ولری نو په دغه وخت کی دهند حکومت په دغه ملک باندی د زیا تی
دعوی حق لری ، داځکه چی په پخوا زمانو کی دکابل صوبه ،کندهار اونور

به اکثراً د هند د سلطنت تر سلطی لاندی وو خو په اوس وخت کــــی انګریزی حکو مت نه غولری داسی یوه دعـــــوه وکړی .

(په پای کی دغو کیو یو فهرست)

په دغه فهرست کی سرحدی څوکی یا پو ستی راغلی دی او له دغــــه فهر ست څخه دا جوتیږی چــــی دپیښور د ضلعی نورو لویو چونیو نه پرته یوازی دغرنیو غلو او لارو وهو نکو د مخنیوی لپاره کو هـــاټ ته نږدی غرونو له لری څخه تـــر دیره غازی خان پوری څو مره څوکی او په هغو کی څو تنه سپاهیان دی. دا څرګنده ده چی دپیښور ضلع په حدودو کی له دغو څخه هم زیات شمیر پوځ په بهر نیو څو کیو کی پـر وت دی .

نمبر شمار	نام ضلع	[illegible]	پنجاب ملیشہ		منظم پنج		ملول شمیر	
			[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]
١	کوہاٹ	بہادر خیل	٣٧	٨٣	٠	٠	٣٧	٨٣
٢	//	لتمبر	٩	٢٣	٠	٠	٩	٢٣
٣	//	ناہری	٨	١٢	٠	٠	٨	١٢
۴	//	باندا	۵	٠	٠	٠	۵	٠
۵	//	لاچی	۵	٠	٠	٠	۵	٠
٦	//	گداخیل	۵		٠	٠	۵	٠
٧	//	گرمت	٢		٠	٠	٢	٠
٨	//	محمدزئی	٢	١۵	٠	٠	٢	١۵
٩	//	کوتل	٢	٢٢	٠	٠	٢	٢٢
١	بنو	دومیل	٠	٠	١٨	١٠	١٨	١٠
٢	//	گومتی	٠	٠	٩	١۴	٩	١۴
٣	//	کرم	٩	١٠	٢	٠	١١	١٠
۴	//	پنج باران	٠	٠	٧	١۴	٧	١۴
۵	//	جانی خیل	۵۴	٧٠	٢	٠	۵٦	٧٠
٦	//	تجوڑی	٠	٠	٩	۴	٩	۴
٧	//	توچی	٠	٠	٧	١۴	٧	١۴
٨	//	والی	٠	٠	٩	۴	٩	۴
٩	//	خیر خیل	٠	٠	١٠	۵	١٠	۵
١	ڈیرہ اسمعیل خان	درہ بین	٠	٠	٦	۴٧	٦	۴٧
٢	//	اماخیل	٠	٠	۴	٠	۴	٠
٣	//	ملازئی	٠	٠	١٢	١٢	١٢	١٢
۴	//	کوٹ نصرت	٠	٠	٢٠	١٠	٢٠	١٠

نمبر	ضلع / تحصیل	نام موضع	پنجاب ملیشہ		منظم بیگ		قول شیر	
			[illegible]	[illegible]	سپاہی	[illegible]	[illegible]	[illegible]
۵	ڈیرہ اسمٰعیل خان	تہانک	۴۲	۴۷	۱۰	۰	۵۴	۴۷
۶	〃	تتور	۰	۰	۲۰	۱۰	۲۰	۱۰
۷	〃	ڈیرا	۰	۰	۸	۷	۸	۷
۸	〃	کوتل	۱۸	۲۲	۲	۰	۲۰	۲۲
۹	〃	مرتضی	۰	۰	۹	۸	۹	۸
۱۰	〃	لونی	۰	۰	۲۰	۱۰	۲۰	۱۰
۱۱	〃	زرکنی	۰	۰	۲۰	۱۰	۲۰	۱۰
۱۲	〃	درابن	۴۲	۱۲	۲	۰	۴۴	۱۲
۱۳	〃	شاہ عالم	۰	۰	۸	۸	۸	۸
۱۴	〃	چودھوان	۰	۰	۴	۰	۴	۰
۰		۰	۰	۰	۰	۰	۰	۰
۱۶	〃	کوٹ تگا	۰	۰	۴	۸	۴	۸
۱۷	〃	کوروالے	۰	۰	۶	۰	۶	۰
۱۸	〃	دولت والا	۰	۰	۶	۰	۶	۰
۱	ڈیرہ غازی خان	کنگیہر	۰	۰	۴	۰	۴	۰
۲	〃	چولی	۰	۰	۴	۰	۴	۰
۳	〃	وروور	۰	۰	۴	۰	۴	۰
۴	〃	باطل	۰	۰	۴	۰	۴	۰
۵	〃	نورپور	۰	۰	۸	۲	۸	۲
۶	〃	مہودی	۰	۰	۱۶	۷	۱۶	۷
۷	〃	منگروٹہ	۲۴	۵۸	۴	۰	۴۸	۵۸
۸	〃	جوکہ بنگو	۰	۰	۵	۰	۵	۰

نمبر شمار	نام علاقہ	نام موضع	پنجاب ملیشہ		منظم پولیس		مقتول کشمیر	
			[illegible]	[illegible]	بھاری	ہلکی	[illegible]	[illegible]
۹	دیر غازیخان	دہووا	۰	۰	۱۱	۹	۱۱	۹
۱۰	〃	بھندووال	۸۳	۲۵	۱۸	۰	۱۰۱	۲۵
۱۱	〃	درگری	۸۳	۲۲	۳	۰	۸۶	۲۲
۱۲	〃	آسنی	۰	۰	۵	۰	۵	۰
۱۳	〃	کرم کاتھول	۰	۰	۱۶	۶	۱۶	۶
۱۴	〃	لال گوشی	۰	۰	۵	۳	۵	۳
۱۵	〃	بختیانی	۰	۰	۱۳	۶	۱۳	۶
۱۶	〃	محمدپور	۰	۰	۸	۵	۸	۵
۱۷	〃	روم کاتھول	۰	۰	۱۷	۶	۱۷	۶
۱۸	〃	برزند	۴۹	۴۰	۲	۰	۵۱	۴۰

١٦٤٢

دویمه برخه

په افغانستان کې د پښتنو او نورو او سیدونکو قومونو نسب نامه

لومړی څپرکی

دافغان ،پتهان اوپښتون دتسمیی وجه :

د خپلو څیړنو د نتیجې له لیکوښځه وراندی ماته دا غوره وبریښید ه چې د مخزن افغانی کتاب او همداراز د نورو هغو روایتو نو په باب چې دهغی له مخی دغه خلك خپله نسب نامه دبني اسرائیلو سره تړی انتخاب او یو څه ولیکم.

دا څرگنده ده چې دمخزن افغانی مؤلف د افغا نانو (پښتنو) نسب نا مه په دی ډول لیکلی ده چې حضرت یعقوب (ع) (اسرا ئیل) لــه دولسو زامنو څخه مشر یې یهودا نومیده چې دافغا نا نو (پښتنو) نسل هغه ته رسیږی او د یهودا له پنځم پښت څخه ساول چې لقب یې طالوت وزیږیدم چې وروسته د بنی‌اسرائیلو پاچا شو ، چې دحضرت مسیح څخه (۱۰۹۵) کاله وراندی او لــه اوسنی وخت څخه (۱۹۶۰) کاله مخکی یې ژوند کاوه او نوموړی دحضرت اشمو یل په فرمان دبنی اسرا ئیلــو پاچا شو چې هغوی دی خپل لوی لیکه بولی.

دمخزن افغانی د لیکنی لندیز :

دمخزن افغانی دلیکنی لندیز په دی ډول دی کله چی ساول (طالوت) دخپلو کنا هونو څخه توبه وایستله او سلطنت یی حضرت داؤد (ع) ته وسپاره او په خپله یی دشهادت په منظور دکفارو سره د جنګ اراده وکړه نو په دغه وخت کی یی حضرت داوعد(ع) ته وصیت وکړ چی په حرم کی زما دواړه میر منی امید واری (حامله) دی او له هغوی څخه به دوه نارینه اولادونه نړی ته راشی چی دهغوی اولاد به لوی کارونه وکړی اودوی زړه ورتوب به تر قیامته پوری په یړی کی د یادګار په ډول پاتی شی او دشمیر د ډیر والی له کبله بـه په ټولو باندی رجحان او برتری ولری، کله چی طالوت دخپلو لسو زامنــو سره دکفارو په ذریعه دشهادت درجی ته نایل شول او حضرت داؤد (ع) دسلطنت واکی په خپل لاس کــی واخیستی نود ساول (طالوت) دوصیت سره سم یی دهغودووحامله ښځو پالنه او خبر کیری کوله، تر څو د وخـت په تیریدو سره کله چی ددواړو د حمل موده پوره شوه په یوه ورځ کی له دواړو څخه نارینه اولادونــه نړی ته راغلل چی ددوی تره داود(ع) په یوه باندی ارخیا او بل باندی ارمیا نو مو نه کیښودل . کله چیـ دغه دواړه ماشومان د بلوغ مرحلی ته ورسیدل نودپهلوانی او میړا نـی په میدان کی تر ټولو غښتلی وو . حضرت داوعد (ع) ارخیا دوزیرالممالك (صدراعظم) او ارمیایی د ټـول پوځ سپه سالار مقرر کړ.چی ددغودواړو ورو نړ ته بر ته ټول رعیت او سپایان ارامه او هوسایی اوآبادی ډیره شوه. ددغودواړو ورونو څخه هم دوه زامن چی د کلکی ارادی خاوندان وو،وزیږیدل. ارخیا په خپل زوی باندی اصف او ارمیا په خپل زوی بـاندی افغنه نو مو نه کیښودل ، کله چی دوی دواړه د ځوانی او بلوغ مرحلی ته ورسید ل نو ارخیا او ارمیا لــه جهانه ستر کی پټی کړی او حضرت داؤد (ع) هغوی ته پلرنی دنــدی وسپا رلی یعنی دارخیا زوی اصـف ته یی د وزار ت مقام او دار میــا زوی افغان ته یی د سپه سالاری رتبه ور کړه . *

د حضرت داؤد (ع) تر مړینـــی وروسته حضرت سلیما ن (ع) پا چا شو چی هغه هم اصف او افغـــان پخپلو مقا مو نو پریښودل. تر لږی مودی وروسته د اصف امر پــــه اوو اقلیمو جاری او د افغان تـــوم

*وګوری : د تعلیقاتو برخه

اوجلال هم دتولو پیریانو ،انسا نانـواو اهر منانو غوروته ورسیده او دده د سلا او مشوری نه پرته به هیڅ کار نه ترسره کیده. او دبیت المقدس یا اور شیلم د ودانی چاری هـــم افغان ته وسپارل شوی او حضرت سلیمان (ع) په زرګونو تنه ساتونکی،پهره داران او دیوان د افغان پـــه خدمت کی وګمارل او نوموری څلویښت کاله په دغه عمارت بانـــدی تیر کړل او دغه افغان ته پښتوژبه دیوانو وښودله او د حضرت سلیمان تر مړینی وروسته د بیت المقدس پاتی چاری افغان په دیوانو باندی تر سره کړی. دافغان څخه څلویښت زامن دنیا ته راغلل او د افغان اولاد د شمیر په لحاظ دومـــره ډیر شوچی د څلور کنجه دنیا هیڅ یـــوه قبیله له دوی سره په شمار برابره نه وه.

اصف او افغان د ژوند تر پایـه پوری په بیت المقدس، روم او شام باندی، پا چا یی کوله او د بنـــی اسرا ئیلو چاری ددوی دواړو پـــه لاس کی وی. تر هغه وروسته کله چی بخت نصر په بیت المقدس باندی یرغل وکړ او یولړ خرابی یی منځ ته راوړی نو بنی اسرائیل یی هـــم له خپلی خاوری څخه وشړل چی داصف او افغان اولاده اکثراء غـــور فیروز کوه او د خرا سان نــــوروغرنیو سیمو ته راغلل اودلته میشته شول، او ځینی نور په عربی سیموکی ځای په ځای شول.

هغه قوم چی دغور په غرونو اودخراسان په شاو خوا کی میشته وو، شمیر یی ډیر زیات شو چی دقبایلود ډیرښت په سبب یی د هغه ځای له کفارو سره پرلپسی جګړی وکړی او بریالی شول او د غور غرنی ملک یی تر خپلی سلطی لاندی راوست.

هغه افغا نان چی په عربو کـــی میشته شول د هغو څخه دولید زوی خالد ډیر مشهور دی. نوموړی ډیرزړه ور انسان و چی ډیر ملکو نـــه یی فتح کړی وو، نو ځکه یی دسیف الله لقب ګټلی و.

کله چی حضرت محمد (ص) لـه مکی څخه مدینی منوری ته هجـــرت وکړ نو په دغه وخت کی دخالد ابن ولید د لیك په ذریعه دغور دسیمی د افغانا نو (پښتنو) له مشرانو څخه څو تنه مدینی ته ولاړل چی د هغو له جملی څخه یی مشر د عیص زوی قیس و چی دنوموړی د نسب سلسله چی په مخزن افغا نی کی ذکر شوی ده په (۳۷) اوه ډیرشم پښت کی ساول ته چی په طالوت باندی ملقب او دبنی اسرائیلو پاچا ورسیږی همدا راز

دهغه پښتانه شلو پښتیم پښت حضرت ابراهیم خلیل الله او دری شپیتم پښت یی حضرت ابوالبشر ادم صفی الله (ع) ته رسیږی چی شجره یی په ترتیب سره په لاندی ډول ده : قیس ۱، بن عیص ۲، بن سلول ۳، بن عتبه ٤، بن نعیم ٥، بن مره ٦، بن جلندر ۷، بن سکندر ۸، بن زمان ۹، بن عین ۱۰، بن بهلول ۱۱، بن سلم ۱۲، بن صلاح ۱۳، بن قارود ۱٤، بن عتم ۱٥، بن فهلول ۱٦، بن کرم ۱۷، بن عمال ۱۸، بن حدیقه ۱۹، بن مهال ۲۰، بن فیض ۲۱، بن علیم ۲۲، بن اشمول ۲۳، بن هارون ۲٤، بن قمرود ۲٥، بن الی ۲٦، بن صلیب ۲۷، بن طلال ۲۸، بن لیوی ۲۹، بن عاقل ۳۰، بن تارج ۳۱، بن ارزند ۳۲، بن مندول ۳۳، بن سلم ۳٤، بن افغان ۳٥، بن ارمیا ۳٦، بن ساول ۳۷، ملقب په طالوت بن قیس ۳۸، بن عتبه ۳۹، بن غیص ٤۰، بن راوئیل ٤۱، بن یهودا ٤۲، بن یعقوب ٤۳، بن حضرت اسحاق ٤٤، بن مهتر ابراهیم خلیل الله ٤٥، تر پایه پوری.

کله چی دغه مشران مدینی منوری ته ورسیدل نو په حضرت محمد (ص) باندی یی ایمان راوړ او داسلام په دین مشرف شول. دوی ته حضرت محمد (ص) وویل څرنګه چی قیس عبرانی نوم دی او زه عرب یم نو دلطف او کرم له مخی یی په قیس باندی د عبد الرشید نوم کیښود او ورته یی وویل چی ته د ملك طالوت له اولادی څخه یی چاته چی حق سبحانه تعالی په قرآن مجید کښی دملك حطاب کړی دی نه دی ښه دا به ښه وی چی تاته د ملكخطاب وشی، په هغو ورځو کی حضرت محمد (ص) د مکی دنیو لو اراده وکړه او قیس عبد الرشید د خو تنو نورو پښتنو او خالد سره دعسکرو سرلښکر وټاکل شو او په هغه جګړه کی چی د مکی دنیولو په منظور وشوه نو افغانانو (پښتنو) ښه میړانه ښکاره کړه او پوازی عبد الرشید و کړای شول چی د قریشو (۷۰) اویا تنه متمردین ووژنی په دغه وخت کی حضرت محمد (ص) ډیر خوشحال شو او ویی ویل چی ددغه سړی له اولادی څخه به یوه لویه سلسله منځ ته راشی او تر قیامته پوری به داسلام ددین د ټینګښت له پاره هڅی کوی، او ددغه قوم کلکوالی دهغه لرګی په شان دی چی په هغه باندی دکښتی بنیاد اېښودل کیږی او دبطان په نامه یاد یږی نو ځکه قیس عبد الرشید ته د بطان (پتهان) خطاب ورکړل شو او ځکه دده اولاده د پتهان په نامه یادوی او قیس عبدالرشید بیر ته راستون او د غور په

غره او نورو سیمو کی یی د اسلام سپیڅلی دین په خپرولو پیل وکړ او تول، صحیح النسبه پښتانه دده له اولادی څخه دی .

د کلام پای :

دپور تنیو روایاتو له مخی بایدپه دی لاندی ټکو غور وشی:

لومړی: افغان دیعقوب دزوی یهوداله نسل څخه اود بنی اسرائیلو پاچا ساول طالوت اولاد دی.

دویم :ارخیا او ارمیا دساول زامن وو چی داؤد (ع) هغوی خپل وزیر او سپه سالار ټاکلی وو.

دریم : ددغه قوم لوی نیکه افغان دارمیا زوی دساول لمسی دحضرت سلیمان (ع) سپه سالار وو.

څلورم : بیت المقدس دافغان په همت او تدبیر سره جوړ او پښتو ژبه هغه وخت دیوانو افغان ته وښودله او دافغان شان او شوکت په پیریانو، انسانانو او حیوانانو باندی جاری واو په بنی اسرائیلو ، شام اوروم د ده تسلط ټینګ و.

پنځم :د افغان داولادی شمیر ترهغی اندازی زیات شو چی دڅلور کنجه دنیا په مسکونه برخه کی هیڅ یوی قبیلی ددوی په اندازه جمعیت نه لاره،

شپږم :کله چی دافغان اولاده له خپل وطن څخه وشړل شوه او د غور غرنیو برخو ته راغلل دجمعیت دزیاتوالی په سبب یی په دغه ځای کی میشته کسان ووژل او تول سیمه یی پخپله قبضه کی راوسته .

اووم :د ولید زوی خالد چی په مکی کی اوسیده، هغه هم افغان (پښتون) و، نو ځکه ډیر زړه ور و.

اتم :دافغانانو (پښتنو) مشریا سردار چی په غور کی اوسیده په اوه دیرشم پښت کی ساول طالوت او په پنځه څلویښتم پښت کی یی حضرت ابراهیم (ع) سره نسب ګډیږی.

نهم : قیس عبد الرشید ته حضرت خاتم الانبیاء دملك خطاب ورکړ له دی امله دافغانانو (پښتنو) معتبران او مشران دملك په نامه یادیږی .

لسم : بطان د هغه لرګی نوم دی چی په هغه باندی دکښتی بنیاد او اساس ایښودل کیږی او دغه خطاب دمکی په جنګ کی هغه وخت چی قیس عبدالرشید له ځانه ډیر زړورتوب وښود دحضرت محمد (ص) لخوا ده ته ورکړل شو او هغه ته یی بطان (پتهان) ووایه نو ځکه یی اوس اولاده دپتهان په نامه یادیږی.

یو ولسم: ټول صحیح النسب افغانان (پښتانه) دقیس عبدالرشید اولاده ده.
دولسم: یوه مؤثق سړی په خپلی څلور ورقی د (یادداشت په کتابچه) کی له خپل ځانه داخبره جوړه کړی ده.
چی پښتو ژبه د سلیمان (ع) په زمانه کی افغانانو (پښتنو) ددی له پاره منځ ته راوړه چی پاچا یی اسرار او رازونه په دی ژبه بیا نیدل او هم اعراب ددی له پاره افغانان (پښتانه) سلیمانی بولی چی ددوی لوی نیکه دحضرت سلیمان (ع) مصاحب وو.

دعوو ته ځیرنه او تحقیق:

زما په نظر تر هغه ځایه چی امکان لری ددغو روایاتو په باب ځیرنه او تحقیق په ډیر دقت سره عملی او د یوی صحیح او وسمی نظر یی دمنځ ته راوړلو له پاره باید هر دول کوښښ وشی. د نورو هیوادونو په تاریخ خصوصاً د عتیق عهد کتاب یعنی تورات، زبور او نورو کی چی د بنی اسرائیلو د حالاتو څرنګوالی په ډیر وضاحت سره راغلی پورتنی روایات او نظریی نه تائیدوی بلکه ردوی یی هم او عکس یی ثابتوی او دهر یوه روایت په ځواب کی چی ثبوت تر لاسه شوی هغه به دلته په مفصل دول رسیدل سی، خو وړاندی تر دی باید ددغو روایتو نو داصلیت او د منځ ته راتلو د څرنګوالی په باب یو څه وویل شی.

پوهو لوستونکو (ناظرینو) ته به ښکاره وی چی د مخزن افغانی کتاب ددغو نظریو او روایاتو اساس کنل کیږی دغه کتاب په (۱۰۳۰) هجری کال کی لیکل شوی چی له هغه وخت څخه تر اوسه دوه نیم سوه کاله تیریږی، دغه کتاب داکبرد زوی جهانګیر پاچا په دوران کی خان جهان خان لودی د نعمت الله هروی په مرسته چی دده ملازم و کښلی دی. ده د خپل کتاب په مقدمه کی لیکلی دی چی «هغه (خان جهان) قطب خان مر مست خان ابدال، حمزه خان توخی، عمر خان کاکړ، ظریف خان یوسفزی چی دده ملازمان وو، افغانستان ته ولیږل، هغوی دافغانانو سلسله د نسب په ډیره ښه وجه تر لاسه کړی او دساول طالوت څخه رانیولی تر قیس عبدالرشید پوری یی دغه نسب نامه نوم په نوم په مفصل دول لیکلی ده.»

له دغی لیکلی څخه څرګند یږی چی دا نسب نامه د خان جهان لودی د ملا -
زمینو له قطب خان او لورو پـــه شفا هی بیان تکیه لری.
دی له پاره هغه څه چی پـــه مخزن افغانی کی د طبری، ه احمدی
مجمع انساب ومعدن اخبار، تار یـــخ ګزیده، تاریخ جهان کشاء په حواله
لیکل شوی په هغو کی په مطلق ډول د دغه سلسلی ثبوت له قیس عبد -
الرشید څخه وړاندی نه دی تـــر لاسه شوی او په شفا هی بیان عقل
چندان اعتماد نشی کولی. له دی امله کله چی قطب خان او د هغه نـــور
ملګری د دغه نسب نامی د لاس تـــه راوړلو له پاره راغلی وو، پـــه
هغه وخت کی د ساول طالوت لـــه مړینی څخه تر (دوه نیم) زرو کالو نو
څخه هم ډیره موده تیره شوی وه، نو باید بیله کوم تذکره ها وثیقه منل
شی چی دد ومره اوږدی مودی مفصله نسب نامه او مشرح حالات به پـــه
شفاهی ډول صحیح تر لاسه شوی وی، قطب خان او دده نور ملګـــری
خو قطبان او د کرامت خاوندان نه وو چی دخپل کرامت له مخی یی دامو -
ضوع درك کړی وی. هغه ســـړی چی د دغه قوم دود او دستور ســـره
اشنایی ولری نو ده ته به دا ښکاره وی چی په اوسنی وخت کی سره له
دی چی خلك عاقل شوی او هم لـــه نسب پیژندنی سره مینه پیدا شوی
ده هیڅ څوك به داسی پیدا نشـــی چی د دوه نیم سوو کالو خپله نسب نامه
په شفاهی ډول صحیح بیان کړای شی، نو څرنګه امکان لری چی پـــه
هغه وخت کی د دوه نیم زرو کالـــو نو څخه اوږده نسب نامه په شفاهی
ډول تر لاسه شی، که څوك داسی ادعا کوی چی دغه نسب نامه د کوم
کاغذ له مخی پیدا شوی ده نـــو دا هم د امکان څخه لیری خبره ده. دا
ځکه چی د افغان د (پښتون) قـــوم غونډی یو قوم چی په هغه بانـــدی
ډول ډول انقلابو نه راغلی وی څنګه کیدای شی د دومره اوږدو پیړیـــو
اسناد او لیکنی دی وساتل شی، په داسی حال کی چی هغه ډول سندونه
په ډیرو هوښیارو قومو نو کـــی هم لاس ته نه دی راغلی، او د هغه
خبری ثبوت نه په مخزن افغانی کی شته او نه هم تر اوسه پیدا شوی
دی.
د مخزن افغا نـــی کتاب د تا لیف او تصنیف علت څرنګه چی په خپله
مو ء لف لیکلی دی او هغه د دی لپاره د لته لیکل کیږی چی د هغه په مقصد
او مرام باندی رڼا هیږو، نو هغه علت دا دی چی خان جهان لودی
خپل احساس او غیرت دی ته وهڅاوه چی د خپل قوم او کورنی د مقام د

اوچت ښوولو له پاره د واقعیت په خلاف یو څه ولیکي خو زه عقیده لرم چي دداسي نفسا ني او با طنـي غوښتني له پاره باید له واقعـي لاري څخه منحرف نشو.

دا ځو گنده خبره ده چي د مخزن افغاني کتاب ځیني نقلو نه د کتاب د تصنیف د علت په باب، ممکن د کاتب لخوا غور ځول شوي وي ، خو په اصل کي یي واقعي سبب همداو. او هغه د مخزن افغا ني کتاب چـي ماته غلام حسن خان علي‌زی د کابل‌سرکار ایلچي د یوی معتبری کورني له کتا بخا ني څخه اخستي او ماته یي راوړی او اوس دلته زما مخکي پر میز پروت دی په هغه کي داسي‌لیکل شوی دی .

نقل په هماغه ډول چي په کتاب کي دی :

«ددغه کتاب د تصنیف علت دادی چي‌زمونږ د عا لیشا نه پاچا محمد ـ جها نگیر حضور ته دایران څخه یوایلچي راغی او د پښتنو انسل یـي له دیوانو څخه وکاږه او له یـو معتبر کتاب څخه یی په دی ډول بیان وکړ. چي یووخت د ضحاك پاچا ته داخبره ورو رسیده چي په لویدیځو برخو کي ځو تنه ښایسته ښځي په لار وهنو بوختي دي او ضحاك یـو لوی لښکر ددوی ملك ته ورولیږه‌خو د ښځوله لاسه یی‌ماته وخوړه، تر هغه وروسته ضحاك ددویم ځل له پاره یو لوی الښکر د نریمـان په مشری هغي خواته ولیږه تـر سختو جگړو وروسته د زرو پیغلـو په ور کولو سره سوله وشوه اوکله‌چي نریمان بیر ته راستون شو نـو د یوی غرني سیمی تر شنکه یی‌واړول‌په شپه کي یو دیو صورت اواهریمن سیرت سړی د غره څخه راښکته‌او یوازي یی د نریمان لښکری وتکو لي او هري خواته یی خوری کـړی.او له زرو پیغلو سره یی په یـوه شپه کي جماع وکړه. او کله چـي‌تښتید لي لښکری بیرته راټولي‌شوی نو ټولي ښځي حامله (امیند واره)وی کله چي ددغي پیښي خبر پاچـا ته ورکړل شو نوامر یی وکړ چـي‌ټولي ښځي دی په هما غه دښتـي کي ووژني، چي په ښارونو کي بـه ددوی له نسل‌څخه فسادونه راپورته شي، ویل کیږی افغان (پښتون) به‌دهغی اله نسل څخه وی. او کله‌چي ما دغه خبر واوریده نو احسا سات‌او غیرت مي راوپا ریده او ځو تنه پوه، هوښیار او د تجر بي خاوندان‌چي نومو نه یی په مقد مه کي‌راغلي دي د خپل لښکر له افسرا نو څخـه وگمارل او دجهان گوټ گوټ ته مي

ولیږل تر څو دافغا نانو د سلسله نسب په باب څیړنه او تحقیق وکړی چی بیا په دغه کتاب کی ولیکل شو.»

که څه هم د ایران پاچا ایلچی دافغا نا نو په باب روایت غلط او تر هغی اندازی بی بنیاده او لــه حسد څخه ډك دی چی حتی یو ماشوم هم وربا ندی پوهیدای او د هغه په خلاف فکر کولای شی. خو دخان جهان په شان یو پوه امیر ددغو دروغــو دردولو په ځواب کی له حده زیات خپل مقام اوچت ښودلی اوخود ستاییږی کړی ده کله چی ما دا موضوع ثابته کړه چی د مخزن افغا نی اساس په شفا هی بیان ولاړ او دمنځ تــه راتلو یو عامل یی پورتنی روایــت دی. نو اوس به د مخزن افغانی دهر یوه روایت په باب چی د څیړنو په بنیادکوم ثبوت لاس ته راغلی نو هغه به په مرتب ډول ولیکل شی، په دغه بحث کی که ځینی ټکی دکوم خود خواه سړی له روحیی سره برابرنه وی او لږ څه ثقیل ورته ښکاره شی نو مادی د حق پالنی له مخــی وبخښی، ددی له پاره چی موء لــف ته د خپلو څیړ نو څخه کوم نتیجه تر لاسه شوی ده هغه دقوم دروحیی د په پام کی نیولو څخه پرته لیکل شوی ده.

د لومړی روایت ځواب:

د حضرت یعقوب (ع) دزوی یهوداله مړینی تر اوسه له درو زرو څخه زیات کلونه تیرېږی او هغه تــه دصحیح نسب نامی ور رسول یو نا - شونی کار دی . او ساول طالوت دیهود اله نسل څخه نه و وګوری نهم فصل لومړی او دویم آیت د حضرت شمو یل پیغمبر لومړی کتاب، چی په هغه کی لیکل شوی چی ساول دقیس بنیامین زوی د یعقوب (ع) له اولادی څخه و، نو دا دلیل دخدای د کتاب دوینا د ثبوت له مخی صحیح نه دی.

ددوهم روایت ځواب :

د عهد عتیق او عهد جدید کتابونوله لوستلو څخه څر ګندیږی چی ارخیا او ارمیا دساول طالوت زامن نه وو اودهغو دځلورو زامنو نومونه چی یی د حضرت شمویل په کتاب کی لیکل شوی په لاندی ډول دی : یوناثان ، ابینا داب ، ملکیشوع اوایشبو ثت چی له دوی څخه لومړی ذکر شوی دری تنه دساول ســره د فلسطینیا نو د جګړی په وخت لی ووژل شول. وګوری یو دیرشم فصل له دویم آیت نه تر شپږم آیــت پوری د حضرت شمویل لومړی کتاب، ځلورم وروو یعنی ایشبو ثت پخپله بستره کی دخوب په وخت کی ووژل شو. لکه څنګه چی دشمویل ددویم

کتاب په څلورم فصل کی له پنځم آیت څخه تر اووم آیت پوری راغلی دی. همدا راز دحضرت شمو یـل ددویم کتاب د نهم فصل دلومړی آیت څخه تر پایه پوری لیکل شوی چی حضرت داؤد (ع) په دی ډول وپـو ـ هیده. چی یوه کورنی دساول (طالوت) نه پاتی ده چی له هغو څخه نا ثـا ن ابن ساول د پالنی او احسان وړ دی او د ساول دکورنی یو مریی چی صیبا نومید دهغوی دپلټنو له پاره راوغوښتل شو، هغه عرض وکړ چی دیو نا ثا ن ابن ساول طالوت یو گوډ زوی پاتی دی چی د هغه نوم مغیبو شـت دی. حضرت داؤد (ع) نو مـو ړی مغیبو شت راوغوښت او دخپلو مصا ـ حبینو په ډله کی یی شامل کړ او ډیره مهربانی یی وربانډی وکړه، نو د ډیر تعجب ځای دی که چیری دساول طالوت زامن ارخیا او ارمیا د داؤد (ع) وزیر الممالك او سپه سالا روای نو دغی پلټنی ته څه اړتیا موجوده وه او دا خبره جوته وه چی د داؤد (ع) د لښکرو مشر یعنی سپه سالار د صرویا زوی یواب و، وگوری شپږم ایت، اتم فصل د حضرت شمویل دویم کتاب.

ثابته شوه چی دمخزن افغانی روایت کوم بنیاد او اساس نه لری او هغه څه چی په دغه کتاب کی لیکل شوی چی د افغان پلار ارمیایو زړه ور سپه ـ سالار و چی هری خواته یی فتحـی تر لاسه کړی وی دغه خبره هـم پرته له یوه له خپل ځان څخه جوړی شوی فخر یه خبری څخه بل څه نه گڼل کیږی. دا ځکه چی ددرویشتم فصل له اتم آیت څخه ترنه دیر شم آیت پوری چی د داؤد (ع) د لښکر ودتور زنانو نو مونه لیکل شـوی په هغو کی د ارمیا او افغان د نومو نواثر هم نه لیدل کیږی.

ددریم روایت ځواب:

حضرت سلیمان (ع) هیڅکلـه دافغان په نوم کی سپه سالار نـه لاره او کله چی یواب د داؤد (ع) سپه سالار د سلیمان (ع) لخـوا ووژل شو نو په دغه وخت کی یـی دهغه پر ځای دیهویا داع زوی بنا یاه د لښکرو مشر وټاکه. وگوری دملوکو لومړی کتـاب دویم فصل پنځه دیر شم آیت.

د څلورم روایت ځواب :

د بیت المقدس د جوړولو حال په مشرح ډول دملوکو دلو مړی
کتاب دپنځم فصل څخه داووم فصل ترپایه پوری راغلی دی او په هغه کی دافغان
هیڅ پته نشته او د همدی کتاب په څلورم فصل کی له لو مړی آیت
څخه تر شپږم آیت پوری د حضرت سلیمان ددربار د مشرانو تفصیلات
راغلی دی چی په هغه کی هم دافغان نوم نه لیدل کیږی د همدی کتاب
په پنځم فصل کی د څوار لسم آیت له مطالعی څخه داسی څرګند یږی چی
دهغی دلی مشر چی بیت المقدس یی جوړاوه د عبدا زوی او ونیرام واودا
چی لیکلی یی دی چی دیوانو افغان ته دپښتو ژبه وښودله یوازی یوه خبره
ده او هم دا چی بیا دافغان شان او شوکت په پیریانو، انسانا نو
او اهر یمنا نو باندی جاری او دی د د بنی اسرا ئیلو ، روم او شام کی
داختیار خاوندو، دا یوه داسی خبره ده چی د فخر او خپل قدرت د
اوچت ښودلو له پاره جوړه شوی ده. که د افغان په نامه کوم سړی په
بنی اسرا ئیلو کی ژوند کولی نو باید هرو مرو دهغه نوم د بنی -
اسرا ئیلو په مقدسو کتابو نو کی او تواریخو کی ذکر شوی وی په
داسی حال کی چی اوس داسی کوم نوم په دغو کتابو نو کی نه لیدل
کیږی نو شتا یه دغو خبرو جوړو نکی هما غه قطب خان او دده د ملګرو
اشتبا هی بیان وی.

د پنځم روایت ځواب :

که چیری دافغان داولادی شیرپه هماغه اندازه ډیر وای چی په
مخزن افغا نی کی لیکل شوی نو دعهد عتیق په کتا بو نو کی چی
دبنی اسرا ئیلو د کورنیو نو مونه ذکر شوی دی په هغه جمله کی
باید هرو مرو د بنی افغان دکور نی نوم هم راغلی وای. همدا راز که
چیری په دغه نوم کومه قبیله په بنی اسرا ئیلو کی موجوده وای نو
د هغی نوم به هم په کی ذکر شوی وای، دالهی کتاب او شام تاریخ له
مطا لعی څخه څرګند یږی چی په بنی اسرا ئیلو کی هیڅ یوه کورنی
د بنی افغان په نامه موجوده نه وه، او څنګه چی په ربښتیا سره د بنی
اسرا ئیلو د هیڅ کورنی دنیکه نوم افغان نه دی نو بنی افغان هم
موجود یت نه لری.

د شپږم روایت ځواب :

که چیری دا ومنو چی د بابل پاچا بخت نصر په وخت کی چی د بنی اسرا ئیلو قوم یی له خپلی اصلی تاتو بی ځخه شړلی او له دوی ځخه دافغان قوم د غور په غرونو او ددغه ځای په نورو شاو خواکی را غلی او میشته شوی وی او بیایی دخپل زیا توالی په اثر ټولی غر نیسیمی نیولی وی د یولسم روایت له مخی چی په هغه کی لیکل شوی دی چی ټول صحیح النسبه افغا نان دقیس عبد الرشید اولاده دی نو دا سوال را منځ ته کیږی چی هغه زیات شمیر افغا نان چی دقیس عبد الرشید له پلرو نو او نیکو نو سره را غلی وو. اوس چیری دی، او څنګه چی دقیس عبد الرشید داولادی نه پرته چی له دریو زامنو څخه یی دپښتانه قوم دری لوی ښاخونه یعنی سړبنی غور غشت (غرغښت) او بیټنی منځ ته راغلی او مشهور دی چی د لودی او غرزی ښاخونه د قیس دزوی بیټنی لمسی دی، او کرړانی یا کرلانی د عبد الله اور مړ متبنی (په زوی توب نیولی) زوی او د سړبنی لمسی اولادی نه پرته کومه قبیله یا قوم په افغا نستان یا په کوم بل هیواد کی د پخوانی نسب نامی له مخی نه افغا نان (پښتا نه) بلل کیږی او نه افغا نان شته. نو ددغه سوال ځواب دادی چی د قیس عبد الرشید له نسل څخه پرته نورافغانانچی له ده سره وو د غور په غرونو کی له منځه ولاړل، خو حقیقت داد ی چی نور څوک له ده سره نه وو نو له دغه دلیل نه ځر کند یږی چی دغه روایت هم صحیح نه دی او له ځان څخه یی جوړ کړی دی.

د اووم روایت ځواب :

کله چی داعرا بو تاریخ مطالعه شی د کوم شك او تردید څخه پرته دا جو تیږی چی خالد دولید زوی په اصل کی قریش دی، خو څنګه چی دی دیر زړه ور سپه سالار و او دمغه نوم په لویدیځو ملکو کی د شام د نیو لو او نورو سوبو له امله دیر مشهور دی نو ځکه د مغزن افغا نی لیکوال هغه افغان بللی دی او ددغه کار څخه دده مقصد دا وچی افغا نانو (پښتنو) ته د پیغمبر، پاچااو امیر سره د خپلو قومی ریښو کتول د افتخار ځای دی، چی په زړه پورې توګه ولیکه، لکه څنګه چی د ایرانی ایلچی اعتراض ردکړی او له بله پلوه د ځالد بن ولید سره د خپل نسب په ګډ ولو او د

هغه په صفت کولو سره خپل نسب لوړوښیي ، په داسی حال کــی چی خالد قریش و، **د مخزن افغا نـــی** دلیکنی ځخه دا په واضح ډول ښرـ **گند یږی چی تر اوسه ډیر افغا نان(پښتانه) خپل ځان د خالد بن ولید له نسل ځخه گڼی، نو دلته بایدفکروشی که چیری مشهور عرب سردار** خالدبن ولید افغان وای نود هغـــه کور نی اویا په خپله دی به اعرابو افغان بللی وای .

د اتم روایت ځواب :

د پور تنیو ځوا بو نو ځخه ښرگند یږی چی ددغه نسب مسئله له اووه ډیر شپم پښت ځخه تر پنځه شلو پښتم پښت پوری جوړه شوی ده خو دساول دنسب د شجری له لیدو ځخه چـــی د عهد عتیق په کتاب کی د حضرت ابرا هیم خلیل الله پوری په متفرق ډول راغلی ده ښرگند یږی چی دمخزن افغا نی نسب نامه باطله او غلطه ده.

دساول طالوت له زمانی ځخـــه دحضرت محمد (ص) تروختره پوری چی قیس عبدا لرشید د هغه سره په یوه وخت ژوند کاوه تر (۱۶۰۰) یو زرو شپږو سو کالو ځخه لږ څه زیاته موده تیره شوی وه او (۳۷) اوه دیرش پښتـــه د دومره اوږدی مودی له پاره خورا کم دی او ددغه نسب نا می په باب د مخزن افغا نی له روایت نه پرته تر اوســه د داډ ور هیڅ کوم ثبوت او سند لاس ته نه دی راغلی .

د نهم روایت ځواب :

د اعرابو د تاریخ او همـدا راز دحضرت محمد (ص) دوقایعو له مطا- لعی ځخه چی د حبیب السیر په نوم معتبر تاریخ کی یی په مفصل ډول ذکر راغلی ښر گند یږی چی د قیس عبدالرشید په نوم کوم دی تـه د مهاجرو او نه دانصارو په ډله کـــی شته او نه کوم ثبوت شته چی حضرت محمد (ص) چاته دملک خطاب کړی وی دلتـه سوال پیدا کیږی که چیری فرضاء حضرت محمد (ص) افغا نانو (پښتنو) ته ملک خطاب کړی وای نو په ملیار اواوان او نورو هندی قومونو کی چی د کلی معتبر عموماً دملک په نامه یا دوی. نو هغوی ته دا خطاب چا ورکړی لکه ځنگه چی په اوسنی وخت کی ملک فیروز ملیار، ملک جلو ، ملک شرفو او نور دملیار له قوم ځخه او ملک فیضاء او نـــو راوان قبیلی مشرانو او معتبرا نـــو ته د ملک خطاب کیږی نو په دوی هم دا ادعا کوی چی زمونږ نیکو نـــو ته هم حضرت محمد (ص) د ملـــک خطاب ور یدی . ښر گند یږی چی د

ملك خطاب يو رسمي تعريف دي چه د کلي د مشرا نو او معتبرا نو لـه
پاره راځي چي په ځينو نورو سيمو کي د دوی له پاره تمبر دار ، چودري
يا مقدم کلمي هم استعما لوی چـي د دغو ټولو کلمو مقصد يـو دی او
غالباً به ملك به دما لك د کلمي لنډيزوی . يعني د کلي مشر او داسـی
اتکل کيدا ی شي چي دغه کلمـه د سلطان محمود غز نوی له و ختـه
مروجه ده تر هغه وړاندي په کوم تاريخ کي د کلي يا قريي د مشر له
پاره د ملك د لفظ استعمال نـه دی ليدل شوی . تر هغه وروستـــه
ترکی غلاما نو او نورو سر دارانو ته هم ملك ويل کيدل . د تاريـــخ
فرشته له مطا لعی څخه دا سی ښکاري چي د هند په دربار کـــی
د ملك کلمه د افغا نا نو پر ته نورو ديرو ملا زمانو او اميرا نو تـــه
استعما ليد له نو ويلای شو چـــی دغه کلمه يوازي په افغانانو (پښتنو)
پوري منحصره نه ده او په قرآن مجيد کي ساول طالوت ته دغه کلمه استعمال
شوی ده او لام يې زير لري د هغـه ملك څخه مقصد پاچا دی او هغـــه
بايد له دغي کلمي نه بيله وګڼل شي

د لسم روايت ځواب :

د عربي لغا تو له مخي نو څخــه ښکاره يږي چي دوی هيڅ ، لر کی د
بطان په نامه نه يادوی که فرضاً بطان داسی لر کی هم وی دد غـــه
خبري ثبوت نه شته چي حضرت محمد (ص) به قيس عبد الرشيد تـــه
د پټها ن لقب ور کړی وی .

د حضرت محمد (ص) د پيښو له مطا لعی نه هم څر ګند يږي چـی د
حضرت محمد (ص) په پاکو عاد تونو کي دغه عادت هيڅ نه و چي د پاچـا
هانو په شان دی چا ته د نيايي القاب او نور نوموته ور کړی وی ، بر سيـره
پر دی دا به هر چا ته ښکاره وی چي افغا نانو (پښتنو) ته د هنـــد
خلك يا هغه خلك چي د سند رود په ختيځ کي پرا ته دی پټهان وايي ، مګر
افغا نان په خپله يو بل ته د پټها ن کلمه نه استعما لوی او په نورو
لويديځو سيمو کي هم په دغه نامه نه بلل کيږی . که چير ی د پټـــها ن
کلمه حضرت محمد (ص) استعمال کړی وای نو طبعاً به دغه کلمه د
لويديځ لخوا راغلي او پخپله دغـه خلکو به هم تبرکاً ځانو نه پټهان
بلل ، نه چي د هندو ستان خلــك دوی پټهان وبو لی او هم اعرابـــو
چي د دوی له ملك څخه دغه لقب راغلی بايد دغه کلمه استعما لولی
نه د سليماني ، او يا زموني په عصر کي د سند رود ختيځ خواته اکثره

خلك هغه چاته چي په پښتو خبري‌کوي او له افغا نستان نه راځـــي روهيله او راشه وايي، چي دروهيله کلمي‌څخه مقصد داو ه‌دملك اوسيدو-
نکي او د راشه کلمه ځيني افغا نان(پښتا نه) د توا ضع تکريم اوخوشا-
مد له پاره استعما لوي او کله چـي ديوه بل کره ځي راځي نو وايـــــي
چي راشه او دغه کلمه دهن کلـه راشي کلمي اختصار دی ، نو آيـا د
پښتنو ، څو پښته وروسته نســــل‌به دا ادعا وکړای شي چي مونـږ
ته دروهيله او راشه خطاب کـوم‌پغمبر يا غوث را کړی دی، نو پسـه
همدی دول د پتهان کلمي په باب‌هم بايد داسي ادعا ونه شي.

دپښتان دکلمې دتسمیې وجه

که څه هم په یقینی ډول معلومه نه ده، مګر په دی کی شك نشته
چی ددوی دژبی اساس اوبنیاد هندی ژبه ده . په تاریخ فرشته کی کښل
شوی دی ، کله چی داسلامی پاچایانو په وخت کی دغه خلك دلو مړی
ځل لپاره هند ته راغلل نو پــــه پټنه کی میشته شول له همدی کبله
دهند خلکو به دوی ته پټهان ویل :داسی فکر هم کیږی چی بنایی ددغه
کلمی اساس دبټان څخه اخیستـــل شوی وی، څرنګه چی دغه خلك له
لویدیځ لوری څخه راغلی وو نــــو دغه ځای پخوانی اوسیدو نکی یـــی
بیدخله (بی و اکه)کړل او هغــوی پخپله ژبه کی دوی ته پټیټه ان ویل
یعنی انګر پټنی چی دبید خل کونکی او بربادوونکی معنی لری چی تراوسه
هم د سند ساګر په دوآبه کی بـــر بادولو ته بټها وایی چی د زیـــاد
استعمال په وجه دپټه ان دکلمو نه پټهان جوړ شو، همدا راز د قیـــس
عبد الرشید زوی بیټن نومی چی دهغه لمسیان (د لودی قبیلی) دتولو
افغا نانو (پښتنو) نه مخکی پــــه هندو ستان کی شهرت وموند نوهغه
ته به هندو ستا نیا نو د خپل ژبنی تصرف له کبله بټهان ویل، یعنی
دبیټن اولاده . لکه چی د پو هــــی او بصیرت خاوندانو ته څرګنده ده
چی دداسی الفا ظو تصر یف او تبدل دیوی ژبی نه بلی ژبی ته دیـــر
لیدل کیږی نو ځکه د موء لف له پاره بادو لو ته بټنها وایی چی دزیـا د
د لفظی تصـر ف نــه پر تــــــه بله کومه معنی او وجه نلری . *

---

* دپټنی حیات خان د دغی نظریی ملاتړ د تعلیقا تو په برخه کی وګوری

دپښتون دتسمیې وجه

دپښتون دکلمې دتسمیې وجه د یوه معتبر او باوري روایت له مخې داسې
ښودل کیږي چې پښت دیوې سیمې نوم دی چې په غور کې موقعیت
لري او په لومړي سر کې ددغه قوم لوی نیکه قیس عبد الرشید
په کې استوګنه درلوده . دپښت په سیمه کې د اوسید لو له کبله
مغه خلك دپښتون په نامه یاد ی مشهور اودژبې نوم یې هم پښتو
کیښنو دل شو یا دا چې پښتون چې پشته ته منسوب دی چې دغو ندی
په معنی دی له دی کبله چې دغه خلك په غرنیو سیمو لکه غورات ،
سلیمان غر یا کسی ، په غره کې اوسیدل نو ځکه دغه قوم د لږ لفظي تصرف
په وجه په پښتون سره ونومول شول ،له دې کبله درومیله او پښتون تر
منځ ډیر مطابقت شته . نو په دې اساس د پښتون معنی غرنی
دی .

دافغان دکلمی دتسمیی وجه

لکه څرنګه چې مخکې وویل شول دمخزن افغانی دروایت له مخې ددې قوم هیڅ مورث (نیکه) افغان نه و چې دافغان دتسمیې وجې علت وګڼل شي . دغه کلمه ډیره پخوانی نه ښکاری او ددې کلمې اساس فارسي ژبه ښو دل شوی ده دا خلك پــــه خپله پښتو ژبه کی ځانته هیڅ کله دافغان کلمه نه استعما لوی بلکې خپل اصل پښتون او یا پختــــون ته منسو بوي. داسې یې قیاس کړی که چیری ددی مورث (نیکه) افغان نو میدای او د هغه په سبب د ده اولاده په افغان باندی مشهوره شوې وای نو پخپله یې هم ځانونه افغان بلل نه داچې دبلې ژبې خلك دوی په دغه نامه بولی، دا یوه څرګنده خبره ده چې دنیکه نوم داولادی له نامه سره ښه ارخ لګوی او پوره تنا سب ورسره لری خو دا یو دلیل دی چې د افغان کلمه له بلې ژبې څخه راغلې ده .

په تاریخ فرشته کی دافغان دتسمیې وجه په دې ډول لیکل شویـــده:

((کله چې دغه قوم په (۱٤۳) هجری کال د پیښور په شاو خـــوا سیمو یر غلو نه وکړل او دغـــــه سیمې یې ونیولې نو د لاهور راجا یعنی هغه څوك چې ددغو سیمـــو څښتـــن و د هغوی مقابلې تـــه یـــې

یو فوځ ولیږه‌چی ددوی تـــر مینځ خـــز جـــګړی پیښی شوی او دکابل ،غور خلــ-----چ**مسلما نان د افغا نا نو مرستی ته** له‌دی کبله راغلل چی‌له دوی‌سره **په دین کی شریك وو، کله چـــی** د پنجاب د راجا پوځ بیر ته ښتـــو ن اوهم دکابل او خلج خلك چی دافغا‌نا **نو مرستی ته راغلی، وو بیر ته‌خپلو ځایو نو ته ستا نه شول نـــو** هر چا به چی له دوی **څخه** پو ښتنه وکړه چی دکوهستان د مسلمانا نو **احوال څه ډول و نو هغوی به پـه** پارسی **ژبه** کی **داسی ځواب ورکاوه** چی **د** (کوهستان **میگو** ئید **افغـــا**نستان بگو ئید که به جز فغان به معنی فریاد و غوغا دران جا چیــز ی**دیگر نیست**) . **نو له دی کبلــه** خلك هغوی ته افغان او ددوی ملك‌**ته افغا نستان وایی.***

دیوولسم روایت ځواب:

که څه هم دغه روایت د مخزن افغانی له نورولیکنو سره **تو پیر لری خو له اوسنیو حالاتو** ســـره دغه روایت حقیقت ته نږدی ښکاری.

ددولسم روایت ځواب :

ښایی دا کفایت وکړی چی داجوړه شوی کیسه د کوم ثبوت او دلیـــل **نه پرته پرو سږ کال لیکل شوی ده‌او پورتنی** راوړل **شوی ځوابو نــه** چی **د عهد عتیق کتاب په استناد‌لیکل شوی د هغه له مخی جو تیږی** چی **حضرت سلیمان (ع) هیڅ افغان**مصاحب نه لاره چی د هغه سره په **دربار کی په پښتو ژبه رازونـــه** ووایی . دالهی په کتاب کی داثابته شوی ده‌چی د حضرت سلیمان (ع)**غوندی پوه** ، علم‌او پاچاهی بل هیڅ **چاته نه وه تر لاسه شوی فرضـاءکه چیری د حضرت سلیمان خـــاص** رازونه او سلطنتی چاری په دی‌ژبه رسیدلای نو ددی ژبی دقوا عدو کوم **کتاب خو به ترتیب** شوی **وای اوهمدا راز د افغا نستان څخه پرته به** په نورو هیوادو نو لکه شام یاعربی‌نړی کی **چی هلته بنی٘ اسرائیل ډیر** دی ددی ژبی کومه نښنه نښنا نـــه موجوده وای نو دا هیڅوك نه شـــی **ویلای چی د حضرت سلیمان تول‌مصا حبین به** د **بیت المقدس څخه** **دامان او‌افغانستان ته راغـــلی او**میشته شوی وی او یوازی په دغـــه سیمه کی د پښتو ژبی خپر یـــدل دا ښیی چی‌دغه‌روایت **دخپل‌ځان‌له پاره‌د** افتخار حاصلولو په منظور منځ ته‌**راغلی دی .**

---

* **دافغان کلمـــی تا ریخی یادو نی‌دتعلیقا تو په‌برخه کی وگو ری.**

د پښتو ژبې اساس

څرګنده ده چې ددې ژبې اساس ډېر پخوا نۍ نه ښکاري او د اوسنی پارسي ، پهلوي او پخوانۍ ژند(زند)ژبو له یو ځای کیدو څخه دغه سخته ژبه مروج شوې ده،داژبه داوریدونکو په غوږو بده نه لګیږي ، خو لږه زیږه ده، هغه څوك چې ددې ژبې سره څه نا څه پيژندګلوي ولري دا خبره به ومنې چې په دې ژبه کې دپارسي ژبې اکثره کلمې په لږ تغییر او ځینې یې بې دلهجې له تغییر نه په کې موجودې دي. لکه څرنګه چې الفنستن په خپل کتاب کې ليکلي چې د پښتو ژبې دوه سوه اتلس کلمې چې په نورو ژبو کې هم مطلب په هماغه ډول افاده کوي. دلاند نيو ژبو سره پرتله شوي . پارسي ،ژند(زند) پهلوي سانسکریت، هندو ستاني ، عربي، ارمني ،جورجياني، عبراني او بابلي چې له هغه جملې څخه یو سلو لس کلمې د یوې ژبې سره هم مطابقت نه لري پاتې نورې يې اکثراء پارسي دي ، ځینې نورې یې له پهلوي او د ژندنه پارسي ته راغلي دي خو ځینې داسې وي چې پخپله دپهلوي او ژند (زند) وي ځینې کلمې په سانسکریت کې موجودې وي او پنځه یا شپږ یې د هندي ژبې څخه راغلي وي همداراز عبراني ژبه چې دبنی اسرائیلو لو مړنۍ ژبه ده د هغې سره یې یوې کلمې هم مطابقت نه لاره کله چې

مؤلف (حیات خان) سل‌هم معنـــی‌کلمی د پنجا بی ژبی سره پر تله کړی نو د هغو ځخه فقط پنځه یـــاشپږ کلمی په پنجا بی کی وموندل شوی . ددی دلیلو نو ځخه دغـــــه نتیجه لاس‌ته راځی چی پښتو ژبه د بنی اسرا ئیلو په ملك کی منځ‌ته نه ده راغلی . د پښتو ژبی هغه برخه چی د مذهب سره تړلی ده‌هغه دعربی نه ورننوتی ده .اردو ژبـه چی د پارسی، هندی او عربی ژبـو‌دیو ځای کیدو نه جوړه شـوی ده . نو په هغی باندی هندو ستانیان‌دعوه‌نه کوی چی د کوم پیغمبر یا پا چا درازو نو د ویلو په سبب منځ تـــه راغلی ده او دا خبره بیخی سمـــه نه ده چی عرب، افغانانو‌ته د حضرت‌سلیمان سره د مصا حبت په وجـه سلیما نی وایی. دا ځنګه کیدای شی چی د حضرت سلیمان (ع) ټول مصاحبین افغا نستان ته راغلی وی، که‌دا ژبه دحضرت سلیمان دمصاحبینو پوری مربوطه وی نو په نوروهیوادو‌کی هم باید بنی اسرا ئیلو تـــه سلیما نی وو‌ایی . د سلیمانی کلمی‌ځخه دا جوتیږی چی دسلیمان غر ه ځخه اخستل‌شوی چی په دغه هیوادکی مو قمعیت لری. او عربان ددغــه ځای اوسیدو نکو ته سلیمانی وایی‌که نه‌نو بل‌علت یی‌ځرګندنه دی . ګردی خیری ، لوړی پوزی او جګــی‌ونی له چا ځخه بنی اسرائیل نه شی جوړولی او ټول افغا نان هم دغـــه خصوصیت نه لری .او کـه دغــه ظاهری بنیه وکولای شی د چا نه بنی‌اسرا ئیل جوړ کړی نو په ازبیکـو ایماقو، ډهونډ او کړرال کـــی هم‌ډیر خلك د بنی اسرا ئیلو په شان دی او هغوی هم باید بنی اسرا ئیل‌و‌ګڼل شی .

د پوړ تنیو دلایلو له مخـی زه د الفنستین چی‌مشهوره پوه‌او د علـم خاوند انګر یزو ددغی خبر ی سـره‌موافق یم چی‌په خپل کتاب کی یـی لیکلی دی . چی د پښتنو بیان ددوی‌د نسب په باب غلط دی او داســـی ښکاری چی دوی د بنی اسرا ئیلـــو له کتابونو نه ځینی معلومات انتخاب او پخپل کتاب مخزن افغا نی کی یی ددغه مقصد له پاره لیکلی چـــی خپل ځانو نه له پیل ځخه په هغوی باندی ورګډ کړی ، په دغه خبره کی هیځ شك نشته چی د حضرت عیسی (ع) د زیږیدنی ځخه اوه سوه یـــو ویشت کاله پخوا د اشور پاچا ها نو‌تګلت پلسر اودهغه زوی سلمنا ــ صر د بنی اسرا ئیلو او یهود یا نو‌په پاچا هی یر غل وکړ او له هغوی ځخه یی ډیر خلك ووژل تر هغه لږځه وروسته بل فاتح بابلی بخت‌نصر

هم بنی اسرا ئیل گرفتار او د حضرت دانیال پیغمبر سره یی بابل ته بو ــ تلل او د بنی اسرا ئیلو له دولسو قبیلو نه لس قبیلی یی ختیځ خواته لاړل او دوه قبیلی یی چی یهودا او بنیامین نومیدل بیرته ولاړل ، لــه دغه کبله ممکنه ده چی قیس عبدالرشید د هغو پا تی اسرا ئیلــو نه د چا اولادوی مگر د دغه دلیــل ثبوت بیخی نشته او دا په پوره ډاډ سره ویلی شو چی د ساول طاوت له اولا دی څخه نه دی ، نو مقصــد

دا دی چی په دغه باب تر اوسه کوم د ډاډ وړ او باوری پخوا نی تار یــخ نه دی ترلاسه شوی .

د پښتنو سره د خالد اړیکې

دا خبره بیخي غلطه ده چې دولید زوی خالد بني اسرائیل او هغه
د افغانا نو (پښتنو) موءرث اعلی (لوی نیکه) وی.
لکه څرنګه چې مخکې ولیکل شول چې دی د عبدا لشمس د قبیلې او
په نسب قریش و، ډیوه معتبراو باوري روایت له مخې داحقیقت څرګند
یږي کله چې قیس عبد الر شید مدینې منورې ته لاړ او مسلمان شو
نو په هغه ، وخت کې یې د ساره بنت خالد بن ولید سره نکاح وکړه چې
د هغې څخه سړ بن ، غور غشت (غر غښت) او بیټن وزیږیدل چې
هغوی د صحیح النسبه افغانا نو (پښتو) نیکونه دی ، له دې کبله
خالد مور له خوا دپښتنو نیکه دی نه دپلار له طرفه .په دې ډول څر-
نګه چې الفنسټن په خپل کتاب کې لیکلي دي چې د افغانا نو دقوم نسبت
دومره مختلف او بیل بیل روایات لري څومره چې د مصر دفرعو نانو د قوم
قبطیان یې لري . دداسې مختلفو روایتو نو د شتوالي په سبب دغه
لیکنه سمه ده چې وایي ددوی اوسنی مقبو ضه سیمې او موجوده حال څخه وړاندې
هیڅ صحیح پته نشته ، له تیر وزما نو څخه که چیرې مونږ ته کوم
قیس عبدالرشید تر وختونو پورې تار یخي اسناد رارسیدلي دي هغه د
رسیږي چې د هغه له دریو زامنو څخه مختلف ښاخو نه منځ ته راغلي

او د افغانستان په بیلو بیلو برخو کی میشته دی او ټول روایات په دغه باب سره یو دی چی په لومړی سر کی ددوی اولاده د غور په غره کی اوسیدل، ترڅه مودی وروسته دسلیمان غرونو ته راغلل.
دسلیمان غرونوقطب او سهیل خواته غرونو کی تر ډیرو لیری ځایونو، پوری خواره شوی‌دی کله چی په (۷۰۵) عیسوی کال عمادالدین محمد قاسم اسلامی سپه سالار د سند دنیو لو له پاره راوخوځیده نو په هغه وخت کی حجاج د خراسان دسواو کله چی هغه مسلمانان دسند هم څو تنه ددوی سره یو ځای ووبی حاکم و ، دده په امر ددغه قوم له لاری ملتان ته راغلل نو دلته میشته شول څرنګه چی ددوی شمیر زیات و دسلیمان غرونو شمال خواته دغرنیو سیمو ډیر ځایو نه یی ونیول* . د تاریخ فرشته درو ایت له مخی دغه خلك داته سوه او نه سوه (ع) کلونو تر مینځ دلویدیځ افغانستان په ختیځ او شمالی غرنیو برخو کی اوسیدل خو ددغه هیواد دلویدیځی برخی زیاتره اوسیدونکی دسامانی دو لت تر سلطی لاندی وو .

په پیښور باندی یرغل :

په هغه وخت کی دغو خلکو د پیښور پر پولو یرغل وکړ او د لاهور راجا چی پیښور یا بګرام هم دده دواکمنی په قلمرو کی شامل و او د اجمیر له راجا سره یی خپلوی لرله ،څرنګه چی ددوی، یرغل یی ضعیف وباله نو خپل یو سردار یی د زرو تنوسپرو په مشری ددغه یرغل دټکولو له پاره راولیږه خو افغانانو (پښتنو) دیوی جګړی په ترځ کی ده ته ماته ورکړه او دپنجاب پوځ ته یی ډیر زیان ورساوه. کله چی دلاهور راجا دغه خبر واوریده نو د خپل وراره په مشری یی دوه‌زره سپاره او پنځه زره پلی پوځ یی دافغانانو (پښتنو) دټکولو له پاره راولیږه . دغه ځل دغور، کابل او خلج خلك‌چی مسلمانان شوی و و دپښتنو مسلمانانو مرسته یی په ځان لازمه و ګڼله او څلور زره کسه یی د دوی مرستی ته راواستول چی ددوی په کمك دغه خلك بریالی شول او کله چی ژمی پیل شو نو هغه وخت دلاهور را جالښکر بیرته راستون شو او دپسرلی په را تلو سره بیا دلاهور دراجاورا ره پیښو ر

---

*وګوری د تعلیقا تو برخه

ته راغی له بله پلوه افغانانو(پښتنو) هم له دوی سره دجګړی له پاره دخپلو مرستندو یانو سره د جنګ میدان ته را ودانګل د جمرودلو پېښور تر منځ سخته جګړه پیښه شوه مسلمانانو دوی تر پیښوره پوری شاو تمبول ، کله چی د برسات موسم پیل شو په هغه وخت کی دپنجاب لښکری بی له دی چی بریالیتوب هیڅ یوی خواته ورپه برخه شوی وی، د نیلاب دریاب له ویری بیرته پنجاب ته وګرځیدل . دلته افغانانو (پښتنو) د نیکمرغی څخه یوه بله پیښه هم د دوی په ګټه منځ ته راغله په دی ډول چی دګهکړ له قبیلی سره چی دسند ساګر په دوابه کی میشته وه دلاهور دراجا مخالف او دهغه په ضد راپور ته شول او په دغه لارکی یی دافغانانو (پښتنو) پیروی کړله تر څو دغه را جا له پښتنو سره سوله وکړه او دپیښور شاو خوا لمغان (لغمان) یی افغانانو (پښتنو) ته په دی شرط ور کړل چی دپولو ساتنه وکړی او پری نږدی چی داسلام لښکری هند ته ور ننوځی.

په دغه وخت کی افغانانو دپیښور په غرنی سیمه کی یوه کلا جوړه کړه او دخیبر نوم یی ور باندی کیښود دسامانیا نو په دوره کی دوی داسی تدبیر و نیوه چی دسامانیا نو لاس لاهور ته ونه رسیده تر څو دغزنوی واکمن الپتګین ته په لاس ورغله او څرنګه چی په لومړی برخه کی وویل شول چی دده سپه سالار سبکتګین په پیښور او ملتان یرغلونه وکړل . مریان او وینځی یی ونیولی او له ځان سره یی غزنی ته بوتلل او څرنګه چی افغانانو د الپتګین له لوی پوځ سره دمقابلی توان نه لاره نو ځکه یی راجا جیپال ته د الپتګین دسلطی خبرور کړ . په دغه وخت کی راجا جیپال داسی فکروکړ څرنګه چی د پنجاب لښکر د سړو او نورو تکلیفونو له امله سرحد ته نشی تلای نودراجا بهاطیه په سلا یی شیخ حمید لودی چی په افغانانو کی دواك خاوندو وروغوښت او هغه ته یی دامارت منصب ورکړ اودسرحد ی چارو دانتظام له پاره یی وګماره، له دغی ورځی څخه افغانان (پښتانه) درتبی څښتنان شول . شیخ حمید په سرحد کی یوه اندازه انتظا مات منځ ته راوړل خو کله چی الپتګین مړ شو او ځای یی سبکتګین ونیوه نو شیخ حمید جګړه په خپل زیان وګڼله او ځان یی دسبکتګین خیرخواه وګاڼه.

دجیپال ترماتی ور وسته سبکتګین شیخ حمید تسلی کړ او د وخت د غوښتنو سره سم یی دملتان سیمه ده ته په جاګیر

ورکړه خو سلطان محمود غزنوي دخپل پلار په خلاف یاغي افغانان و تکول او هغه چې تابع وو دده سره ملازمان او په خدمت بوخت شول ،

داسې روایت موجود دی چې ډیر افغانان (پښتانه)د محمود غزنوي او نورو غزنوي پاچا یانو په پوځ کې شامل ؤ او همدا راز دسلطان معز الدین محمد په پوځ کې چې دسلطان شهاب الدین غوري په نوم هم یادیږي ډیر افغانان (پښتانه) موجود وو .او په هند باندې دیر غل په وخت کې دافغانانو (پښتنو) لښکرو له ځانه ډیره میړانه وښودله .د شهاب الدین غوري د سلطنت په دوره کې دده دمدار المهام (وزیر اعظم) په حکم دافغانانو (پښتنو) اکثره قبیلې دسلیمان او نورو غرنیو سیمو څخه وشړل شوې او دسند دریاب ترغاړو پورې سیمې یې په خپله قبضه کې را وستې .

دسبکتګین او محمود غزنوي څخه نیولې ترشهاب الدین غوري داسلامي پاچا یانو یرغلونو ددغه ملک ډیر پخوانې اوسیدو نکې چې د اسلام له سره یې مخا لفه عقیده لر له تباه او یا له ملک څخه وشړل شول او اکثره یې دسند رود نه واوښتل او په ختیځو غاړو کې میشته او ځینې یې هم په غرنیو سیمو کې خواره واره شول او هغه خلک چې په دغه وخت کې کم زوري وو لکه سواتي، لغماني ، تیرايي ،دیګان او نور په خپل ځای پاتې شول مګر کله چې بیا افغانان د زور او قوت خښتنا ن شول نو په تدریج سره یې هغه ټول ملکونه بیرته ونیول کوم چې اوس ددوی په لاس کې دي . د دښمن کم زوري کیدل او د اسلامي پاچا ها نو دمرستې نه پرته یو بل علت چې دوی د نورو قومونو سیمې ونیو لې داو چې د دوی ذفرقو او قبایلو شمیر زیات شو نو دسلیمان او نوروغرنیو سیمو څخه و وتل او دنورو ملکو نو د نیولو تکل یې وکړ او دلته د دوی له پاره دوی لارې موجودې وې یا مرګ یاد ملکونو لاندې کول په دغه ترتیب کله چې به یوې قبیلې خپل ملک پریښود او وړاندې تګ به یې وکړ نو بله قبیله به راغله اودهغه قبیلې ځای به یې ونیوه نو دلته دلومړنې قبیلې بیرته راتګ نه یوازې سخت بلکې نا شونې کار و، برخلاف ددوی مخالفو قومونو ته بې ضرره هیڅ ګټه نه وه داځکه چې که دوی ماته کړې وای نو خپل ملک یې له لاسه ورکاوه که مقابل لوري ته یې ماته ورکړې وای نو داواره قبیلو څخه هیڅ په لاس نه ور تلل

دا ځکه چی په دغه وخت کی دوی‌نه کومه شتمنی لرله اونه ځمکه.

ددوی د لومړنیو لیږدیدلو څخه تر اولسمی (ع) پیړی پوری څومره تغییر او تبدیل چی ددغه قوم په اکثر و ښاخونو په تر لاس لاندی سیمو کی راغلی دهغه بیان په مشرح ډول دلته دبحث د اوږد والی په سبب سخت او ناممکن کار دی. خووروسته د ډیرو ښاخونو د واقعاتو دبیان په ترخ کی دقوم حالات او واقعات هم لیکل شوی دی.

مغلی پاچا هانو چنگیز خان اوګوډ تیمور دغه خلك لاندی نکړای شول خو محمد بابر پاچا تقریباً ټول افغانان (پښتانه) چی دافغانستان په ختیځو یا لو یدیځو سیمو کی میشته وو دتوری په زور رعیت کړل، د باجوړاوسوا تر نیولو وروسته د پیښور او کوهاټ له لاری بنو او دیره‌اسمعیل‌خان پوری پخپله بابر پاچاوګرځیده او افغانانو (پښتنو) ته یی داډ ور کړ خو دمغولو نیت دافغانانو (پښتنو) په باب چندان ښه نه و نو ځکه به په دغه وخت کی ډیر بغاوتونه منځ ته راتلل.

دهندوستان په ملک کی آبادی

په ددغه ملك كــي ددوی دآبادی سبب دادی کله چی دغه
قوم دلومړی ځل له پاره دهنــدوستان لو يد یځو پولو ته راغلل نو
اکثراً به یی دسوداگری په منظور او ځینو یی د دولتی چارو په سبب
هندوستان ته تګ راتګ کاوه په تیره بیا دفیروز شاه بار بك په
زمانه کی اکثره افغانان (پښتانه) چی په نظامی چارو کی مشهور او
جنګیالی ځوانان یی لرل دشاهی امیرانو په پوځونو کی داخل شول
ځرنګه چی د افغان (پښتون) قوم یو خپلو اکی غو ښتونکی قوم او زړ
ور توب د دوی یوه طبیعی خاصه ده له دی کبله په ډیرو جګړو کی
دوی له ځانه شجاعت او میړانه وښوو دله نو ځکه دوی ډیر مشهور
او ددغه زړه ور توب په وجه دوی ته لوی لوی پوځی منصبونه
ورکړل شوه . تر دغه وروسته کله چی په (۸۵۵) هجری کال کی بهلول
چی د پښتنی لودی قبیلی شخه دهندوستان واکمن شو نو دخپلی
واکمنی دپیاوړ تیا له پاره یی افغانستان او دروه ملك ته یو د
پیرز وینی فرمان صادر او ډلی ډلی افغانان (پښتانه) هغی خواته
ولیږدیدل او هلته میشته شول ، ځرنګه چی نوموړی خلك په خپل
ملك کی د شمیر د ډیر والی په وجه غریب وو په هندو ستان کی
دمال او عزت خاوندان شول چی دهندو ستان په هره ضلع کی
افغانان میشته شوی وو . او تر هغه وخته پوری چی د هندو ستان

واکمنی د بهلول او افغان سوری شیرشاه دکورنی په لاس کی وه پـــه
دغه موده کی افغانانو ډیره تـرقی کړی وه او ترهغی وروسته هـــم
دخپلو هم قومو امیرانو په هیلـــه ډیر خلك چی په خپل ملك کی به یی
گذاره نه کیدله ،نو هند تـــه بـــه تلل . که څه هم دافغان قوم څخـــه
داسی کوم ښاخ نشته چی د هغـــه څخه کوم سړی هندته نه وی راغلی
مګر اندړ ،یو سفزی ، لودی ،کاکړ، خویشکي ،سروانی ، اور کـــــزی،
کړانی او نور لاتر اوسه پـــو ری په هندو ســـتان کی او سیږی او
دښتو او جایداد ونو خاوندان دی.

دویم باب

دقیس عبدالرشید داولادی بیان چی له دوی څخه دری لوی قبیلی منځ ته راغلی دی

سریزه :

دا څرګنده خبره ده هغه وخت چی قیس باطل دین پر یښود او د اسلام په مقدس دین مشرف شو، نو دهغه نوم د قیس څخه په عربی بدل او داسلامی قوا عدوسره سم عبدالرشید کیښودل شو لکه چی اوس هم دغه دود شته هغه وخت چی څوک نوی مسلمان شئ نو په دغه مسلمان شوی باندی داسلامی طریقی سره سم په عربی ژبه نوم ایښودل کیږی . په دغه خبره کی اختلاف موجود دی چی قیس د چا په زمانه کی داسلام دین ومانه . افغانی روایات په دی خبره اتفاق لری چی نوموړی د حضرت محمد په وخت کی مسلمان شو . *

دغور د تاریخ څخه یو داسی روایت هم لاس ته راغلی دی کله چی په کوفه کی د څلورم خلیفه حضرت علی کرم الله وجهه په حضور کی دغور ملک حکمران شنسب یمان راوړ نو په دغه وخت کی قیس هم دهغه سره یو ځای د اسلام په دین مشرف شو ، قیس عبدالرشید له خپلی یوی میرمنی څخه دری زامن درلودل ، لومړی سړبن چی دهغه اولادی ته په مجموعی ډول سړ بنی وایی ، دویم

---

* وګ . دتعلیقاتو برخه

د سړبن ابن قیس عبدالرشید د نسب شجره

سړه بن

ترخبون   خرشبون

ترین   شیراني   میانه   بړیڅ   اورمړ   — د پاتي څلورو ذکر به وروسته راشي

ابدال   سپین   تور   — د تور او سپین بیان وروسته راځي

لومړی میرمن   دویمه میرمن چې خوابګاني نومیده

رجال یارحمه   سلیمان

د لومړی میرمني اولاد نه دراني وايي

عیسی   ماکو   علي زي   ادوزي   خاکواڼي

ادوزي فقیر شوی و

میر   سلیمان یازیرک   نورزي   بیدل زي   فیروزي   ماڼکزي   حسن زي   ګیوزاک   الکوزي

اسحق زي   چلاک زي   درزي   سکندرزي   سوګني   خیرزي   شیخ زي   مشوزي   خویدادزي

کانوزي   بهادرزي   اونور

مندین زي او هوازي دواړه د خپلو میندو په نامه بلل کیږي

ایدي زي   مندین زي   هوازي   فیروزي

پاګل زي   پنج پای   اونور

د سلیمان یازیرک له اولاد نه پرته پاتي ابدالي د پنج پایه نامه یادیږي

۱۹۲۸


زیرک
پوپل زی
بارک زی
علیکوزی
موسی زی
موسی زی د بارکزیو له نصرت بناخ سره گډ شوی دی
حبیب زی
یا باکو
بادوزی
ایوب زی
صفو
شکر
پا اپو
اپل
سرکانی
زکوزی
بامی زی
اسمعیل زی
حسن زی
بوسعید
یعقوب زی
دولت زی
پروت
زنگی
میلازی
کانی
باما
نصرت
قلندرزی
بوستان زی
نسوزی
پانی زی
کوتی زی
بهلول زی
زینک زی
بانوزی
خالوزی
یاروزی
نکری زی
اونر
بیان زی
فیروزی
جیلانی زی
معروف
علی خان
عمر
بای زی
نورالدین زی
عبدالله زی
رکن الدین
نصرت زی
صالح
سدوزی
علی
یاسر یازی
اڅک زی
اتمان زی
سنجرزی
موسی زی
عمرزی
گرجی زی
خونسی زی
بیان زی
باکل زی
غیبی زی
جنک زی
تازوزی
ابراهیم زی
خان خیل
سیفل
ملک دین زی
خزرزی
انگی زی
لوط
ولی زی
خواجک زی
آکاخیل
سید خیل
دارو
مدی زی
جمال زی
بوزی
خواجی زی
ابازی
محمدزی
یارو
نیک
این زی
شیخی زی
اسمعیل
عمرخان زی
حاجی یوسف
پای زی
خضرخان
حاجی جال
بیان یی ورو څه راغی

۱۹۴۵



حاجی جمال خان
رحیمداد خان
پاینده خان
هارون خان
بهادر خان
امردین خان
شاه سوار خان
محمد رحیم خان
وزیر فتح خان
نایب تیمور قلی خان
امیر دوست محمد خان
سردار محمد عظیم خان
نواب عبد الصمد خان
پردل خان
سردار کهندل خان
نواب عبد الجبار خان
جمعه خان
اسلام خان
شیردل خان
رحمدل خان
مهردل خان
میر افضل خان
حبیب الله خان
طره باز خان
سردار محمد عثمان خان
سلطان احمد خان
محمد عمر خان
احمد خان
شهنواز خان
شمس الدین خان
نظر محمد خان
عطا محمد خان
یار محمد خان
سلطان محمد خان
پیر محمد خان
سید محمد خان
سردار محمد اعظم خان
سردار محمد افضل خان
خوشدل خان
شیر علی خان
وزیر محمد اکبر خان
غلام حیدر خان
امیر شیر علی خان
سردار محمد امین خان
محمد شریف خان
سردار ولی محمد خان
فیض محمد خان
محمد حسن خان
محمد اسلم خان
محمد قاسم خان
صالح محمد خان
نیک محمد خان
خیر محمد خان

غور غشت (غرغښت) ، دریم بیټنی چې دده نسل ته بیټنی وایي چې د دغو دریو وارو څخه ، سړ بــــــــزتر تولو مشرو چې دهغه د نســـــل او دهغوی دښاخو ذکر وړاندی راغی.

دلته دهری لویی قبیلی حـــــال او تاریخ د لیکنی څخه وړاندی دهغی قبیلی شجره ذکر کیږی تر څــــــودهری یوی قبیلی تفصیل او ښاخونه او د دوی ترمنځ اړیکی څرګندی شی.

دشجری پیژندنی په باب یادښت:

دد غه کتاب لوستونکو تــــــه دی د شجرو دلوستلو په وخت کـــــــی دا خبره په یادوی چی په افغا نا نو کی دخیل او یا زایی (زی) دکلمو څخه مقصد دیوی قبیلی او یا ښاخ څخه دی، د پښتو په ژبه کی اصـــــــلاً د (زایی) دکلمی معنی زوی یا اولاد دی نو که چیری دکومی قبیلی لـــــــه نامه نه وروسته دخیل یا (زایی)کلمه راشی نو مقصد به یی دا وی چی دغه قبیله یا ښاخ د هما غه چاچی نوم یی اخستل شوی او لاده ده، دبیلګی په ډول بارک چی اصلاً یوه شخص نوم دی کله چی د نوموړ ی د نوم په پای کی دزایی کلمه ولیکل شی نو بارکزایی ور څخه جوړیږی چی مقصد یی دبارک اولاده ده ، همداراز یعقوب هم یونوم دی که چیری له دغی کلمی سره دخیل کلمـــــــه یو ځای شی نو یعقوب خیلور څخـــــه جوړیږی چی مقصد یی دیعـــــــقوب اولاده ده، نو له دی کبله په دغه شجره کی نوم سره یو ځای هغـــــه کلمه ګډه شوی ده چی نومــــــوړی قبیله پری یادیږی . داځکه چـــــی د مربوطی قبیلی دنومونی غـــــــایی علت څرګندوی .

لومړی فصل

د سړبن د اولادې بیان

داسی روایت موجود دئ چـــی دعبدالرشید مشر زوئ سړبن کـوم اولاد نه لاره هغه دخپل کوچنـــی ورور شیخ بیټنی زوی چی اسمعیـــل نومیده په زوی توب ومانـــه ، اوبیټن چی یو زاهد او پرهیز کـاره انسان و ، دهغه د دعاوو له برکته خدای (ج) سړبن ته دوه زامـــن ورکړل چی یویی شرف الـــدیـــن چی شرخبون با ندی یی شهـــرت موندلی و دوهم خیرالدین چی پـــه خرشبون با ندی مشهورو چی دهغوی داولادی شجره په لاندی ډول ذکـرشوئ ده .

د ابدالي يا دوراني قوم يادونه

دنسب دشجری له کتلو څخه داسی څرگندیږی چی د سړبن د زوی شرخبون لمسی ابدال نومیده‌چی دهغه له ،نسل څخه دغه قبیله منځ ته راغلی ده او دا [illegible] چی په لومړی سرکی د ابدال نوم بل شه و اوکله چی دخواجه ابواحمدابدال چشتی حضور ته ورغی او د هغه خدمت ته یی ملا وتړله نو دغه په ده مهربانی وکړه او دابدال خطاب یی ورکړله هغی ورځی څخه دی په دی نوم سره مشهور شو او دده اولاده هم دابدال په نوم یادیږی او افغانان پخپله ورځنی محاوره کی ابدال داول په نامه یادوی .

دابدالی کورنی واکمن

په لومړی سر کی د دغه قبیلی نیکونه یوازی دخپلو کورنیو واکمنان وو ، خو وروسته چی یی په ورو او تدریج سره ددوی په شمیر او فتو حاتو کی زیاتوالی راغی په هماغه ډول دقبیلی دسردارانو قدرت هم مخ په زیاتیدو و .

داسی روایت شته کله چی دابدال پلار (ترین) دمړینی وخت را لنډ شو نو هغه وغوښتل چی خپلو هغو دریو زامنو څخه چی په نسب نامه کی یی ذکر شوی خپل ځانته جانشین وټاکی اود تور او سپین دخپکان او نارضایت سره سره ابدال یی قایم مقام وټاکل شو او دمشرپه توګه د ابدال ټاکل کیدو یو علت داو چی دی دیوه سید له خوا چی ددوی پیرو ددغه منصب وړ وګڼل شو خو ابدال پنځه کاله وروسته مړ شو او تر ده وروسته د هغه مشرزوی رځړ یا رجړ د خپلی کورنی مشر شو او ده له خپلو زامنو څخه مشر زوی چی عیسی نومیده خپل جانشین وټاکه او کشر زوی ادود خپل پیر دغوښتنی له مخی تارک الدنیا شو .

دعیسی د زامنو په ډله کی سلیمان تر ټولو هوښیار او حتی په خپله قبیله کی هم دډیرو پوهو کسانو له جملی څخه و، نو ځکه ده ته به یی زیرک هم وایه چی تر اوسه هم دغه محاوره په افغانانو (پښتنو) کی شته چی هو ښیار سړی ته زیرک وایی

نو عیسی سره له دی چی مشر زوی دمیرك په نامه لاره ،خو سلیمان یی دخپل هوښیار توب په سبب خپل جانشین وټاکه د زیرك په څلورو زامنو کی مشر بارك نومیده اوپلار دی دکورنی مشر ټاکلی و، خودزیرك د نا رسه یب او حیمان په وجه دغه عمل تر سره نه شو ، د زیـــرك د خپکان علت څرنګه چی ښاغلی میجرلیچ دابدالیانو دحالاتوپه برخـه! بی لیکلی دی ، داو چی یووارد و دغوښتل خپل د اوسید لوځای بـدل! کړی او هرچا خپل شیان او کالــی راخیستی او وړل یی خو څنګـــه چی په دغه وخت نی دزیرك عمــرله سلو کالونونه اوښتی او دوجود دضعف په سبب په لاره نشو تلای اوکله چی بارك راغی او خپل پلار یی ولیــده نو په غصه شو او ورته ویــی ویل چی ته تر اوسه نه یی مړشوی چی له تاڅخه خلاص شــواو بی له دی چی ده ته یی کومه توجه کړی وی ورڅخه تیر شو تــرهغه ور وسته الکوزاغی او هغه هم له خپل پلار سره کوم عطو فــت ونکړ او تیر شو او کلـــه چی دد ه دریم زوی موسی راغی ورته یـــی وویل په آس سپوږشه! زیرك ځواب ورکړ زماپه غړوکي په آس بانــدی سپریدو او کښینا ستو قوت نشته، نو هغه هم په قهر شواو ورته یی وویل ته همدلته پریوزه تر څـــو! کوم وحشي ځناور راشي او تـــــاوخوري هغه وخت به مونږ ستا له! غمه خلاص شو تر ټولو وروستـه پوپل هغه ځای ته راغی ده پـه! ډیر ادب او تعظیم سره خپل پــلار په شاکړ اوله ځان سره یی منز ل ته ورساوه او کله چی هلتـــــه ورسیدل! زیرك خپل ټــول! زامن او! ورونه را ټول کړل او دخپلولوړیودریو زامنو څخه یی ډیر خپکـــا ن ښکاره کړ او پوپل ته یی د مشری لونګی ور وتړله او په، خپله یـی دعمر په یو سلو شل کلنی کی له نړی نه سترګی پټی کړی او پوپل دخپل پلار په شان دقبیلی مشرشو.پوپل هم له فانی جهانه سترګــی پټی کړی ، خود ده دوصیت سره سم دده مشر زوی حبیب دقوم مشر شو، چی دهغه ورور ایوب هم ورسر ه ملګری و. دحبیب ترمړینی وروسته دوه له څلورو زامنو څخه با می چی په هغه وخت کی پنځلس کلــــن ودخپل پلار ځای ونیوه او باګو یا بادو چی دبامی تره واو بامی دده ته لور ورکړه وه او ټوکی و او خسریی ودچارو په سرته رسولو کی له ده سره مرسته کوله .

بامی دری زامن لرل او ویل یی چی زما له زامنو څخه یویی هــــم دمشری ور نه دی ،مګر دکانی زوی چی زمالمسی دی هغه دی د قبیلــی

مشر شي . تعمدا وچې دبابي ترمړينې وروسته دکاني مشر زوی پهلو ل دبابي ځای ونيوه چې دوه زامن يې لرل معروف او علي خان، دپلار تر مړينې وروسته معروف دقبيلې مشر شو خو نوموړی ډير تند مزاجه انسان و، داه ترلس کاله مشری وروسته له نړۍ ستر ګې پټې کړې او د هغه ټوله شتمني او جايداد ده ورونو او نورو ته پاته لاس ورغلل ، دمعروف تر مړينې وروسته دده يو ځوی دنيا ته راغی ،چې موريې ور باندې عمر نوم کيښود، مور او زوی د جايداد دلاسه ورکولو په سبب ډير غريب او بې وسه وو، کله چې عمر ځوار لس کلن شو نو په ابداليا نوکي دځمکو په ويش اختلافونه او شخړې منځ ته راغلې ، چې په پای کې دوی عمرخېل مشر وټاکه او ده ترلسی قبيلې ته خپلې برخې معلومې اوځمکې يې ور باندې وويشلې ، چې تراوسه هم دقبيلې په زياته برخه کې ددوی دشمار په اندازه ځمکه ور کول کيږي .

دعمر دمشرۍ په وخت کې بارکزيو فساد رامنځ ته کړ. او د هغه په مشری څخه يې انکار او ده خو تنه ملازمان يې و وژل او پاتې کسان يې فراره اوله وطن څخه وشړل اووېې ويل چې مشري زمونږ وه او پوپلزيو په جبر راڅخه نيولې وه ، کله چې عمر دغه خبر واوريده نو دبارکزيو د تېکو لوله پاره يې لښکری ولېږلې او تر يوې کوچنۍ جګړې وروسته يې بری تر لاسه کړ اودبارکزيو او نورو زي له قبيلو څخه يې يو شپېر کسان چې دواړه سره يو ځای شوي وو يرغمل ونيول تر څو چې په راتلونکو وختونو کې ياغي نه شي.

عمر دوه زامن لرل چې مشريې ملك صالح نوميده او په کشر باندې يې دشيخ اکوزا مدد امراو دغوښتنې په اساس اسدالله نوم کيښودل شو چې په عوامو کې دسدو په نوم مشهور شو .داسې روايت کيږي چې سدو (٦٦٥) هجري کال دذوالحجه په مياشت کې د ايران پاچا شاه طهماسب صفوي په زمانه کې پيدا شوی و اوپه دغه وخت کې په هند کې جلال الدين اکبر پاچا و ، لنډه داچې عمر تر (۹۸) کلو پورې ژوندی واوکله چې نوی کلن شو او دده مشر زوی صالح شپيته کلن او کشر زوی يې سدو پنځه ويشت کلن و نو عمر خپله ټوله قبيله راټوله کړه او سدو ته يې دمشري لنګی ور په سر

اګره او دده دغه تصمیم ملك صالح او هم ټولی قبیلی ومانه همدا راز
صالح او عمر دواړو دده ملاو تړ له لکه څنګه چی تراوسه په درانیو
کی دغه دود شته کله چی پلار وغواړی خپل جانشین وټاکی پخپل
لاس هغه ته کمر بند او توره ورتړی ورو وروسته تردی چی سدود خپل
پلار ځای ونیوه دده مشر ورور صالح چی ډیر دینه نیت خاوند وخپل
واړه ورور سدو ته یی وویل :
چی زما له پنځو زامنو سره چی درخان، ابراهیم خان، بایزید خان،
ماما او الودی تل په مهربانی او شفقت چلند کوه او هغوی له
هر راز کړاو ونو او ربړونو ساته، سدوهم دغه خبره په ډیره خوښی
ومنله تر هغه وروسته صالح د خپل سید پیر په غوښتنه تارك
الدنیا شو، سدود پلار تر مړینی وروسته دابدالی قبیلی سردار شو
دده په دوره کی بارکزیو بیا په بغاوت لاس پوری کړ خود سدو له
خوا وتکول شول، سدو ډیر باانصافه او زړور انسان و. دده په
وخت کی ابدالیانو ته د غلزیو او هزاره وپه سیمه کی هم یو لړ
فتوحات ور په برخه شول او څنګه چی د نسب په شجره کی لیکل شوی
سدو پنځه زامن لرل، هغه وخت چی دده عمر کم او واړه وو نو
هغه خلك راټول او هغوی ته یی وویل چی زما ددوو زامنو خواجه
خضر خان او مغدود نه یو تن یی تاسی دمشری له پاره وټاکی خو
څنګه چی په دوو کی مشری یی مغدود خان ونو ځکه خلکو هغه په مشر
توب وټاکه خودغه خبره دسدو خوښه نه شوه او هغه وویل چی
خواجه خضر دمشری وړ دی داځکه چی دده له پیدایښت نه وړاندی
ما په خوب کی یو سړی ولید چی سپینه ږیره یی لرله او شنه کالی
یی اغوستی وو او ډیر نورانی ښکاریده زما کور ته راغی او راته
یی وویل مبارك دی شه ستا په کورکی به یو کوچنی دنیا ته راشی
په هغه باندی دخواجه خضر نوم کیږده هغه به زما هم نومی
او ډیر نیکنام انسان به وی، نو په دغه سبب غواړم دغه منصب
خواجه خضر ته ورکړم، خو خلکو دده خبره ونه منله او مغدود یی
خپل سردار وټاکه او خواجه خضر یی دهغه مرستیال مقرر کړ او ټول
واك هم دده په لاس کی و. کله چی سدو مړ شو نو ټولی قبیلی
خواجه خضر دمشری وړ وباله او هغه یی مشر کړ، په دغه وخت کی
مغدود ناامیده شو.

دخوا جه خضر خان ترمړینی وروسته دهغه مشر زوی خدا داد سلطان دقبیلې مشر شو دده اصلي نوم خدا داد او بنایي د سلطان لقب دډیلي پاچا اورنګ زیب عالمګیر ده ته ورکړی وی او افغانانو دی حداني باله. ده دابدالي اوعلجي قبیلو پوله (سرحد) پل سنګي وټاکه.

چې په هغه وخت کې د غلجیانو مشر ملخي تو خې او ددوی ترمنځ شخړه په هغو ځمکو چې نوهری او اومه کې تومیده پښنه شوی وه او دواړو خوا ودغې شخړی دحل له پاره یو شپون دمنصف په توګه وټاکه. هغه شپون داسي فکر وکړ څرنګه چې دسلطان حداني له نوم سره ګوهری او دملخي له نوم سره داو مه کې نوم ورته والي لري نوپه دې ډول یی دنوم مطابق دواړو خواو ته ځمکه ورکړه، شخړه یی فیصله او دواړو خواو دغه فیصله ومنله.

تردغې پیښې څه موده وروسته سلطان خداکې دخپلې قبیلې په مشرۍ دژیوب په سیمه یرغل وړاو ددغه ځای خلك یی لوټ او تباه کړل او کله چې بیرته راستون شونو دهغوی حیمونه بړدي په یوه ژوره نې چې دری لوچنی هلکان اویو سړی چې له ویرې پټ شوی وه وبیول شول اوبي ګناه ووژل شول په هماغه شپه سلطان خدا لی خوب و لیده چې هغه څلور وژل شوی کسان دده دوژلو له پاره را روان دي ،دی ډیرو ویریده په دغه وخت کې یوبل سړی چې شنې جامې یی اغوستي غبنتلي غړی یی لرل ده ته وویل چې تادیر تیری وکړ چې هغه بیګناه کسان دی ووژل اوکه اوس ته خپله سرداری پریږدی او خپل ورور شیر خان ته یی وسپاری نو بچ به شی که نه نو دخپل عمل سزا به ووینی تر راویښیدو وروسته نو موړی خپل ورور شیر خان په خپل ځای مقرر کړ اودی دخپل ورور مرستیال شو کله چې شیر خان ته دچارو واکی په لاس ورغلي نوله دی کبله چې څو تنو نوبو مجرمانو ته یی پناه ورکړی وه دکندهار له حاکم سره یی چې دایران پاچا له خوا ټاکل شوی وپه جګړه لاس پوری کړ او ددوی ترمنځ لومړی جګړه شهرصفا ته نږدی پیښه شوه په دغه جنګ کې بری شیرخان ته وربه برخه شو او دکندهار ښار شاوخواته یی ډک راټک بند کړ په دغه وخت کې دایران پاچا دفرمان له مخې دکندهار دحاکم لخوادفسادونو رامنځته کولو په خاطر دمغدود زوی شاه حسین ته چې دشیر خان تر بورو دمیرزا لقب ورکړل شوی

او شیرخان ته یی هم دوهم شریك وتاکه. میرزا شاه حسین پـه ده شیخ کی او شیرخان په شهر صفا کی چی له کندهار څخه نه فرسنگه لری دی اوسیدل په دغه ډول دوی په دوو گوند ونو وویشل شـول شیرخان ویل چی دیران پاچا لـه مونږ سره هیڅ راز اړیکی نه لـری او میرزا شاه حسین د ایران پا چـا پلوی و .

په دغه وخت کی دعلی زیـودقبیلی یوه سری چی خلیل نومیده او دشاه حسین استازی و دکندهاردحاکم سره ډیر راتگ پیل کړ . په دغه ترتیب څو کلونه تیر شـول. ترڅو یو ځل د کندهار حاکم دخلیل په لاس شاه حسین ته دا پیغـام واستاوه چی دایران پاچا تاته دمیرزا لقب درکړی او دزوی په سترگـه در ته گوری او دقوم ملو یښت زره تنه ستا تابع دی اوزما سره هـم دومره یوځ شته ،پاچا امر کړی چی باید شیرخان ته سزا ورکړی ،که نه اوس زیاته بی پروایی وکـړی. بنایی دپاچاله خوا په مونږ ته زیا ن راورسیږی . کله چی داخبر پـه ختیځ افغانستان کی خپور شونو د ډیلی پاچاته خبر ورکړی شـو او هغه شیرخان ته مرسته ضروری وگڼله اونوموړی ته یی دشاهـزاده لقب ورکړ په دغه ترتیب دشاه حسین اختیارات کم شول .له دی امـله چی خلك دډیلی په پاچادیر خو ښ وو ځکه چی دایران پاچا شیعـه مذهبی و، په دغه وخت کی شاه حسین دسلااو مشوری له پاره کندهار تـه راغی او خلیل علیزی دده دداد و رملازم هم له ده سره ملگری و. کله

چی په دربار کی دکند هار له حا کم سره خبری پیل شوی نودشاه حسین دتقریر په وخت کی خلیل دده په خبرو کی مداخله او چالاکـی او هوښیاری په یی کوله ،شاه حسین ورته په قهرشو او ورته یی وویل ته زما غلام یی نوڅنگه زما په خبرو کي را لویږی څنگه چی خلیل ښایسته اود ښی ځوانی خاو ندواو شاه حسین دده په خلاف یو بدرنگ سړی ونوله دی کبله خلیل ده ته سخت ځـوا ب ور کړ او ورته وی ویـل چی داصل او غلام توپیر او پیژندنـه دښی له مخی کیدای شی دغی خبر ی په شاه حسین باندی دحاکم پـه در بار کی ډیر تاثیر وکړ او بـده ورباندی ولگیده او خپله چاره یی را وایستله او خلیل یی داسـی سخت ټپی کړ چی سمدلاسه مړشو، د کند هار حاکم له هغه څه نه چی دده په دربارکی پیښی شول سخت ناراضه شواو شاه حسین یی ونیوه او ددغی پیښی په باب د منا سـب حکم دصادریدو له پاره یی ایران

ته ځواب و لیږه او ددې له پاره چه شاه حسین خپل ملازم ته مناسبه سزا ورکړه نو له هغه ځایه دده دخوشی کیدو امر صادر شو. که څه هم شاه حسین خوشنی کړی شو خود هغه تږله گوندی له منځه ولاړه . ترخوشی کیدو وروسته ده له شیر خان سره وکتل او بیا هندوستان ته ولاړچی دهغه دخلورم پښت څخه شهید نواب مظفر خان منځته راغلی وچی دملتان والی او لوی نواب و او دده واکمنی د رنجیت سنگ په ذریعه له منځه ولاړه.

لنده داچی دشاه حسین تر تگ وروسته دایران پاچا دیوه مصلحت له مخې شیر خان ته داد ورکړ او همدارنګه دتولی ابدالی قبیلی اختیار هم ده ته ورکړل شو ،هغه وخت چی شیرخان د(٦٥) کلو ویوه ورځ دښکار په وخت کی له آسه راولوید او بیهو ښه کور ته راوړل شو او کله چی په هوښ راغی نو دصالح خان زوی بختیار یی راوغوښت او ورته ویی ویل چی اوس ما ته دژوند امید نشته او دسر مست خان پالنه په لوی ، او دی دهماغه تمیڅخه چی ورته پیښی شوی و مړ شو. نو دهغه زوی سرمست خان تر پنځو کلو نو پوری ژوندی و او کله چی هغه مړ شو نو دهغه زوی دولت خان چی لاکوچنی و د خپل تره حیات سلطان په نیابت دقبیلی مشر شو ، داسې روایت شته چی یوځل دکندهار حاکم ټول امیران او دخیلو مشران خپل دربار ته راوغوښتل په دغه مجلس کی ددوو خوا امیران را ټول شوی وو یوه ډله یی ایرانی سرداران او دوهمه ډله یی ابدالی خانان وو په دغه میلمستیاکی شراب هم ورکول کیدل او څرنگه چی حیات سلطان او دده نور ملگری ملکان، صوفی مشر به وو نو له دی کبله یی په نشه کی ډیر افراط کړی و، نو ددغه مستی په حالت کی هری یوی ډلی دخپلو ښځو دصورت او سیرت دښکلا په باب خبری کولی ،یعنی ایرانیانو خپلی ښځی ښایسته او ښی گڼلی او افغانانو خپلی .په دغه محفل کی داسی پریکړه وشوه چی دواړه خوا وی دی اووه اووه پیغلی یو بل ته په نکاح سره ورکړی او کله چی سهار حیات سلطان په هوښ راغی نو دخپل دغه چلند نه پښیمانه شو او ددغه ژمنی دماتولو له پاره یی پلمه غوښتله .له دوی سره یو ملك چی مبارك نومیده او ددوی په ډله کی شامل و . داسی مشوره ورکړه چی تاسی ایرانیانو

ته ووايي چې زمونږ دود داسې دی چې زوم له ځان سره بیا یو، ددغه خبرې په اساس اوه کسه ایرانـي زمان دافغانی سردارانو سره شهر صفاته راغلل. دتولی قبیلی ابدالي سرداران د دغه ستو نزي دحلولو له پاره په خپلو منځوکې سره کښیناستل، ددغه جرګې په څوښتنـــه ایرانیانو ته وویل شول چې لومړی تاسې خپلې اووه نجونې مونږ تـــه راولی، وروسته به مونږ دغه کار وکړو، ایرانیانو ځواب ورکړ چـــې زمونږ ملك لرې دی نو دا څنګـــه کیدای شي چې لومړی مونږ تـــاسې ته خپلې نجونې درکړو، افغا نـــا ن ددوی په چل او فریب و پوهیدل او حیات سلطان ته یې وویل چې اوس ته په دغه باب پوځه تدبیر ونیسه خوهغه هیڅ ونکړل اود جرګـــې مجلس یې پریښود او کورته ولاړ، دولت خان دسرمست خان زوی داسې سلا ورکړه چې له دغه او وزوما نو نه ځلورڅته اساميان باید د څهاریار کبارو د سر صدقه او حلال او دری کسه نور دې خوشې کړی شي، لکه چې همداسې هم وشول. کله چـــې د کند هار حاکم دغه خوا شنو و نکې او زړه بوګنوونکی خبر واوریده نو د حیات سلطان له یې ددغې پیښـې په باب پوښتنې وکړی، هغه پـــه ځواب کې ورته ولیکل چې دغه کاردولت خان کړی او دولت خان دهغه خوا کند هار ته وځو ښتل شو اوکله چې دولت خان دغه خبره رد کړه نـــو ایراني پوځ په دوی یرغل وکړ، پـــه لومړي جګړه کې ابدالیانو په ایرا ــ نیانو باندې غلبه وکړه خو په دویمه جګړه کې یې دایرا نیانو دلاسه ماته وخوړه او حیات سلطان دهندو ستان خوا ته ولاړ او په ملتان کې میشتـــه شو. تردغې پیښې وروسته دابدالیانو تر منځ نفاق زیات شو تردې چې دوو تنوملکانو چې عزت او اتل نومیدل په بغاوت لاس پورې کړاو دولت خان او دهغه زوی نظر خان یې ووژل. ددولت خان مشر زوی رستم خان ایرا ــ نیانو ته ورغی او کله چې بلوڅانو بغاوت وکـړ نو رستم خــان ددوی د تکولو له پاره وګمارل شو، خو د بلوڅانو دلاسه یې ماته وخوړه او بیرته راستون شو په دغه وخت کې غلجي میر ویس هوتکی او عزت، او اتـــل ابدا لیانو په رستم خان داسې تـوررولګاوه چې قصداً یې په دغه جګړه کې ماته خوړلې ده نوځکه دې ونیول شو اوځو ورځې وروسته داتل لـــه لاسه ووژل شو.

کله چې غلجي میر ویس هوتك دایران او عربستان (حج) دسفر نـــه راستون شو. کندهار ته راغی او ملته یې بغاوت وکړ اود کند هار حاکـــم

شاهنواز خان گرگین یی وواژه. ددغه بغاوت په وخت کی میر ویس ابدالی قبیله په دی شرط له ځان سره ملګری کړه چی دلوټ شخه چی کومه شتمنی تر لاسه شی نو په هغی کی دی ابدالیانو ته هم برخه ورکړ شی، خو تر بریا لیتوب وروسته دغه ژمنه ترسره نه شوه او له نیول شوو ځمکو شخه ابدا لیانو ته هیڅ برخه ورنکړی شوه له دی کبله ابدالی قبیله دغلجی له قبیلی سره دجګړی له پاره راتول شول او دبوری په دښته کی ددوی تر منځ سخته نښته پیل شوه چی په دغه جګړه کی غلجیو ته زیات بریا لیتو بونه ور په برخه شول. ابدالیانو ماته وخوړه او دهرات غر نیو سیمو ته په شا شو ل په (۱۰۲۹) هجری کال عبدالله خان د حیات سلطان زوی له ملتان نه بیرته راغی او ددغه قبیلی مشری یی په غاړه واخسته اونیت یی وکړ چی هرات چی په هغه وخت کی دایران تر واکمنی لاندی وونیسی، ددوی له دغه نیت شخه عباس قلی خان شا ملوچی دایران پاچا شاه حسین صفوی له خوا دهرا ت حاکم وخبرشو عبدالله خا ن او دهغه زوی یی ونیول، کله چی د هرات قزلبا شانو بغاوت وکړ اودعباس قلی خان لاس یی له کار شخه لنډ کړ، نو په دغه وخت کی عبدا لله خان دوخت نه په کتی اخیستو سره له محبس نه وتښتیده او ځان یی ددوشاخ غره ته ورساوه، هلته یی خپله قبیله په ځان راټوله او په هرات یی یرغل وکړ او ددوی تر منځ جګړه پیښه شوه چی په دغه جګړه کی دهرات نوی حاکم جعفر خان ونیول شو او عبدالله خان د هغه برج له لاری چی فیل خانه نو میده دهرات ښار ته ورننوت ، دښار په منځ کی هم سخته جګړه وشوه او له دوارو خواو شخه ډیر کسان ووژل شول او دهرات ښار لوټ کړای شو، دهرات تر نیولو وروسته دفراه کلا چی دمیرویس دزوی محمود په لاس کی وه ابدا لیانو ته په لاس ورغله . لږه موده وروسته غلجی محمود شاه په اصفهان سلطه ټینګه کړه او پر ابدا لیانو باندی یی هم غلبه وکړه، مګر له دی کبله چی دی د نیول شوو سیمو دچارو په تنظیمو لو بوخت و نو ځکه په ابدا لیانو باندی یی زیات تعرض و نه کړ، څه موده ورو سته عبدا لله خان صدوزی مړ شواو داسی فکر کیږی چی ده ته به د دولت خان زوی محمد زمانخان چی دابدالی احمد شاه پلار و زهر ورکړی وی. کله چی عبدالله خان له منځه ولاړ په خپله زمانخان دابدالی کورنی مشر شواو دایرانیو پوځ نه یی چی ددوی دپوځ په نسبت :وه ځله زیات وماته ورکړه اوخومره یرغلو نه چی ایرانی پوځ په هرات وکړل هغه ټول یی په شا وتمبول او

بریا لیثوب دده په برخه واو قـوت یې وزځ په ورځ زیاتیده، .تر دې چې په (۱۷۲۲) عیسوی کال یې د مشهدد نیولو نیت وکړ، خوله بده مرغه په دغه وخت کې ددوی تر منځ بې اتفاقي رامنځته شوه . دعبدالله خان زامنو الهیاراو سعدالله خان محمد زمان خان وواژه او په خپله یې دقبیلې مشرۍ په غاړه واخسته په دغه وخت کـې دزما ن خان زوی کوچنی و ، دی چې احمد خان نومیده وروسته په احمدشاه ابدالی باندې مشهور شو. دې د خپلو دښمنا نو نه بچ اود خپلی مور په ذریعه چې اصلاً الکوزۍ وه دهرات حاکم حاجي اسمعیل خان علیزی تـه ورو لیږل شو داحمد خان مور اسماعیل خان ته خپله لور ورکړه لـــه دې کبله وو چې حاجي اسمعیل خان دده ته پناه ورکړه اود الهیار خان دویرۍ له کبله یې احمد خان سبزوار (شینډ ند) او فراه ته ولیږه او له دغی نیتـی نه نوموړی په پټ ډول ژوند کاوه، ترڅو په (۱۷۲۸) عیسوی کال یې چې ایرانی نادر شاه په ابدا لیانو باندې یرغل وکړ او وروسته ترڅو جګړو یې دوی تابع کړل مګر تر لږې مودې وروسته داحمد خان دمشـــر وروروذوا لفقار خان تر قیادت لاندې ابدالیانو په بغاوت لاس پورې کړاو په مشهـدیې چې دایران دواګمنی یوه برخه وه یرغل وکړ اود نادر شاه دوروراً براهیم لښکرې یې ماتې کړې اود مشهدښار یې محاصره کړ، خو پخپله نادر شاه پر دوی باندې یرغل وکړ او دخپل هیواد په لور یې په شا و تمبول ، ددو ی ستړ یا لانه وه لړی شو ی چـــې نادر شاه دهرات په لور خپلې لښکرې راو خوځولې اوتر یوی سختی جګړې نه وروسته یې د لسو میاشتو پـــه موده کې هرا ت ونیوه او امر یـــې وکړ چې دابدا لیانو شپږ زره کورنۍ دې دغنی خان الکوزی او نورمحمدخان علیزی سره ایران ته فرارشي اوله خپل ملك نه یې دوی وشړل اوهلته میشته شول اوځینی یې دملتان خواته ولږ دیدل اوله دغه قوم سره یـې ځینی خلك په زور په خپل پوځ کې وګمارل. تر هغه وروسته دهرات ښار هیڅ وخت بغاوت ونکړ، مګر ابدالیانو،غلجیو او ایماقو به پاڅونو نه کول.

کله چې دداغستان ښار یوو لس میاشتی دنادردقوا و له خوا محاصره شوی ویوه ورځ دتوپ یوه ګولی دنادر دخاصی خیمی په منځ ولګیـده چې په دغه وخت کې نادر دډودۍ په خوړلو بوخت و ډیری خاور ی باد اود ډوډۍ سره ګډې شوې او خنکه چـې نادر شاه ډیر تند مزاجه سړی و ان تر دې چې اوس هم نادری مزاج په خلکو کې دمتل په ډول استعمالیږی نـــو ډیر په غصه شو اود ابدالی قبیلی مشرانې یې راو غوښتل او امریې ورته،

وګړي چې که چېرې دغه ښار ترڅلورویشتو ساعتو تر پورې فتح نه شي نو تاسې ټول په وژنم کله چې دوی دغه حکم واورېده نو غني خان الکوزي، نور محمد خان علیزی ، حاجي جمال خان محمد زي، خان محمد بارکزي خانو او مانو خان نورزي دغو ټنو نوروسردارانو سره دخپلې قبیلې په مشرۍ په هغه ښار باندې په ډېره زړور تیا یرغل وکړ، تر یوې سختې جګړې وروسته ابدا لیان بریالي او په ټاکلي وخت یې ښار ونیسوه او دپاچاحضور ته راغلل. نادر شاه دوی ډېره ورتوب او خدمت له کبله ډېر خوښ شواو هغوی ته یې وویل هر څه چې کوي وبه منل شي الهیار خان سدوزي او نورو ابدالي سردارانو ورته عرض وکړ چې موږ غواړو خپلو پښتوانیو ځمکو ته ستانه شو او هغه افغانان چې ایران ته جلا وطن شوي دي هغوی بېر ته ستانه او دخپلې قبیلې سره یو ځای شي او د غلجیو قبیلې ته دې هم ملك ورکړی ؛

پاچا ددوی دغه غوښتنې ومنلي اوامر یې وکړچې ټول افغا نان نردي او کم ښځې بېرته دې خپل هیواد تـه ستانه شي، لکه چې ټول بېرته راغلل او یوازې یوه ښځه چې دعلیزو له قبیلې ځخه چې دنادرشاه له زوی سره وه رانغله، کله چې پاچا ته ابدالي ملکانو په دغه باب خبر ورکړ نوامر یې وکړ که چېرې هغه ښځه وغوا ړي دخپل میړه سره تللو ته راضـي وي نو واك یې خپل دی او کولای شي چې دشهزاده له کور نه ولاړه شي،همدا وچې هغې وفاداری ښځې ټول عظمت او جلال پرېښود اودخپل غریب میړه سره بېرته خپل هیواد ته راستنه شوه .

تر هغه وروسته الهیار خان پـه سبزوار (شین ډنډ) کې ووژل شو او کله چې نادر شاه وکړای شول چې په شپږو کالو کې کند هار ونیسي پـه دغه وخت کې ذوالفقار خان او احمـد خان دواړه د غلجي شاه حسین لـه قید څخه خلاص او دحاجي اسمعیل خان په معرفت یې احمد خان اود هغه مشر ورور ذوالفقار خان راوغو ښتل اوپه هغوی باندې یې ډېره مهرباني وکړه. اود هغه یو نیم افسران یې وټاکل کوم چې مازندران ته روان ؤ، او ددغـې قبیلې دښو خدمتونو په بدل کې دوی دهرات دلویدیځ نه هغه ځای تــه ولېږدول چې نن په کې میشته دي او غلجیو دقبیلې ځمکې یې په ابدالیانو باندې وویشلې،دارغنداب سیمه یې دغني خان الکوزي قبیلې ته اوزمینداور یې نور محمد علیزي ته وروباخښـه چې بارکزیو ته خرابه ځمکه ور پـه

برخه شوه، نادر شاه دکند هارشاوخوا ځمکې په دریو سووقلبو وویشلې یوه قلبه ځمکه دسلطنا به ځمکې سره مساوي اویو طناب دشپیتو ربغ گزو سره برابر دی. په هره قلبه ځمکه کې څلور خرواره یا څلویښت منه تخم شیندل کیږي ،اوپه هر قلبه ځمکه کې دوه سپاره دپاچا دنوکری له پاره وټاکل شول، او هغه ځمکې چې بنبار ته نږدی وی د هغو لسمه برخه پیداوار دمالیې په ډول سرکار تـه ورکول کیدل او ډلوړی کال دپیداوار دسنجش له مخی به د تل لپاره مالیه را ټولیدله .

کله چې نادر شاه دډیلی په لـورروان شو فدا محمد خان دده په پوځ کې دلښکر افسر واو کله چې دهندوستان نه بیرته راستون شو نونادر پښتنو ته دومره قدر او عزت ورکړ چې دپاړ سیوانانو رخه وربانديوشوه سره له دی چې دوی دځینو نـوروچارو له امله هم له ده څخه ناراضه وو.

نادر شاه د(۱۷۴۷) عیسوی کال دجون په میاشت کې ووژل شو او د هغه دمړینې په دویمه ورځ په داسیحال کې چې پښتنا نه او اوزبك یوی خواته او قزلباش اونور ایرا نیان بلطرف ته وو سخته جگړه پیښه شوه، خوله دیجگړې نه گومه گټه ترلاسه نه شوه او احمد خان ددرې زره سپـرو سره کند هار ته راغی، دلته ده ته خبر ورکړل شو چې دکابل او پیښور حاکم ناصر خان او تقی خان اختـــه بیگی چې دنادر سردا رانو څخه دی غواړی خزانه دنادر دربارته وروړی. هغه خزانه احمد خان ته پـــه لاس ورغله ، نوموړی خوتنه ابدالی ملکان ووژل تر هغه وروسته په قبیله کې چاده سره مخالفت نه لاره. لنده داچې د(۱۷۴۷) عیسوی کال داکتو بر په میاشت احمدخا ن د زمانخان زوی په کند هار کې پاچا شو* او ځان ته یې ددر دورا ن لقب غوره کړ .

داسی ویل کیږی چې داحمد شـاه په تخت باندی دکښینا ستلو په وخت کې ابـدا لیان، قزلباش، هزاره،، او بلوڅ هم حاضر وو .کله چې احمد خان په تخت کښینا ست نو درویشت کاله عمریې لاره . ده دځپلې قبیلې نوم له ابدالی نه په درانی واړا وه او تر اوسه هم په دغه نامه یادیږي.

---

*د لوی احمد شـاه بابا دتخـت نشیني دغه نیتـــه غا لبـــاً د (چارلس نش) دکتاب (په افغانستان کې د جنـــــگ تاریــــــخ) (۱۸۴۳ع لندن چاپ) له پنځه ویشتم مخه څخه رانقل شویده خو دا صحی نیته نه ده دلوی احمد شاه بابا په یولیك کې چې د ۱۱۶۰ هـ ق کال درجب دمیاشتې په اتلسمه (=۵) جولا ی ۱۷۴۷ع) یې محمد حسن خان اپریدی ته لیکلی دی ،دځپلې تخت نشیـنـي خبریې نو موړی محمد حسن خان تـه ورکړی دی، له دی مکتوبه څخه چې په تذکرهٔ اندرام کې ثبت دی داثابتیږی چې دلوی احمدشاه بابا تخت نشیني د جولای تر پنځلسمې دمخه پیښه ده. (رشاد)

د دراني د تسمیې وجه

کله چې ابدالي احمدشاه د افغانستان په تخت کښیناست په دغه وخت کې صابر شاه مجذوب چې یو فقیرو او احمدشاه ور ته ډیر اخلاص لاره ده ته و ویل چې ځانته د در دوران لقب غوره کړه چې د زماني د مرغلری معنی لري نو ده په قبیلوي لحاظ د دران لقب غوره کړ چې د مرغلرو د مرغلري معنی ورکوي چې د ملغري په معنی او د دران د هغه جمع دی او د احمد شاه مقصد داو چې ټوله ابدالي قبیله دران دی، د احمد شاه له وخت نه د ده د لمسي شاه شجاع الملك تر وخته پورې د سدوزي کورني حالات د دغه کتاب په لومړي برخه کې راغلي دي. او څرنګه چې سلطنت د سدو زیو له کورني نه انتقال او بار کزیو ته په لاس ورغی د امیر دوست محمد خان د پلار د پاینده خان له وخته د امیر شیر علي خان تر دوري چې د کابل اوسني امیر دی ذکر هم په لومړي برخه کې لیکل شوی دی چې دلته يې بیا تکرار ته چندان ضرورت نه لیدل کیږي.

د درانی د قبیلی ویش او شمیر

څرنګه چی ښکاره ده دغه قبیله په پیل کی په دوو لویو برخو ویشل کیږی لو مړی زیرک دویم پنځ پا خواوس دغه ویش کټور نه بریښی.پر ته له دی چی له هغه څخه دامعلـــومیږی چی واړه خیلو نه ددغه لـوی ویش په کوم ښاخ پوری اړه لری .په دغو دوو برخو کی دزیرک کورنی ته داحترام او قدر په سترګه کتـل کیږی دغه دواړه ښاخونه په نهو کو- چنیو څانګو ویشل کیږی، چی زیرک په څلوروڅانګو او پنځ پا په پنځو څانګو سره ویشل شوی دی.

دزیرک څانګی :

دزیرک څانګی،له پوپلزی، الکوزی، بارکزی اوموسی‌زی څخه عبارت دی.

دپنځ پای څانګی:

دپنځ پای څانګی په دی ډول دی: نورزی ، علی زی ،ادوزی،ساګزی، خګوا نی، ماکو ،او کله کله حلـت ادوزی په علیز یو ورګډوی اودواړه یو ښاخ بولی.

پو پلزی:

دغه څانګه ډیره مشـهوره ده اوافغا نانو (پښتنو) پاچا احمد شاه ابدالی او ده اولاده له دغـــــی څانګـی څخه د سدوزی کور نـــی څخه منځ ته راغلی دی.

سدوزی:

سدوزی دپو پلزیو دښاخ یوه څانگه بلل کیږی، سدو زیان تر ډیره وخته نه یوازی دپو پلزیو بلکی ددرا نـی دټولی قبیلی خا نان شمیرل کیدل او دا یوه یقینی خبره ده چی سدوز یان ددرانی قبیلی له ټولو څانگو څخه ډیر د احترام او عزت وړ څانګه ده، اوددغه خبری یو ثبوت دا دی چی ددوی سره دصفوی کورنی دلومړی پاچا یو سندیا فرمان شته چی ددغه فرمان پـه اساس دټول ابدا لی یا درانی قبیلی مشری دو ی ته ورکړل شوی وه. دخپلی قبیلی څخه پرته بل چا دوی ته سزانه شوه ورکو لای څرنګه چی پاچا له دغی کورنی څخه ولو ځکه سدوز یان یوه بیله قبیله بلل ګید له، مګر په اصل کی دپو پلزیو دښاخ یوه څانګه بلل کیږی.

کله چی دسدوزی پاچا یانو کورنی تباه او په لو یدیځ افغانستان کی دامیر دوست محمد خان بار کزی سلطـــه ټینګه شوه نو ددغی معززی کور نی قدرهم لږشوی دی. ددغو خلکو اکثره ابادی دښهر صفاء تر څنګ دتر نـک وادی په منځ کی مو قعیت لری ځینی یی هم په کند هار کی او سیږی اود شاهی کورنی څخه دشاه شجاع اولاده په لودهیانه کی دستلج سند پســه ختیځه غاړه کی او سیږی او داحمدشاه کورنی ته پاچا خیل هم وایی او څو کورنی سدوز یان په پیښـور اولاهور کی هم میشته دی. دسدوز یو او دابدا لی قبیلی دنورو څانګو نسه چی ځینی خلک ملتان ته راغلــی او هلته میشته شوی او بیا له دغه ځایه دیره جات او نورو ځایونو ته تللی ا و هلته استو ګنه لری دهغوی په باب به دکتاب په پای کی په لنډ ډول ذکر وشی پاتی پو پلزی اکثراً دکند هار شمال خواته څه دخاکر یز په سیمه ﺓ یی او اکثرا په غر نیو سیمو کــــی او سیږی ځینی یی هم د ختیځ خواته په څو علاقو کی اویو شمیر یی سهیل خواته په ذاکر، بالاکرز، شور اندام او څو نورو ځایونو کی اوهم دګرشک له مربو طاتو څخه دزارس په علاقه کی دهلمندسیند په لویدیځه برخه کی او دګر مسیر په دوو سیمو کـی او لوید یځ خوا ته دارغنداب، په ښکتنی برخه کی او سیږی. ددغه قبیلی خلک ډیر ډېر دی، اوددوی په باب داسی ویل کیږی چی ددوی شمیر تقریباً دیار لس زره کوره دی .ددوی څخه ځینی په مالداری او اکثراء یی دکرنی په چارو بوخت دی. پو پلزی دنورو پښتنو په نسبت ډیر باادبه، نجیب او

دعزت خاوندان دي، له دوی څخه ډیرزیات یې داحمد شاه او تیمور شاه په وخت کې دلویو دولتي منصبو نوخاوندان وو. دبامي زی له ځانگې څخه داحمد شاه وزیر شاه ولیخان او دده کورنی مشهوره ده او دایوب زی ځانگې څخه مشهور سړی داحمد شاه سپه سالارسردار جهان خان و.

بارکزی :

بارکزي په شمیر کې دپو پلنزیو څخه ډیر زیات دي دالویه قبیلــــه دکند هار جنوب تــــه دارغستان او دهلمند دسیندپر غاړو په ورچ میدان کې میشته دي دبارکزیو هغه برخه چې کند هار ته نږدې دارغستان او هلمند د سیندنو په غاړو میشته دي دښو ځمکوداړلو په وجه تول په کرنه بوخت دي، خو ځینې یې دوچ بیا بان په منځ کې په ډیره سختۍ سره پــه زراعتي چار ولگیا دي، خو ددغه ځانگې اکثره خلک په مالداری بوخت دي، دغه خلک ډیر زړور او جنگیالي دي، دوزیر فتح خان بارکزی له وخته دغه خلک ډیر مشهور شول. او ورو ستـه کله چې له دغه ځانگې څخه امیردوست محمد خان دکابل په تخت کښینا ست نو دهغه په سبب ددوی په شهرت کې زیا توالی راغی او بار کزیان ترلیری لیری ملکو لو پوری خلکو وپیژندل، په اوس وخت کې دبارکزیو اعتبـــاردهغه ښاغلي دامیرا نو په سبب ترنورو ښاغلو څخه زیات دی، او ددغه وراندی توپ اورسوخ علت باید ددوی پــه زړورتیا او دمرحوم امیردوست محمدخان په هو ښیاری او چالاکۍ کې ولټول شي داځکه چې ددغه پاچا پوهــه اوهو ښیاری دبار کزیو تر زړور تیا کمه نه وه. دبار کزیو شمیر تقر یبـــاً (۳۵۰۰۰) کوره دي .

اڅکزی :

اڅکزی د بارکزیوسره ځانگه دمخواحمد شاه دوی بیل کړل له دی کبله کله چیری بارکزی او اڅکزی سره یواو گډ وي نو ددوی په قوت او زورکی په زیا توالی راتلی، او اوس دیــوه بیل خان ترلاس لاندی دي، اڅکز ی تول دیوه پلار اولاده کنـــل کیږی او اوس له بارکز یو څخه بالکل بیل دي، په توله درانی قبیله کې اڅکزی ډیر سرکښ اود ازادی طبع خاوندان دي، دوی په مالداری او لوټ باندی ژوندکوی.

علیکوزی (الکو زی) :

دوی تول تقریباً پنځلس زره کوره دی، دعلیکو زیو (الکوزیو) ملک له تولی درانی قبیلی څخه ډیر سرسبزاو خا صلناك دی، دوی دکند هارختیځ ته دجلدك په سیمه کې او شمـال لویدیځ او لوید یځ ته د ار غندا ب

او پنجوا یی په علاقه یعنی په هغه سیمه کی چی اناریی مشهور اوخوندور دی همدا راز په نورو لوید یځو سیمو او دخاکریز علاقی په شمال او نورو غرنیو شمالی سیمو کی اوهم په شمال لویدیځ برخو کی دمیوندیا میمند په علاقه کی چی دلته دسلطان محمود غزنوی وزیر خواجه (احمدبن) حسن میمندی استو گنځی و اودچکه اوساروان په سیمو کی دهلمند سیند په ختیځه برخه او دگند هار جنوب ته په شو نورو سیمو کی اوهم دبغنی باغران په غربی ملك کی دزمین داور شمال لوید یځ ته دنوزاد او کبخاك په علاقه دزمین داور لوید یځ ته اوهم په هرات ،غزنی او کابل کی په خواره واره ډول ژوند کوی. ددغه ښاخ اکثره خلك دکرنی په چارو او لږ یی په مالداری دولتی چارو او تجارت بوخت دی.

دنوموړی ښاخ دنسوزی او سرکانی څانگی دراولپنډی ضلعی دچهچه په نوم علاقی کی اوسیږی لکه چی په دغه ځای کی یوه سیمه دسر کانی په نوم شته ده چی په هغی کی اتلس کلی موجود دی.

اودسر کانو یوه لو یه سیمه په همدغه نوم دکنړ په دره کی پر ته ده دعلیکو زیو (الکوزیو) ښاخ شو کورنی په دوابه اود پیښور دضلعی په نورو سیمو کی او شو کورنی یی په بلو چستا ن اوددکن په ملك کی میشته دی.

ددغه ښاخ ډیر مشهور او با تدبیره سړی عبدا لغنی خان نومیږی چی دزیرازی له څانگی څخه دی ، دی دمیر افغان په نوم هم بولی، دهرات والی وزیر یار محمد خان زین الدوله چی په نسوزی څانگی پوری تړلی او دلوړ همت خاوند او ځوانمرد سړی او هغه له دغه ښاخ څخه سرا و چت کړی دی او همدا راز داحمد شاه بابا ابدالی مور زرغونه هم له دغه ښاخ څخه وه.

موسی زی :

دغه څانگه یوازی شو کوره ده اودبارکز یو قبیلی دنصرت دښاخ سره گډ یږی.

پنځه پای قبیلې ښاخونه

دنور زیو ښاخ :

دغه ښاخ په شمیر کې دبارکزیو سره برابر دی دوی په ګرمسیر او دکندهار دده راوت له علاقې څخه ترشمالي غرنیو سیموپورې چې دهزاره جات سره پولې لري او سیمږي .

دغه سیمه ډیره حاصل خیزه اوپریمانه‌ اوبه لري، ددغو خلکو ډیره سیمه په فراه اوسبز وار (شین ډنډ) کې تر هراته پورې او پاتې یې د کندهار جنوب ته پرته ده، یوستر کلي یې سپیروان تو میږي چې د کندهار لوید یځ ته دارغنداب سین په ختیځه غاړه موقعیت لري . که څه هم ددغو خلکو اصلي کسب کروندګري ده خو اکثره خلك یې په مالداري بوخت دي،دژمي په موسم کې په خپل ملك یاپه هغوځایونو کې چې ښه څر ځایو نه اوډیر وابښه لري اوسیږي، دپسرلي په موسم کې ددوی کورنی په دوو برخو ویشل کیږي، یوه برخه یې د خپلو رمو ګلواو کورو نو سره دسیا بند غرونو ته ځي اوبله برخه یې پخپلو سیمو کې دکرنی په چارو لګیاوي . دغه ښاخ میلمه پال ، مغرور او متعصب دي،دوی له خود نمایي او خود ارائي سره ډیره مینه لري .

دعلیزی (الیزی) ښاخ

دغه ښاخ دکند هار صو بی په زمین داور کی او سیړی ددو ی دود اودستوردعلیکوزیو (الکو زیو)په شان دی .

دعلیزیواوعلیکوزیو (الکوزیو) ترمنځ پوله یوازی دهلمند سیند دی. ددوی ملك‌هم دالکوزیو ملك ته ورته والی لری،مګر دالکوزیو ملك اکثراء درود ونوداوبوپه ذریعه او دعلیزیوملك دکاریزنو په ذریعه خړوبیږی . ددغه ښاخ شمیر شپاړ سو زرو کورنیو ته رسیږی .ددغه ښاخ څوڅا نکی په پنجاب کی هم، میشته دی، چی‌ددوی څخه په دهغی برخی ذکر چی‌په ملتان کی اوسیږی دکتاب په پای کی‌راشي. ددغه ښاخ‌یو کورنی دراولپنډی ضلعی په اسلام ګړکی دحسن ابدال‌څخه دری‌میله لیری لو ید یځ‌خوا ته اوسیږی دغه کورلی محمد شریف‌خان‌پوری مربوطه ده‌چي ‌ګی‌درئیس برهان په نامه هم‌بلل‌کیږی . نوموړی‌په دغه سیمه کی دڅو کلیو خاوند اوهم لـه سرکار څخه یوه اندازه تنخواه‌هم ور کول‌کیږی.دده‌په زامنو کی‌شیردل‌خان او پردل خان ډیر پوه اولایق انسانان‌دی. دهغو دریم ورور سرور خان او له ټولو څخه کشریی حسین خان دی‌چی دانګریزی سرکار له خوا دوی‌ته په درنه سترګه کتـل کیـږی، دوی‌دهغه محمد شریف خان او لاده‌ده چی دسکانو په پاچا هی کی‌په نجابت اوزړه ورتوب کی ډیر مشهورؤ له ده څخه پرته دعلی زیو ښاخ ټولس‌ځایونه دراولپنډی ، ضلعی په چهچه کی هم پراته‌دی‌او دچهچه دسیمی دڅلورو تپو څخه په یوه تپه کی‌یی علیزی‌دی.

داه وزی ښاخ :

دا څرګنده خبره ده‌چی ادو او علی سره وروڼه وو . دغه ښاخ تقریباً پنځه زره‌کورلی دی دمعروف په علاقه کی څو سیمی په دهراووت نی دوی سیمی اوپه ګرمسیر کی در ی‌سیمی‌دوی استو ګنځی‌دی. ددو ی دودا دستور او کار و کسـب ددو ی دګاو نډیو قو مو نو په شان دی .

دسا ګزی ښاخ :

دوی دګند هار لوید یځ خواته په شکلنه سیمه کی دارغندا ب دسین په غاړه دبست تر کلا پوری اوهمدا راز څو سیمی‌یی دچکه علاقی په بنګتنی برخه کی، دهلمند سین په ختیځـه غاړه کی پرتی‌دی، ځینی زمیندارخلك یی پـه ګرمسیر، فـراه، سبـزوار (شین ډنډ) ،لاش‌جوین، دهرات‌جنوب لویدیځ ته او دسیستان شمال اوهم‌ځینی یی په هرات کی میشته دی . پـه دغه ښاخ پوری مربوطـی دوی‌معتبری‌کورني دیادو لو وړدی، یوه

يې دسردار سالوخان کورنی چې دلاش وجوین په سیمه کې دعزت اواقتدار خاوند ده اود ایران سلطنت تابعیت یې قبول کړی خو کوم مال یا مالیه هغوی ته نه ورکوی ، دوهمه کورنی یې دګرمسیر دعلاقې دقلعهٔ خانشین په سیمه کې دو نیمی سردار مدو خان کورنۍ ده ، په دغه کورنی کې مشهور سړی موسی دو ننګی تیر شوی او اوس دغه کورنۍ دبار کزیو دریاست دصدمې په سبب دضعف او انحطاط په حال کې ده ، اسحاق زی اکثراً په مالدارۍ او لبو شمیر یې دکرنې په چارو لګیا دی . دهوی شمیر تقریباً لس یا یوولس زرو کورنیو ته رسیږی او هم ویـــل کیږی چې په بلخ کې هم دوی تر زرو کور نیو زیات میشته دی.

دماکو او خاوکانی یا خاکوانـی ښاخ :

دغو ښاخو نو دوګړو شمیر ډیر لږ دی ، دوی په علیحده او بیله توګه عمکی نه لری ، ددوی عمده ځینی په کند هار او ځینی یې دنورزیو دښاخ سره یو ځـــا ی پراته دی ، دغــه ښاخ دمنځه تلو په حال کې دی ، دوی له هغانه کوم خود مختار خان یا رئیس نه لری ، خاوکانی په دوو برخو ویشل کیږی یو مشر خاکوانی او بل کوچنی خاکوانی .

دوی دکند هار په شاو خواکې په خواره واره دول اوسی . په غزنی کې دخا کوانیو شو ګلی دماکو د کلیو ترڅنګ پراتـــه دی ، محلی خلک دوی دخاکوانی ماکوانو په نامه یادوی ، ځینی درانیان دماکو نسل ، له خپل ځان سره برابر نه ګنی دوی وایـــی چې ماکو اصلی زوی نه بلکې پســه فرزندی نیول شــوی (وصلـــی) دی.

په اجمالـی ډول دابدالی قبیلی حالات :

مغه بیان چې تر تولو زیات داعتبار وړ دی له هغه څخه داسی ښکاری چې دا یوه مستقله او ازاده قبیله ده . تر (۱۶۰۰) عیسوی کال پوری دوی دازبکانو تر فشار او تهدید و نو لاندی وو نو دایران پاچا خراج یې په دغه شرط ومانه چې دازبکانو دتیری په مقابل کې له دوی سره مرسته وکړی او دغه باج یې تر (۱۷۰۸) عیسوی کال پوری منلی و .

په دغه وخت کې غلجیو په بغاوت لاس پوری کړاو دکند هار دحاکم په مقابل کې ودریدل اوهم یې له ابدالیانو سره په جګړه لاس پوری کړ . او

ځنګه چې وړاندې وویل شول دغـه قبیله دهرات دشاو خواپه غرنیـو سیمو کې میشته وو اود ابدا لیانـو په نوم بلل کیدل، په دغه ډ ـــ او هم له دغـه وخت نه وړاندې دوی دغلجیانو سره مخالفت درلود او کله چې نادر شاه افشار بیادغه قبیلې ته دکندهـــا ر په شاو خوا کې د میشتــــه کیدو اجـــــا زه وورکړه که څه هم په دغه وخت کې ددرانیو دقبیلې دهر ښاخ ځمکه بیله وه ځنګه چې وړاندې ولیکل شول په حقیقت کې ټوله قبیله سره پیوست اوپرځای شوه او دیوه ښاخ یو سړی کولای شول دبل ښاخ څخه ځمکه واخلي یایې ورو بخښي اوهم په ځینوسیمو کې لکه ګرمسیر اود کندهار شاوخوا کلي ددرانیو ټولو ښاخونو ته دځمکو مساوي برخې ورکړل شوي دي.

دوګړو شمیر :

وویل کیږي دهغو ټولو کسانو شمیرچې ددرانیو په سیمو کې اوسیږي اته لکه نه دي‌خو ښایي دغه شمیردلسو لکوتنو په شاوخواکې وي چې ددوی له جملې څخه دخاصو درانیو شمیرتر څلورولکو نه زیا ت دی،او داسې روایت موجود دی چې ایراني نادرشاه ددوی سر شمیرنه هغه وخت وکړه چې په دوی باندې یې ځمکــه ویشله او هغه وخت دوی شپیتــه زره کورني حساب‌شوي وو، که‌چیرې دغه شمیر واقعي وي نو ویل‌کیږي معلو میږي اوښایي ډیر خلک څصو صاع‌شپانه او درمو ښتینتان په دغــــه سر شمیرنه کې نه وي راغلي،داځکه چې دغه سر شمیرنه دځمکو دویش له پاره تر سره شوې وه اومقصدیې داو چې‌دځمینداړانو شمیر معلوم او بیا ځمکه ورباندې وو یشــــي.

دود او دستور :

ددرا نیو قبیلې دهر یوه ښاخ‌په سر کې‌یو سردار ټاکل شوی دغـــه سرادر دښاخ له یوې محترمې کورنۍ‌څخه انتخاب اودکابل پاچا په منظورۍ مقرر شوی دی، ددغه سردار په‌خوښه اود خلکو په انتخاب سره‌دښاخ دهري‌یوې څانګې‌په سرکې‌یو مشر یاخان مقرر دی‌او عموماً په دغه‌ډول دخانی یا مشرۍ موقف په یوه‌کورنۍ کې موروثي کیږي خو کله کله پـــه دغه برخه کې تغییر هم‌راتللی‌شي.

قضا او قضاوت :

دکلي مشران او معتبران یاددوارو‌خواوو دوستان دقاضي په معرفت

او دشرعي احکامو سره سمه فیصله کوی او کله چې سردار حاضر نه دی نو دهغه و کالت یاکفالت دهغــــه مرستیال کوي چې دده له خوا تا کل شوی وی، خانان عموماً خپلوروړ، زوی یا کوم خپلوان دمرستیال په توګه ټاکی ، د درانیو اعلی حا کم دکندهار صوبه داردی، اودی د کابل امیر له خوا ټاکل شوی او دده دحکم مطابق او امر او احکام صادر وی .

دهغه قبیلی شتمن خلك خپلــــه ځمکه دبزګرانو یا مزدورانو یامریانو په ذریعه کری او پخپله دهغــه حالت څارنه کوی خو هغه کارونه چې زړه یی غواړی هغه په خپل لاسه ترسره کوی، هغه درانیان چې بیوزله دی له هغو څخه ځینی یی بزګری اوډیرلږ یی مزدوری کوی خو اکثراء د مزدو ری کارو نه تاجك یا دپښتنو همسایه ترسره کوی.

د کیږدي دستور :

کیږدی یوه وړه خیمه وی چې په عمومي ډول سره دوزو او اوښانوله وړیو څخه جوړ یږی. اوږدوالی یی له (۱۵)څخـــه تــــر (۲۵) فـوټو پـور ی او پلـن والــــی یی دلسو څخه تر دولسو (۱۲) فوټو پوری او جګوالی یی له اتو فو ټـو نه زیات نه وی، ځینې شتمن خلك په خپلو خیموکی لمڅی غوړوی مګرعوام خلك دخپلوخیمو په منځ کی یوه پرده ځوړند وی چې دنارینه اوښځوځایونه سره بیل کړی دیوی معمولی خیمی قیمت تر (٤٠) روپیو پـوری وی، هغه درا نیان چې په یوه ځای دایمي سکونت نه لری نو هغوی په کیږدیو کی ګوزاره کوی. دوی دګرمی په موسم کی غرونو ته ځی اودګرمی په آخر موسم کی اوارو او میدانی سیمو ته راځی او هلته خپلی خیمی دروی، هغه خلك چې دکندهار په سهیل کی اوسیږی دوبی دتوبی په غره کـــی تیروی خوهغه خلك چې دهلمند نـه هغی خواته پراته دی له ټولوڅخه لیری ځایونوته ځی، دوی تل دپسرلی په موسم کی دسیاه بند غره او بـادغیس یا (بای غز) ته ځی، تردیمو سبم وروسته په سختی سـره کیدای شی چې خلك په میدانو نوکی ولیدل شی ځکه چې دوی دځلورو میاشتو له پاره په غرونو کی دښی اویخی هوا څخه ګټه او خوند اخلی، دهغوخلکو نه پرته چې دهلمند دسیندپه بره (پورتنی) خواکی اوسیږی نـورټول مالداران په خیموکی ژوندکوی اودلیږد یدو په وخت کی دوی خیمی او کمپو نه دلیدلو وړدی، هغه دله

چې سیل کېږدي ولري نو هغه لوی کمپ گنل کیږي لویو کمپو ته خیل ویل کیږي ددوی سردار دسرخیل په نامه یا دوی څو کوچنی دلی ته کلی وایی، په هغه ځای کې چې دوی دیره کیږي نود ملك خیمه دنورو خیمو په منځ کې دروی.

همدا شان دلویدیځ خوا ته یوځای دجومات په شکل جوړوی او کله چې ملا اذان وکړی نو ټول دخپلو خیمو څخه دلمانځه له پاره راځي او هلته سره راټو لیږی، دوی دخپلو کیږدیو نه لرګه لیري یوه بیله خیمه دروي او کله چې میلمه راشي په دغه خیمه کې اوسیږی، په بل عبارت نوموړی خیمه دناړینه وو له پاره دیوی حجری حیثیت لری. دوی دژمی په موسم کې هم په یوه دامنځای کې خپلې خیمې دروي او خپلې رمی او حیوانات دخرولو له پاره له ځان سره لیری ځایونو ته بیایی کله چې ددوی رمی سیرلی او وریو زیږوی نو دوی دوړی او دری دری رمی له ځان سره بیایی او په ښو ځایونو کې سره خوریږی او په دیره مینه دهغوی ساتنه او پالنه کوی. ددوی اکثره رمی دچاګیر داروی، دوی وزي هم ساتي څو دپسونو په پرتله دوزو شمیر لیږ دي. عموماً پسه غرو نو کې وزی او په اوارو سیمو کې پسونه ساتي. هغه خلك چې دښتو ته ، نږدې پراته دي یا شتمن وي اوښان هم ساتي، ځکه په اوښانو باندی کیږدی او نورمالونه وړی. دوی اکثراً داوښا نو نر بچیان خرڅوی او ښځې یې دنسل دډېر ښت له پاره ساتي. عام خلك دخرو نه هم استفاده کوی او تقریباً په اکثرو کورو نو کې اسان هم ساتل کیږي. دوی دتازی سپیو له ساتلو سره هم مینه لری.

خوراك :

شتمن دراني دایران دخلکو په شان غوړ او مزه دار پولاو، دوړ ی کباب کړی غوښې، دتناره دودی، وچې غوښې او کرت خوری، همدا راز دوی خوندور شربتونه هم څکي چې له دول دول میوو څخه جوړیږي، له دغو شربتو نو څخه یی ځینی ډیر ښه اومقوی دی. دعامو خلکو خوراك دغنمو دوډی، ډیر غوړی او کله کله غوښه، پوڅه، تر کاری اوسابه دی. هغه وګړی چې غریب او نیستمن دی نوډوی د اوړ بشو اوجوارو په دوډی او شړو مبو باندی خپلی ګیډی مړوی، درانیان دمیوو له خوړلو سره ډیره مینه لری او هغه خلك چې په کلپو کی اوسیږی نو هغوی ددول دول میوو نه استفاده کوی، مګر کوچیا نو ته یوازی ختنکی ترلاسه کیږی.

پوښاك :

هغه خلك چي په ښارو نو کــــي اوسيږي اکثراء دګليو الو او مالدارو په نسبت شتمن‌دی. دوی داسی‌جامي‌اغوندی لکه څنګه‌چی په ايران کی پی خلك اغوندي، لويه لونګی خولی‌او قبا استعما لوی، دغه قبا ګانـــی اوږدی او ترزنګنو پوری رسيږی،چی‌مخه يی خلاصه وی او دهغه دپاسه ددوی دوضعی سره سم يوه اعلی‌يــا! نا چپنه اغوندی، همداشان دوی يو پراخ پرتوګ دقباد پاسه اغو ندی ، دوی د چپلی د لاندی کمر بنـــد ، تــوره او چاړه تـــړی غر يب درانيان په تيره بيا شپانه، خراسانی

خولي په سروی، دوی‌يو پراخ کميس‌چي لستو نی يي اوږده وی دچپنو سره اويا بی‌له چپنو اغوندي، اوهم نيلي رنګه پراخ پرتوګ چي‌سپينی ليکی هم لري اغوندی ،منځنی طبقه خلك اکثراء دجمعی په ورځ په اوني کی‌يو ځل او ځيني يی خپل کالی په دويمه يا دريمه جمعه بدلوی، خو غريب خلك او شپانه په ميا شتـــو مياشتو هم خپل کالی نه وينځـــی ، مګر ټول خلك دغسل دوا جبيدو نه پرته په اونی کی يوځل غسل کوي، خو شپانه او هغه څوك چي په دښتو او بيابا نونو کی ګرځي تر هغوچي اوبه پيدا شی له دغه امرله مستثني دي .

ځيری ، بڼی اوولی :

ددغه قبيلی خلك ښکلی، ونی يی‌جګی او سره بخون غنم رنګه دی ، مخونه يی ګرد، او تندی يی پراخه او زړه راښکونکی بڼی لــری، دوی عموماء اوږدی ږيری پريږدی خوځوانان يی ځيلی ږيری خريي او تر يوی مودی پوری يی لويدو ته نه پريږدی .

ټول خلك دخپلو سرونو منځونه خريي پاتی برخی يی هم تروږمونږ ولو پوری کموی ،خو ځينی خلك دســرو ښته پريږدی په تيره بيا شپانه خپل سرونه نه خريی او دير يـــي اوږده پر يږدی .

مذهب :

تـــول درانيان سنـــی او ديندارہ مسلما نان دی، هيڅ يو ګلي دکوچيا نو سيمه يا کمپ به نوی چي ملا ياامام ونه لری که څه هم ډير وا ړه وی ،ددوی ددينداری په باب هـــم دومره ويلی شوچي داځګزيو دښاخ نه پرته نور درانيان خپل لمو نځ هيڅ وخت‌نه پريږدی او داسی‌خلك ډير کم دی چي لمو نځ قضاء کړی ، دروژی په مياشت کی هر بالغ‌سړی روژه نيسی ددوی يو غوره خاصيت‌دادي چي دنورو مذاهبو پيروانو ته دزيا ن رسولو نه ډډه کوی او ډير افراطی تعصب‌نه‌لری، خو اڅکزی‌نه

يوازې داچې دخپل دين په ضروري احکامو عمل نه کوي بلکې دنورو مذاهبو پيروان زوروي. ملايان اکثره غريب وي اوپه عامو خلکو کې کم وعظ کوي.

ددرانيو په قبيله کې دفقهي عالمان لږ دي، خو تقريباً ټول درانيان په پارسي ژبه پوهيږي او خبرې پرې کولای شي، همداراز دوی اکثراً په دواړو ژبو يعنې هم په پارسي اوهم په پښتو باندې له ياده شعرونه وايي. ددوی اصلي ژبه پښتو ده.

دواده دود او دستور:

دواده کوم دود چې په نورو پښتنو کې دی په دغه قبيله کې هم په هماغه ډول دی. ددوی ځوانان کله چې (۱۸) يا (۲۰) کلن شي او پيغلې يې چې (۱٤) کلنې يا (۱٦) کلنې وي وادونه سره کوي اود وادهواك او اختيار دمور او پلار په خوښه تر سره کيږي. دراني ښځې هم ديندارې اولمونځ گوزاده دي، ميړونه له خپلو ښځو سره ډيرښه چلند کوي او ځينې پوهې او وفاداري ښځې دخپل ميړه دکور ټول واك هم لري. ميړه او ښځه اکثراً په يوځای کې ډوډۍ خوري او په يوه ځای کې سره گوزاره کوي، خو کله چې کوم پردی اويا ميلمه ددوی کور ته راشي نو سره بيليږي.

معمولي عادتونه؛

ددې قبيلې اکثره نارينه عموماً په حجرو، مهمانخانو اويا په جوماتونو کې سره راټوليږي. دوی له جومات نه پرته عموماً په حجرو او مهمانخانو کې چلم څکوي اونصوار اچوي اوهم دخپلې کرنې او مالدارۍ او يا دسر دارانو داعمالو او دکابل دحالاتو په باب خبرې کوي. دوی دښکار سره هم مينه لري. همداراز ددوی تر منځ ډول ډول لوبې هم تر سره کيږي. تقريباً هر ماښام دوی اتڼونه کوي او دسندرو ويلو کيسو او خبروکولونه پر ته هيڅکله نه سره راټوليږي. ددوی له دغه کرکټرونو نه جو تيږي چې دوی ډېر ندي زړه خاو ندان دي.

ميلمه پالنه:

درانيان ډير ميلمه پالونکي خلك دي. دوی دهر پردي سړي په ليدلو او ميلمه کولو باندې ډير خو ښيږي. کوچې خلك يې که څه هم ډيرنيستمن دي، خو دهغوی په حجرو کې هم تل دميلمنوله. پاره بندوبست موجود وي. په دوی کې ډير لوی ملك اوخان هم دميلمه پالنې او هغوی ته

دوډی دورګولو نه نه خلاصیږی په اکثرو کلیو کی مساپران جوماتونو او حجرو ته ځی او په عمومی ډول دهغه چاسره چی لوړی خل ورسره مخامخ شی میلمه کیږی، خودقیمتی په وخت کی ټول خلک سره په کډه مساپرانو ته ډوډی راوړی او بــا هم پخپلو منځو کی سره نوبتاچوی اوهر څوک په خپل وار مساپرانو او میلمنو ته ډوډی ورکوی. دوی عموماً میلمه ته وچه ډوډی شړومبی اویاژیړ غوړی ورکوی، په هغه صورت کی چی په کلی کی کوم پسه حلال شوی وی په هغه وخت کی ښوروااو غوښه هم میندل کیږی. که دکلــی په کوم کور کی خیرات یا کومــه میلمستیا وی، نو په دغه صورت کی میلمه هم هلته غو ښتل کیږی. او د دوستانو په شان ګڼل کیږی کــه دشپی هر وخت وغواړی چی ویده شی نو دکور خاوند بستره او نور سامان راوړی. دغه میلمه پالنه دټو لــو خلکو له پاره ده او یوازی دافغانانو (پښتنو) یا مسلمانانو له پاره نه بلکی دهندوانو او نورو مذاهبو پیروانو سره هم دغسی چلند کیږی، خو دمیلمه پالنی په څنګ کی دوی دلو ټماری عادتونه هم لری. څرنګه چی درانیان دحکومت څخه لیری پرا ته او په خواره واره ډول ژوند کوی نو ځکه خپلو دغو عادتونو ته ادامــه ورکوی ، په تیره بیا هغه وخت چی په ملک کی څه شر، فسادو نه او بــی انتظامی منځ ته راځی نو دلوټمارانو شمیر زیاتیږی ، خوله ټولو څخــه اکثر یان ډیر لاری وهونکی دی.

درانیان په خپل ملک ډیر ویاړی او کندهار ته په درنه سترګه ګوری اووایی چی زمونږ دمشرانو ادیره او مړی هلته دی. ددرانیانو اکثره مشران عموماً دلیری لیری ځایونو څخــه خپل مړی دښخولو له پاره دلته راوړی. دغه خلک ډیر لږ سفرونه کوی اوتل دخپلی کورنی مینه ورسره وی . همدارازهندوستان ته هم دسوداګری له پاره لږځی. دوی په کورنی کی داوسیدلو څخه پوره خوند اخلی .

داڅکزیو ښاخ :

دغه خلک په کړو وړوکی دنورودرانیو نه پوره توپیر لری نو ځکه دوی حالات په جلا او بیل ډول لیکل شول ددی ښاخ دخلکو شمیر ډیرزیات نه دی او داکثرو روایاتوله مخــی دوی (۵۰۰۰) کورنی دی. دقــوی احتمال له مخی به دوی د (۴۰۰۰)کورونه زیات نه وی .

ددغه ښاخ اکثره خلک په مالداری بوخت دی، خو په لږه اندازه دکرنی چاری هم ترسره کوی چی ددوی له پاره کفایت نه کوی. ددوی دپسونو رمی په خواجه امران (عمران) او دتوبی په غرونو کی څرول کیږی، خو

پوازی داچی دخپل دین په ضروری احکامو عمل نه کوی بلکی دنورو مذاهبو پیروان زوروی. ملایان اکثره غریب وی او په عامو خلکو کی کم وعظ کوی.

ددرانیو په قبیله کی دفقهی عالمان لږدی، خو تقریباء ټول درانیان په پارسی ژبه پوهیږی او خبری پری کولای شی، همدارازدوی اکثرآ په دوارو ژبو یعنی هم په پارسی اوهم په پښتو باندی له یاده شعرونه وایی. ددوی اصلی ژبه پښتو ده.

دواده دود او دستور:

دواده کوم دود چی په نورو پښتنو کی دی په دغه قبیله کی هم په هماغه ډول دی. ددوی ځوانان کله چی (۱۸) یا (۲۰) کلن شی او پیغلی یی چی (۱٤) کلنی یا (۱٦) کلنی وی وادونه سره کوی اود وادهواك او اختیار دمور او پلار په خوښه تر سره کیږی. درانی ښځی هم دیندار او لمونځ گوزاده دی، میړو نه له خپلو ښځو سره ډیر ښه چلند کوی او ځینی پوهی او وفاداری ښځی دخپل میړه دکور ټول واك هم لری. میړه او ښځه اکثراء په یوځای کی ډوډی خوری او په یوه ځای کی سره گوزاره، کوی، خو کله چی کوم پردی او یا میلمه ددوی کور ته راشی نو سره بیلیږی.

معمولی عادتونه ؛

ددی قبیلی اکثره نارینه عموماء په حجرو ، مهمانخانو او یا په جوماتونو کی سره راټولیږی. دوی له جومات نه پرته عموماء په حجرو او مهمانخانو کی چلم څکوی او نصوار اچوی اوهم دخپلی کرنی او مالداری او یا دسر دارانو داعمالو او دکابل دحالاتو په باب خبری کوی. دوی دښکار سره هم مینه لری. همداراز ددوی تر منځ ډول ډول لوبی هم تر سره کیږی. تقریباء هر ماښام دوی اتنونه کوی او دسندرو ویلو کیسو او خبرو کولو نه پر ته هیڅکله نه سره راټولیږی . ددوی له دغه کرکترونو نه جو تیږی چی دوی دژو ندی زړه خاوندان دی .

میلمه پالنه :

درانیان ډیر میلمه پالونکی خلك دی. دوی دهر پردی سړی په لیدلو او میلمه کولو باندی ډیر خو ښیږی. کوچی خلك یی که څه هم ډیر نیستمن دی، خو دهغوی په حجرو کی هم تل دمیلمنو له . پاره بندوبست موجود وی. په دوی کی ډیر لوی ملك او خان هم دمیلمه پالنی او هغوی ته

شول، کله چې دمغدود زوی شاه حسین له کندهار نه د پنجاب خواته راغی نوښایي چې له دې سره به دابدالي قبیلې ډېرې کورنۍ ملګرې وې او هم کله چې غلجي میرو یس هوتک قدرت تر لاسه کړاو دمغه جنګیالی طبعې په وجه ډېر ابدالیان خواره واره شول چې ځینې یې ملتان ته هم ولېږدېدل داسې روایت هم موجود دي چې دابدالیانو څخه لومړی ځل په ملتان کې دتمن یعنې دجمند یازمند افغانانو (پښتنو) ښاخونه مېشته شول او کله چې دغه پښتانه ابدالیان ملتان ته ورکوچېدل او هلته په رانګپور ګهېړیانې واله کې مېشته شول اوخپل ژوندبه یې کله دتجارت له لارې او کله به یې دتجارتي مال دوړو راوړو دکرایې له لارې څخه چې دنورو پوونده وخلکو رواج دی تامیناوه، خو دشاه حسین کورنۍ ته دپاچاهۍ دربار لخوا دګوزارې لپاره څه منصوبه ورکړل شول، که څه هم په هغه وخت کې دابدالیانو هر ښاخ چې په ملتان کې مېشته و له ځانو نه بېل بېل خانان او ملکان لرل لکه چې دعلیزیو بېل خان او سدوزیو ځانته بېل خان درلودبادو زیواونوروحال هم په همدې شان و، خو ددې ټولو خیلونو مشر دشاه حسین مغدود له اولادې څخه و.

گله چې دابدالیانو شمېر زیات او پیاوړی شول نو دجمندي زمندله ښاخ سره یې دزراعتي مسئلو له کبله شخړې رامنځ ته شوې او په پای کې ددواړو ښاخونو تر منځ سخته خونړۍ جګړه وشوه. او دابدالیانو قبیله دجمند په ښاخ بریالي شول اودجمند یازمنددښاخ ډېر خلک ووژل شول، پاتې یې له ملتان څخه وایستل شول اوپه دغه ځای باندې ابدالیانو خپله قبضه ټینګه کړه. گله چې د دغو پېښو خبر د ډیلي دربار ته ورسیده نوله هغه ځای څخه په ډېر نارضایت سره دابدالیانو ښاخ دخارجید لوفرمان صادرشو گله چې ابدالیانو دغه خبر واورېده نو هلك پلك شول. دوی په خپلومنځو کې پرېکړه وکړه چې ددوی دښاخ ټول خانان او ملکان دډیلي پاچا حضور ته ولاړ شي او دخپلو جرایمو عفوه وغواړي تر څو دډیلي پاچا قهر اوغضب سوړ شي او ددوی کورنۍ له کړاوونو څخه وژغورل شي، له همدې کبله ددوی دری تنه خانان او مشران په ډیلي کې د پاچاحضورته ورغلل او له هغه څخه یې دخپلو گناهولو بخښنه وغوښته او ددغه جرم سبب یې دجمند یازمند ښاخ په غاړه واچاوه. دډیلي پاچا دومره نرم شو چې ددوی په کورنیو باندې یې تېرې بند خو ابدالي خانان او مشران یې تر دویم امره پورې بندیان کړل، گله چې په دغې کې مرمته وو او نورو په بغاوت لاس پورې کړاو خوځله یې شاهي

لښکری ماتی کړی نو په هغه وخت کی ابدالی قید یا نوله ښدی خا نی
شخه ده ته دخدمت کولو غوښتنـــه وکړه چی دوخت د ضرورت له مخی
ددوی غوښتنه ومنل شوه او دیـوه پوځ سره ابدالیان همدد کهن په لور
روان شول او په دغه جګړه کی یــی داسی زړه ورتوب وښود چی پاچا له
هغو نه ډیر خو شحال او دوی ته یی خلعت او جاګیرونه ورکړل او بیابیرــ
ته ملتان ته راستانه شول، له هماغه وخته دغه خلك زمیندار اودملتان
په شاو خوا کی دجاګیرونو خاوندان دی، چی دشاه حسین له اولادی شخه
شجاع خان سوجاع باد (شجاع آباد) ودان کړ. دغه کورنی دتولو ملتا نی
افغا نانو (پښتنو) خانان وو.

کله چی دخدا ی رضا و شوه چی ددغه ښاخ واك دی په ملتان کـــی
له منځه ولاړشی نودنواب مظفر خان په دوره کی چی دملتا ن ډیرمشهور
نواب و . او دده دنسب شجـــره وړاندی ولیکل شوه دلاهور وا لـــی
رنجیت سنګ په ملتان بانـــد ی تسلط و موند اونواب مظفر خـــا ن
شهید شو . په (۱۸۷۵) عیسوی کال بکر ما جیتی کال کی سکانو پـــه
ملتا ن تسلط تینګ کړ او هغـــه افغانان (پښتانه) چی د سکانو په
عام قتل شخه خوند ی پاتی شو ل له ملتان شخه و لیږ دید ل او دنوا ب
محمد خان بهادر خیل سدوز ی سیمو یعنی منکیرا او بکهر ته راغلـــل
او کله چی منکیرا درنجیت سنـــګ لاس ته ور غله هغو ی دیره جا ت
په تیره بیا په دیره اسمعیل خـــا ن کی میشته شول . اوتر اوسه پوری
دوی اکثراً په دیره اسمعیل خـــا ن کی پرا ته دی . دنوا ب مظفر خا ن
له اولاد ی شخه احمدعلی خان ا و نواب عبدالمجید خان تر اوســـه
په لاهور کی ژ وند کوی.

دنواب محمد خان کورنی:

دغه کورنی دسدوزیو دقبیلـــی دبهادر خیلو په ښاخ پوری اړه لری
که شه هم په لومړی سرکی دجمندویازمندو سره دجنګ او ملتان دنیولو
په وخت کی دنواب محمد خان نیکه صحبت خان دډیر عزت ،اعتبار اوشتو
خاو ند و او دده پلار یار محمد خـــان چی په یاراخان باندی مشهورو ډیر
غریب سړی و.

په پیل کې نواب محمد خان دسوداګرۍ په چارو بوخت و. لږ هغه څو موده وروسته په بهاولپور کې دسرکار ملازم شو. څودغه کار یې هم پرېښود او دملتان صوبدار حاجي مظفر خان سره دمیاشتې دشپېته روپۍ تنخوا ه په بدل کې نوکر شو. داسې ویل کېږي چې دنوموړي تنخواه لومړۍ ځل دیرش روپۍ وه چې وروسته شپېته روپۍ شوه، خوده ته به ډیر عزت ورکول کېده، څه موده وروسته دخپل ذاتي لیاقت په اثر نواب محمد خان دېوې دلې ملتاني افغانانو سره دنوروملکونو دنیولو ملاوتړله لومړی یې دمونده کلا فتح او ورپسې یې وروروددتهل، کچرهي، لیه او بکهر سیمې یو په بل پسې و نیولې او پوره خپلواکي یې ترلاسه کړه په دغه وخت کې دلیه ښار چې تهل دعلاقې دحاکم استوګنځي و د عبدالنبي خان سراهي په لاس کې واو کله چې نواب محمدخان وربانډې یرغل وکړ لومړی دعبدالنبي خان دزوی محمد عارف خان لخوا ددوی یرغل په شا وتمبول شو مګر کله چې محمد عارف خان دتوپک ګولی دلګېدو په اثر مړشو نو ملتاني پښتانه سره له دې چې دماتې سره مخامخ وو، په ناڅاپي ډول یې بری په نصیب شواو دلیه ښار ددوی لاس ته ورغی.

کله چې نواب محمد خان دومره سیمې ونیولې نو دتیمور شاه سدوزي زوی شاه زمان د افغانستا ن پا چا ده ته دنوابۍ خطاب او دشاهنواز خان لقب ورکړو له دې کبله ده په نواب محمد خان شهرت وموند ده دمنکیرا کلا جوړه او هغه یې خپل استوګنځی وټاکله، په (۱۸۲۱) عیسوي کال رنجیت سنګ د منکیرا کلا اوددواب سیمه دنواب محمد خان څخه ونیوله او نواب محمد خان په دیره اسمعیل خان کې دسند درود په لوید یځه غاړه کې میشته شواو بیا هم دې نواب واو دخپلو فتو حاتو لمن یې دلوید یځ خواته ددامانه مروت اوعیسی خیلو پورې وغزوله، خو دده پوځونه په بنو کې دماتې سره مخامخ شول.

نواب محمد خان نارینه اولاد نه لاره نو ځکه یې پخپل ژوند کې دحاجي عبدالرحمن زوی حافظ احمدخان چې دده زوم او دنواب محمد خان له لور څخه ددغه حافظ احمد خان کو چنی زوی عبدا لصمد خان زیږېدلی و. ددې کبله او په دغه ا مید چې یوه ورځ به دده ریاست دده دلورزوی ته ورسیږي نو حافظ احمد خان یې خپل ولي عهد وټاکه. دده تر مړینې وروسته نواب حافظ احمد خان دریاست واکې تر لاسه کړې، دی دلوړ همت خاوند او زړه ور نواب تیرشوی دی. عبدا لصمد خان پرته له دې چې دنوابۍ مقام ته ورسیږي او دخپل مرحوم نیکه هیله ترسره کړي مړ شو په دغه ډول دنواب محمد خان هیله تر سره نه شوه او دحافظ احمد خان تر مړینې وروسته دده له زامنو څخه شیرمحمدخان چې ددویمې ماندینې څخه د خپل پلار جانشین شو په دغه وخت کې چې دبکرما جیتی

(۱۸۹۳) کال د مساتون میاشت و ګورنر نونهال سنګ د ډیره اسمعیل خان د نورو مربوطو سیمو سره یو ځای د سکهانو خالصه سرکار ته ورکړه او په بدل کې یې نواب شیر محمد خان ته د کال شپیته زره روپۍ د جاګیر په ډول ورکولې. د نواب شیر محمد خان تر مړینې وروسته د ده زوی نواب محمد سرفراز خان، نواب شو چې تراوسه هم په ډیره اسمعیل خان کې ژوند کوي او خلک یې ته نواب وایي او په ډیره درنه سترګه ورته ګوري. دلته د نواب محمد خان د ورور نو څخه حیات الله خان سدوزی هم اوسیږي.

علی زی (الیزی):

دعلیزیو له کورنۍ څخه نواب فوجدار خان ته انګریزي سرکار د نوابۍ لقب ورکړ کله چې ابدالیانو په ملتان باندې خپل تسلط ټینګ کړ نو په هغه وخت کې دعلی محمد خان د زوی عیسی خان لوی نیکه په خپله قبیله کې ډېر اعتبار خاوند و. تر هغه وروسته خدایار خان د نواب فوجدار خان نیکه د ملتان د والیانو نواب شجاع او مظفر خان په دربار کې ډېر عزت خاوند ملازم و. کله چې رنجیت سنګ ملتان ونیوه نو ابدالي قبیلې ته ډېر زیان ورورسیده ډیری کورنۍ یې تباه شوې او ډیری یې هم خوارې واره شوې په دغه وخت کې دغې کورنۍ ته هم پخوانی حیثیت او جاه و جلال ورپاتې نشو، څه موده فوجدار خان د نواب شیر محمد خان سدوزی چپه‌دار و، ورور وستـــه د عاشق محمد خان علیزی د ورور ملازم و او کله چې د ډیره اسمعیل خان ضلع د سکانو سرکار ته په لاس ورغله او دی د خپل وطن نه جلا شو نو د ټانک او سپدونکي الله داد خان د ټانک سیمه عاشق محمد خان علیزی، محمد پاینده خان خواجک زی او حیات الله خان سدوزی ته د جاګیر په ډول ورکړه، خو چې دغو شاتانو له خوا فوجدار خان د ټانک په کلا کې ملازم وټاکل شو، او بیا د دیوان لکهي مل سره چې داسمعیل خان ډیرې تیکه دارو مقرر شو او ده له خوا څه موده د مروتو د سیمې کاروته هم ده تــه وسپارل شول.

په (۱۸٤۷) کال کې کله چې په ملتان کې بغاوت منځ ته راغی له نیکه مرغه دی د ګرنیل سرهربرټ اوواردس سره ملګری او هغوی ته یې ډېر خدمتونه وکړل او تل د انګریزي سرکار خیر غوښتونکی و. د دغو خدمتونو په بدل کې انګریزي سرکار ده ته د خان بهادرۍ لقب، چا نیر او ډیره تنخواه وټاکله او کله چې ده ته په کابل کې د سفارت دنده ورکړه شوه بیا هم ده خپله وظیفــه په ښه توګه تر سره کړله. انګریزي سرکار له ده څخه ډېر خوښ او کله چې له کابل څخه بیرته راستون شو د نوابۍ لقب یې ورکړ او همداراز جاګیر هم ده ده په اولاده کې میراثي پاتې شو او په افتخاري توګه د پوځ سرداري هم ده ته سپارل شوې وه. دې ډېر پوه سړی دی.

غلام حسن خان علیزی :

نوموړی هم له همدغه کورنۍ څخه دی. دده پلار عاشق محمد خان نومیده چې یو ډیر باغیرته او زړه ور انسان و او دامیر فتح خان توانه له لاسه ووژل شو. غلام حسن په (۱۸۵۷) عیسوی کال چې په هندوستان کې کوم لوی بغاوت پیښ شو، دغه غلام حسن خان دسپرو دیوه فوند په مشری انګریزی سرکار ته دقدرو ړ خدمتونه وکړل، دی یوزړه ور، رښتینی اودښه خوی خاوند دی اود سرکار له خوا یو ځل کابل ته دسفیر په توګه لیږل شوی و اوهو کاله وروسته په (۱۸٦٤) عیسوی کال بیرته راستون شو. په (۱۸٦٥) عیسوی کال سرکار ده ته دښو خدمتونو اونښې کورنۍ په وجه دنواب لقب ورکړ.

دخود که کورنۍ :

دغه کورنۍ دسدوزي له قبیلې څخه دخواجه خضر دمشرزوی خداداد سلطان له اولادې څخه ده، له دې کبله چې خداداد ته پښتنو پخپله محاوره کې خدا کی وایه نو ځکه دده اولاده په خودګه سره مشهوره شوه په ملتانی پښتنو کې ددغه کورنۍ مشر نظام خان خودګه یو ډیر منلی او داعتبار خښتن سړی دی چې اوس دباولپور دنواب سره، نوکر دی او هغه ته ډیر دعزت په سترګه کتل کیږي. دده زوی په دیره اسمعیل خان کې استوګنه لري.

خاکوانی :

ددغه ښاخ څخه غلام سرور خان خاکوانی چې ددیره اسمعیل خان او سیدونکی دی دخلکو په منځ کې دډیر قدر وړ او په درنه سترګه ورته کتل کیږي. دده زوی عطا محمد خان هم ډیر بختور سړی اود سرکار ښه خادم دی.

له یادو شوو کورنیو پرته دابدالیانو څو نورې کورنۍ هم په دیره اسمعیل خان کې میشته دي، خودیا دولو وړنه دي. په دغه ځای کې ددې قبیلې تقریباء (۸۰) کورنۍ ژوند کوی.

پوښاک او دژوندانه ډول :

د ملتانی پښتنو ژوند په مطلق ډول دلویدیځ افغانستان دابدالیانو نه توپیر لري. دوی تقریباء ددرو یا څلورو ګزو په اندازه سپینې لونګۍ په سروی ددوی اوږده ویښتان چې یوی او بلې خواته پراته تر اوږو پورې رسیږي اویو ډول لوی کمیسونه چې لستونی یې اکثراء چین شوی وی اورنګه او لوی پرتو ګونه چې پایڅې یې تنګې وی اغوندی. عیاش خلک

اکثراً گلبدن کالی اغو ندی او هغه کسان چی لمونځ گوزاره دی دوریښمو او کتان شخه جوړشوی کالی اغوندی او گلبد نه، سوب چی سور جګری رنګ لری استعما لوی، خو ځینـــی شتمن خلك دسپین سان پرتو گونه اغوندی. دوی عموماء ملتانی نازکی پنی په پښو کوی اوخپل ځا نونه او کالی پاك ساتی.

په دوی کی ځینی خلك حلیـــم ، سپیڅلی او پاك دی خواکثراء یـــی کبرجن ځان حوښوو نکی، کینه کښ او اندك رنجه* دی. نوی ځوانان یی تنبل (لټ) هوسایی غوښتو نکی اوعیاش دی، خو په پوځی چارو کی ډیر فعال ، تکړه، او ښه سنپایان دی، دپاخه عمر خلك یی دیندار، لمونځ گذاره اوپه لاسونو کی یی تسبیح وی. دوی په اسانی سره خپل کوراو وطن نه پریږدی او په خپله قبیله کی هم دبل سری لویی اوعظمت ته په ښه سترگه نه گوری دخپل ځان ستاینه ورته عیب نه ښکاری، خو دخپلو دوستانو سره په میړانه چلند کوی.

د ترین ابن خرشبون د نسب شجره

- ترین
  - ابدال
  - سپین
    - ترخیل
    - سیلمان لغ
    - طام
    - ادمي یا اوچي
  - تور
    - بابو
    - ملموني
      - هارون
        - یعقوب زي
        - بادوزي
        - اسماعیل زي
        - ابابکر زي
          - احمد زي
          - هیکل زي
          - خان خیل
          - بدیا
        - حیدر زي
        - نورزي
        - ملک یار
      - علي
    - کنده زي
      - نیک نخناني
      - بتي زي
      - مشکل زي
      - مندي زي
      - ثرل زي
    - سیکي
      - گوک
      - بادیي

دابدال د نسب شجره وړاندې راغلې ده

د ترین قبیله

ددوی د نسب د شجرې نه داسې څرګند یږي چې ابدال چې دده له نسل څخه درانیان منځ ته راغلي دي هغه هم د ترین زوی و. مګر د هغه اولاده په ابدالي او دراني باندې مشهور او بیل ګڼل کیږي. د ترین د پاتې دوه زامنو اولاده د ترین په نامه بلل کیږي چې ددغو دوو زامنو نه د ترین قبیلې دوه لوی ښاخونه منځ ته راغلي دي چې یو ته یې تور ترین او بل ته یې سپین ترین وایي چې له دغو دوو ښاخونو نه ولړه ښاخونه او څانګې منځ ته راغلي چې تفصیل یې د نسب د شجرې نه څرګند یږي.

تور ترین:

دغه ښاخ د درانیو د ملک سهیل ته په پښین کې اوسیږي چې لوید یځ ته یې د شوراوک یا شورابک سیمه چې د بړیڅو قبیله پکې اسنوګنه ده ری او سهیل ته یې د شال سیمه پرته ده چې د تکتو غر ددغو سیمو ترمنځ پوله جوړوي.

د پښین سیمه تقریباً (۸۰) میله اوږده والي لري او دغه اوږدوالی له شمال ختیځ نه د توبې ختیځ خواته غزیدلې دي چې له تړلو نه سور ورځای یې شلو یشت میله پلن والي لري.

د پښین سیمه د بړیڅو د ملک (شورابک) نه لوړه دملو سطح یې هم له شورابک څخه ډیر لوړوالي او زوړ والي لري څوله شورابک نه ډیره اباده

اوشنه ده. دلته غوایان دیوی له پاره داوښانو په نسبت زیات استعمالیږي، که څه هم اوښان هم کله کله په یوی کی ترل کیږي، نوځکه دلته اوښان هم روزل نیږي که څه هم بوزترین په عمده ډول په کرنی او مالداری باندی خپله گوزاره کوی، خو یوزیات شمیر یی دسنداو کند هار تر منځ په سوداگری بوخت دی. دغی قبیلی ځینی دودونه او رواجو نه درانیو ته ورته دی اوددوی خان ددرانیو له سردار سره مطابقت لری.

دکابل امیر او دکندهار حاکم پخوا ددغو خانانو په چارو کی مداخله نه کوله، یواری په یی په تاکلی اندازه سپاره دربارته دخدمت له پاره استول چی دغه کاریه دمننگ په بدل کی ترسره کیده او کله کله په هم ددوی خانان دربار ته غوښتل کیدل.

دپشین دټولو اوسیدو نکو شمیر تخمیناً (۱۰۰۰۰) لس زره کورتی شمیرل شوی دی چی په دغه سیمه کی ډیر سیدان هم اوسیږی چی په دغو سیدانو ی ببه تکړه سوداگران هم شته دپشین په سیمه کی دتور ترین سیدانو او کاکړو نه پرته هم سیبه او بله کومه قبیله استوگنه نه لری. داسی ویل کیږی چی له هغوی نه دتور ترینو شمیر تخمیناً (۶۰۰۰) کورنیو ته رسیږی.

سپین ترین:

دغه قبیله په شمیر کی له توروترینو څخه لږدی. دوی په څلورو ښاخونو بیل شوی دی او دژوره په نامه وادی کی چی دتلاو چوتیالی په میدانی سیمو کی پرته ده اوسیږی. ددوی او تورو ترینو ترمنځ یو څه دکاکړو ملک پروت دی. دوی په دوداو دستور کی له تورو ترینو سره ورته والی لری او تقریباً په مساوی ډول دکرنی په چارو او په مالداری باندی اخته دی. دوی تندرست ا وقوی خلك دی ددوارو ترینو یعنی هم دسپینو ترینو اوهم دتوروترینومشری او ریاست سره له دی چی لیری پرانه دی، دیوه خان په لاس کی ده او له پښته پښته نه مشری دتور ترینو دقبیلی دبنیٔ زیٔ په ښاخ پوری اړه لری، ددی دثبوت لپاره یو مشهور متل دی چی دپښتو په ژبه کی دپخواوختونه پاتی شوی او هغه دادی:

خانی ده په دوه کوره په لوحانی کی پرکتی ده

په ترین کی په بتی ده.

مقصد داچی خانی په دوو کورونو کی ده یویی دلودی له نسل څخه د لوحانو دقبیلی په کتی زیو او بل ئی دترینو په بتی زیو کی او دغه پیسو مقوله ثابته شوی هم ده اوپه دواړه ترینو کی یوخان دی او هغه هرکال دسپینو ترینو ملك ته هم د قلنگ دراټولو له پاره ځی او هم که

څوك نه غواړي نوکري وکړي نوله هغه نه ددغه کارپه بدل کې پيسې اخلي. کله چې دکابل په دربار کې بې نظمي رامنځ ته شي نوپه دوی هم دغه بې نظمۍاو فسادونه تاثير کوي‌اوخپل سري کيږي. دوی دفسادونو له وخته پرته هم تش په نامه رعيت‌کنټرول کيږي او اوس دکندهار حاکم دپښين له سيمې څخه په ټا کلــــې اندازه نقدي روپۍ اخلي او دسپينو ترينو داستوګنې دري وا ړه سيمې‌سره نښتې‌دي .ژوره چې دو ادې‌څخه په پور ته سيمه کې دخېبر دغره لــه نږدې سيمو څخه پيل کيږي دغرونو په منځ کې تنګه، خو کوزې‌خوا نژدې پراخه دی، تر هغې اندازې چې آبادي هم پکې دی او ددغه ځای په مينځ کې دوه لوی کلي هم‌شته . تل تر دغه ځايه هم‌څه پراخه دی او دبوري اوچوتيالی ميدانونه هم‌ورسره يوځای کيږي ،دتل اوچو تيالي ځمکه دسيوي له ځمکې سره پرتله کيدای شي،خو هوايي له سيوي څخه يو ه اندازه ښه ده.

دشيراني قبيله :

داسې ويل کيږي‌چې شيراني‌دکاکړ دلور زوی (لمسی) و،کله يې‌چې‌مور مړه شوه نو پلار يې بله ښځه پــه نکاح کړه چې دهغې څخه يو بل‌زوی پيدا شو، شيراني غوښتل چې ټــول واك دی دده په لاس کې‌وي، مګــر ترين چې دورو ستی ښځې مشراولاد وحايي ونــه منله ،همداو چــې ددې خبرې له کبله شيراني دخپل پلاراوورونو نه خپه شو اويو پيغام‌يې‌کاکړ ته چې مورني نيکه يې‌و په دې‌مضمون واستاوه چې‌زه دلته ډيرپه تنــګ شوی يم، راشه لوما دځانه سره بوزه. کله چې کاکړ داخبره واوريده‌دخپلو څو تنو زامنو سره دشرخبون کورته راغی اوويې‌ويل چې‌ته شيراني‌پريږده چې زما سره لاړشي ترڅو چې زمــا دزامنو سره يوځای پالنه اوروزنه ترلاسه کړي. شرخبون په دې خبره راضي نه و. کله‌چې شيراني په تللو باندي ټينګار وکړ نوپه دې وخت کې ترين په قهرشو اوپلار ته يې وويل چې شيراني پريږده چې دکاکړ سره لاړشي که چير ته هغه دلته نه وی نوځه به وشي په پای کې کاکـــړ، شيراني له ځانه سره بوت‌او شيراني هم ژمنه وکړه چې‌ما يا زمااو لادی‌ته دې هيڅکله سړبنې نه ويل کيږي، په همدې دول دخپل‌مورني نيکــــه يعنې دغر غښت په کورنۍ کې‌شامل شو لوتر اوسه پورې که دسړبن‌اوغورغښت (غرښت)دقبيلو تر منځ څه تميز لوتوپير پيښ شي نوشيراني دغرغښت په قبيله کې راځي. دنسب دشجرو دمطالعې نه داهم څرګنديږي چې جلواني، هريپال، بابړ او نــور ښاخونه هم دشيراني دنسله دی ،خو هغوی په جلا نامه نومول‌شويدی.

لومړ يولزي‌دحميم بن‌عمر ابن‌ودم داوو زامنو اولادی ته شيراني وايي چې تفصيل يې د هغه په نسب نامه کې درج‌دی.

دغه قبیله دزمری‌خلکوشمال‌خواته په غرو نوکی او سیـــن ی
او دوزیرو قبیله دهغوی په شمال‌او دگومل ددری په قطبی برحه سی
استوگنه لری، همدا رازد دوی پـه لویدیځه برخه کی ژوب او دمنـدو
خیلو کاکړو سیمه موقعیت لری. دهغوی دملك‌اکثره برخه دتخت‌سلیمان
په یوه جګ غره کی پرته ده.ددوی غر ډیر سخت دی. دغه قبیله پـه
کوچنی کوچنی کلیو کی تقریباء(۲۰) یا (٤۰) کوره اوسیږی اوپه وادی
گانو او دغره بیله ځوړو برخو کی‌خواره واره دی. دوی په‌غره کـــی
اکثره خپل کورونه دتنور په شکل‌کی‌او دکندل شوی ځای دری‌خواته
دیوال جوړوی او بیا هغه پټوی.هر کور یوه‌کوټه اویوه‌دروازه لری چی
دشپی لخوا داغزی لرو نکو ونودښاخونو په واسطه بندیږی. دیخنی‌په
موسم کی‌هم دغه ډول دروازی ساړه نه شی بند ولای، نوځکه دوی‌توری
سطر نجی‌دپردی‌په ډول پری‌راځړوی دوی خپلی اوږدی چپنی چی دپوستین
په‌ډول دپسه له‌پوستکی څخه جوړی‌شوی په، خپل ځان اچوی او څملی‌او
هغه ونی چی ددوی په غرونو نـــی پیدا کیږی‌دهغه‌څخه ډول ډول‌لرگی
لاس ته راځی او اکثره شیرانی‌ددغو لرگیو څخه غشی او لیندی جوړوی
او دخرڅلاو له پاره یی دیره اسمعیل‌خان او کلانچـــی تـــه راوړی، دوی
په‌خپلو کورونوکی د رو ښنایی له پاره دنښتر لرگی‌استعمالوی،چی‌له
دود څخه یی ددوی‌کورونه، پوښاك‌اوحتی څیری هم‌توربخونی وی .

شیرانی اکثراء منځنی ونی اومتوسط اندامونه لری ، مکر قوی اوچا-
لاك دی. دعامو شیرانیو خلکو پوښاك‌له ډبلوتوکرانو څخه جوړ یوه‌شړی
هم‌پر اوږو باندی اچوی او دغوایـــی‌دخا می څرمنی څخه، جوړی‌شوی‌څپلی
په پښو کوی دوی ددریو یا څلوروگزو په اندازه سپینه پګړی هم په،
سروی او ځینی خلك یی خړ رنگـــه پر تو کونه او قباډو له چیـــن دار
کمیسو نه هم اغو ندی .په‌دوی کی‌ډیر ماړه اوشتمن خلك‌هم تر دغـو
یاد شووکالیوډیر ښه کالی نه‌اغوندی، که‌څه، هم دوی خپل پوښاك له دی
امله چی دملتانی وریښمونه جــوړ شوی دی ډیرښه گنی. ددغی‌قبیلی
خوراك اکثراء دجوارو ډوډی، کوچ‌او کورت دی. دغنمو ډوډی اکثـراء د
میلمستیا وو په وخت کی پخیږی. دوی اکثراء دپسونو غوښی خوری،
خو کله چی غوایی یا سخوندرناروغه اویا دکوم بل عامل په اساس مرګ
ته نږدی شی نو هغه هم حلالوی اوخوری یی .دوی دزیتونو میوه هم‌په‌
تازه ډول اوهم په‌وچ ډول په‌داسی حال کی چی‌په اوبو کی‌یـــی لمدوی
خوری، همدا راز دوی ځنگلی انـار، جنغوزی او نوری میوی چـی ددوی

د شیرانی بن شرخبون ابن سړبن د نسب شجره



په غرونو کی پیدا کیږی خوری. شیرانی په پاخه عمرکی ودونه کوی.
دشیرانیو او نورو پښتنو تر منځ یو عمده توپیر په دی کی‌دی چی‌شیرانیان
دخپلی لور په بدل کی دزوم نه پیسی نه اخلی، بلکی له خپله کوره هم
دواده په وخت کی ناوی اوزوم تـه دخپلی وسی په اندازه یوڅه ورلوی
منځی یوازی دخپل کور کارونه کوی او همدارنګه دفصل دلوکولو په وخت
کی دخپل میړه سره مرسته کوی. په شیرانیو کی پیسی لـږ ی دی
ځکه چی دوی د اخیستلو او پلـورلو په وخت کی یو جنس دبل‌جنس
سره تبادله کوی. په دوی کی‌دمریانواو نوکرانو ساتنه نشته، همداراز
په دوی کی کار ګران هم لږدی.

دشیرانیو په سیمه کی تقریباءشل تنه هندوان شته چی دوکان دا-
ری کوی،دوی غلی، تورکران ، کوره، تمباکو، ژیړ غوړی او ځینی نـور
ارزان شیان چی ددوی په سیمو کی جوړیږی خرڅوی . ترکاڼ ، پښی اویا
پاولی (!) له دامان نه دلته راځـي. شیرانی اکثراء په وادی ګانو کـی
کرنه کوی، همداراز دغرونو لمنـی په للمی ډول کرل کیږی خو ددوی
نوری ځمکی دغرنیو ویالو په ذریعه خړوبیږی، دخانانو او ملایانو نـه
پرته نور ټول پخپله کار کوی.ددوی اکثره ځمکی دوه فصله دی. په منی
کی وریجی، جواراوتمباکو پیداکیږی. دسړو له کبله تمباکو په پسرلـی
کی نه کرل کیږی او کله چی دمنـی دموسم فصل وریبل شی نو بیا غنم
او وربشی کرل کیږی او کله چـی ددوبی موسم راوز سیږی‌هغه ریبل
کیږی. دغه خلك اکثراء دمالداری په چارو بوخت دی او اکثراء غواوی
او غوایی ساتی هغه خلك چی پـه غرونو کی په خواره واره ډول ژوند
کوی هغوی ډپسونو او وزورمی‌هم‌ساتی. دشیرانیو غوایی ډیر واړه،تور
رنګی دی‌او جګی اوږی نه لری.ځینی خلك خره‌هم ساتی. دلته کچری‌او
میښی نه ساتل کیږی. دشیرا نیـو په ټول ملك کی حتی شل اسونه‌هم
په سختی سره موندل کیږی .دوی‌خپل خان ته نیکه‌وایی چی‌په عربی
یی‌جدبولی.خان په قبیله کی ډیـر واك خاوند او ډیری ځمکی لری او
خلك پخپل وار دده ځمکی کری او کار پکی کوی. دی‌په کور کی نوکر
نه ساتی. هغه څوك چی ډپسونورمی لری هغوی دکال په‌هر کور یووری
او څوك چی ډیر غوایی او سخوندر لری دوی یوڅو سګی خان ته ورکوی
او هغه یی‌له چانه په زور نه اخلی‌او خلك یی پخپله رضاورکوی‌شیرانی
داسی فکر کوی هغه څوك چی‌دغه محصول له ورکولو نه ډډه وکړی‌په

هغه به کومه بدمرغی نازله شی. که څه هم دغه خلك خپلی شخړی په جبری توګه فیصله کوی خو په اصل کی نیکه دعدالت چاری سرته رسوی او کله چی ده ته دعوه راجع شــی هغه ددواړو خواوو خبری اوری او بیا ورو ورو مته دعا کوی او په ښه نیت سره دادعوه فیصله کوی او دده حکم تل دخدای دغضب له ویری منل کیږی ،ددی له پاره چی ددوی پــه عقیده دده فیصله دخدای الهام ګڼل کیږی.

شیرانیان هم څلویښتیان لـری او کوم ځایونه چی دنیکه داستوګنځی څخه لیری دی هلته څلویښتیان دنیکه په حکم دده دنایب په دول کارکوی شیرانیا ن په خپلو منځوکی لږی شخړی سره کوی ، ددوی په هرکلی کی ملایا ن شته چی دکر نی دمحصولا تو عشر ور کول کیږی.

ملایان دجومات له امامت نه پرته نکاح ګانی تړی، هلکانو ته مذهبی فرایض ورښیی او په همدی دول مړو ته دغسل او ګفن ورکول هم دملااو دده دښځی په غاړه وی. په شرانیو کی ډیر خلك دقران شریف تلاوت کوی او څوك په پارسی نه پوهیږی، یوازی ملایان خلکو ته په پښتو ژبه هغه کتابونه ورزده کوی چی پــه مذهبی مسایلو پوری مربــوط وی. دوی په عمومی دول لمونځ اوروژه نه قضاء کوی، خو دزړه له اخلاصه یی عبادت لږ دی. *

هغه پووندہ او نور خلك چی ددوی له سیمو نه لویدیځ افغا نستان او دامان ته تګ او راتګ کوی نوشیرا نیان له هغوی سره شخړی کوی ، خو تول خلك په دی عقیده دی چی شیرا نیان پخپله ژمنه تینګ ولاړ دی او هغه خلك چی ددوی بدر ګه له ځانه سره ولری نو ددوی لـــه سیمی څخه په امن تیریدای شی . کله چی شیرا نیان دکومی مخالفــی قبیلی سره په جګړه لاس پوری کړی نو نیکه (خان) ددوی مشری پــــه غاړه اخلی. په دغه وخت کــی ددوی تول لښکر دنیکه دبیرغ لاندی په داسی حال کی تیریږی چی قران شریف یی په کی اچولی او ددوو تنو دبیرغ سرونه نیولی وی او له دغه دول تیر یـدو څخه شیرا نیو ته دا عقیده پیداکیږی چی دوی به دددښمن په توپك او یا توری سره مړه او ژوبل نه شــی او داد نیکه دعظمت او لوی والی یو ښه دلیل او ثبوت ګڼل کیږی. * *

---

*آیا مؤلف دزړونو په حال هم خبردی؟ (رشاد)

**تر قران شریف ایستل یا تیریدل په نوروپښتنو کی هم بابدی، شیرانی دی که نور پښتانه تول دقـران شریف برکت منی.
(رشا د)

دښتیرا نیوسلی چقمقی ټوپک، توره او کرچ دی، خو خلک داسی وابی چی ددوی توپک دخلکو دشمیر په نسبت یو په دری لږدی، خو تقریباء ټول بالغ خلک توری لری. دوی په عمومی ډول بی ازاره خلک دی، خو ځینی یې غله، لوټمار اولار وهونکی دی.

د بابړو سنباخ

دنسب د شجرې له لیدلو ته ـه دا جوته یږي چې بابړ هم په اصل کې د شیرا نیوله نسله وو، خود دوی اولادې ځانته بیل نوم غوره او اوس په مطلق ډول دبابړو په نوم یادیږي. بابړد میاخیلو په سهیل کې استوګنه لري چې لویدیځ ته یې سخت غرنی ملکونه پراته دي او دیوه غرنی وادي څنډې ددوی ملک ته رسیږي اوله هغه څخه یوه غرنی ویا له راوځي چې د دغې ویالې په ذریعه ځمکې خړوبیږي. ددغه وادې څخه یوه لاره لویدیځ افغانستان ته تللې ده، خوخلک وربانديډیر تګ اوراتګ نه کوي، لکه دغوایلري اویاګومل په لارو یې چې کوي ویل کیږي چې د بابړ وښاخ داستراني د قبیلې څخه پرته دنوروټولو افغانانو (پښتنو) څخه وروسته د شیرا نیو له غره څخه را ووتل اودچوډې په سیمه کې میشته شول. د بابړو ښاخ خلک اکثراً دسوداګرۍ په چارو بوخت او ددامان د نورو قبیلو په پرتله شتمن او هوسا ژوندی لري چې ځینې تردریو لکو پورې نغدي روپۍ لري. په دغه ښاخ کې ددوو مره پیسوخاوندان ډیر شتمن ګڼل کیږي.

د میانه ابن شرخبون بن سربن د نسب شجره



دتیموري ښاخ خانان ډیر و اکثرخاوندان دي بابر د نورو ښښتني قبیلو په نسبت ډیر نیك اوښه چلند لري .

دکابل پاچاسدوزی تیمورشاه په وخت کي د بابرو دښاخ سردار ته دامین الملك منصب ورکړای شو .

هغه بابر چي په اوارو سیمو کي او سیږي د هغوي شمــــیر تقریبا څلورو زرو کــــور نیو ته رسیږي. ددوي زیاته برخه د سلیمان غره په هغه غاړه کي په صحرا یي سیمو کي اوسیږي چي ددوي پولي دشیرانیو ملك سره نښتي دي .

دبابړو دود او د ستــــورد شیرا نیو په شان دی . ترهغو بابړو پر ته چي په حتیځ کي میشته دي دلوید یځ افغانستان په ځینو ځایونو ي هم دوي لیدل کیږي ، لکه څنګه چي د کندهار په ښار کي هم څو کوره او کند هار ته نږدي په سوزني کي چي د ار غنداب په سیمي پوري تړلي ده هم د دوي څو کلي شته دي ، همدارنګ په کابل، لوګر او د نوبر په دره کي په ځینو ځایونو کي په زیــا تشمیر او په ځینی ځا یونو ي په لږ شمیر میشته دي . له هغو مختلفوروایا تو څخه چي تر او سه لاس ته را غلي داسي اټکل کیدای شي چي هغه بابر چي په لوید یځ افغا نستان کي په خواره واره ډول ژوند نوي دهغوي شمیر د پنځـــــه سوو کورنیو نه زیات نه دي . خو د هغــوي د و د اودستور دختیځو بابړو سره ورته ندي . د دوي اړیکي یوازي ددي امله دي چي په یوه ښاخ پوري تړلي دي .

دهر پیال ښاخ :

هرپیال دشیراني لمسی واو دکیپ یا کپ زی ښاخ چي دود م له نسل څخه دی هم په هرپیال ور کډیږي او ددوي دغر نیو سیمو نرخنک دګو مل دری سهیل ته دوا نه دسیمي په مقابل کي پراته دي. ددوي رواجو نه او دو داو دستورد شیرا نیو په شان دی .هرپیال ډیر بي ازاره خلك دی .

دجلواني ښاخ :

دا ښاخ هم د شیراني د نسل څخه دی چي د شیرا نیو دغرو نیو سیمو تر څنګ سیمو کي میشته دی خود هغــوي مفصل حال نرلاسه نه شوداسي ویل کیږي چي د هندوستان په ځینو ځینوځا یو نو کي هم دجلوا ني ښاخ شته دی ، خود شمیر دلږ والی له کبله دافغا نستان دمقتد روبباحو نو له جملي نه شمیرل کیږي .

میانه قبیله :

دد غی قبیلی دنسب‌شجره ترهغه ځا یه چی ومو ندل شوه په پور تنی جدول کی راغلی ده ، خوږه مجموعی‌ډول دغه قبیله په کوم خاص ځای‌کی استو گنه نلری ، بلکی په خواره واره ډول ژوند کوی‌او ددوی د لږوالی په سبب په ا فغا نستان کی یی نوم‌چندان شهرت نلری . د توغ ښاخ‌یی‌د ښکیتو په سیمه کی اوله‌پاتی ښسا حو نو نه یی ځینی دکندهار په شاو - خواکی اوسیږی .

د شکوڼ له اولادی نه‌د کتران‌ښاخ یو شمیر دِ گرانك په سیمه کـی میشته دی . : یو ه پوه سړی د بیان‌له مخی حضرت سلیمان چشتی (رح) چی مزار یی ددیره‌غازی خان د ضلعی‌په توسه نومی‌ځای کی دی ددغـــی قبیلی‌څخه و.دغرشین په باب داسی روایت شوی دی چی نوموړی د میانه، له نسل څخه نه و،بلکی د یوی بلی‌نجیبی او سیدی کور نی نه وچی له، کو ځیوا لی نه میانه روزلی اود غرشین ښاخ د ده له نسله څخه دی .

غرشین :

د غر شین دتسمیی دوجـی نه داسی معلومیږی چی د دو ی نیکه یـو دیر منلی اوخدای دوسته سړی‌و چی‌د خپلی دعا په سبب یی یو وچ غـر شین کړ. څرنگه چی دپښتوپه‌ژ به کی دده نوم له دوو کلمو غر اوشین نه مرکب شوی دی نو دغه نوم د ده په کرامت دلالت کوی. دغرشین ښاخ اکثره خلك دلو یدیځ افغـا نستا ن‌د کندهار په غزنیو سیمو کی میشته] دی او دوی ته خلك په درنه سترگه گوری . دنو موړی ښاخ څو کورونه‌د راو لپنډ ی ضلعی دبرها ن‌علاقی‌په شین نومی ځای کی اوسیږی . لــه، دوی نه خدا ی بخښلی لعل شاه یـو دیر منلی او ښه سړی ؤ .

د بړیځو قبیله :

دغه قبیله اکثرا په ښـورا وك(شورابك)کي ژوندکوی .د دی‌سیمی څلور خواوی په دی ډول دی . قطب‌ته ددرانیو ملك،سهیل ته یی‌دبراهوبی بلوڅو غرنی سیمه ، ختیځ ته یی دخوجه عمران غراولویدیځ ته یی صحرا او بیا بانی سیمه پرته ده چی ددغوحدودو په منځ‌کی دښوراوك سیمه تقریباً د شپیتو مربع میلـــــــــوپه پرا خوالی‌پر ته ده .ددغه سیمی

د بریح ابن شرخبون د نسب شجره



جنوب لوید یخ ته بلوڅان پراته دي‌اود لوړی توی دښوراوك دسیمي په منځ کی بهیږی چی له اوبو څخه یی ددغـی سیمی د واړو غاړو ځمکې تر لیری ځایونو پوری خړوبیږی او دغه ځای ته نژدي‌میوه‌لرونکی اوبی‌میوی ونی هم شته دی پاتی سیمه یـــی سختی خاوری لحخه جوړی او یواوار اوروچ میدان دی .

د ښوراوك د سیمی د اوسیدونکوشمیر تقریبا دری زره کـــور ـ نیو ته رسیږی . که څه هم دبړیڅو قبیله په لوموړی‌سرکی‌په دووښاخو ـ نوویشل شوی ده او وروسته له دغوښاخونو نه لکه څنگه چی د نسب‌په شجره کی را غلی دی نوری فرعـی‌څانگی هم‌منځ ته راغلی ،خو د بړ ـ یڅو لحلور تپی‌مشهوری اوهره یوه‌تپه ځانته جلاخان لری چی هغه په خپل ښاخ کی د ډیر واك او اختیار څښتن‌دی ، خود کندهار حاکم‌ته یوازی‌تش په نامه‌خراج ور کوی. دوی په لومړی‌سرکی (٤٠٠) سپاره دخراج په ځای منلی ؤ ، خو اوس دغه دود له مینځه تللی دی .

دوی ډیراوښان ساتی‌اود سورلی له پاره هم ورځنی استفاده کو ی . د اوښان نه پرته له نورو بوده کانو نه په یو ی کی لږه گټه ایسلی. دوی په یو ډول څپر وکی ژوند کوی‌چی په خپله ژبه ورته کوډله وایی دغه کوډلی په گرد ډول چی پور تنی‌برخه یی اواره‌وی جوړوی ،خوشتمن خلك خپل کورونه په مسقف ډول جوړوی چی بالا خانی‌ته ورته او یوازی یوه کو ټه لری . د پسرلی په موسم‌کی ټول خلك چی د او ښانو او نورو حیوا ناتو رمی ور سره وی په دښتوکی په کیږ دیوکی ژوند کوی . ددغو خلکو دود او دستوراو پوښاك دډیروغیر متمدنو درانیو سره ورته والـی لری. دوی د اوښان او اسانو غوښی‌خوری . بړیڅ ډیر ساده اوبی ازا ره خلك‌دی ، که څه هم دغه قبیــله په مجموعی ډول په ښوراوك کی‌اوسیږی خو په هندو ستان کی هم د دوی څوکوره شته دی‌اوځنی نوریی د هلمند سیند پرغاړه د پلالك اورود بار ویالو پرغاړه‌چی سیستان‌ته نږدی‌دی‌پر ـ تی‌دی ژوند کوی . همدارازد دوی‌څوکورنی‌په قلعهٔ بست کی او سیږی‌او بست د هلمند سیند پر ختیځه غاړه پروت دی ، چی له هغه څخه دوه‌میله ښکته د ار غندا ب سیند د هلمند دسیند سره یو ځای کیږی .په دغه‌ځای کي دډیرو پخوا نیو زمانو پخی ودانی‌چی دخپلی دو ری د عظمت ښـــکا ـ رندوی دی ، تر او سه هم موجو دی‌دی او داسی روایت شته چــی دغه

ودانی د سلطان محمود دلښکرو څاوڼی‌وه او پخپله پاچاهم د ژمی په موسم
کې په دغه ځای کی اوسیده ددغی ودانی په ځینو ځایونو کی په کوفی
رسم الخط داسلام دسپیڅلی دین کلمه او نور عبارات لیکل شوی دی .

په کلای بست کی ډیری ښې هندوانی چی میر ملنګی اوشهیدی‌نو ـ
میږی مشهوری دی . همدا راز ددغه ځای انګور هم ډیر شهرت لری . په
قلعهٔ بست کی د اسلم خـان د زوی فتح خان بریخ کیسه په پښتنو ښی
ډیره مشهوره اوپه حجروکی ویل کیږی . دغه کیسه ځینو پښتنو په نظم
کښلی ده چی ما لیدلی او ژباړلی‌می‌هم ده خو څرنګه چی ځینی مز خرفی
او بیهوده‌جملی‌پکی‌وی‌نو ځکه می‌دلته دهغه دلیکلونه ډډه وکړه ، خو دو۔
مره باید وویل شی چی فتح خـان دخپل کوره خپه او د خو تنو دوستا نو
او ملګرو سره د هندوستان خوا ته‌راغی اود اکبر پاچا د زوی جهانګیرد
واکمنی په وخت کی د سیا لکوټ په‌شاو خوا کی په لوټماری بوخت شو
هغه په‌پای‌کی دپاچا دنوکرانوله خوا ووژل شو ، څرنګه چی ده په ډیری
زړورتیا سره دشاهی پوځ مقابله وکړه او هم ځنګه چی په مساپری کی
ووژل شو ، نو ځکه یی په کیسی‌کی‌ترا ژیدی اوله سوز او ګدازه ډ ګی
جملی لیکل شو یدی . دا کیســه دپښتنو په مجلسو نواو محفلونو کی
دساز او سرود سره یوځای ویل‌کیږی او نوز پښتانه یی په ډ یر شوق
سره اوری . اوس په کلای بست‌کی دبریځانو مشر ارباب اوز بك نـو ـ
میږی چی ډیرمیلمه پالو نکی اودښواخلا قوخا وند دی ، خواوس په قلعهٔ
بست کی د درانیانو سلطه ټینګه ده .

د اور مــړ قبیله :

جوته ده چی د اور مـړ پلار امرالدین د شرخبون له پنځو زامنو نه
کوچنی و . ده یو زوی درلود چی اور مړ نو میده‌چی قبیله یی هم دده‌په
نوم نو مولی شوی ده او تراوسه هم په‌دغه نامه بلل‌کیږی. دده په باب
داسی ویل کیږی چی د اورمـړ زوی چی په کوم ځای‌کی پیداشوی دهمد۔
غه ځای نوم یی وربا ندی ایښی اوپه یوه منظومه شجره چی میا عمرځمکنی
ویلی ده په هغه کی اور مړ ته شل زامن منسوبوی چی په دی ډول دی .

۱ ـ سنګتوی ۲ ـ منتوی ۳ـ مشکر ٤ ـ شکتوی ٥ ـ زیق ٦ ـ مشوی۷ـ
جلو یان ۸ ـ دهری ۹ ـ ګانی ګروم ۱۰ ـ حران ۱۱ ـ کـو ټیـــخ ۱۲ ـ
خصران ۱۳ ـ رنګ ۱٤ ـ دانجــا ۱٥ ـ ملانی ۱٦ ـ سیداقی خان ۱۷ـ
دوتو می ۱۸ـ سین ۱۹ـخلیل ۲۰ـ بو کی .

ددوی استوګنی سیمه د سلیمان‌دغره هغه برخه وه چی اوس په کی دمسعودو او وزیرو قبیلی اوسیږی. د کانی ګورم ښار چی د وزیرو او مسعوددبدر په علاقه کی پر وت دی‌هغه د اور مړو له خوا جوړ شوی دی چی اوس هم داور مړ پنځه ښاخه په کانی ګورم لی په دی ډول او سیږ ی . خیکنی شپیته کوره ، خرم چانی ځلویښت کوره ، ملا تا نی شپیته نوره ، بیدنی دوه‌سوه‌کوره‌او جرانی شل کوره چی ټول له در و سوواتیا یاځلوروسوو کورو ترمنځ‌په خپل پخوانی تاټو بی کی اوسیږ ی . پاتی کسان تقریباً د پنځه سوو کالوراپه دی خوا د قحطی اوورسته بیاد وزیرو قبیلی دغلبی له امله دغه ځایه لو هګر (لوګر) ته چی د کا بل سهیل ته پروت دی ولیږ دید ل اوهلته میشته شول چی تر اوسه هم دلوګر دعلاقی دبرکی برك په سیمه کی اکثرأ خلك اور مړ دی .

د پیښور په سیمه کی د اور مړوځینی کلی شته دی، همدا راز په هندو ستان کی هم ځینی اور مړ په خواره واره ډول اوسیږی . څرنګه چی دغه قبیله په افغانستان کی هم‌په تیت او پرك ډول ژو ند کوی نو ځکه دوی ډیر کم زوری دی ، له ټولو پښتنی قبیلو څخه دو ی غر یب مګر د ښی رویی خاوندان دی ، په دو ی کی دغلا او لاره وهنی‌عادات بیخی نه لیدل کیږی .

د لو ګر اورمړ اکثرا د کرنی په چارو بوخت‌دی ، هغه اورمړ چی‌په پیښورکی اوسیږی په تجارت او کرنی لګیادی، دکانی ګرم اور مړد نر- نی او لرګیو دخر څولو له لاری خپله ګوزاره کوی ، خو دوی غریب اوبی پیسو اود وزیرو او مسعود وقبیلی‌تابعت یی منلی دی .

دلوهګر (لوګر) اوکانی ګرم اورمړ په خپلو منځوکی په اور مړی ژبه رغیږی چی هغه دپښتو هندی‌اوپارسی او نورو ژبو د یوځای کیدو څخه جوړه شوی‌ده ، ددی امکان شته چی‌دپښتو په شان ددغه ژبی په باب‌هم څوك داادعاوکړی چی دغه ژبه دکوم‌پیغمبر اویا پاچادرازونو د بیانو - لو له پاره منځ ته راغلی وه .

د پیر تاریك کیسه * :

په دغه قبیلی کی د پیر تا ریك کیسه دلیکلو وړ ده . اخوند درویزه (رح) د پیرتاریك په باب داسی لیکلی دی چی :

« دکانی ګروم په اورمړو کی عبدالله ډیر باد یانت ا نسان ؤ او کله

---

* نو موړی بایز یدپه ډیر وپښتنی‌سیموکی د پیر رو ښان په نا مه یاد یږی دهه په باب د تعلیقا تو برخه وګوری .

چې د هغه زوی پیدا شو با یزید نوم یې ور باندی کیښنود ، با یزید دخپل پلار تر پاملر ني لاندی د علم زده کړه کوله اوپه عبادت او اطاعت ـــی مشهوررو . ترهغه وروسته چې یوڅه پیسی یې لاس ته راوړی نود اسانود تجارت له پاره سمر قند تــه لاړ اوهلته یې دوه اسان وا حیستل اوهند ته راغی کله چې کالنجرته را ورسید ه د ملاسلیمان سره یې نیدنه او کتنه وکړه اود هغه څخه یې د تناسخ په باب معلومات تر لاسه کړل اوپه دغه باندی یې یقین او عقیده ټینګه شوه کله چې بایز یدد کالنجر نه بیر ـ ته کانی ګرم نه راغی ، نود خپلـی تنا سخی عقیدی له مخی یې په مذ هبی فساد ونو لاس پوری کړ .او څنګه چې پلار یې عبدالله ډیر متدین سړی و ، ددغه بد عت له کبله یې خپل زوی بایزید تېی کړاو بایزید له هغه ځا ـ یه ننګرهارته راغی او هلته دمومندوپه سیمه کې د سلطان احمد په کورکی یې استو ګنه غوره کړه . خو دننګرهار خلکو د خپلو عالمانو د تبلیغ له کبله د هغه پیروی او ا طاعت ونــه مانه کله چې دی هلته پخپل مقصد کی بریالی نشو نو پیښورته راغی اود غور یا خیلو په منځ کی اوسیده خو څنګه چې په دغه وخت کی افغــانان د علم څخه په زیاته اندازه نه و بر خور داره شوی ، نو اکثراً د ده دطر یقی پیروان شول . ده د پیر ی او مریدی یوه سلسله رامنځ ته کړه اود خلکو تر منځ به یې داســـی تبلیغ کاوه چې خدای ته رسیـدل دپیر کامل د موجود یت نه پرته امکان نه لری ، څنګه چې زه پیر کا مل یم نو تاسی ته لارښوونه او هدایت کوم .

ده د خپل دغه چل ول په ذریعه ډیرخلك خپل کړل اود شهوت پر ستا نو د خوښی له پاره یې نا محر مو سړیو او ښځو ته په یوه ځای کی داوسید ـ لو او خوړ لو اجازه ورکړه ده به چې څه ویل مریدانو به یې هما غسی کول اود شریعت او ملت په خلاف به یې کارونه سرته رسول لودا سی فکر یې نشو کولای چې ویلی یې دی .

محال است سعدی که راه صفــــا

توان رفت جز درپـــــــی مصطفــی

لنډه داچې دخلیلوقبیلی ا کثره خلك دده مریدان شول ، دی وروسته د ا شنغر محمد زیو ته ورغی اوهلته یې هم همدغه ډول تبلیغ وکړ څرنګه چې افغانان ناپوه وو نوځکه دده په تبلیغاتو و غولیدل او هغه یې و منل پــه اشنغر کی نو موړ ی ډیر رسوخ اوا عتبار وموند اوغوښتل یې چې محمدی (ص) ددین له عالما نو سره مبــا حثی او مشا جری وکړی .

اخوند درویزه چي په دغه وخت کي يو لوی عالم و له ده سره مباحثه و کړه او ور باندی بريالی شو ، خودخپلو مريد نو دملاتړ له امله يې اخوند درويزه هيڅ ډول نصيحت ونه ما نه اوځان ته يې د پير رو ښان لقب غوره کړ . مګر د خپلو مريدا نو نه پرته په عواموکي دپير تار يك په نامه مشهور شو . په پای کی کله چي ددغه پيښي خبر د کابل صوبدار محسن خان ته چي داکبر پاچا لخوا د دغه ځای حکمران تا کل شـوی ؤ ورسيده نوهغه په اشنغر باندی يرغل وکړ، پيرروښان يې ونيوه اوله ځان سره يې کابل ته راوست . څه موده يې هلته په بند کې تيره کړه او کله چي خوشي شو بيرته اشنغر ته لاړ او خپل ياران اومريدان يې راټول او د ټوټي غره ته لاړ اودهغه ځا يه بيرته راغی اوپه اپر يدو او اور - کزيو کی يې هم مريدانو موندل ،په دغه وخت کی يې خپل فعا ليت ښکاره اود اکبر پاچا پر ضد يې په بغا وت‌لاس پوری کړ او خلك يې بلوا ته مخول اود دوی په منځ کی به يې تبليغ کاوه چي مغول‌ډير ظالمـان‌او په افغانا نو باندی يې له حده زيات‌ظلم کړی نو ځکه د هغوی اطاعت په کار نه دی .

ددغه لار ښود د تبليغ او وعظ‌په سبب ډير و سر حدی ، قبا يلو په بغاوت لاس‌پوری کړ اوډير لوی فساد ونه را منځ ته شول ، پير تاريك اود هغه ملګرو و کړای شول په لومړی ځل شاهي لښکری ما تي کړي چي ددغه بريا ليتوب له امله دوی‌ډير زيات تقويه شول او دوی‌د بيرا خلك چي ظاهراً د دوی تا بع او په با طن کی د مغلو طرفدار او خير خو - له وو اکثره يې د فريب اوچل په ذ ريعه وو ژل او ځني يې ددغه ملك‌څخه وشړل اوپه تيرا کی يې‌خپل‌پلويان‌اومر يدان ميشته کړل. پير تار يك يو کتاب وليکه او خيرالبيان نوم يی‌ور باندی‌کيښود او داور کز يواو داپر - يد يو نه يې يو لوی لښکر جوړ اوپه ننګرهار باندی يې‌يرغل‌وکړ. دلته يې ډير کلی‌لوټ‌او دننګرهارپه غرونو کی ميشته شول. دکابل صوبدار محسن خان له جلال آباد نه په ده باندی شبخون وکړ اوپه هغه،

---

* نه د کابل په حکمرا نا نوکي محسن‌خان سته اونه دبايزيد اور - مرد ژوند په زمانه کی کابل‌داکبر مغل (۹۶۳ - ۱۰۱۴ هـ .ق) ترلاس لاندی و. په کابل کی تر ۹۹۴هـ.ق‌کاله پو ری د همايون کشر زو ی حکيم ميرزا پا چهی کو له‌او شـو کاله دده له خوا معصوم خـان دپيښور حاکم و.
(رشاد)

جګړه کی چې د دوی تر مینځ پیښه شوه د پیر تاریک لښکرې ماتې، ځینې یې ووژل شول او ځینې یې هم ډېرو سختو او صعب العبور و غرونو ته وتښتېدل ، پیر تاریک پیر ته اشنغر ته ستون او هلته مړ شو. پیر تاریک پنځه زامن لرل لومړی شیخ عمر ، دویم نورالدین، دریم خیرالدین، څلورم کمال الدین ،پنځم جلال الدین *، د پلار تر مړینې وروسته دده زوی شیخ عمر د نوموړي ځای ونیوه او بایزید چې څومره مریدان او پلویان درلودل هغه ټول په شیخ عمر را ټول شول څه موده وروسته د دوی او یوسفزیو تر منځ چې یوسف زیو مشر او لارښود اخوند درویزه و خه محالفت پیدا شو او یوسفزي دسندرود په غاړه سره را ټول او په خپلو دښمنانو یې یرغل وکړ په دغه جګړه کې شیخ عمر او د هغه ورور خیر الدین له منځه لاړه و ښتېدل او په اشنغر کې د کوه جرولاس ته ورغلل او هغوی وواژل ، جلال الدین هم یو سفزیو ونیوه ، خو کله چې اکبر له دغو پیښو څخه خبر شو هغه یې له خپلو ټولو خپلوانو سره د یو سفزیو ته خلاص کړ او جلال الدین چې جلا له هم ورته ویل کېږي د تیرا غرونو ته راغی او حپل پلر نی تاروته یې پیلاو په لوټ لاړ ومنو او د حلسور په زور ویو یې پیل وکړ په دغه وحت کی د راجا مان سنګ او نورو حونو شاهي امسرا یو په مشرې غرونو ته لښکری واستول شوی تر څو جلاله ونیوی خو هغه یو داسی مشهور غل و چې تر ډیری مودی پورې یې په سرحدی سیمو کی فسادونه رامنځ ته کول . په دغه وخت کی د نایلاو پیښور تر منځ لاره هیڅکله په امن کی نه وه، دده ورور کمال الدین ونیول شو او اکبر پاچا دی ، د مرګ تر ورځی پورې په زندان کی بندی و ساته تر څو چې هم ورو مسته کله چې راجامان سند تر ډیرو سیرې ځا یو نو پوری جلاله په غرونو کی تعقیب کړ ، نو هغه د عرنی په خوار ښتېده او هغه د مزاره قوم له خوا ووژل شو او سری د اکبر پاچا دربار ته راولیږل شو ، د جلاله تر مړینې وروسته دده ځای د شیخ عمر زوی احداد چې د بایزید لمسی وو نیوه او هغه هم ډېر فساد وله او بعا وتونه منځ ته راوړل . په پای کی ددېرو زیاتو نقصانو نو رر عملو وروسته د شاه جهان پاچا په وخت نی یې د خپل عمل سزا ولید له . په دغه وحت کی د دوی مریدان په دغه خبره و پو هیدل چې د دوی پیر د او مریدی د سر و مال له زیان نه پرته بله نومه ګټه نه لری . داحداد میرمن ډیره زړه وره او باتد بیره ښځه وه ، ددغه کیسی څخه ښکاری

---

* د بایزید اور مړ شپږم زوی هم ـ چې الهدا د نومیده او د دنی (اشنغری محمد ری) له نسه و .

اووم زوی یې دولت نومیده ، د توری ادی له نسه و .

د سمربن د دویم زوی خرشبون د نسب شجره



پاتې په راتلونکي مخ ولوړئ

داماڼزي بن عثمان دنسب شجره



یادداښت :- داماڼزیو قوم زیات شمیر د انګریزي سرکار په سیمه کي یوسفزیو د علاقي د ... په نامه او سیمه کي
میشته دي. په دې قوم کي د میر بابا خان زامن محبت خان او غمېز خان د جاګیر خاوندان دي او میر افضل خان
په ګهوي کیوره کي. د کپور خیلو دولت زیو د یوې بخوانه کور محمد خان دی. او په ګهوي اسمعیل زي کي نصرالله خان
د طاوس خیل، او د دې قوم ارشید ... محبت خان سنه نبکاري او د انګریزي سرکار خادم او منه مسړی دی.
د دې قوم زیات شمیر عماره خیل یا مبارک خیل او لږ شمیر پیر خیل او بام خیل او لوی رحمان د نیمي په
... او نګري کي چي د انګریزي له حدودو څخه د باندي موقعیت لري میشته دي، چي د دوی د
... والو لس لو شمیر د دوو زرو تنو ته رسیږي د دوی مشران د سعید کور له خانګي څخه مو ... خان
سنګر خیل او جبار خان دي

د اتمانزي بن مندړ د نسب شجره



* دې ځمانه شیخ ملی ځکه چې په لومړي سر کې یې خپل مقبوضه ملک په ټولو یوسفزیو ویشلی و او د هغه ویش په سبب تر اوسه پلرنی ملک د شیخ ملي دفتر بولي

دا تمان د دویم زوی کنازی د نسب شجره



دا تمان د دریم زوی علی زی د نسب شجره



چې ساده افغانان ډېر ژر ددرواغجنو او مکارو پیرانو په ذریعه غولیږي .
داتك د ﻼ په محاذکې داباسین رود په لو یدیځه څنډه چیرته چې په
اټك کې کښېنتي تګ راتګ کوي هلته یو خطر ناك ځاى دى چې په دغه ځاى
کې د تیرو سره د کښېنتي د ټکر یدواوماتیدو امکان شته چې دغه ځای ته
خلك جلالیه او کما لیه وايي ، ددغه ځاى د تسمیې وجه داده چې یو کال
اکبر پاچا د هندو ستان نه دکابل په نیت روان شوی و او کله چې داټك
نه راتیر شو هغه کښېنتي چې په کې خزانه باروه د هغه تیږی سره
ټکر او ماته شوه او ټوله خزانه په دریاب کې ډوبه شوه. په دغه وخت
کې اکبر پاچا په خندا سره وویل چې دغه تیږی زمونږ له پاره دجلاله
او کماله په شان غلي او لوټماری شوې چې مقصد یې دبایزید اودمړو
زامنو جلاله او کماله څخه و.

داتمان زی قبیلي په باب یادونه :

داتمان دسیمې دتسمیې وجه یوازی داتمان داولادی د اوسیدوله امله
ده .

که څه هم اتمان ددوو میر منو اوس یوازی ددریو زامنو اولاده یعنی
دنسب په شجره کې راغلي دي، خو څخه څلور زامن لرل لکه څنګه چې
اکازی ، کنازی‌اوعلیزی ی دخپل‌نیکه په نامه اتمان زی بلل کیږی. دسدو
اولاده که څه هم په اتمان ورګډیږی‌مګر ځان ته یې بیل نوم غوره‌کړی‌دی.

اتمان زی دیو سفزیو دسیمې په ختیځو برخو کې‌داباسین رود په
غاړه اود مهابن دغره په سهیلي‌لمنو کې پرا ته دي .داتمانزی‌قبیلي دری
واړه ښاخونه دشیخ ملي د ویش په اساس برابری پلرنې ، برخې لري.
چې دری واړه ښاخونه په برابرډول‌دخپل نیکه ځمکې کړی او ور څخه
استفاده کوی . داتمان په نوم‌سیمه‌کې (٤١) برخې دي چې‌له هغو
څخه (١٣) برخې په اتمان زیو پورې مربوطې دي، چې ترټولو لوی
کلي یې دکوهاری په علاقه کې‌توپی، مېنی اوکوتهیه نومیږ ی . دکوهاری
علاقې څخه بهر دکهبل په سیمه کې داباسین رود په لویدیځه څنډه تور-
بیلي ته مخامخ کلي ډیره ښه هوالری،په مهابن کې‌هم ځیني وړی‌وړی
باندی شته . دعلیزیو له قبیلي څخه دطاهر خیلي ښاخ دګند ګهر دسیمې
په ګهری او مررو کې په خواره‌واره‌ډول اوسیږ ی . د هزاره ضلعې
دکهلابټ په‌سیمه کې دسید خا نې‌ښاخ اوسیږی اوپاتې علیزی اونورپه

تور بیله او نورو نږدی کلیو کـــی اوسیږی ، او دیوی اندازی ځمکـــی خاوندان دی، اوس طاهر خیلـــی غلام محی الدین او سید خانی میرزمان

خان او دکهیا خیل کنازی فضل خا ن دیر مخوراو دشتو خاوندان دی ، خو دفضل خان نه پرته پاتی دوه تنـــه پخپله سیمه کی دومره واك خاوندان نه دی .

دسدوزی داولادی اتمان د شجری په باب یادښت :

لکه چی دسب په شجره کـــی راغلی دی له هغه نه جو تیږی چــی سدو هم داتمان زوی واود ویش په وخت کی نیمه برخه سد وته اودویمه نیمایی یی داتمان دریو نورو زامنـو ته چی دیوی مورنه وو ، ور پـــه برخه شول. داتمان زیو نه د سـد واولاده په لویدیځه برخه کی پراتـه دی . دزلوزی د ښاخ څخه دابا خیلو په څانګه کی درانا خیلو کور نــی دریده او هند ی خانان دی ، دزیده او سیدوخنی ار سله خان(ارسلاخان) دسکاو، په وخت کی د اتما ن پـــه سیمه کی یود یر مشهور او بااقتداره خان تیرشوی دی چی دده لمســـــی ابراهیم خان اوس هم د زیدی خــان دی ، دهند ی خان شهدا دخان د ی چی له ده سره مخالفت لری.
دهند او زیده کورنی هم په خپلومنځو کی کلکی دښمنی لری لـــه دوی نه پرته دهری کورنی په منځ کی په لویه پیمانه دښمنی او اختلا فو نه شته ، عمر خیل دمانیری په صوابی کی اوسیږی . ددری زی له ښاخ نه میر احمدخیل په مرغه او تهند او ځینی په سلیم خان او ګاړ مناره کی اوسیږی، بیزادخیل په کهلا بټ کی او خدو خیل زیاتره د انګریزی سرکار له سیمی څخه بهر دپنج تار په دره او چکلی ی پراته دی او دسر کـــار سیمی په دننه کی باجه بام خیل هم ددوی ملکیت دی، ددوتالی اوسیدونکی خدو خیل زیاتره دانګریزی سر کا رسیمو ته نږدی په اواروا و دکرنـــی په ور ځمکو کی استوګنه لری او ددوی دفسادو نو دمخنیوی له پـــاره انګریزی سرکار ښه تدابیر نیو لـــی دی .

دخدو خیلو له قبیلی څخه پـــه پنج تارکی یوه دیره پخوانی کور نی چی دعثمان خیلو ښاخ دبیرو خیلـــو په څانګی پوری تړلی ده دیره دعزت خاوندە کورنی ده. دمح خان او د ده زوی مقرب خان دپنج تار اوسیدونکی دویرواك ښبستن خان و مکردمقرب خان دبی ځایه ظلم اوتیری په وجـــه دده قبیلی او رعیت دی خپل دښمن و ګانه اوله پنج تار څخه یی وشـــاړه . ده اوس دباجه په سیمه کی چی د انګریزی سرکار په سیمه کی مو قعیـــت

اتمان د دویمې میرمنې زوی سدوزي د نسب شجره



د عمرخیل بن زلوزي د نسب شجره



* د رهلکا او هندي خانان د دغه ښاخ دي

داتمان دلمسی درزی ابن سدوزی دنسب شجره



* دبیمتار کورنۍ د بیری خیل څخه مخ ته راغلې ده

** میران خیل خان چې د شیرشاه د وخت مشهور خان و، د ... داوالارې خپور و

د وزیری یارچی د نسب شجره



* د خضرزی ابن رزړ د نسب شجره



د محمودزي یا ماموزی ابن رزړ د نسب شجره



* د دغه قوم په باب یادښت: دغه قوم هم په زیات شمیر د پښتو منځیو سره په سرکاري ټیمه کې او شیرزي په اکوخیل اسمیل کې . دوی مشر خویدا د (خدایداد) دی خو دده له کورنۍ سره زیات شمیر خلک دښمني لري په تیره بیا میرافضل خان . دغه بیان د رقیب دی .

خضرزي په شیوه کې او شیرزي چې دوی مشر امیرخان چوره خیل دی ، ماني زي په دینه ، ډاګی او شولاندي کې او شیر د تولاندي او شیدو تنګي جعفرخان او آصف خان ډاګی دوی معتبر کسان دي . دغه ملک زلولوکه اشتوګن ځای د یارحسین شیمه ده . تملک عرب په دوی کی ښه سړي شمیرل کیږي . محمود زي اسوته ، شیخ جانو کې او شیرزي ، رحیم خان دوی مشر رښتینی سړی دی .

لري پناه اخيستی ده . دی یو باغیرته ، ساده ، کینه کښ ، او ورښتینی سړی دی .

د مندړ دتولی قبیلی په باب یادښت :

هر کنده ده چی دمندړ یا مندلړداوسیدلو ځلور ځایونه مشهور دی . داتمان نامه تپه چی داتمان او لا د ه اتمانزی اوسدو زی په کی استوګنه لری اوپه دغه تپی پوری ځلور تعلقی ترلی دی، داتمان په لویدیځ کی درزړو تپه پرته ده چی په هغه کی درزړ اولادی پنځه ښاخونه په پنځو تعلقو کی میشته اومشهور دی .

درزړ دقبیلی په لویدیځ اوقطبی برخه سدهوم په سیمه کی درود په غاړه دامازی تپه میشته ده چی درې تعلقی لری دا ماز یو په لویدیځ کی دکمال زیو تپه پرته ده چی په هغی کی دکشران زیو او مشران زیو دوی تعلقی دی. دغه ځلورتپی دیوسفزیو دانګریز، ترلاس لاندی سیمه کی پرتی دی چی د هغوی ملك سیمه ، میدان اویادمندړو دملك په نامه هم یاد یږی . ددی نه پرته دچملی سیمه چی در زړو دتپی اوسد هوم ختیځ ته غره کی واقع ده اود مهابن په شمالی برخو کی هم د مندړ اولاده استوګنه لری چی دخدو خیل ، پنجتار اوچنګلی په شاو خواکی تسلط لری .

دیو سفزیو په پر ګنه کی دمندړ اولادی دمقبوضه ملکونه پر ته پنځمه تپی دبایی ز ی ملکیت و. بایی زی په اصل کی دیوسفزیو یو ښاخ دی خو دجهانګیر د واکمنی په وروستیو وختو اود شاه جهان دسلطنت په پیل کی دختکو قبیلی دهغی تپی په زیاتی برخی قبضه وکړه خو د یو سفز یو د قبیلی دبایزی ښاخ د بابوزی اوازی خیلو ځانګی تراوسه هم په ځینو ختیځو برخو باندی تسلط لری .دبایزی د تپی شمالی او ختیځی برخی داتمان خیلو په قبضه کی دی. چی وروسته به یی بیان وشی .

یادښت:

دیوسف اولاده یعنی یوسفزی په یوه لویه غرنی سیمه کی په خوا ره واره ډول ژوند کوی اوپه دغوځایونو باندی تسلط لری چی وروسته به په مفصل ډول ددوی بیان را شی.

له بونیر نه ختیځ خواته په غرنیو سیمو کی دتنول غراو داګرور تر سیمی پوری داباسین رود په غاړه په زیات شمیر دغیبی اولاده حسن زی او مداخیل اکازی استوګنه لری .په بونیر او د هغه شاو خوا مربوطو سیمو کی دموسی او مالی اولاده یعنی الیاس زی ، دولت زی ، نور ی نورو

چغرزی اوسیږي ، دسوات اود هغه شاو خوا سیمو کې دیوسف د زو ي اکوزی اولاده ژوند کوي چې له هغو څخه خوا جو زی ، با یــــی زی او راني زی مشهور او پیژ نـــــدل شوی ښاخونه دي .

دخواجوزی له ښاخ څخه ملـی زی‌ددیر په پنج کوړه کې اوسیږي ، د دیر دسیمې خان غزن خان نومیـــده‌او ډیر مشهور سړی وخو دده زامنـو دهغه ځای ونشو نیولی. دیو سفزو په قبیله کې درې ډیری محتر می او درنې کورنې چې ډیر شته او نفـود لري‌موجوددی لومړی ددیر دملـــی‌

زیو کورنی دویم دابا خیلو بائیز ی کورنی چې دسوات دسیمې په تها نه کې اوسیږي دغې کورنی له پخوانـه په بایی زیو کې ډیرواك او عــز ت درلود ، ددغه کورنی نه‌اوس‌شاه نظرخان دتهانې اوسیدونکی، امیرالله خان دپنې اوسیدو نکی او خراسان خا ندشیر خا نه اوسیدونکی مشهور خلك دي ، خو ددوی واك او اعتبار دبـی‌اتفاقی په وجه دپخوا په شان نه‌دی

خو سره له‌دی هم په خپلو سیمو کی‌ډیر واك لري . دموهراد غره‌اوسیدـ ونکو کوچرو څخه د حیوانانو د څرځایو مالیه ددوی له خوا اخیستـــل کیږي چې کله کله په دغه باب پـه هغوی ظلم کوی ، دریم درانـــی ز ی ښاخ نه‌د علي زیو دازی خیلوځانکی‌څخه دالاډهند کورنی په کاچو کو کی اوسیږي .ددغه کورنی خانانو پخو اډیر اختیار لاره خو اوس یــو از ی دزانی زیو په شپږ زره اولس‌باند ی‌حکم لری . اوس ددغی کور نی‌محبتـ خان سره له‌دی چې عمر یی کم دی خوډیر هوښیار او با تدبیره انسان‌د ی مکر دده تره شیردل خـــــــا ن‌دده سره سخته تر بګنی لری .

ددوی څخه پرته په بونیر کــی‌زید الله خان ، احمد خان ، عاصم‌خان او نور دخپلو خپلو قبیلو مشران‌د ی‌خو له دوی څخه یو یی هم د ډیرواك خاوندان‌نه دي.

دیو سفزیو او مندړ قبیلی :

ددغه قبیلو تاریخ :

څرنګه چې دنسب په شجره کـی لیکل شوی خرشبون دخړ بـن زو ی اودقیس عبدالرشید لمسی و.خرشبون‌دری زامن لرل . کند، جمند یازمند، او کاسی چې د وروستیو دوو بیان‌به وروسته راشي .

کند دوه زامن در لودل یو یی‌عری نو میده چې د هغه اولاده غوریا خیل نومیږي اود هغو بیان به وروستـه وشي ، دویم خشی یاښخی‌چی یوسفزی هغه په پښتو ژبه د څو خی په نامه یادوی ، چې دهغه اولادی څخه دغه قبیلی منځ ته راغلی دي ، داخو نددرویزه‌دقول‌له‌مخی‌چې په دغه قبیله

د یوسفزی ابن مند د نسب شجره



د الکوزي ابن یوسفزي د نسب شجره



* د رستم له اولادې څخه په څلورم پښت کې ربلي خان امیر امان الله خان او ... محمود دی.

** د عزیز خان له اولادې څخه خراسان خان بن فخرالدین خان او شاه نظر خان ... سړو ... دی
او ... د ... په ... شرخان ... او شاه نظر خان ... انتظام ... دی.

د رانی زئی ابن اکوزی د نسب شجره



کې یې ډیر وخت ژوند کړی او ډیـــر ماهر انسان و، داسې ویل کیږي چې دخشې لومړی میرمن مرجانه نومیده او مند اومك ددې زامن وو ۰مرجانې یوه خور لرله چې بسو نومیـــده خرنګه چې په خشی باندې مینه شوه نو دخپلې خور سره یې چل او خیانـــت وکړ اودده کور ته ورغله چې د ده له خیټې څخه یې دریم زوی وزیږیده او ترك نوم یې ور باندې کیښودچې دده نسل ته تر کلاني وا یـــې * ، داخوند درو یزه په کتاب کې دا هـم لیکل شو ی دی چې تر اوسه هم د تر کلاني په قبیله کې د ښځو غو لـــو ل ډیر رواج لري چې ښایي دا رواج به له نیکونو څخه دوی ته پاتي وی .

دمند له دوو زامنو څخه یې عمر ډیر بادیا نته انسان و چې هند ته په سفو ولاړ او د خپل وطن څخه یـــې دباند ې دیوی قر یشی کورنی سـره خپلوی وکړه ، چې دهغې ښځې نـــه یې دمندړ په نامه زوی وزیږ یده او داسې ویل کیږي چې عمر په هغه ملك کې له نړۍ نه سترګې پټې کړې . او وروری یو سف ورپسې ورغی اوغوښتل یې دخپل ورور کونده او اولادو نـه خپل وطن ته بوزي خو هغې وفاداري ښځې دیوسف سره دتلو نه په دغه دلیل انکارو کړ چې دوروز کونډه اودده مال په زور سره غصب کو ی او زما رضا په دی کی ده چی ددویم ځل له پاره نکاح ونکړم . یوسف دغـه ښځه د ډیرو قسمو نو او وعدو پـــه ذریعه دی ته راضي کړه چی له ده سره وطن ته لاړه شي او هلته کله چی ددی زوی مندړ ځوان شو نو یوسف خپله لورده ته ور کړه چی اتمان او عثمان دده له پښته دنیا ته راغلل ، خو دویم زوی یی چی رازړیاراجـــړ نومیده دده د دویمی میرمنی څخـــه دنیا ته راغی .

دیوسف له پنځو زا منو څخه یو یی اور یانومیده چی ډیر کبر جن او مغرور انسان ونو ځکه به ځینو خلکو دی دبادی په نامه یا داوه چی له نســل څخه یی بادی خیل منځ ته ر اغلـــی دی، ویل کیږی چی په هغه و خــت کی دافغانانو په منځ کی داســـی رواج وچی زوی به یی د بلوغ سن ته ورسیده دپلرو نو جایداد به یی پـــه خپل منځ کی سره ویشه، او مـور او پلار ته به یی برابره بر خه ورکوله، ددغه رواج په مطابق کلـــه

---

* دد ی تور ، رد دتعلیقا تو په برخه کی وګوری .

چې دیوسف زامنو غوښتل په خپل منځ کې جایدادسره وو یشي نو دهغوی مورهم دخپلې برخې د بیلولوغوښتنه وکړه په دغه وخت کې د یوسف نور زامن غلي وو چې بد بخته بادي خپل دذکر خواته اشاره وکړه اوورته ویې ویل . ته دا واخله ، چې د هغه مور ده ته ښیري وکړې او دده په حق کې یې داسې وویل چې خدای دې تاته له دیار لسو کسو ځخه زیا ته اولاده نه د ر کوي . ا خوند درویزه دخپل عصر په حالاتو کې د دوی په باب لیکلي دي چې د هغوی اولا ده تر اوسه له دیار لسو کسوځخه زیاته شوی نه ده او ځو تنه چغر زي لـه دوی سره ګډ شوي دي ، خو داوسنیو تحقیقاتو او څیړنو له مخې دده لـه اولادونو ځخه دیوه پته هم ځر ګنده شو ی نه ده او داسې ګمان کیږ ي چې دهغه نسل به له منځه تللی وي. همدا راز ویل کیږي چې دیوسف زوی غیبي یو ولس اولا دو نه لر ل. یوه ورځ دمنډړ دآسانو ګله مغولو لوټ کړه اود شاله خوا غیبي دخپله نه زامنو سره دلوټمار انو په تعقیب پسې روان شول او تر ټولو مخکې په هغو پسې ورسیدل او دهغه جګړې په نتیجه کې چې ددوی تر منځ پیښه شوه داخوند درویزه په قول ټو ل شهیدان شول او دوه زامن یې ژوندي پاتې شول چې یو یې حسن نو میده چې نسل یې دحسن زیو په نا مه بلل کیږي او بل یې یعقوب چې اولادې ته یې یعقوب زي وایي، کله چې غیبي مړشو دهغه میرمن حامله (امیند واره) وه چې وروسته له هغې ځخه یو زوی دنیا ته راغی ا وداکا نوم یې ورباندې کیښود چې د هغه اولاده اکا زي دي . د یوسف دپاتې ټولو زامنو نو مونه د نسب په شجره کې ځرګند دي .

د یوسفزیو لومړنی استوګنځی :

اوس په دغو خلکو کې داسې ځوك نه شته چې دخپل د استو ګنې له لومړی ځای ځخه باخبره وي ، کله چې له دوی ځخه پوښتنه وشي دوی په ځواب کې وایي چې زمونږ نیکو نـه له غوړه مرغه ځخه راغلي د ي ،خو دانشي ویلای چې غوړه مرغه دکوم ځای نوم دی یواځې دومره وایي چې ښایي په لویځ افغانستان کې به د کوم ځای نوم وي، د ځنیو ځیړ نو ځخه داسې ځرګندیږ ي چې غـوړ ه مرغه دار غستان سین ته نـږ د ې د یوه ځای نوم دی چې د سور غر او غنډان ترمنځ موقعیت لري او ښا یې هغه ځای به وي چې دلومړي و یـش په وخت کې دار غستان دویالې په شمول دغه قبیلې ته ور په بر خـه شوه.دمرغه نه مقصد چمن اود غوړ مقصد آباد اوشین دی . چې د دواړو کلمو معنی شین چمن دی . همدارنګه

یو ډول غرنیو وابنو ته هم غوره وایی او دغه بوټی ښایی دمرغه په نامه
کوم ځای کی را شین شوی وی ا ود نو موړی بوټی دز یاتوالی په سبب
دغه ځای په غوره مرغه نومول شوی دی، چی اوس په دغه ځای کی لږ
شمیر علیزی، درانی ، ادوزی اوغلجی توخی اوسیږی ، ځینی ناصر هم د
گرمی په وخت کی هلته ځی . ددغه قبیلی د لومړنی استو گنځی په باب
چی تراوسه کوم معلومات تر لاسه شوی هغه په لاندی ډول د ی .

کله چی ا فغانانو د کندهار دشاوخوا سیمی سره وویشلی نو د ترین
دنسل دبرخی په منځ کی د کنــــداوز مند برخه وروړسید له نوځکه
له ورونوڅخه یو یی هم دیوبل ننگی اوملاتړ ته نشو رسیدلای، د ابادی په
وجه دخشی قبیله چی یو سفـزی او مندړیی ښاخونه دی د غور یا خیلـو
په پرتله ترینو ته لنډ دی اودهغوی برخه دار غستان ویاله وه ، چی هغه
ویاله تر ینو ته نږدی وه اوددغـی ویالی په سر باندی دخشی قبیلی او
ترینو ترمنځ شخړی پیدا اوپه پـای کی دغه شخړی دو ینو په تویو لـو
بدلی شو ی. په دغه جگړو کی ترینو دخشی په قبیلی باندی بر یا لیتو ب
ترلاسه کړچی ځینی خشی ووژل شول او پاتی یی له ملکه و شړل.د زمنـه
او غوریا خیلو څخه هیڅ څوک ددوی ملاتړ ته راو نه رسیدل په پای کی
دخشی قبیلی خپل ورور غوریاخیـل ته پناه وروړه او هغوی ده ته یوه
توته خرابه ځمکه ورکړه . ویـــل کیږی چی دکندهار په ځمکو کـــی
د پسرلی په موسم کی دزیاتو وربښتونو په سبب ډول ډول وابنه زر غونیږ ی
او داوړی په موسم کی د گرمی پـــه پیل سره دغه وابنه وچ او تویږ ی
او په دغو وښو باندی ټول کـــا ل حیوانات گوزاره کوی او خوری یی ،
کله چی د اور ښت په موسم کـــی زیات بارانونه وشی نو سیلاب دغه
وابنه له ځان سره وړی اور می او مالونه له سختیو سره مخامخ کیږی.
له بده مرغه په هغه کال هم داور ښت د زیاتوالی له امله دغوریا خیلـو
مالونه او رمی دوښو دکموا لی لـــه امله دسختی سره مخامخ شول، نو په
دغه وخت کی د بی همتی په سبب هغه ځمکه چی خشی ته یی وربخښلی ده په زوریی
له دغه قبیلی څخه واخیسته او دغه قبیله له هغه ځای څخه هم وشړل شوه
او په گاره نوشگی کی میشته شول .

دغه ځای دشت لوط ته نـږد ی دبلوچستان شمال ته پروت د ی .
دلوط دښته یوه لویه مالگینه دښته ده چی اوس دبلوڅانو په قبیله او
دکلات ، دنصیر خان په لاس کی ده .

لنده داچي په هغه وخت کــــي يوسفزي تا مندړ چي د خ خي تا خښتي د قبيلي يوښاخ دی دوګړو شمير يې ډير لږو ، څه موده وروسته يعني د ځوارلسمي (ع) پيړی په پيل کــي چي له هغو په تقريباً (۵۵۰) کالــه تيرېږی دغه قبيله له کاره اونوښکی څخه هم د کابل په لور رهی شوه .

د تر کلانيو او ګګيانيو نه پر ته چي هغه هم دخښي قبيلي ښا خو نــه دی داتمان خيلو قبيله چي دکړراني يا کرلاني ښاخ دی د تاك او ګو مــل ددر ی له لاری راروان او په دغـــه قبيله کی ورګډ شول. دمحمد زيــو قبيله چي د زمند له نسل څخه د ی هغه هم له خپل پاتی زمند قبيلـــی څخه ناراضه اوديوسفز يو سره دکابل په لور را روان شول او کله چــي ددغه ځای شاو خواته را ور سيد ل نوپه دغه ځای کی يی استو ګنـــه غوره کړه اود ابو سعيد زوی ميرز االغ بيګ سره يی د تخت د کښيناستو په وخت ډيره مرسته وکـړه او ددو ی په مرسته نو موړی د کابــــل په تخت کښيناست .

ميرزا الغ بيګ په پيل کی په دغه قبيله ډير مهربان و او کله چــي ددغه قبيلي شمير او شتمني ز ياته شوه نود کبراو نا پوهی له کبلــه يی دميرزا الغ بيګ حکومت ته اهميت نه ور کاوه اودسر کښني اوبغاوتونو له پاره يی ملا وتړله او دکابـــــل اوسيدونکو ته يی په زيان رسو لو پيل و کړان تردی چي د ميرزا الـــغ بيګ دخاصو ملا زما نوشته اومالو نه هم ور څخه خوندی نه وواودسلطنت په خاص ديوان کی به يی هم بيهوده خبــــــــر ی کـــو لـــی ،په پا ی کی دکابل والي ددوی د بدو کړو وړو په سبب دی ته مجبور شو چي دهغوی شرلوته ملا وتړی . لــه بله پلوه په دغه وخت کی دمير ز االغ بيګ اختيارات او واك ز يات شوی او دخپلو هم قومو مغو لانو پـــه راتلو سره دده قدرت او زور زيــات شوی اونوريی ددوی کړه وړه ونشول زغملای ځکه يی دهغو ی د له منځــه وړلو له پاره په ځينو اقدا ما تولاس پوری کړ په دغه ډول چي ديوسفزيو او ګګيا نيو تر منځ يی نفاق واچاوه اوورورسته يی دګګيانيو او خپل پو ځ په ذريعه په دوی حمله وکړه اوله دوی څخه يی څوتنه ووژل او پاتــی يی دکابل د غرونو په درو کی خواره واره شول . په دغه وخت په نوموړی قبيله کی دری مشهور شيخان موجو د وو ، چي دوه يی سره ورونه وو چــي يو يی مداداو بل يی مدد نو ميــدل ا وهغوی ديوسفزيو د قبيلي دعيسی زی له ښاخ څخه وو دريم يی شيخ عثمان نو ميده چي ملی زی و ، د دغو دريو په غيب ويلويي اعتبا ر وکړاو له دوی نه يی يو تن د پلي پلټن مشــر

وتاکه اود جګړی له پاره یې تیاری ونیوه دمیرزا پوځ چې ګګیا نی هم ورسره ملګری وو له دوی څخه سخته ماته وخوړه له دغه بریالیتوب وروسته دوی زیات یاغي او خپلسری شول او تل به له غرونو څخه راوتل او رعیت به یې لوټاوه.

دکابل حاکم دسولی نه پرته بله چاره ونه موندله. ده څو تنه سری یوسفزیو ته ورواستول اودوی ملکان یې را وغوښتل او هغوی ته یې عزت و کړ او ساده افغانان دمیرزا په دغه چل و غولیدل او هر ورځ به یې له ده سره تګ راتګ کاوه، یوه ورځ د میرزا په میلمستیا کې تقریباً دقام اته سوه تنو مشرانوچې ټول یې وسلې وو ګډون کړی وو، خو په دوی کې یوه تن دمحمد زوی محمود نومیده اودچغرزی له ښاخ څخه وله ځان سره پټه یوه چړوکې راوړې وه کله چې دربار ته ورغلل اودمحمد زوی محمود دمیرزا بدنیتی و لید له ټوخپلو ملګروته یې وویل که ستاسی خوښه وی نو زه به میرزا ووژنم خوټولو دې له دغه کار څخه منع کړ او ورته یې وویل چې باید دنمک حق یې وساتی ښا یې دی له موږ سره بد ونه کړی. دجنګا په نامه یو سړی چې د یوسفزیو قبیلی د ګګیا نی له ښاخ څخه اودیوسفزیو اصلی دښمن و هغه دکابل حاکم میرزا ته داسی مشوره ورکړه چې په دومره زیات شمیر نفر په یوه ځای کې بې وسلې لاس ته راتلی نه شي اودسولی په واسطه له دوی څخه هیڅ کله نشوخلاصیدای، دغه وخت باید غنیمت و شمیرل شي او ټول ووژل شی اوپه دغه بدی مشوری نوموړی عمل و کړ او ټول یې ګرفتار اوپر ته له یوه تن نه چې ملك احمد نومیده د مقتولو ملکانو د وروستی غو ښتنی په سبب بچ پاتی شو او نور ټول یې یویو ووژل. ملك احمد ډیر ځوانمرده اود لوړ همت خاوند و ددغو اتو سو ملکانو تروژلو وروسته پاتی یوسفزی او خشی دکابل دشاو خوا نه په ډیره بې وزلی حالت وشړل شول او د ننګر هارخواته وکوچید ل د ترکلانی ښاخ په لمغان یا لغمان کې میشته شول. څه موده وروسته د یوسفزیو او احمد زیو ترمنځ اختلاف پیدا شواوحصارك ته نږدی ددواړو قبیلو تر منځ سخته جګړه پیښه شوه په پای کی یوسفزیو بریالیتوب تر لاسه کړ. تر دغی جګړی لږه موده وروسته یوسفزی اومندړ هم دپیښور خواته وخوځیدل اود خیبر له لاری دغه ځای ته ور داخل شول. په هغه وخت کی د پیښور ښار له نن سره ډیر توپیر درلود، هغه قبیلی چې اوس په دغه ځای باندی تسلط لری په هغه وخت کی په لوید یځ

افغانستان کې اوسېدل اود پېښور ميدان او اواره سيمه او ور سره ترلې نورې سيمې ديوه داسې قوم تر تسلط لاندې وې چې هلته هيڅ نشته او شړل شوې دي. د تر کلاني قبيله چې پخوا په لغمان کې اوسېده اوس د باجوړ په سيمه باندې قبضه لري ، ګګيانې په باسول کې اوسېدل . خيبرې او بنګښ په هغه سيمه کې اوسېدل چې اوس هم هلته ميشته دي خو د کابل له ختيځو ميداني سيمو څخه را نيولې دپېښور تر ميداني سيمو هدا راز د باجوړ يوه برخه دچهچه او هزاره علاقې اوله دغه ځايه نورهم ختيځ خواته ددلازاك په واك کې وې .

اوله دې امله چې دلازاك د کرلاني قبيلې يوښاخ دي په همدغه دليل ددوې د نسب شجره اود عروج او زوال لنډ بيان ددې برخې په څلورم باب کې ليکل شوى دى. په هغه وخت کې دغه ملك چې ددلازاکو قبيلې په حدود وکې اود هندو کش دغرونو ترمنځ د سند رود په دواړو غاړو کې پروت دى په هغه باندې دسوات ، پاچا حکم چلاوه او يو بل قوم په کې اوسېده چې په هغوى باندې سلطان اويس سواتي حکومت کاوه .

دسلطان اويس نيکونه له پخوازمانو څخه ددغه ملك حکمرانان وو. کله چې يوسفزي د پېښور ختيځو سيمو ته را ورسيدل نود سفيد سنګ په نوم يوه ځاى ته راغلل اوملکانو يې د جرګې په ډول د دلازاکو له قبيلې څخه دځپلې ګذارې له پاره ځمکه وغوښته دغې قبيلې هم دسخاوت له مخې يوه ټوټه ځمکه ور کړه کله چې نوموړې قبيلې په هغه ځمکه کې ميشته شول نودشلمانى له قبيلې نه يې داوبو غوښتنه وکړه او کله چې هغوى داوبو له ور کولو نه ډډه وکړه نودهغوى سره يې په د ښمنى، لاس پورې کړ .

يوسفزي دوابې ته راغلل اوهلته ميشته شول اوپه دغه ځاى کې يې دشلمانى له قبيلې سره چې له پخو اوختونو نه يې په اشنغر باندې سلطه ټينګه کړې وه . دجګړې له پاره تيار شول . په دغه جګړه کې د شلمانې قبيلې مشرچې خالو نوميده و وژل شو او نوموړې قبيله له اشنغر څخه وشړل شوه چې دغه شړل شوې خلك دسوات خواته ولېږ ديدل ، د سوات پاچا دوى ته د الادهند په سيمه کې د اوسيدلو له پاره ځاى ورکړ .

ديوسفز يو قبيلې ته اشنغر څخه دهغې سيمې نه پرته د باجوړ سيمې هغه برخه هم په لاس ور غله چې ددلازاکو وه . په دغه وخت کې ديوسفز يو اودلازاکو تر منځ دښمني پيل شوه که څه هم ددغه دښمنى اصلي علت د ځمکې د نيولو له کبله وه خو ښکاره علت يې اخوند درويزه داسې ليکلى دى چې په هغه وخت کې د لازاك دمېره لنډر کوټ په سيمه

کې مشته وو.

د مؤلف په وخت کې یې لنګر کوټ دکپوره ګهړی په نامه یاد اوه او یوسفزی په دغه وخت کې پر اشنغر کې پراته وو، خو څنګه چې دلا زاکو دمیره لنګر کوټ ځې ځایو نه ونیول او کله به چې دیوسفزیو رمی او مالونه دغو ځوځا یونو ته تلل نود لازاکو به لوټول او هم کله به چې دیوسفزیو کوم سړی دسودا ګری له پاره ددوی سیمې ته ورته نو هغه به یې هم زوراوه لنډه داچې دوی تل ددلازاکو له لاسه په تنګ وو او ملک احمدخان چې په دغه وخت کې د یوسفزیوا ومندړو دقبیلې مشرو داسې پریکړه وکړه چې باید ټول دخښی قبیلې په مرسته ددښمنې قبیلې سره په جګړه لاس پورې کړي. دمحمدزی قبیلې سره له دې چې یوسفزیو سره یې دښمنې لرلې په دغه، وخت کې له یوسفزیو سره یو ځای شوه، په دغه وخت کې ملک احمد خان دوی ته په ننواتې ورغی او هغوی هم له یوسفزیو سره مرسته ضرورو ګڼه. همدا راز ګګیانی هم له دوی سره یو ځای شول او اتما نخیل له پیلنه ددوی سره یو ځای وو. دترکانیو نه پرته نور ټول خښی محمد زی او اتمان خیل هم سره یو ځای ددلا زاکو جنګ ته ملاوتړله او هغه خوا ته روان شول، له بلې خواد لازاک هم چې پخپلو میړو باندې غره وود لنګر کوټ خواته را روان او ددوی تر منځ سخته جګړه پیل شوه او دغشو لګیدو په سبب زیات شمیر خښی ووژل شول په پای کې ددواړو خواوو تر منځ دتورو په ذریعه ډیره کلکه جګړه وشوه او کله چې ددلا زاکو قبیلې مشر د زنګی زوی ووژل شو. په دغه وخت کې دلازاک له میدان نه وتښتیدل او دکابل یالنډی سین نه چې قطب خواته ددوی ملک او ټول یوسفزیو ته په لاس ورغی ددې مقصد ترلاسه کولو وروسته دوی په دغه فکر کې شول چې سوات هم ونیسی او ددوی مشرانو ملک احمد اوشیخ ملی په اجازه ټولو قبایلو په دې اتفاق وکړ چې دسوات په لوری وخوځیږی او د شا کوټ دری ته نږدې یې خپله اردوګاه جوړه کړه.

دسوات خلک په هغه دری باندې راټول شول او لاره یې بنده کړه خو دنورو لارونه بې خبره وو. په یوه شپه کې یوسفزیو دښمن ته د فریب ور کولو نقشه او پلان جوړ کړ او خپلو ښځو ته یې وویل چې دوی دې سندرې ووایې او په دغه سندرو کې دې دخپلو خلکو صفتو نه او دسوات خلکو هجوه (غندنه) وکړي، کله چې سواتیان له دغې خبرې څخه باخبره شی نو سبا به د جنګ نیت وکړی کله چې سواتیا نو دغه سندرې واورېدلې نو پوه شول چې سبا به په دغه ځای کې جګړه پیښیږه

شتی اوډ لنډ فکری په وجه د دوی پاتی لښکری چی په نورو ځایو نو
کی پرتی وی هم په شا کوښ کــړا توی سوی اویوسفزیو دسپی په
خوا په ډیره هوښیاری په یوه بلـه لاره دملاکنډ (ملکنډ) لخوا سوات ته
ورننوتل . هره ورځ به له سواتیانو سره جنګیدل او وراندی تګ به یی
کاوه ، دوی تدریجاً ددو لسو کالو په موده کی ټول سوات ونیوه او د
تالاش وادی هم ددوی لاس ته ورغله ، او سواتی سلطان اویس په خپل
ځان کی دمقابلی توان ونه لیده او دسوات نه دکافرستان په لور روان
شواو هلته یی دیوه نوی دولـت بنسټ کیښود چی ترڅو نسله دده
په اولاده کی په میراثی ډول پاتــی و. ددغو جګړو په تریخ کی د کابـل
حکمران میرزاالغ بیک مړشواو څرنګه چی په لومړی برخه کی وویل شو ل
دکابل سلطنت دبابر لاس ته ورغی.

بابر په (۱۵۱۹) عیسوی کال چی له هغه وخت نه تقریبــاً دری
سوه شلو یشت کاله تیر یږی په دغه قبیله یرغل وکړ په هغه ، وخت
کی دمیدان په سیمه کی یوسفــزی او په سوات او بونیر کی یوسفزی او
مندړ میشته وو ، په اشنغر کـــی محمد زی په دوابه کی ګګیانــی
او دباجوړ په یوه برخه کی ترکلانی او په ختیځو غرنیو برخو کی اتمان
خیل میشته وو . او دپیښور شاوخواته غوریا خیل اولږ دلازاک هــم
اوسیدل . بابر دکابل څخه دانچــل له لاری باجوړ ته راغی او دغه ځای
یی ونیوه او خواجه کلان یی حاکم مقرر کړ اوکله چی دی په دی وپوهید
چی دیوسفزیو پر قبیلی باندی لــه حملی څخه څه لاس ته نه راځی ددی
له پاره چی دوی دحملی په وخت کی سختو غرونو ته تښتی ، نو ځکه ده
دد ی خپلواکی قبیلی سره سولـــه ووکړه . کله چی بابر سوات تــه
ورسید نو دسلیمان زوی شاه منصور چی د یوسفزیو د قبیلی ملـک و او
سلطان اویس سواتی دده هر کلـی ته راغلل او بابر دشاه منصور لــه
لور سره واده وکړ . اودسوات دلوندخوړ له لاری تر شهباز ګړی اواشنغر
پوری سیمی دبابر د لښکرو لخــوا زیانمنی شوی .

بابر په خپل کتاب کی ددغو جګړو په باب لیکنی کړی او دغه جنګونه
او هم یی دشاه منصور له لور سره واده تصدیق کړیدی . ددغو جګړو
بیان ډیراوږد او دلته یی لیکنــــه مناسبه نه بلل کیږی. تردغو فتوحاتو
وروسته یوسفزیو په آرا مـــی اوسوکالی سره خپل وخت تیــراوه او
شیخ ملی چی ددغی قبیلی مشر او باتدبیره سړی و ټولی نیـــول شوی
سیمی یی په داسی ډول وویشلــی چی لومړی یی لوی تقسیمات وکړل،

داسي چې اشنغر یې محمد زیوتـــه ورکړ، ددې له پاره چې دوی د ننګرهار
له دیرسمرېو دجمړې په وخت کـې چې د دلازاکو سره یې کـړې وه ،
دیوسفزیو سره مرسته کـړې وه ، دوا به یې ګګیانیو ته ورکړه چې تر
اوسه پورې هم هلته اوسیـږي ،همدا راز دباجوړ یوه برخه هـم
دوی ته ور کړل شوه ، خوا و س یې لاس له هغه ځایه لنډ شوی دی .
پاتې ملك یوسفز یو او مندړو تـه پر یښودل شو ، همدا راز په کورنیو
باندې د ځمکو ویشل هم د شیخ ملـي له خوا ترسره شو چې هرې کورنـۍ
ته دسړي په سر حق ور کړ شو چې تراوسه هم میراثي ځمکې دده دویـش
په اساس تقسیمېږي. کله چې په دغه قبیله کې دمندړ د بهزاد خیلو
له ښاخ نه خان کجو سردار شو، نـو هغه له ملك احمد څخه هم دز یـا ت
رسوخ اونفوذ خاوند شو او په خپلې قبیلې کې یې زیات اقتدار تر لاسـه
کړ . په دغه وخت کې شیر شـاه، همایون پاچا له هندو ستان څـخـه
شړلی او پخپله یې په هندوستا ن پاچا هي کوله . په دغه و خت کې
کجو خان په بغاوت لاس پورې کړاو هم دده د سر داری په وخت کې دده
قبیلې د غوریا خیلو له قبیلې سـره چې خلیل مومند اوداودزي یې ښاخونه
دي دشیخ تپور په سیمه کې چې اوس یوازې تپور بلل کیږي سخته جګړ .
پیښه شوه اوبر یالیتوب دیو سفزیو په برخه شو . غوریا خیلو سخته
ماتې وخوړه او ډیر زیا نونه یــې ولیدل . شیخ تپور یوه پخوانـــۍ
کلاده چې دز ړ ی نو شهرې نه پورته پرته ده اوجګړه په هغه ځای کـې
پیښه شوه چې هلته اوس د پوستې دفتردی . هغه غور یا خیل چـې
یو سفز یو ته ژوندي پـــه لاس ورغلي وهغه یې دخپل شهرت له پاره
دمریانو په ډول په دوه ، دوه پیسو وپلورل .ددې ستری فتحې په نسبت
ددوی په کړوو ړ وکې زیات تغییـیرراغی او دکبر اوغرور له مخې یــې
داکبر پاچا په زمانه کې په ښکا ره بغاوت لاس پورې کړ ، لو تمـار ی
اولارو هنه یې خپله دایمي دنــده وګرځوله . ددغو بدو چارو له کبله
خدای (ج) لوړې په دوی با نـد ی دقحطي بلاناز له او ددوی نه یې ډیر
خلك ووژل ، ورپسی اکبر پاچا زین خان کوکه سره له نورو افسرانو چې
په لوړې برخه کې یې ذکر وشودیوه لوی لښکر سره په (١٥٨٦)عیسوي
کال کې ددغې قبیلې د ټکو لو لـــه پاره ولیږه په لوړې حمله کـــې
بریالیتوب یوسفزیو ته ور په برخه شو اوراجا بیربل دنورو څو تنو نو-
میالیو ســـر دارانـــو او اوه ز ر ه تنو شاهي عسکر و سره و وژ لا
شول ، خودویم ځل زین خان د کابل نه دکونړ او با جوړ له لارې پـــر
سوات حمله وکړه ، په باجو ړ کـې یې شاهي تانه جوړه کړه او کله چې
دسوات ختیځې برخې ته ور سید لنو دیوسفز یو قبیله د تری په درې

کی یو ځای اوده لاره یې و نیوه له اوویی کړای شول چې تقریباً د یوې میاشتې لپاره د لته لبنګر ی نم کړي ، خو بیا دفعتاً د اختر په ورځ چې د یوسفزیو د لښکرو اکثره غړي د حلوا خوړلو لپاره خپلو کورونو ته تللي وو ، ددغې خبرې اطلاع زین‌خان ته ورسیده . نوموړی له وخت نه ګټه واخیسته او سمدلاسه یې پردوی باندې ورودانګل په یوه برید سره له هغه سخت‌ځایه واوښت اود سوات سیمې ته ورننوت اودغه ځای یې ونیوه هغه یوسفزي چې غرونو ته ښتید لي وو په معنو پسې یې شاهي سپکري ورو لیږل لي او له هغو نه ډیر کسان و نیول شول اوډیر غنیمتونه لاس ته ورغلل . زین خان په سوات کې دد مغار په نامه کلا جوړه او په دغه قبیله یې تسلط ټینګه کړ . اخوند درویزه چې د دغه مصیبت په وخت کې د نوموړي قبیلې سره و په خپل کتاب کې لیکلي دي :

« ددغې قبیلې نه هغه خلک چې غرونو ته وتښتیدل زه هم له دوی سره وم . هلته د شپې لخوا تر ډېرې اندازې سخت باران او واوره وشوه چې تر سهاره مود ژوندا نه هیله نه لرله ددې سختۍ له کبله خلک دو اورو نه په ډک غره کې تم کیدلای نه شول ، نو ځکه یې ځانونه د شاهي پوځ سردار ته وسپارل » زین خان دغه خلک له غرونو نه راښکته او اشنغر او پیښور ته یې را وستل او په محمد زیو ، ګګیا نیو او عوریا خیلو کې یې په خوارووار ډول سره میشته کړل ، خو له دوی نه یوه ډله د محمد خان تر مشرۍ لاندې د هندو کش دغرونو په لور روان شوا و د پنجکوړې ددر یا بپر غاړه ځا یونه یې له کفارو نه خالي کړل ، دوی قا شقار ته د تللو نیت درلود خو ددوی مشر محمد خان د کافرانو له لاسه ووژل شو . دغې قبیلې وروسته غازي خان ملیزي کوکه لاس ته ورغله چې هغوی هم د پیښور سیمې ته راوستل شول او یوه ویاله یې ددوی د کو زا رې له پاره دوی ته ور کړه . ددغو خلکو حواس او مورال دومره خراب شوي وو چې د کلیو او ځمکو د آبادۍ قدرت یې هم نه درلود دغه خلک تر ډېرې مودې و روسته دکابل صوبه دار په امر د یوسفزیو سیمې ته ولاړل او هلته میشته شول او ورځ په ورځ د یوسفزیو خوره وره قبیله سره راټولیدله . څه موده یې په آرامۍ سره کوزاره وکړه اود حکومت لخوا زر روپۍ مالیه پردوی مقرره او دوی په خپلو مینځو کې د قلبې په سر ویشلې وه . د دغو فسادونو او بغاوتونو په سبب هغه ملکونه چې دوی د خپل زړه ور توب او زیار په سبب نیولي وو له لاسه ووتل ، هغه میداني سیمه چې د سند رود پر غاړه پرته وه ددلازاکو قبیلې ونیوله اوسوات دسواتیو لاس ته ور غی . بونیر د بونیر خلکو ، چمله د چملي خلکو او باجوړ د ننګرهار خلکو ونیول.

کله چې دیوسفزیو متفرقه قبیله سره یو ځای شوه او هغوی د دلازاکو قبیلی سره په جگړی لاس پوری کړ او هغوی یې دخپل تاتوبی نه وشړل، ددلازاکو دوتلو سره یوسفزیو دیر قوت وموند .د (۱۷) او لسمی عیسوی پیړی په پیل کی د لغمان ،سوات او باجوړ سیمو اوسیدونکی د سرحدی مسایلو له کبله په خپلو مینځو کی سره وجنگیدل . یوسفزیو چې دغه حالت ولیدلو دوخت نه په استفاده دی سره دلغمانیو سره یو ځای شول او د باجوړ او سوات د خلکو لاس یې له خپلو سیمو نه لنډ کړ .

دلغمان تر کلانیو باجوړ ونیو او یوسفزیو تر بر سوات پوری، خپله قبضه ټینګه کړه .

د یوسفزیو مشهور سردار علی اصغر نومیده چې دخپلی توری په زور یې دخپلی قبیلی دسیمو حدود ډیر پراخه کړل دتنول دغره نه پرته یې دبونیر ، چملی اود بر سیمی، پخپل لاس کی راوستلی ، او هغه سواتیان چی دوړلو او فرارته ژوندی پاتی شول دیوسفزیو تابع شول چی تر اوسه دفقیرانو په نوم د یو سفز یو رعیت شمیرل کیږی .

لنده داچی دغی قبیلی په تدریج سره دومره ملکونه تر لاسه کړل چی تراوسه یې هم په واک کی دی او د مندړو دقبیلی ښاخونه چی له غرونو څخه سمی یا میدا نی سیمو ته راکوز او د یو سفزیو په ملک کی میشته شول یوازی په نامه شا مل رعیت گڼل کیدل خو د واکمنی او د ملك په چارو کی د یوه ښه دسپلین او انتظام له امله به اکثره فسادونه او بغاوتو نه منځ ته راتلل.

په (۱۰٤۷) هجری کال کی شاه جهان د یوسفزیو د سیمی ټیکه ددولبس زره روپو په مقابل کی شهباز خان ختك ته ور کړه چی تر هغه وروسته دده زوی خوشحال بیگ خان ته هم دا اجازه ورکړل شوه او هر ڼگه چی د ختکو د قبیلی او یو سفز یو مندړو ترمنځ پخوانی دښمنی و ه ، نو په دی پلمه یی ترهغی اندا زی چې ممکنه وه ، پخپلو منځو کی سره جنگیدل تر څو مصنوعی شجاع مرسته وکړه ، لکه څنگه چې په لو مړ ی برخه کی ذکرشول دسند رود په غاړه داورنگزیب عالمگیر لښکر و په (۱٦۷۰) عیسوی کال د یو سفزیو او اره سیمه ونیوله ددی پوځ دراتلو نه لږه موده تیره شوی ده .

دکپور گهری یا لنگر کوټ پخوانی کلانه چې دمر مرو کومه دبره لاس ته راغلله په هغه باندی لیکل شوی چې په کال (۱۰۸۰) هجری کی چې

داورنگزیب پاچا د تخت کېنا ستلو دولسم کال و شمشېر خان ترين د شاهي لښکر وپه مشري دمنـــدړو ملك فتح کړاو کلا ، جومات او حاجۍ په دغه ځای کې جوړې کړه . د شاه عالم دوا ممنی په دوره کې يو سفزيو په هيڅ بهوت لاس پورې نکړ، خودمحمد شاه په وخت کی دوی په بلوا لاس پورې کړ اوپه (۱۷۲۵) عیسوی کال يې دپېښورد حاکم زوی و نیو ، له دې کېله دمغوی غرور لاپســـی زیات لا شواو له ټولو قبیلو دجملې نه يوازې همدې قبیلې دايرانـــی نادرشاه حکمراني ونه منله او کله چې نادر شاه په (۱۷۳۸) عیسوی کی پېښور ته ورسيدنوهغه ملك نارو خان راوغوښت ، خوهغه له راتلو نه ډډه وکړه . کله چې دغه کار دنادر شاه دقهر او غضب سبب شو نو ویـــی غوښتل چې دده نه ددې کستاخی بدل واخلی او دصوبه دار جالير * ترمشري لاندې يې يو پوځ په هغه پســـی واستاوه ، ټول خلك میدا نــــی اواوارو سیمو نه په غرنيو سيمو کی راټول شول .

يوازې په شير دره کې لږ شمیـــر خلك دمخکینی پوځي ټولګی په شکل پاتی شول او هغه کسان به چې وروسته پاتې کیدل دهغه مال او فصل به لوټ شو. کله چې شاهي پوځ شېر دری ته راننوت شو نو دسور کاوی او شير ** دری دواړو لارو نه پوځ انبیلې ته لاړ نه شو . په دغه ځای کې چې دیوسفز يــو قبيله راټوله شوې وه ، دغه پوځ ته يې دیوی سختی جګړې وروستـــه ماتې ورکړه او له هغه ځایه يــی تر کلپانی پورې تعقیب کړ . کله چې نادرشاه دغه خوا شينو ونکي خبر واوريد نو په ډېر زور ، شور اوقوت سره پخپله دغی خواته راو خوځيـداود چینجلی له لارې راتیر اودشاه کوټ غرنيو سیمو ته چې د مهابن د غرونو لړی ده راور سید . په دغه وخت کې يوسفزی مجبور شول چې سولـــه ومنی وروسته په (۱۷٤۹) عیسوی کال کی کله چې در ان احمد شاه ابدالي پېښور ته راغی نود يو سفزيو ټول مشران او ملکان دده سلام او مرستی ته راغلل . داشنغر د محمدزيو حصور ته راغی ، ورپسی دناز و خان زوی فتح خان او وروسته دطور داو بابوزي د خانکو خانان په هند باندې ديرغل په وخت کی د خدمت له پاره

---

* په اصل کی هم لـــیکلی دی (وګ. ۱۸٤ مخ) خوددې نامه صحی بڼه «جلاير» ده . (رشاد)

** دا هــــغه دوی لارې دی چــــی د ګها تـــی نه تـــر انبيله پورې د انګر يزی سر کـــار لښکر ی په (۱۸٦۳) عیسوی ــی په سختی ورو رسيد لی . (مؤلف)

راور سیدل ،له دوی نه پرته دطاهرخان زوی بلند خان چی دتاج خان لمسی اودکوه گند گر په سیمه کیچی دچج او هزاری دسیمو په منځنی برخه کی موقعیت لری سلطه لرله ،هغه هم دپانی‌پت په جگړه کی‌داحمد شاه خدمت ته حاضرو. دبلند خان‌پلار طاهر خان چی له ده څخه دطاهر خیلی ښاخ منځ ته راغلی دی، داحمدشاه دراتلو نه لږڅه وړاندی یی لومړی دگندگر سیمه ونیو لــه .احمد شاه دبلند خان له خدمت نه خوشحاله شو اود (۱۱۷۲) هجری کال‌دلیکل شوی سند له مخی یی‌ده ته، ډیر جاگیرونه ورکړل. دغه طاهرخان‌مندړ اتمان‌زی دعلیزی له ښاخ نه و. بلند خان څه موده داحمد شاه‌دامر سره سم دانبالی په شاوخوا کی دسرهند صوبه دارو. دبلندخان‌زوی فتح خان چی دده دنوم له کبله دده قبیلی ته فتح خانی ویل کیږی‌یو زړور انسان‌و. فتح‌خان یومشهور لارو هونکی وچی‌دمارگلی نه دحضروتر سیمی پوری ده دلوتماری فعالیت کاوه او تر اوسه هم په گندگر اودهغه په شاو خوا دهرو په سیمه کی تقریباء سل کورنی‌طاهرخیلان‌اوسیږی.داحمد شاه دواکمنی نه وروستــه دتیمور شاه دحکومت په دوره کــی‌دیو سف زیودسیمی خلکو خپله تاکلی ونډه * دنوښار حاکم اویا دهوتــی‌دفتح‌خان دزوی‌شاه‌ولی خان‌په واسطه ادا کوله . دتیمور تر پاچاهی وروسته دشاه زمان او محمود دحکمرانی پــه وخت کی‌هیځ‌یوه مهم‌کار ترسره‌نکړ.

دامیر دوست محمد خان او سردار پاینده محمد خان بارکزی دنورو زامنو تر سلطی وروسته. چی رنجیت سنگه‌دپنجاب حکمران‌دسنده دروډلویدیځی غاړی ونیولی نود هغه په وخت کی‌یو هندو ستانی سړی چی سیداحمد نومیده اوډیرباتدبیره سړی‌ودپیښورنه دیو سفزیو سیمی‌ته ورغی‌اودهند ملکانو، دزیده خان او بونیر سیدانو له ده سره مرسته وکړه، سیداحمد چی خلکو ده‌ته‌میا صاحب وایه دجهاداعلان وکړ، کله چی سکانو دغه خبر واورید نو دپنجاب نه یی یولښکرورولیږه، له بلی خوا بی شمیره غازیان چی دیوسفزیو او نورو قبیلو څخــه راټول شوی و دسیدو ** په نامه یو

---

*دلته دونډی نه مقصد دیوه ټاکلی‌اندازه مالیه او لښکر ته، دسپایانو برابر ول دی. (ژباړو نکی).

** په اصل کی هم سید ولیکلی‌دی (وک ۱۸۵ مخ)؛ خو ددغه ځای نــو م شیدو دی‌چی دکابل درود جنوبی‌خواته اکوړی ته نژدی واقع دی. «سیدو»دسوات پایتخت له دغه ځای‌نه لری‌دی ،بایدسره خلطنه شی. (رشاد)

ځای کي ډېره سخته جګړه پېښــه شوه، خو په لومړي حمله کي دسید احمد لښکري دماتي سره مخامخ شوي، دی پخپله هم وتښتیداو په (۱۸۲۷) عیسوی کال کی سوات ته لاړاو ترڅه مودي وروسته بونیر ته راغی او هلته یې داسي پرېکړه وکړه چي داتك کلا په چل بانديو نیسي، خو ددغه پلان او نقشي دطرحي خبردهنددملك ښادي خان له خوا سکانو تــه ورکړل شو. سید احمد غوښتل چي ښادي خان ته دده دکړو سزاورکړي. میر بابو اود چارغولی نورو ملکانودسید احمد سره مرسته وکړه او د ښادي خان سره یی په جګړي لاس پوري کړ، خو ددغي جګړي نتیجه کټوره نه وه. تر هغه وروسته سیداحمد دملا عبدا لغفور په معرفت چي اوس دسوات اخوند دی ښادي خــان راو غوښت او کله چي دی دسولــي په هیله راغی نو نومړي یی وواژه.

تر دی پېښو وروسته غرنیوسیمو ته د خد و خیل-و میا صاحـــب تــــه ورغی او د پنجتار فتـــح خان په سلا او مشوره یی پر یوسفزیو باندي دحکمراني اعلان وکړ، خـــو څرنګه چي یوسفزي یوه ازاده قبیله ده نو دغه خبره یی خوښه نکړه. پر ته له دی ده غوښتل چي دیوسفزیو پیغلي هغو هندوستا نیانو ته ورکړي کوم چي له ده سره ملګری وو، نو له دی کبله اکثراء له ده نه بیزاره شول، چي په دغه جمله کي دهوتي اوسیدونکي هم وو. سیداحمدد چارغولي دملکانو په مرسته هوتي مردان ته اور ورته کړاو کله چي دغه خبـــر دپېښور حاکم یار محمد خان بارکزی ته ورسید نو دیوه پوځ په مشرۍد یوسفزیو خواته راو خوځیده. سید په زیده کي دیره و،دده په پوځ کي شپږ سوه (۶۰۰) غښتلي هندوستاني ځوانان وو چي دمولوی اسمعیل تـر قیادت لاندي جنګیدل. دیار محمدخان پوځ له دریو زرو (۳۰۰۰) تنوسپایانو نه چي شپږ توپونه یی هم لرل جوړ شوي و.

مولوی اسمعیل * په دغه وخت کي له یوه داسي چل نه کار واخیست چي دشپې له خوایی دیار محمد خان دعسکرو کمپونه محاصره کړل اوخپل ټول سپایان یی دکمښت له املـــه متفرق او خواره واره کړل او ددښمن دډارولو په خاطر یی په یوه اوږده پړی کي په لږه لږه فاصله کي توپکونه وتړل او بیا یی باتیو ته اور ورته کړ او په دزو یی پیل وکړ. کله چي

---

*مولوي اسمعیل دشاه عبدا لغنـــي(۱۲۰۳ ه قمر) زوی اود حضرت شاه ولی الله دهلوی (رح) (۱۱۷۶ ه قمر) لمسی و.
(رشاد)

درانی پوځ دغه حالت دشپی په تیاره کی ولیده شو وارخطا شول او داسی فکر یی وکړ چی له هری خوا نه ددښمن په زړګونو پوځ راغی او ددغه اسانه حکمت له کبله په ویره کی شول او وتښتیدل یار محمد خان ټپی او بیا مړ شو. په دغه ډول هندو ستانیانو ته بریا لیتوب وزپه پرخه او هم یی شمیر زیات شو وروسته سید احمد دتنول دعلاقی دانب سیمی ته ورغی او دیار محمد خان ورور سلطان محمد خان او دمحمد عظیم خان زوی حبیب الله خان بارکزی دبدل اخیستلو له پاره دده مخی ته ورغلل او دمعیار په سیمه کی ددوی ترمنځ جګړه پیښه شوه.

په لومړی یرغل کی حبیب الله خان، هندو ستانیان تر ګهری کپو و پوری په شا و تمبول ،خو مولوی اسمعیل دښی خوانه سلطان محمد خان په شا وتمباوه او کله چی حبیب الله خان چی یوزړور انسان ودغه حال ولید نو سمدلاسه راو رسید او سلطان محمد خان یی دملا اسمعیل دتعقیب څخه وزغوره. په دغه ترځ کی هغه هندو ستانیان چی حبیب الله په شا تمبولی وو بیرته راستانه شول او دپیښور پوځ یی په شا تګ ته مجبور کړ. سید احمد ددغی فتحی وروسته په اشنغر کی میشته شو او له هغه ځایه یی سلطان محمد خان ته لیک ولیږه او په هغه کی یی له ده وغوښتل چی: ((زما سلام ته راشه اود خپلی ګناه معافی وغوله.)) همدا راز په نوموړي لیک کی داهم لیکل شوی وو چی:

«که این در گاه ما درگاه نا امید ی نیست، صد بار اگر بشکستی با ز آ هر آنچه کردی باز آ ، بـاز آ ،باز آء»

ددغه لیک ځواب سید احمد ته و نه رسید. کله چی ده میچنی ونیوله، دپیښور حاکم سلطان محمد خان وویریده او سید ته یی پیښور ته دراتلو بلنه ورکړه، مګر درياست حرص پخپله دی هغی خواته وباله کله چی دی پیښور ته ورسیده نو پرکلا یی خپله قبضه ټینګه کړه او دوا به او اشنغر یی سلطان محمد خان ته په جاګیر کی ورکړه او نور ټول ځایونه یی خپل وبلل. دغه پیښه په (۱۸۳۰) عیسوی کال کی مینځ ته راغله. سید احمد خو ورځي په پیښور کی اوسیده او ملا مظهر علی یی پیښور

ته نږدې په گور کتهنۍ کې خپل نایب مقرر کړاو پخپله دمهابن غرنۍ سیمې ته ورغۍاو دکوهاټ نه یې تر ننوله پورې خلکو نه عشر حصول کـړ. خپلوا کو خلکو چې نه یې شو کولای دهندو ستانیانو دسختۍ حکمرا نـۍ تحمل وکړي نوپه بغاوت یـې لاس پورې کړاو ملا مظهر علـۍ او دسید احمد نور ټول خادمان یې ووژل.

کله چې سیداحمد دغه خبرواوریده‌اوهم په دې وپوهیده چې فتح خـان پنجتار والادده دوست‌ندی نودهزاره‌ضلعې بالا کوټ ته لاړ او هلته دملا اسمعیل سره‌چې‌دیارلس سوه(۱۳۰۰)هندوستانیان‌هم ورسره‌وو‌په(۱۸۳۱) عیسوی کال کې دسکانو سره پـه جګړه کې شهید شواو دده له‌ملګرو څخه یې‌د (۳۰۰) درې سوو په شاوخواکې ژوندي پاتې وو دبونیر خوا ـ ته وتښتیدل او له تخته بند څخـه دمولوي نصر الدین تر مشرۍ لاندې ستهانه ته راغلل، خوله هغه ځای‌څخه دکوتهه داخوند سیدامیر اوفتح خان پنجتارې له خوا وشړل شـول.

لنډه داچې دسکانو دحکمرانۍ په وخت کې نه‌په دغې قبیلې او نـه د یوسف زیو په سیمه کې هیڅ‌امنیت نه‌و، دپنجاب دسیمې‌ترنیو لوورو ـ سته کله چې دپیښور ضلعه دانګریزي سرکار په قبضه کـې راغله نو دیوسفزیو په اوارو سیمو کې‌چې دانګریز سرکار د متصر فاتو نـه دې امنیت رامنځ‌ته شوخو دهغوی‌په غرنیو سیمو کې امنیت او انتظام نه لیدل کیږي. دستهانه په سیمه، کې چې دمهابن په غرنۍ سیمه کې پرته، ده ددغه ځای دسیدانو او متعصبـو وهابي هندو ستانیانو دغولونـې او فریب له کبله ددغه قبیلې هغـه ښاخونه چې‌په غرنیوسیمو کې‌اوسیږي دانګریزي سرکار سره په جګړه‌بوخت‌دې‌چې په لنډ ډول یې په لومړي برخه کې ذکر وشو. لومړنۍ مقابله، چـې‌دحسن زیو او ستهانه والوپه هغـه کې ګډون کړي وکمزوري وه.

خو دعبدا لله وهابي په مشوره‌دوی دانبیلې ددرې په سرکې‌دانګر ـ یزي سرکار له پوځ سره ډیره‌کلکه جګړه وکړه. دسـر کـار لـه دغې لښکـــر کشـــې څخـــه یوازینې مقصد داو چـې دملکا سیمه‌چې دچملې دوادې په منځ کې دمنډړو دښاخ دامازي خانګې استو ګنځي.د ي اوپه‌هغه کې وهابي اولو‌تمارو‌خلکو پناه اخیستې ده وسوځوي ، خوهندو ـ ستانې مولوي عبدالله وهابي‌دچالا کې په سبب دغه غرنیو قبیلو ته داسې وښو دله چې ګواکې انګریزي سرکارغواړي ددوی ملکونه ونیسي، لـه دغه سببه دسوات خلك دسوات‌اخوند تر مشرۍ لاندې اود باجوړ دتوکلانۍ

ښاغ دسردار فیض طلب خان باجوړی تر مشری لاندی ددیر ملی زی چی د یوسفزیو ښاخ دی دسردار غزن خان دیروال تر مشری لاندی دمداخیل، امازی او جدون قبیلی سره راټولی شوی چی ددوی دلښکرو شمیر دشلو زرو په شاو خواکی وو. تر ځوځکرو وروسته دمیجر جمس دښه تدبیر له امله انبیله، منډی او لعلو وسوځول شول او متعصب وهابیان له هغه ځایه شړلو ته مجبور شول. کله چی دغه خلك خواره واره شول نو پورته دبونیر په چغرزی کی میشته شول او سرکاری پوځ تش په نامه خپل مقصد ترلاسه کړاو بیرته راستون شو، سره ددیره زیانه دغه خلك په هماغه ډول دخپل لوټ اوماتی سبب کم همتی بولی، په واقعیت کی دا مناسبه نه ده چی دبلی قبیلی دملك له لاری دخبر ورکولو نه پرته په یوه سیمه باندی یرغل وشی اوکله چی داکار وشو نوپه دغه ډول شاته تګ دانګریزی سرکاردشان اوشوکت سره نه ښایی.

دوهابي فرقې يادونه

څرنګه چې هندوستانی شرا چو ونکی وهابیان په غرنیو سیمو کې میشته خلك چې مسلمانان دي ګمراه کوي نو ځکه دلته ددغې فرقې لنډ ذکر ته ضرورت احساسیږي او غواړم په لنډ ډول يې بيان وکړم .ددغې فرقې مشر او رامنځ ته کوونکی عبد الوهاب په الحوطه نومي ځای کې چې د عربستان دنجد په علاقه کې دی دسلو کالو نه لږ څه زياته موده کيږي چې پيدا شوی واو په اصل کې دتميم له قبيلې څخه و .

نو موړي په بصره ، بغداد او دمشق کې د علم زده کړه وکړه. او په پای کې بيرته نجد ته را ستون او په درعيه کې ميشته شو اودهغه ځای دمشر محمد ابن (سعود)سره يې دواده او خپلوی له لاری رابطه ټينګه او دهغه ځای دشاو خوا پر بدوي خلکو يې غلبه وکړه ،څو څرنګه چې دده زوی ړوند و نو په اخر کې دغه قدرت ددرعيه کورنۍ تر لاسه کړ .په دغه کورنۍ کې عبدالعزيز او دهغه زوی سعود ډير نوميالي خلك وو او دوی دواړو د نجدټوله سيمه ونيوه او کله چې دبغداد حکمران يو پوځ ددوی مقابلې ته را وليږه هغه ته يې دوه ځلې ماتې ور کړه او دبنی کلب او عتوبې قبيلو خلکو يې مذهب ومانه او دځانه سره يې ملګري کړل .په کربلای معلی کې چې هلته دسيد الشهداء حضرت امام حسين ابن حضرت علی کرم الله وجهه اود کربلا دنورو شهيدانو مزار ونه دی د دغې سختزړې ډلې له خوا لوټ کړای شو .

او دمکې شریف ته یې ماتې ور کړ او د مکې معظمې او مدینې منورې مقدس بناوونه او د حجاز علاقه یې تر لاسه کړه .

د جاسم قبیله چې وهابي شوي وه او په سمند رکې یې په غلا گانو او له تماري پیل کړي و، له دغه کبله په (۱۸۰۹) عیسوي کال کې دبمبئي سرکار د فارس خلیج ته پوځ واستاوه او دیوې سختې مقابلې وروسته یې د دعې قبیلې نه دشخاص تینگه کلا چې د کرمان شنگ ته پرته ده ونیوله . په پای کې داهل سنت او جماعت مسلما نانو هعوی ته سخت گوزارونه ورکړل . چې په (۱۵۱۷) عیسوي کال کې د عباسي کورنۍ وروستي خلیفه ووژل شو . نوموړي سلیم ته چې یو کوچنی تفسیر یې کښېنلي و د امام فقه خطاب ور کړل شو او له هغه وخت څخه وروسته ده د امیر المؤمنین لقب غوره کړ . د مکې شریف* د دغه نوي منصب د نیولو په وخت کې خپل زوی ته د کعبې کلي گاني دسپینو زرو په یوه غوري کې کیښودلې او د نذر له پاره یې ولېږه په دغه ډول د پخوانۍ عادت پر خلاف چې د حضرت خاتم الانبیأ له خوا ویل شوي وچې امام باید د قریش له نسله وي یو ترك امام شو . وهابیا نو په ښکاره ډول امام نه مانه . عبدالعزیز او سعود په دنیوي چارو او هم په دیني مسایلو کې وړاندي وو . او د دوی ادعا د روم د پاچا د ادعا سره تضاد درلود خو کله چې محمد علي هغه مریان چې واکمنۍ ته رسید لي وو تکول نوده ته د استانبول د دارالسلطنت له خوا امر وشو چې ملحد وهابیانو ته سزا ور کړي او مقدس او سپیڅلي بناوونه بیر ته د هغوی نه تر لاسه کړي .

دغه جگړې د (۱۸۱۱) عیسوي کال نه تر (۱۸۱۸) عیسوي کال پورې دوام درلود . او پخپله محمدعلي د دوو کالو په موده کې په دغه جنگونو کې بوخت واو په پای کې ابراهیم پاشا په دریه باندې قبضه وکړه او د سعود زوی عبد الله ونیو ، دهغه پلار په جنگ کولو کې داسې عادت درلود چې د هغه پوځ څخه چې نظامي روزنه یې لید لې وه یوازې په غرو نو کې کار اخیست . خو عبدالله دغه قاعده پر یښوده او کله چې ونیول شو نو استا نبول ته راستون شو او تر سختې شکنجې لاندې ونیول شو او په پای کې یې سرد تن څخه جلا شو . کله چې سید احمد دریه ته ولاړ ، د دریه د نیو لو نه دیر کلو نه نه وو تیر شوي او کله چې دی له هغه ځا یه څخه راغی په هندو ستان او پښه تیره بیا په بنگال کې دیو شمیر د زیلو خلکو په منځ کې یې د وهابي طریقې په خپرولو پیل وکړ او دده په ذریعه دغه ملك ته هم راغلل خود اهل سنت او جماعت دعا لما نو په پاملرنه

---

* د لته دمکې د شریف نه مقصد د مکې رئیس او مشر دی .
(ژباړونکی)

او کوښښ دغه ملک په خلکو کې په تیره بیا دیو سڼزیو په قبیله کي دوها بي مذهب اثار دير لږ ليدل کيږي ،خو سره له دي هم ځيني وها بیان دمهابڼ په غره ،بونیر او نوروځایو نو کي دخلکو عقیدو د خرابولو له پاره خواره شوي اوباید چي مسلمانان دهغوی له شره خوندي وسا تل شي .وهابي فرقه چي دبدي عقیدي‌خاوندان دي دهغوی دځو خرابو نظریو په باب چي اسلامي علما وو دهغوی د ابطال په باب فتوی ورکړی ده په دی ډول دی :

(۱) وها بیان وایی چي پیغمبری‌او رسالت په حضرت محمد ((ص) باندی نه ختمیږی .یا په بل عبارت‌حضرت محمد (ص) خاتم‌الانبیا نه دی. بلکي په هره زمانه کي به ضروري‌یو پیغمبر موجود وی . د * حضرت‌محمد (ص)په باب ددوی عقیده داسی‌ده چي دی هم دنورو انسانانو په شان یو فانی انسان و او تر رحلت وروسته هغه هم نیست شوی دی .

(۲) پیغمبری دزهد او تقوی په سبب ترلاسه کیدای شی . * *

(۳)داولیاوو کرامت تر مړینی‌وروسته مطلق نه پاتی کیږی اودوی داولیا و ودقبرونو احترام او درناوی ته په بده ستر که گوری .

(٤)مذهبو نه محدود او منحصر نه دی .

(٥)لمونځ دفا تحی (الحمد)پرته جایز نه دی .

که څه هم سړی د لمونځ داداکولو په حال کي مقتدی وی .

(٦)دقران مجید ځینی ایتونه شعر بولی !

(۷)لواطت دسزا وړنه بولی* بلکي هغه مباح گنی .

(۸)خدای (ج) ته په جسم اومکان قایل دی . * *

---

* له دی څخه ښکاري چي‌د لواطت له پاره دتر تنی (سزا) حد نه دی ټاکلی اوسزا یی دتعزیر په درجه کي راځی ، په هدایه کي‌راغلی دی : « ومن‌عمل‌عمل قوم لوط فلا حد علیه عندابی حنیفه و یعزر» «و کتاب الحدود ـ دالوطی الذی‌یو جب‌الحدود الذی لایوجبه بحث» (رشاد)

** داهغه تور دی چي په شیخ الاسلام ابن تیمیه (٦٦١ ـ ٧٢٨ هق) پوری تړل شوی دی. (رشاد)

په همدې ډول دنورو ډېرو اسلامي رښتينو مسأ يلو سره ،اختلاف لري
اووايي چې امام مهدي په نړۍ کې ژوندی دی خو خلك يې ليد لای نه شي،
دحکو متي چارو دانتظام په باب ددوی يوه ستره ونيمگړ تيا او غلطي داده چې
هغه خلك چې ددوی په نزد کافران دي دهغوی په مقابل کې جهاد لازم دی.
۱۸٦۳ عيسوی کال تر يرغل وروسته هغه وها بيان چې په مولوی عبدالله
باندې راټول شوی وو او په دغـــو شاوخوا ووکی يې ژوند کاوه هغــه
خواره واره اوتس نس شــول .

امید دی چې په راتلو نکی کـــې به مسلما نان دهغوی ديو ځای کيدو
اوقدرت ته درسيدو مخه ونيسي ،داځکه چې ددوی قوت اوقدرت دمسلما-
نانو دين دنيا ته زيان ونه رسوی .

د یوسفزیو د قبیلې شمیر او د دغې قبیلې د ښاخونو د استوګنې ځایونه

جوته ده چې د یوسفزو قبیله په لومړي سر کې په دوو برخو ویشل کیږي، لومړی مندړ او دویم یوسفزي. که څه هم د مندړ پلار عمر او یوسف دواړه سره ورونه وو. خو د مندړ ښاخ ته هم یوسفزي وايي، که څه هم په حقیقت کې یو بیل شاخ دی.

یوسفزي په سوات، بونیر، پنجکوړه او دیر کې استوګنه لري او د مندړو استوګنځي د کابل او سند رود ونو شمال خوا ته په اوارو میدانو کې چې سمه یا د یوسفزیو سیمه یې بولي اوسیږي.

ویل کیږي چې د جملې په وادي کې د ټولو یوسفزیو شمیر نهو لکو ته رسیږي، مګر دغه شمیر زیات معلومیږي او ښايي په دغو نهو لکو کې د حبشي قبیله هم شامله وي. د وروستیو څیړنو نه چې په ډیر غور او احتیاط سره راټول شوي دي، د دغې قبیلې اوسیدونکي په خپل ټاټوبي کې دوه لکه او څلر یښت زره شمیرل شوي دي چې د هغو د جملې نه یو لک او څلر یښت زره مندړ او یو لک او شپږ زره یوسفزي دي چې دوي ټول دري او یا زره دوه سوه تنه وسله وال ځوانان لري چې دیرش زره تنه یې مندړ او دري څلو یښت زره دوه سوه تنه یې یوسفزي دي.

مندړ اووه ټپي دي چې له ټولو نه یې عثمان زي او اتمانزي لوی ټپي دي. څرنګه چې د نسبت په شجره کې یې لیکل شوي دي عثمانزي په دوو لویو ښاخونو باندې ویشل کیږي او کمال زي چې دا هم په دوو څانګو ویشل کیږي د طور و اوسیدونکي مشران زي او د هوتي اوسیدونکي

کشرانزي دي چي ديوسفزيو په سرکاري سيمه کې اوسيږي. د پېم
لوی ښاخ امازي دي چي دوی څانګي لري د و لت زي او اسمعيل زی، لسه
دغو امازيونه يوه څانګه يی دمهابن په غرونو کې دچمله وادی په ختيځو
غاړو کی اوسيږي.
د وی د وه زره وسلــــه وال کسان لري. چارغولی یاچارګلالی
دامازیونوی کلی دی. ددولت ز یو څانګه اکثراً دیوسفزیو دعلا قــــی
دانګریزي سر کا ر په سيمو کــــی اوسیږي.
کپور ګهری ددوی لوی کلی دی.
دامان زي تپه په څلورو ښاخونو باندې ويشل کيږي، عليزي چــی
ددوی له نسل نه دطاهرخيلي څانګه په ګند ګهر کی استو ګنه لری کناری
اکازي، اوعلي‌زي دری واړه‌اتمان‌زي‌بلل کيږي.
او د وی د و لسو سر نــــه وسله وال کسان لری. څلورم دسدازی
ښاخ دی‌چی په پنځو څانګو باندې ويشل شوی‌دي‌چي‌ په دوی نه اباحيل
عمر خيل، مير احمد خيل لوبهـز ا دخيل په سر کار ي‌علاقه کی میشتــه
دی اوهند، صوابی، مر غوز اوګهـلابټ‌ددوی ستر کلی دی. پنځم‌خد و
خيل چی اکثراً دسر کاری علا قــی‌نه بهرد مهابن دغره په لو يد يـځ
اودهغه په شاو خوا کی استو ګنـه لری او یوشمیريی په سرکاری‌سیمه
باجه او بام‌خيلو کی او سيـږی ا و(۱۸۰۰) یا (۲۰۰۰) تنه وسلــه
کسان لری ددوی مشهور کلی چنګلي‌اوپنچتاردی.
ددوی مشهور سردار خان کجــو بوميږی چی‌دسوری‌شير شاه په وخت
کی یی‌ژوند کاوه او دبهزاد خيلـــوسدازيو له ښاخ څخه دی. پا تــی
پنځه نپی یی د رزيار خړپه نا مه یاديږی ،چی اکثراًپه سر کاری‌سيمو
کی اوسيږی اوددوی کلی سميلا يــااسمعيلاء يارحسين ،شوه،نو ی تلسی
ادينه، ډاګی، ترلاندی اودچمله پــه سيمه کی ګوګا ، انبيله او لعلودی.

دیوسف زیو ښا خونه :

دیو سفز يو دپنځو لو مړنيـــــو ښاخونو څخه د اوريا نسل بــا دی
خيل له مينځه تللی دی ،له پاتـــی‌څلورونه يی عيسی زی چی دری‌څانګی
يی يعنی حسن زی، مدر خيــــــل او اکازی مشهور دی،دا ټول دمهابن
غره په شما لی اوختيځو څنـــد ودهزاره ضلعی په اګر وراود سنـــد
د دواړ و غا ړ و پــه غر نيـــــو سيمو کی پراته دی . دسند رود په
لو يد يځ‌کی دوی (۱۰۰۰) يا(۱۲۰۰)تنه وسله وال کسان لری .د موسی
اولاده الياس زی دی چی شمير يــی(۱۱۰۰۰) ـــه او د و سله وال

کسا نو شمیر یې (۲۰۰۰) تنه دی .

الیاس زی په پنځو څانګو ویشل کیږی ، سالارزی، ګدای زی، پنج پا ی اواشیزی ، چې دغه څلور ښاخو نه په بونیر کې میشته او د پاشا په سیمه کې یې مشهور کلی جهور ، تورورسك او باګره دی . اشیز ی په اصل کې د ممی له نسل څخه دی ، دممی میرمن اشو نومیده او دمور د نوم له کبله دغه خلکو ته اشیزی ویل کیږی .

پنځم ښاخ مخوزی دی چې ددوسری په غره کې استو ګنه لری او لوی کلی یې شکولی نومیږی .

دملی زیو څلور لوی ښاخو نه چې له هغو نه دولت زی او چغر زی د ووتی له اولاد ی نه واباز ی اوعیسوړی دنوری له بطن څخه د نوری زی په نامه یادیږی . دملی زیو ټول شمیر (۱۶۰۰۰) کسا نو ته رسیږی چې له هغوی نه یې (۴۰۰۰) تنه وسله وال کسان دی ، خو ددیر دسیمی ملی زی چې د اکوزی او خواجو زی له ښاخو څخه دی داله هغوی څخه بیل دی.

د اکوز یو دقبیلې پاتی ټول ښاخونه له یوسفزیو نه زیات دی او ویل کیږی چې داکوزیو ټول شمیر (۹۶۰۰۰) تنو ته رسیږی .

دغه قبیله ددوو میندو اولاده ده چې یوه یې ګوهره نومیده اوڅلورزامن یې خواجوزی ، ابازی ، باز یدزی ، او شرکد څلورو ښاخونو نیکونه دی.

دویمه مور یې رانی نومیده چې له نسل نه یې رانی زی رامنځ ته شوی دی ، مګر دهغو دریو ښاخو دشمیر دکمښت په سبب اوس داکو- زیو قبیله په دوو لویو بر خو ویشل کیږی او په دوونومونو نومول شوی دی ، یویې خواجوزی او دویم یې بازیدزی چې پښتنانه یې پخپله ور ځنی محاوره کې د بایی زی په نامه یادوی او پاتی ښاخونه یې هم په دغو دوو پوری تړی . خواجوزی په پنځو ښاخونو ویشل شوی دی چې له هغو نه څلور ښاخو نه دسوات سیند په شمالی برخه اودیره جاتو کې چې په سوات پوری تړلی دی پراته دی . دهر یوه ښاخ دمشهور واو لویو کلیو تفصیل په دی ډول دی :

(پنځلس کلی ادین زی ، شپږ کلی شامو ن ز ی او نهه کلی بیك پی خیل ، خوعایشه زی اوشمی زی په علیحده ډ و ل یو - ولس کلی او سپوجونا (۱۷) کلی لری ، له دی نه پرته په دغو ځایونو کی واره کلی او باندی ډیری دی .

دملی‌زیو له پنځو ښاخونو نه د ی‌نوری څانګی راوتلی دی چی سلطان خیل یی دری زره پاینده خیل دری زره‌او نصر الدین خیل یی دوه زره وسله وال کسان لری .دملی زیو ښاخ ددیردپنجکوړی په علاقه کی اوسیږی .او اوس ددیر غزن خان ددوی مشر دی‌چی په خپل ښاخ کی ددیر واك‌ښښتن دی . دخوا جو ز یو ټو ل شمیر پنځه څلویښت زرو تنو ته‌رسیږی

چی د و لس ز ر ه و سله وا ل‌کسان لری . دویم د باز یدزی یا بای ز ی ښا خ شمیر اته دیرش زره تنه او د وسله والو کسانو شمیر یی (۶۰۰۰) تنو ته رسیږی . دغه ښاخ اووه څانګی لری چی تفصیل یی د نسب په شجره‌کی راغلی دی او له هغوی څخه بابوزی دبابی زیو سیمی د غره‌په لمنه کی او سیږی چی دیوسفزیو

دمیدان شمالی خواته موقعیت لری.له دی څخه پرته (۱۸) کلی یی په سوات کی‌درود سهیلی‌خوانه پرانه دی . دمتورازی ښاخ څلور کلی په سوات کی پراته دی. دابا خیلو(۹) کلی ، موسی خیلو ۶ کلی ،د عزیز خیلو چی په ورځنی محا وه‌کی‌ازی خیل بلل کیږی (۶) کلی په سوات کی موقعیت لری. سربیره پردی دلته ددوی واړه کلی او باندی هم شته .په سوات کی دزنګی خیلوهیڅ یوکلی نشته .ددوی ټول دایلم غره په سهیلی برخوکی پراته دی .رانی زی اکثراً دیو سفزیو په اوارو سیمو لی دانګریزی سرکارد مستعمراتو څخه دباندی په شما لی غرنیو سیمو او همدا راز دټوتی په غرونوکی استوګنه لری دهغوی پنځلس کلی په سوات کی هم شته خوالاوند ددی‌قبیلی یوه مشهوره سیمه ده چی

هلته درانی زیو خان اوسیږی .اوس په سوات کی‌صحبت خان چی یودیربا تدبیره سړی دی اوپه الاوند کی اوسیږی درانی زیو خان دی.

نوموړی په خپله سیمه کی ددیرواك او اختیار خاوند دی ،خودده سره شیردل خان مخالفت لری .چی نتیجه یی تر اوسه معلومه نه ده .ددغه

ښاخ شمیر دیارلس زرو تنو ته رسیږی. دوی دری زره ټوپك لری .

څرګنده ده چی دیوسفزیو دقبیلی اصلی تاتوبی همدادی چی تفصیل یی وړاندی راغلی خودغه قبیلی ځینی خلك هندو ستان ته تللی او هلته میشته شوی دی ،په تیره بیادمندړ وشاخ تر روهیلکند پوری اوت سیږی ،اوپه هندو ستا ن کی دوی‌ته روهیله وایی چی د تسمیی وجه یی په لوموړی برخه کی ذکر شوی ده .

نوری پښتنی قبیلی چی د یوسفز یوپه ملك کی اوسیږی:

دیو سفزیو په سیمه کی ختك ، محمد زی، اتمان خیلاو هم دتالاش

په وادۍ کې د بيلو بيلو ښاخو نو او څانګو خلک ميشته دي ، د ختکو
د بولاق ښاخ يو شمير د لنډي اوسند په غا ړه په قطبي اواره سيمه کې
لو يو شمير يې په لوند خوړ کــې اوسيږي .

تول ختک چې د يوسفزيو په سيمه کې اوسيږي د هغوی شمير د ډاکتر
بليود ليکنې په اسناد څوارلس زرو کسانو ته رسيږي او د توپکو شمير
يې درې زره ښودل شوی دی . په لوند خوړ کې د ختکو مشهور کلي
د باي زيو په سيمه کې په يوه جګ ځای کې موقعيت لري او دلتــه اکثرا
سودا ګران تګ راتګ کوي او هلته په زيات شمير د بولاق ښاخ د ميووزی
څانګې ختک اوسيږي چې په دوی کې د شابر خيلو کور نی د عزت او اعتبار
خاونده او خا نان دي . ملک صـدر خان او ملک غلام د دغه ځای مشهـور
سپين ږيري دي . د ترې له نسـل څخه مکوړی اوسيني هم دلته استو-
ګنه لري د دوی نه پرته د لو نـــد خوړ د کاټلګ او الوفاسمي په سيمو
کې هم ختک شته او تقر يبــاً د باي زيو په ټوله سيمه کې د ختکو شمير
زيات دی .

محمد زی يامن زی :

دزمند يا جمند د قبيلې ښــا خ محمد زی يامن زی چې د يوسفز يو
په سيمه کې اوسيږي د هغـــو ی شمير پنځه ويشت زره تنه او د تو
پکو شمير يې پنځـــه زره دی او د اشنغر په سيمه کې اوسيږ ی .

اتمان خيل :

د کر رانی د قبيلی ښاخ چـــــی ذکريې د دی بر خې په څلـــو رم
با ب کې راغلی د يوسفزيو سره په هره پيښــــه لی شريك دی. د سوات
ترفتحې وروسته يوسفز يو ، اتمان خيلو ته هغه غرکې سيمه ورکـــره
چې هلته اوس هغوی د سوات درود په غاړه له باجوړ څخه سهيل ختيځ خواته
ميشته دي د دوی شمير شلو زرو تنـــو ته او د تو پکو شمير يې پنځــــه
زروته رسيږي .

پر ته له دی د باي زيو د سيمـــــی په ختيځه او قطبي سيمه کې د دغــه
قبيلې درې لوی ښا خو نــــــه ، اسمعيل خيل، دعوت خيل او سه صد ه
په لاندې نيو کليو کې او سيــــــږی، د اسمعيل خيلو ښاخ په کوی او برمل
کې دعوت خيل په سنګا نو ميا خـــان او پيپل ا و ســـــه صـــد ه پــه
خسر خر کې اوسيږي چې د دوی پـــه بر خه کې به زيات تفصيــــــلا ت
وروسته راشي .

دتالاش وادي :

دغه سیمه دسوات تر فتحې ور وسته د یوسفزیو له خوا ولیـــول شوه ، اوس دتالاش په سیمه کـــې متفرقې او بیلې بیلـــــې قبیلې اوسیږي چې شمیر یې شپږزرونو ته رسیږي او ویل کیږي چې دوه زره نوبك سرې په دغه سیمه کې دوه خانان دي چې ددیر دخان نمزن خـان حکمراني مني .

متفرق خلك :

د افغانانو نه پرته دیوسفزیو او مندړ په سیمه کې بیل بیل خلـك په دې ډول میشته دي . لومړی مېران ،دویم سیدان ،دریم گوجـــر ، خلورم اوان ،پنځم گشمیري ،شپږم هندکې ،اووم قریش، اتم غلام، نهم هندوان چې ددغو ټولو قومونو اوخلکو بیان به په لنډډول وروسته راشي .

دفقیرانو فرقه :

د یوسفزیو او مندړ وپه سیمه کې همسایه یارعیت چې دافغانـــانو (پښتنو) له قوم څخه نه دي د فقیرانو په نامه یادیږي .
فقیران اکثره دهغو خلکو اولاده دې چې دسوات ترفتحې وروسته په دغه ملك کې دیوسفزیو درعیت په ډول پاتې شوي دي .
ځینې ډیکان اوهغه هند کې چې دپنجاب له سیمې څخه دکاختې لـــه کبله هلته راغلي دي په دغه ډلـــه کې راځي ،خو په عمومي ډول په دغه فرقه کې سواتي خلك ډیر دي .دفقیرانو فرقې شمیر که څه هم په پوره ډول څرګند نه دې خو دځینو شفاهي روایاتو له مخې داخبره باید تذکرشي چې ددغه فرقې شمیر له دریو لکـــو څخه زیات دی،فقیران دځمکو څښتنان نه دي بلکې دوی پخپله د مالکانـــو او بادارانو ملکیت گڼل کیږي . دوی دیوسفزیو سره برابر نه شمیـــرل کیږي اوپه جرگو کې هم دخپل مالـــك دحوښې نه پرته گډون نه شي کولای،او هر فقیر چې دهغه په ځمکه کـــې اوسیږي دمالك په اختیار کې دی اوخپل مالك ته محصول ورکوي اودلښکر کشې په وخت کې دخپل مالك په لښکرکې دسپاهي په ډول کار کوي او د مالك ځمکه هم کري .که څه دمالـــك اختیار په غرنیو سیمو کې تر هغــــه اندازې پورې دی چې که چیرې خپل فقیر ووژني ،نو عیب یې نه گڼـــــې خو اکثرا دمالکانو له خوا پر فقیرانو باندې ظلم او تیرې نه کیږي اوداهم مناسبه نه بولي چې کوم بل یوسفزی دې ددوی پر فقیرانو تیرې وکړ ی ، هر مالك دخپل فقیر تینګك مـــلا تړاو ننګه کوي هر فقیر چې وغواړي چې په نورو کسبو نو لاس پورې کړي نو هغه ته پوره واك او اختیار ور کول

کیږی او دخپلو گټو دتر لاسه کولولپاره دهر ډول مزدوری کولو اجازه ورنول کیږی همدا راز ذوی خمده هم په اجاره اخستلا ی شی آو ټولای شی دهر یوسفزی چی حوښه یی وی‌دهماغه ځمکه وکری .خاوند یا مالك د خپلو فقیرا نو نه د محصو ل‌څخه پرته دقتل اوجر مونو په بدل کی جرم اخلی چی اندازه یی‌دهغه ځای‌د مروجه دود او دستور په مو جب تا کل شوی ده او که چیری له تا کلی اندازی نه زیاتی واخستل شی نو دوی دغه کار ظلم گنی ،فقیران غریب‌حلك دی ،دوی جنگیالی نه دی که څه هم دوسلو له گرحولو څخه منع‌نه دی ،خو دوی عموما له ځانو سره وسلی نه کر ځوی. ددوی توروته حراب ،خوراك یی په زیاته اندازه جوار او پوښاك یی ډیر ساده دی دافغا نانو د ځمنو له کرلو څخه پرته دوی رنگریزی ،جولا توب ،تر کاڼی‌او پښی (اهنگری) هم کوی .

کوچر :

دوی په اصل کی جټان دی اوراجپو تان ددغه قبیلی یو ښاخ گڼل کیږی چی دافغا نانو ځوا دوی ته داباډی اجازه ور کړل شوی ده ددوی ټو ل شمیر پنځه اویا زرو تنو ته رسیږی چی ددی جملی نه دری زره اوان ،شپږ زره کشمیری ،او لس زره‌هند ی چی ټول نولس زره تنه کیږی په دوی نی دهر ډول کسب خاوندان‌شا مل دی او دوی ټول گاو ندی رعیت گڼل کیږی .اوان او هند کی‌دکاختی په کلو نو نی او کشمیری سوداگر ان دحرص په وجه په دغه‌سیمه کی میشته شوی دی ،دسیدا نو او ملایانو شمیر څلرو یشت زروتنو ته رسیږی ،چی په دوی کی دوی فرقی موجودی دی چی یوه‌یی ستا نه دار چی سید ،پیر او صاحب زاده په کی راځی چی دکوم پخوانی لوی‌ولی او بزرگ په وجه دوی ته ستا نه دار ویل کیږی اودوی نه شرانه‌او سیری ور کول کیږی اودیم اوتعو یدات هم کوی .دویم ملا یا اخوند ،دجومات امام ،شرعی عالمان اوطالبان په دغه فرقه کی شاملیږی او هیڅ‌یو کلی نشته چی دوی په کی نه وی * دساداتو څخه دپیر بابا یعنی سید علی ترمیزی اولاده ډیره ده .

هندوان :

ددوی شمیر دوه ویشت زرو تنوته رسیږی .داخلك دتجارت او سوداگری په منظور له پنجاب څخه دلته راغلی او اباد شوی دی چی په دوی کی یی ځینی شتمن هم دی .

---

* پیران ،صاحبزاده گان ،ملا یان‌او طالبان زیاتره پښتنا نه وی ،دوی له پښتنو ولی نه دی – مون یوهیږو چی د ځمکنو میاعمر تر کلانی، دسوات خنل میاگان ختك دی . مولف چی‌دعلم و عرفان خاوندان له پښتنو باسی‌اود فقیرانو ،گوجرو او هندوانو سره یی په یوه‌ردیف‌کی‌راوړی دتعجب‌خبره‌ده.

دیوسفزیو ځینې دودونه

او دستورونه

کسب:

یوسفزي عموماً دځمکو په کرلو بوخت دي. مخکې تر دې چې دوی په دغه ځای کې میشته شي په پوونده‌ول یې ژوند کاوه او هرې خوا ته خواره واره وه. مالداري یې کوله. له همدې کبله دوی ډیر ځله د شپو نو په خاطر دنورو خلکو سره جګړې کولې نو ځکه دوی له پخوا نه دجنګ او وسلې سره عادت وو. که څه هم په خپلو منځو کې بې اتفاقي او نفاق ددوی پخوانی دود و خو دبهرني غلیم دحملې په وخت کې به دخپلو سپین‌ږیرو په غوښتنه سره یوځای او متفق کیدل چې اوس هم ددغه اصل څخه پیروي کوي.

دملکیت ویش:

څنګه چې وړاندې ذکر شو، دغه ملک‌لومړنی ویش دیوسفزیو قبیلې او نورو ترمنځ شیخ‌ملي* عملي کړ. دغه ویش لومړی په قبیلو ورپسې

---

*شیخ ملي دمندړ و قبیلې داتمان زئ ښاخ اکازی و، چې څه اولاده یې تراوسه هم دمیني په سیمه کې اوسیږي.

په تپو بیا په دفترو ریسي‌په برخه او بیا په پټی عملي ښو ، دپټیو دښښتنان برخه خواره ده او شپږ، څلور یا هر څومره پټی یوه برخه کیږي او پټی په هره کور نی کسی‌دوګړو دشمیر دزیا توا لی اوکمښت له مخی ویشل کیږي .

په حقیقت‌کی‌د دفتر کلمه دحق‌معنی لری چی دغه حق د کور نی دغړیود شمیر له مخی کم اوزیاتیږي.

دیوسفز یواو مندړو په ملك کی‌چی په هره اندا زه پلرنی جا یداد موجوددی‌هغه د شیخ ملی دد فتر په نامه یادوی او پاتی‌یی څه چی‌اخستل شوی اونور ملکیت په توپیر سره‌هغه ته هم دفتر وایی او شیخ ملی دپلرنی جا یداد (د فتر) پیما نـه په هره قبیله او کلی کی‌په واضح دول منځ ته راوړه چی هیڅ وخت‌په غلطی نه راځی او دپلرنی ملکیت دبرخی له مخی دهره یـوه برخه وال ، حصه په هره ربونده کی برابره وی یعنی دځمکی اندازه‌دبرخوالو په شمیر پوری مربوطه ده ، دچا د اولاد شمیر چی زیات‌وی‌دهغه میراث په ډیرو وړو وړوبرخو ویشل کیږی‌او دچا چی د اولاد شمیرلږوی ، دهغه سره ځمکه زیا تـه وی. په هغه‌صور ت‌کی چی‌داولادونوشمیر زیات او ځمکه په وړو ټوټو وویشل شی دکوم یوه حصه دلږوالی‌اوزیات ویش له امله د ګو زا ری وړنه وی ،نو ځکه جرګه د کلیـودځړ ځای یوه برخه هغوی ته ورکوی اودهغه له مخی پلرنی ملکیت سره بیلوی .

دویش لاری چاری :

ویش دول داسي دی چی جر گه ،دکلي خان اونور مخور هغه ځای ته
ځی چی هلته ځمکه ویشل کیږی اودویش وړ ځمکه دپړی په واسطه چی
یو تاکلی اوږد والی نه لری اودپنځوسو اوسلو فوټو تر مینځ اوږدوالی
لری.دځمکی داندازی کولو له پاره‌استعما لوی .هغه ځمکه چی دویش
له پاره اندازه کیږی دونه په نا مه سره یادیږی .

لومړی دهغی ویش وړ ځمکی څلورکونجونه سره برابر وی او بیا یې
دپلرنی برخی سره په برابر دول ویشی .اوکله چی ټول پتی وویشل
شی په دغه وخت کی دکرنی وړ له هغی شریکی ځمکی‌څخه دسیری ځمکه
بیلوی اوورپسی برخه او پتی په وړو،وړو ټوټو ویشل کیږی کله چی په
دغه دول ځمکه په ټاکلی شمیر وویشل شی. نو بیا اکثرا پچه ور با-
ندی اچول کیږی اوبیا هریو برخه وال خپله برخه تر لاسه کوی .دپچی
اچولو دول یی څرگند دی اوولضح کولو ته یی ضرورت نه شته په
سر کاری سیمو کی عموماً او په غیرمقبوضه سیمو کی ټل هلته چی خلک
په خپلو انو ویشل شوی دی اوددوی دځمکو تر منځ توپیر موجودوی نو د
لسو یا دولسو یاد ټاکل شوی وخت تر تیریدو وروسته خپلو نه په خپلو
منځو کی ځمکی سره پدلوی اوبیا دغه بدله شوی ځمکه دبرخی په اساس
دپورتنی دود له مخی دکور نیو ترمنځ ویشل کیږی ،په دغه تبا دله
کی دکلي داوسید ونکو داوسید لوځمکی هم سره مبادله کیږی .ددغه
ویش ،پلویان په خپلو کلیوکی یوازی تش کورونه پریږدی او خپلو نویو
ویشل شویو ځمکو ته لیږدی که په غور سره ولیدل‌شی‌نودغه‌دود نیمگړی
او بی گټی دی ځکه چی ددغه ویش‌او تبادلی دانتظار په سبب هیڅ څوک
دزړه له کومی دخپلی ځمکی داباد ولواوښه کولو له پاره کار نه کوی نو
له همدی کبله ددوی عاید او گټی‌ته زیان رسیږی .

دانگریزی سر کار دیوسفز یو په سیمه کی اوس دقبیلوی ملکیت تبا-
دله هیڅ نه شته او څو کلن معیاری‌ویش هم دزدو بې دسیمی نه پر ته.

دسرکار تر لاس لاندې نورو سیمو کی لهٔ مینځه تللی دی. ټول خلک پښتیلو مقبوضه کلیو کی په خپلو پلرنیو برخو باندې ژوند کوی او په ټولو کلیو کی ملکیت دوول غیر قطعی ملکیت‌دی دزروبی سیمی مالکان چی باجوړی بلل کیږی په هغوی کی دملکیت دو یش یو عجیب دود موجود دی، په دی تر تیب چی هر لس کاله وروسته دکلی ټوله ځمکه مشتر که او ټول نارینه غړی یی چی بالغ او یا دبلوغ‌مرحلی ته نږدی وی دسړی په سر دیکړی په دوول هر یوه ته وندبیلیږی‌او هری ، برخی ته متهی وایی ،چیرته چی ځمکه دکوزاری له پاره کافی‌وی هلنه په څو ځایو نو کی هیڅ یو تن دټولو دخوښی نه پرته کښت اوکرنه نکوی او دهغه کسانو چی ځمکه یی بریه او دکوزاری له پاره کافی نه وی نوهغوی خپله برخه په اجاره یا ټیکه ورکوی اوپه خپله دنو کری‌له پاره بل ځای ته ځی .یا دهندوستا ن دلیدنی په شوق رو هیلکنداودهند نورو سیمو ته سفر کوی ،او کله چی دداسی بی وسه کسان ډیروی نو هغوی دټولو مالکانو دخوښی په اساس خرابه اوبنجر ځمکه کی ځانته باندې جوړوی او دکلی خان دهغو باندو ملك هم بدل کیږی، د باندو اوسید ونکی اکثره کوچر ،همسایه یارعیت وی اود پښتنو څخه ځمکه په اجاره ،برخی اویا نورو دولو نو په اساس دکرنی له پاره تر لاسه کوی ،ځینی داسی باندې هم شته چی هلته میا ،سید یابل کوم روحانی‌شخص موجودوی چی هغوی ته کلیوالو ځمکه وربښلی وی ،چی ددغو باندو حال دهغو باندو په نسبت چی وړاندی ذکر شوی ښه دی ،داځکه‌چی هغوی ته دمذهب داحترام په سبب څه تکلیف نه ورکوی ،دباندو دزیاتی‌ابادی په سبب ملك ډیره تر قی کوی لکه چی دسر دار د زیار اوهڅو په سبب دبا ندو د زیا توا لی له امله ډیری خرابی اوبنجر ځمکی‌په مزروعه او دکرنی وړ ځمکو باندې بدلی شوی دی .

داستو گنی دځایو نو ویش :

داوسید لو وړ ځمکی هم دنورو‌مور وثی ځمکو په شان ویشل کیږی او په دغه وخت کی دبرخی دکلمی‌په ځای دچم یاکندی کلمی دیوی خاصی ځمکی داوسیدو نکو له پاره‌استعما لیږی چی دمحلی معنی لری او یوه کور ته کنډر وایی چی په هغه کی کوڅه او غولی دواړه شامل دی .

هر یو کندی له ځان نه بیل ملک لری‌او ملك دقبیلی دخان تر لاس لاندی وی ،هر کندی ځان ته بیل جو مات اوبیله حجره لری اوپه غرقبو ضه سیمو کی برج هم لری .

داوسيدلو ځای ويش هم دشيخ ملي ددفتر يعنې دپلرنی ملکيت په
اساس تر سره کيږي . په هر اندازه چې يو برخه وال دمزروعی او دکرنی
ور ځمکه لري په هماغه تناسب داوسيدلو ځمکه هم ورکول کيږي او کله
چې ديوه برخه وال ملکيت دبيعی اونورو عواملو په سبب له ده نه بل
چاته انتقال وکړي . نومزروعی او داوسيدلو ور ځمکه دواړه ورته انتقا-
لوي. دهر ښاخ داوسيدلو دبرخي دفترهم بيل بيل ويشل شوی دی .

جومات :

دجومات اختيار اوواك دامام په لاس کی دی او تر تنه ملايان او طا-
لب العلمان هم دلته موجود وي ،هغوی په وظيفه خوری اود ځمکی په سيری
خپله گوزاره کوی. د ننډی او سيدونکی هم دخيرات په ډول هغوی تـه
يو څه ورکوی .طالبان دمساپرانو له پاره دکند يو نه د وظيفې (يعنی د
دوډی غوښتنه کوی ،دجو ما ت مـلاخلکو ته په جما عت لمونځ ادا کوی
نکاح تړی ،او خلکو ته قران مجيـدور زده کوی ،همدا راز کوم نوی ما-
شوم چې دنيا ته راشی دهغه په غوږ کی اذان کوی او هلکا نو تـه لمونـځ
ور زده کوی او دټولو فرايضو نـه يې خبروی دجنازی لمونځ هم دملا
امام له خوا سر ته رسيږي چـی په داسی وختونو کی خلك هغه تـه
خيرات هم ور کوی ،خو له بده مرغه دځينو ملايانو او طالبانو سلوك داسی
ناوړه دی چې په بچه بازئ اودهلکانوسره په مينی لاس پوری کوئ * .
دغه هم په ښکاره د و ل خلکـو ته ځانو نه پاك او پرهيز گاره ښيی
او د ظاهر فريبی له پاره دحجرو اوعاموخلکوله کښيناستو څخه کر که
کوی ،ښايی دهغوی نه به دا خبـره هيره شوی وی چې خدای (ج) د زړو
نو مالك دی او زياتره مشهورو فا سقانو ته چو تيا خيل وايی .

حجـــره :

حجره دکښينا ستلو يو عام ځـای دی .د حجری کوته لوی،انګړ اوطو-
يله لري چې اکثراً د کلی د ملـــك ملکيت اويا د کند ی د خلکو وی . د
حجری پرخاوند باندی لازمه ده چـی ميلمنو او مساپرا نو تـه دوډ ی او
هوسا ځای ورکړ ی . دکلی اوسيـدونکی او رعيت په خپل وار سره ميلمنو
ته کټ ،برستن اودډوی حيوا نا توته واښه ورکوی . دکندی نارينـه
په حجره کی سره راټو ليږی اوهلته شيبه په شيبه چلم څکوی او دکرنی،
مالداری او نورو چارو په باب سره خبری اتری کوئ . د کندی هغـه

---

*د مولف دا تور که رښتيـــا کيږئ نو په خورا ډيرندرت سره به
وی .

ځوانان چې مجرد وي هغه تل په حجره کې ویده کیږي ، ځکه چې د سیمې درواج له مخې هیڅ حیلوان یا میلمه په کور کې استراحت نه کوي ، سره دې کبله چې په کورنوکې بیل بیل اوګوښه ځایونه نه وي او درواج له مخې هم په کورکې دحجرې دسرې ملاسته او ویده کیدل عیب او شرم ګڼل کیږي . په حجرو کې کله کله چاربیتي او لنډي هم ویلي کیږي .

برج :

برج دملك دکور دحفاظت اوساتنې په غرض جوړ شوي وي او په هغو کلیو کې چې خان اوسیږي هلته دګنډې دبرج نه پرته دخان د ګنډ ې نه ګرد چاپیره دکلا په ډول چاردیوالي جوړه شوي وي چې دکرې په نامه بلل کیږي .

دخان او ملك عهده عموماً میراثي شکل لري او په یوه کورني پورې مربوطه وي، خو کله کله خاني دخان دکورنې د غړو دکم عقلې اویا کمزورتیا په وجه بل چا اویا بلې کورنۍ ته هم ورسیږي او داسې کوم خنډ شته چې هو ښیار او پوه سړی دې دخپل محنت او ګوښښ په سبب ملك نه شي .دخان اوملك اختیار محدود وي او دعوا مو دارادې اوغو ښتنې په خلاف هیڅ نشي کولای .

جرګه :

جرګه دعوامو دارادې او غوښتنې مظهر دی. جرګه دقبیلې دسپین ږیرو اوملکانو یوه مجموعه ده .د جرګه والو شمیر محدود ندی او له ځلورو لږنونه نیولی تر زیات شمیر کسانو پورې پکې ګډون کولای شي .که څه هم جرګه له پخوا او لرغو نو زمانو څخه رواج لري .خو په اصل کې په زور پورې تړلې ده او هره خو اچې زور وره وي نوجرګې ته ځاره نه ږدي اودخپل قدرت په اندازه پخپله خوښه او غوښتنه کار کوي .که د کومې قبیلې ددووتنو تر منځ کومه شخړه ،را پیداشي ،نو ځینې وخت ددوارو ډلو ددوستانو لخوا ددوی ترمینځ سوله کیږي او دواړه خوا وې راضي کوي ،خودغه شخړې اکثر آدملکانو او سپین ږیرو لخوا دپښتو- نولې درواج مطابق فیصله کیږي .دمثال په ډول :

که زید دعمرو غوایي ووژني نو جرګه داسې فیصله کوي چې
عمرو دې هم دخپل غوایي په بدل کې د زید یو غوایي ووژني او هغه یې
هم ووژني او دغې فیصلې ته ټول خلک راضي دي یا که چیرې
زید دعمرو چریکار * ووژني نو زید باید عمرو ته یو چیریکار ورکړي
که چیرې زید عمرو ووژني او جرګه زید دعمرو وارثانو ته په لاس ورکړي
نو اکثراً ددوی ترمنځ سوله کیږي او که ونه سپارل شي ترهغې چې دعمرو
وارثین بدل وانخلي نو ددوی ترمینځ دښمني جاري وي. کله چې په
دوو قبیلو کې په همدې ډول دښمني پیښه شي نو دهغې رفع کول
او ددوی ترمینځ فیصله ډیر ګران کار دی او تر څو پښته ددوی تر
مینځ دښمني روانې وي او دا ډول دښمنۍ ډیرې لږ فیصله کیږي. له
همدې کبله ده چې دیو سفزیو په قبیله کې کورنۍ دښمني له پخوانیو
زمانو څخه راپاتې دي، دهر کلي او قبیلو ترمینځ دښمني موجود دي
وی او دوی دخپلو شیرو دبدلولو نه پرته بهر نشول تللای.

وړاندې تر دې چې انګریزي سرکار په فعالیت پیل وکړ دیو سفزیو په
سیمه کې چا بې له وسلې نه حتی د کورني چارې هم نشوای تر سره
کولای او دفصل ساتنه هم پرته دلې وسلې والو کسانو ته
ور په غاړه وه.

همدا رنګه حیوانات هم په څرځایونو کې دمحافظانو په ذریعه
پیول کیدل. اوس په سرکاري سیمو کې دغو احتیاطونو ته هیڅ
ضرورت نه لیدل کیږي. دانګریز یز سرکار ښه انتظام دخلکو دساتنې
او امن له پاره ډیره پولا دي سپر حیثیت لري او ددغه سپر ترڅاپت
لاندې چیرته چې خلک وغواړي هلته ژوند کولای شي او حتی ماشومان
هم حیوانات څرولای شي. هلته چې به وړاندې بدرګې او پهرې د
حفاظت لپاره ټاکل کیدلې او د پخوانیو محافظو دلود تورو او ټوپکو
په ځای اوس هلکانو دمالونو د څرولو لپاره له ځان سره واړه واړه
لرګي ساتي او هر سړي د خپل کور فاعل مختار دی.

---

* چریکار هغه بزګر ته ویل کیږي چې قلبه، تخم او سره دځمکې
دخاوند په غاړه وي او چریکار ته دځمکې دحاصلو څلورمه یا پنځمه
برخه ورکوي. (ژباړونکی)

پر رعیت باندی دمالکانو حق:

همسا یکان دپیدا وار و ددریمی او څلورمی برخی نه پر ته مالکانو ته نور محصولات هم ور کوی. خان دلوټ اوتالان له مال څخه څلورمه برخه اخلی. دافغا نانو (پښتنو) سیدانو او ملا یانو نه پرته خا ن دنورو همسا یه وو څخه دواړه، او دلوګی په نامه یوه اندازه محصولات اخلی. چی مقصد یی دهریوه کور څخه دکور شمیر نی په نا مه یو ډول کلنی محصول دی. همدا راز نا غه هم له مجرم همسا یه نه ترلا سه کوی. په هند وانو باندی چی کوم محصول تاکل شویدی هغه ته جزیه ویل کیږی که څه هم دمحصول اندازه تاکل شوی ده، خو په حقیقت کی داخیستونکی دزوراو دورکوونکی په وسی پوری اړه لری او بله کو مه منصفا نه لاره نشته. په سر کاری سیمه کی میجر لمسدن هر ډول محصول بند کړ، خو یوازی هغه یی پریښو د چی ډیر ضرور و او دهغه دبند یدو په سبب دمالکانو حق تلفید ه، اکثرآ رعیت مالکانو ته تر او سه هم تا کلی محصول ورکوی.

دبابی زیو په تپه کی د کورونو شمیر لو او دځمکی دمحصول سره یو ځای کول سم عمل نه ګڼل کیږی دا ځکه چی دکورو دشمیر لو محصول د ما لکا نو حق دی او سر کاریوازی دزراعتی ځمکو محصول راټو لوی.

خویو نه، عادتونه اود ژوندځر نګوالی:

یوسفزی اکثرآ متوسط اندا مونه، غنم رنګه، دلوړو ونو ښښتنا ن او زړور دی. دوی عمو ما دکر نی په چارو او یا په ما لداری بو خت دی، له همدی کبله دوی بی سواده دی. دمعتبرو کورنیو غړی هم دعلم اوپوهی سره مینه نلری. که څه هم ملایان دنورو خلکو په نسبت باسواده او هم په هرلوی کلی کی پودعالما ن شته، خو په عمومی ډول دلو یو عالما نو شمیر لږ دی.

یوسفزی خپل قوم پر نوروتولو قومونو ډیر لوړ ګنی او دځا ن ستاینه عیب نه بولی. دوی مغرور، تمه ناك حریص او کینه کښ خلك دی او خپل پور وړی * نه ښښی او تر هغه یی چی لاس رسیږی دبدل اوغچ اخیستلو اراده په زړه کی ساتی. له بله پلوه دوی ددا سی پاکو زړو نوخاو ندان دی چی حتی بیهوده خبری او واهیات هم

---

* دلته دپوروړی نه مقصد یوازی مادی پور نه دی بلکی مقصد یی مادی او معنوی دواړه پورو دی. (ژباړونکی).

منې. دوی په فال لیدلو او پسته ستوری وباندې د بخت او طالـــع معلومولو عقیده لــــري. هغوی د ملایانو او بزرګانو ډیر درناوی کوي او څه چې ووایي دوی منې. دوی په زیارتونو او خانقاوو باندې تینګه عقیده لري. ښځې او نارینــــه هلته ځي، شکرانې ورکوي او د عامـ ګانې کوي او د دوی دغه عقیده د زړه له کومې عقیده ده نه په ظاهري ډول، همداوجه ده چې دوی علماوو او خانقـــاوته ډیر خیرات نه ورکوي. د دوی د دومره آزادۍ طبعي خاوندان ندي که هغوی ورته د داسې امر هــم وکړي چې د مذهبي احکامو ســـره مغایرت ولري نو هغوي یـــې سمدلاسه سرته رسوي. په دوی نی د نفس. پیروان هم ډیر دي.

مذهب

په اصل کی دوی ټول سنی مسلمانان دی او ځانته چار یاری* وایی . دوی په شرعی فرایضو بنه پوهیږی . لمونځ ، روژه، حج او ذکات فرض گنی .په دوی کی دهغو کسانو شمیر چی لمونځ په کوی لږ دی . په همدی دول دهغو کسانو شمیر هم ډیر نه دی چی پنځه وخته لمونځ اداء او دکوم وخت لمونځ قضاء نکړی .
دوی هغو کسانو ته چی لمونځ نه کوی په بده ستر گه گوری.
دوی ډیر خیراتونه ورکوی اودخپلی وس په اندازه دجومات ملا نو،رو ملا یانو ، کوندو، یتیمانو، ړندو ،شل اوشوتو ضعیفو او مفلسانو ته په دوه ډوله خیرات ورکوی ، لومړی د ذکات په ډول چی په دوی باندی فرض دی. دویم خیرات چی یو اختیاری کار دی.دوی کله کله په خیرات کی نو موړو خلکو ته نغدی روپی

* اوس دکوتهه داوسیدو نکی ملاسید میر پیروا نوته نو ر خلک وها بیانوا یی او دسوات صاحب پیروان چی اهل سنت او جماعت دی دهغوی سره سخته دښمنی لری . دملا سید میر پیروان اکثرآ داتمانزی قبیلی او دنصر الله خان گهری د اسمعیل زی کورنی ده ، پاتی نور ټول خلک د سوات صاحب پیروان دی . (مؤلف)

هم ورکوي، خو اکثرا غله وړ کول کيږي ،په يوسفزيو کي خوك دپيدا ه
وارو عشر (نسمه برخه) نه ورکوي ٭
دوی دروژي په مبارکــــه مياشت کي په بنه دول ســـره
روژه نيسي په دوی کي روژه خوا ره لږ دی ،خو مسا پرانو او هغو نسا نو
ته چي بالغ نه وي دروژي خوړ لـو اجازه شته .دحج مبادله په دوی کي
زياتره په دی دول تر سره کيږي.که څوك پخپله حج دادا کو لو تپاره

مکې معظمې ته لاړ نه شي نو دځا ن لخوا استازی هلته لیږي او کـــــه
داسي ونه شول نو شاو خوا خا نقاءوو ته ځي ،په تيره بيا دجمعي پـــه
ورځ اکثرا زيا رتو نو ته ځي .دپير با با خا نقا په بو نير کي ده اودو ی
دختکو کا کا صاحب ته هـــــم دير اعتقاد لري.

دځان ستاينه :

په يوسفزيو کي دځان ستا ينـه او غرور زښت دير دی.دوی تـــل
دخپلو لو يا نواودخپلي ځوا نمردی ستا ينه کوي او بيا تر نو ســـو
وروسته وايي چي ولی زه پښتـــو نه يم؟ له دی کبله چي دغه قبيلــه

په هغه ملك اودهغو خلکو په مينځ کي استوګنه لري چي دهغو ی دپلرو نو
له خواپه تيرووختو نو لی فتحـــه شوی ده، نو ځکه دوی نورو ته پـــه

تيټه او خواره ستر ګه ګـــوري او دتکبر او غرور له مخی په خپله قبيله
کی هم بل څوك له ځا نه سره سيـا ل اوبرابر نه بولی او هر يو خپـــل

ځان له نورونه غوره ګڼي.پــــه دوی کی کينه هم ډيره ده او ډيره ګټــه
دبل دستر ګو اغزی وی. که څــــه هم دقبيلو دمعتبرو خلکو ســـره

ديره ښه ګوزاره کوی ،خو تــــر لاس لاندی غريبو خلکو پا ندی تر شو چي
يي وسه رسيږي ظلم او تيـــــری کوی .کله چي ابدالي احمد شـــا ه
پيښبو رته راغی نو هغه دملك دانتظام او دخلکو دخو شحا لولو له پـا ره

يوسف زيو ،خليلو ،مو مندو ، ختکواو نورو قبيلو ته دپرو درانيو خطاب
وکړ، دوی په دغه خطاب او لقب باندی فخر کوی. ديو سفز يـــو
دګاونډ يو سيمو خلك وايـــــي چي يوسفز ی بی رحمه اوبی مرو تـه
دی که ځو ك له دوی سره نيکی و ړی نو ددغی ښيګڼی بدل ضرور اولاز مـي
نه ګڼي.

ميلمستيا :

په دو ی کی ميلمستيا چـــــــي دوی پخپله ژبه کي ورته ميلمستيا

وایی ډیر رواج لري .میلمستونه په حجره کی دوډیاو کټو نه ورکول کیږی یو محل پخپله مؤلف دیوسفزیو دمرغوز په سیمه کی میلمه شوی دقدر ور میلمه ته د چرګ ښوروا، حلوااوغلمینه دوډیورکوی، دوی دمیلمه ډیرعزت او درناوی کوی .دکور خاوند اکثره پخپله یادهغه زوی یا ورور میلمه ته دعزت لپاره دوډی راوړی اولاسونه یی پریمینځی .دوډی تل دکوردښځو تر نظر لاندی پخیږی .هغه، مساپر چی مفلس وی هغه جومات ته ځی اودهر کور نه غو ښتل شوی دوډی (وظیفه) خوری که څه هم دوی میلمه پال خلك دی خو که په دی پوه شی چی دکوم میلمه په لو تو لو کی ددوی کټه ده او په وا تلو نکی کی ده سره ددو ستی او اړیکو کوم امید نشته ،نو کله چی میلمه رخصت او ددوی له سیمی نه بهر شی نو هغه لوټوی ، په تیره بیا امازی، له همدی کبله که دکوم مساپر سره څه وی نو دهغه سره بدرګه ضروری ده. بدرګه دپیسواو اجوری په مقابل کی سر ته رسیږی.

دغه بدرګه دهغی سیمی دخان یا سردار نه غوښتله کیږی. هر خان دخپلی قبیلی تر حدود و پوری واك او اختیار لری او تر هغی وروسته له دویم خان څخه بدرګه غو ښتله کیږی خو په اوسنی وخت کی په دوی کی د بدرګی رواج نشته .

دغلا مبادله:

که دیو ښاخ یا قبیلی کوم یو تن د بلی قبیلی کوم څاروی اویابل څه غلا کړی نو دمال خاوندان اختیار لری چی د هغی قبیلی نه چی غلا یی کړی ده مال او نور شیان دخپلی غلا شوی مال په بدل کی واخلی او هغه څه چی لومړی غلاشوی دی هغه ته داړه یادوپه ویله کیږی او کله چی دویمه قبیله هغلا شوی مال په بدل کی مال یانور شیان تر لاسه کړی هغه ته بوته یا برمته وایی .که دیو ی قبیلی کوم سړی دبلی قبیلی کوم سړی ته پور ورکړی او لومړی سړی پور ادا نکړی نو پورور کوونکی دداسی دول برمتی حق لری .

پښتني ننګ (غيرت):

په دوی کي پښتني يا افغا نـــی ننګ ډير دی. اوداېو عجيب روا ج او دود دی . پښتني ننګ له ننواتی ،بدل او ميلمستيا څخه عبار ت دی. ننواتي هغه دود ته وائي چي کـــه کوم سړی دچا کورته پناه ورووړی‌نو دکور خاوند بايد هغه ته پناه‌ورکړی، که څه هم دهغه دښمن وی . دغـه پناه ورکول يوازی دکور ترحدود و پوری وی. که له دغه څخه بهر او يادکور نه ووزی نوبيا دکور پـــه خاوند باندی دپښتني ننګ څه ذمه واری نشته اوبيا دپناه ورکوو نکی‌او نورو اختيار دی چي په هر ډول يی زړه غواړی هماغسی چلند وکړی .دغه کورته دننو تلو ننګ (ننواتي) په دوی کي تر دی حده مراعا ت‌کيږی‌چي په دغه باب داسي ويل کيږ ی‌چي که چيرته خوګ چي‌تر‌بل هرشــــی‌پليد او مردار دی ددوی کورته پناه يوسي نو هغه ته هم پناه ورکو ل ضرور دی .

دبد ل‌نه مقصد معاوضه ده يعني‌دهر يوه زيان بدل دزيان رسوونکی نـــه اخلـــــــی . د و ی د ا ډول بـــد ل ا خيستل ضر و ر ګڼـــی کله‌چي يوا نسان ووژل شی نود هغه په بدل‌کی‌بايد هغه بل سړی‌ووژل شي. چي دغه عمل دقصاص په نامه يادېږی .

ملمستيا په‌دی ډول ده‌چي ميلمنو اومسافرانو ته‌ډوډی ورکول کيـږی ، که‌کوم پښتون په پښتني ننګ باندی‌عمل‌ونکړی‌نو‌هغه نالايق‌شميرل‌کيږی، په تيره‌بيا دبدل اخيستلو دود په‌دوی‌کی‌ترد ی اندازی چي‌تر ډيرونسلو نو پوری يی‌سلسله جاری وی‌اوکه‌چيری‌بدلوانه، خيستل‌شی‌نو خپلی اولادی ته‌وايی چي هغه دی هرومرو بايد‌بدل واخلی .

دليدنو،کتنودود :

کله چي دوی په خپل منځ کـــی‌سره وکوری ،نولکه‌څرنګه چي‌دټولو مسلما نا نو دستور دی دوی هـــم وايی السلام عليکم او ددی ځوا ب دادی چي وعليکم السلام .که‌دسلام‌ځواب ور نکړل شی پرته له دی‌چي

شرعي حکم يې ترك کړي دي خلك هم ورته په بد، ستر گه گوري.

که کوم دوست یا ملگری تر ډیر ی مودې وروسته یو بل وگوري نو اکثرا یو بل ته غاړه ورزي او حپل سرونه د یو بل په اوږو ږدي چې دا عمل دري ځله تکراریږي ،دوی په دغه وخت کې یو بل ته وايي چې جوړ يې ،بنه جوړ يې، تکړه يې، خوشحال يې، تازه يې،بنه تکړه يې،روغ يې که څه دبلې خوا دځواب انتظار نکوي خودويم تن هم همدارنگه الفاظ اداکوي . تر دې وروسته په کټ با ندې کښيني او د يو بل سره دکور ونو اوډ و ستاود حال او احوال په باب پوښتنې کوي او چلم غواړي. کله چې پر لاره با ندې څوك تيريږي او ياكوم تن په یوې کوڅه او یا بل کوم کار با ندې بوخت ووینې نو هغه ته وايي چې ستړي مه شي او یا وا يي چې (په بنه چار) اوهغه ځواب ورکوي چې لوی شي یا مه خواریږي . که څوك د دوی کلیو ته لاړ شي نو هغوی ورته وا يي هر كله راشي نو هغه په ځواب کې ورته وا يي نیکی درشه یاهر کله اوسې او یاداچې خدای دي وبخښه ، خدای دي لوی که یا خدای دي وسا ته. کله چې څوك رخصتیږي او يا چير ته ځي نو هغه ته وايي چې خدای په امان او د هغه ځواب دي چې خدای دي در سره نیکی وکا او دا ټول دعائیه الفاظ دي.

دښځو ننګ :

په دوی کې دښځو ننګ ډیر اوډ پرده داري دود او رواج هم په دوی کې عام دی . هغه ښځې چې په لو یو کورنیو پورې اړه لري د پردې نه پرته بهر نه وځي اودعا موخلکو ښځې که څه هم داو بو د راوړلو او نورو ضروري کارو نو نه کبله بهر ته ځي خود پردیو خلکو نه خپل مخونه پټوي .دوی اکثرا او به ما ښام اویادسهار په تیاره کې راوړي. دوی په خپلو ښځو باندې ډیره پا ملرنه کوي که ددوی ښځې دکوم پردي سړي سره وغږیږي نو هغه وهي اوډبد کاري په سبب يې وژ نی.

دوی دښځې ،مو راو خور له ښکنځلو څخه ډیره بده مني او هغه څوك چې داسې ښکنځل وکړي هغه ته دمرګ سزاور کوي.

خو په دوی کې احمقي او متیېز ی ښځې هم شته او په پرده کې د سړي سره آشنا يي او مینه کوي .

داستو ګنی دځايونو ځر نګو الی :

ددی قبيلی اکثره خلك په خاور ينو او غريبا نه کورونو کی ژوندکوی دمغو داو سيدلو خونی وړی او دحيوانا تو دکثافت په سبب بوينی دی ، په هر کورکی له يو شخه زياتـه کوټه نه وی ځينی هغه خلك چی دغرونو په باندو کی او سيږی هغه په شپړو کی خپله ګوزاره کوی.

خواړه:

ددوی خواړه کوم دا سی ښه شی نه وی ،په دغه برخه کی دخپلو ځمکواو حيوا نا تو دحاصلا تو څخه ګټه اخلی، دسوات خلك جوار او وريجی ډيری خوري .ديوسفز يو په علاقه کی دغنمو ، اوربشو ودو ی او باجره ډيره خوړل کيږی ، بوره، کوړه، شات اوزيړغوړی هم ډير استعما ليږی .

يو سفزی ډير تمباکو مصر فوی او ددو ی د اکثره خلکو نيلی رنګه دستما لونه دتمبا کو نه خا لـی نه وی ،اوزياتره دغه ماده په چلم او نصوارو کی استعما ليږی، په لـږ اندازه اپين هم په دوی کی خوړ ل کيږی خو بنګ او چرس دځينو بـدګارو او بد عمله خلکو له خوا څکول کيږی، نوی ټوړنی دميلمستيا پـه وخت کی دښی دودی دپخولو کوښښ کوی.

پوښاك:

دوی اکثره سپينی پګړی په ګرددول سره تړی ، اوږده او پـراخ کميسونه اغوندی چی پنډ يوتــه يی رسيږی اوهمدا راز لوی پرتوګونه اغو ندی دا ددوی تول کا لـی د ی،دو ی يو نيلی رنګه لو نګی او تـور دستمال په خپلواوږو ا چـوی ،دغه تول شيان دوطنی ډبلو تو کرا نـو څخه جوړوی ، خو د خيرودنه ښکاريد و له کبله دغه تو کر ته تور يـا نيلی رنګ ور کوی ، ملکان اوخانا ن هم همدا دول جامی اغو ندی، خـو دمغوی جامی د ښوتوکرانو څخــه جوړی شوی وی ، دوی دلته (سان) توکر هم استعمالوی ،ښځــی اکثرا چار خانه تکری په سروی چی عموماً د يــــــــو تکـــــــر او يوه جنس څخـــــه وی دوی او ږ ده کميسونه چی پراخ لستو نی اوتور نګ لری اغوندی پرتګوته يی چيـن داره او د يوه دول نيلی رنګه ډبـل څخه جوړ شوی وی .

دا خلك دبدن پا کوا لی ته زياته پا ملر نه نه کوی اودلاس وينځلو ، اودس او نورو مذهبی احکا مو پر تـه چی وا جب دی نور خپل ځانو نه کم وينځی، نارينه خپل سرو نه خر يـی اونوی ځوانان تر يوی مودی پـو ری خپلی ږيری خريی دښځو وينبتــه اوږده او دواړه زلفی چو تی کـو ی لوپوړنی او کينه خوا يی په سينــه با ندی راځوړ ندوی.

شوق او طبیعی عادتونه :

د دغه قبیلی شتمن خلك باز ، اوعوام خلك یی دښکاری سپی او تو پك لـه ښکار سره ډیره مینه لری. دوی لار وهنی او دحیوانا تو غلاوی هم کوی اولمبو رونه هم وهی او ځینی یی په دغی حرام خوری با ندی خپله گوزاره نوی دو ی دبی پیرو هلکا نو سره مینه او دهغوی سره دوستی اویارانه کوی تر دی چی ددوی دغه خصلت تر بچه بازی پوری رسیږی، هغوی دښاسیت سره ډیره مینه لری. اوځینی خلك دسر دار ی کارونوسره هم مینه لری، دانگریزی سر کار په پلی پوځ نی دیو سفزیو زیـا تشمیر خلك لیدل کیږی اوځینی یی دیر ښه سپا هیان دی ، دوی پـه مطلق ډول لاسی کارونه نه کوی، که څه هم تجارت ته په بده ستر گه نه گوری خو اکثرا دوی په تجار تـی مسا یلو نه پو هیږی.

یوسفزی له خوبنی او ساعت تیری سره مینه لری، ساز ، سـرود ، شعر او غزلی خو ښوی .

ددوی ساز غږوونکـی یو ډو ل مخصوص خلك دی چی د نا یانو یا ډمانو په نامه یادیږی اوهغوی باجه ،نغاره، سورنی، ډول، سارنـک او ربا بونه وهی، خو پښتانه په خپلـه هم رباب غږولی شی اودهغه سره یو ځای غزلي هم وا یی ،پښتا نـه درباب وهل شرم نه گنی ،یوسفزی دیوی نو لو په حال او همدارازپـه حجرو او دسفر په حال کی هم غز لی اولندی وایی چی دالندی اوغز لـی په پښتو ژبه دسوزنه په ډك او نور اوازویل کیږی ، ډمان یا مطر بـا ن کیسی او نکلونه هم کوی او په خپله هم سندری جوړوی، دهغوی په سندرواکثر آدبهادر انو او نامتو کسـا نو اوهم دجنگونو ذکراوصفتونه را غلی وی، مگر په دوی کی عاشقا نه سندری اوهغه چار بیتی چی د تو کو اوساعت تیری له پاره ویل شوی دی هم ډیر ی دی. ددوی پرځینو سندرو کی دشرم او بی حیا یی کلمات هم شته دی .

دښځو عادتونه :

ښځی په نڅا او سندرو ویلو کی دنارینه وونه بیلی وی، اوڅانتـه جلا مجلسو نه جوړوی ،خود غـه مجلسو نه داختر ونو په ورځو او په ودونو نی وی، له دی نه پر ته دوی عموماً دکور په معمو لی چارو بوختی

وی اوله یوه کورنه بل کور ته ځی‌او خبری کوی،همدا راز دوی په خپلو منځو کی جنګونه هم کوی‌او تقریباً ټولی بی سواده دی او ښایی ددوی نر منځ یوه یا دوه باسواده وی کله چی دوی د باندی وځی نو غلی‌وی او له پردیو او غیرمحرم سړیو څخه مخونه پټوی.

دیوسفزیو ښځی زړه وری دی‌او خپل‌میړونه د ښځو او جنګونو په وخت کی تشویقوی او هغوی ته‌دا ډګیر نه ورکوی. دښځو معمولی او ورځنی چاری په دی ډول دی .

داوبو راوړل ، دغوا کا نولو شل،دډوډی‌پخول په میچنه با ندی دخوراکی دانواوړه کول اودتارو نووریشل .

دشتمنو کورنیو ښځی هم دخپلی‌خوښی سره سم دکور کارو نه تر سره کوی خو هغوی زیا تره خپل وخت په سینګار دګا ڼو په استعمال، دکالیو په اغوستلو او دزلفو په جوړولو تیروی . په دوی کی په نکریزو باندی دلاسو نو او پښی‌سره‌کول اوپه‌رنجو با ندی دستر کو تورول ډیررواج‌لری ،دوی‌خانقا وو ،اودخپلو نږدی خپلوانو قبرو نه ته ځی په تیره بیا د جمعو په ورځوپه حد یره کی زړی او ځوا نی ښځی ډیری لیدل کیږی،چی ځینی غلی او ارامه اوپه قبرونو باندی ګلان،تیږی او ټیکری ږدی او ځینی یی‌په قبرونو باندی ژاړی‌اوویر کوی او دسوز نه په ډک غږ یی یادوی ،دا سی‌ښکار ی‌چی‌د مړو په باب افسوس‌اوویر یوازی دښځوکار دی . ددوی دغم اوویر رواج داسی دی کله چی‌څوک مړشی نو دکندی ټولی‌ښځی او نوروګاونډیان دمړی په کور کی راټو - لیږی اوهلته ژړاګانی کوی، دسرونوویښتان شکوی او ویر کوی په دغه وخت کی پښی په ځمکه وهی حتی‌چی د ډیرغم په وخت کی دغمجنی ښځی‌خوله او سینه دډیرو وهلو په‌اثروپړسیږی اوشنه شی .

ددغو ویر جنو ښځو په سر کی‌یوه با تجربه ښځه دمشری په ډول دویر ږغونه اوچتوی اوددی په غږ پسی ټولی ښځی‌چی‌ددی نرشاوی دا آواز اوباسی ها ی‌های ،هو ای،دویرنه وروسته مړی‌ته غسل ورکوی‌او ددغه مړی‌داغوستلو جامی مړی‌پریولو نکی‌ته ورکول کیږی چی بیامړی‌ته خپله وروستی جامعه (کفن) ور اغو ندی‌او پرکټ باندی یی څملو ی‌اوبیایی ابدی کوریعنی ګورته وړی‌او هلته په ابدی خوب ویده کیږی. دمړی تر ښخولو وړاندی یی دوستان‌هدیری‌ته وړی اودکندی امام د جنازی‌لمونځ اداکوی ورپسی‌جنازه په لحد کی‌ایښودل کیږی اومخ یی دقبلی خواته

گرځول کیږی او په لخد با ندی دتیږ ویالرګیو ترا یښودلو ورو سته خاوری ور باندی اچوی او قبر د کبد شا په شان جوړوی او ورپسی اسقاط* ویشی او بیا خلك بیرته راستیږی اودمړ ی وارثین کورته ځی او د فاتحی او تعزیت له پاره هلته کښینی ، ښځی تر دریو ورځو پوری ویر کوی او سړی دفاتحی له پاره چی لاس نیول هم ور ته ویل کیږی هلته ورځی او ملایانو ، علماوو او فقیرانو ته دخیرات ډوډی ور کو ل کیږی ، په څلورمه ورځ ټول ښځی راټو لیږی او قبر ته ځی تر هغه وروسته دمړی خپلوان او دوستان تر څلو یښتو ورځو پوری دمړی جمعی په ورځ دهغه قبرته د فاتحی له پاره ځی او په څلویښتمه ورځ د څلویښتی خیر ات کوی ، سره له دی چی په یوسفز یو کی ډیر خلك مړی او دا خلك د مړ و سره عادی دی خو بیا هم د مړی و یر او غم په دوی کی ډیر دی .

د واده دستور :

اکثره خلك یوه ښځه نکاح کو ی خو ځینی دوی او شتمن او خانان پوره څلور ښځی نکاح کوی او هم هغه شمیر وینځی چی په وس کی یې دی ساتی . دجلی کوژده عموما دهغه کورنی سره ترسره کیږی چی ددغی کورنی سره ددوستی اراده او نیت و لری او د کوژدی خبری ددم په ذریعه چی ریبار یا دلال هم ورته وایی تر سر ه کیږی . دا ځکه چی په کلیو کی دنورو ښځو حال دم ته پوره څر گندو ی . کله چی مور او پلار چاته د خپلی لو ر ور کول ومنی نو هماغه (زوم) د ډ م په ملگرتیاد نجلی د مور او پلار کورته ځی نه چیری په دغه وخت کی دنجلی مور او پلار دا کوژده ومنی نو کله چی دغه سړی بیرته کورته ولاړ شی نو دکلی دوه یا څو تنه معتبران او سپین ږیری دهلك د پلار یا ورور سره دنجلی کورته ځی او هلته دشیې له خوا دواده دټولو مسایلو او مصارفو له پاره غږیږی او هم په دغه شپه مهر ټاکل کیږی .

نکاح عموما دوکیلانو په ذ ریعه او یا په خپله دزوم په حضور کی تر ل کیږی نه چیری دمهر ټاکل شوی پیسی موجودی نه وی نو دهغو ی تر رسیدلو پوری دنکاح میعاد ټاکل کیږی . ا وورپسی دنجلی پلار او زوم له یو ی پیالی څخه شربت څښی . نه زوم نه وی نو دهغه پلار یا ورور چی دغه

---

* په پښتني سیمو کی اسقاط عموماً تردی وړاندی چی مړی ښخ کړ ی شی او دجنازی لمونځ ترادا نو ړ و وړاندی ویشل کیږی. (ژباړونکی)

مجلس ته راغلي وي دغه شربت‌خبني تردغو مراسمو وروسته د کوژدې تړون مضبوط کېږي او بيا ددغه تړون ماتول دو مره گران کار دی لکه دنکاح دماتولو او نه منلو تړون. کله چې کوژده وشي نو ددوا ړوخو اوو دوستان دوی ته مبارکي ور کوي او دغه دود ته کوژدن ويل کېږي .

د نجلۍ مهرته ولور وايي ، زوم تـه ځلمی يا چنغول او نجلۍ ته چنغله او يا چنغاله وايي ، لنډه داچې دکوژدې‌تر مرا سمو ورو سته زوم اکثراد خپل خسر کورته، (تگ راتگ کوي)په ځينو کورنيو کې نجلۍ خپل ميړه نه ليدلای او له هغه شخه پټيږي‌خو په سوات او ځينو يو سفز يو کې چنغول بازي (چغلبازي) ډيره مروجه ده‌چنغولبازي داده‌چې زو م له واده نه وړاندې کله چې د خسر کورته ځي نود خپلې ما ندينې سره مينه او عشق کوي اود هغوی له پاره په يوه بيل ځای کې کټ اچول کېږي او په خپلو منځو کې سره خبرې اترې‌کوي ، خو کله کله د چغل بـــاز ی نتيجه داسې شي چې دواده شخه وړاندې ښځه اميد واره(حامله) شي ،نو په دغه وخت کې‌د نجلۍ مور او پلار ډير زردواده‌بندوبست کوي اونجلۍ ژر و دوی دغه دول مور او پلار پـه‌اخپل کور کې د خپل اولاد زيږ يدنه عيب نه گڼي خو کله چې د واده نه‌دمخه دغه راز ښکاره شـي نو زوم او نجلۍ دواړو ته د دوی ملگري او دوستان پيغور ور کوي او ملنډې ور باندې وهي، دواده‌مذهبي‌طريقه نکاح‌ده نکاح مجلس‌ته واده او هغه څوک‌چې په واده کې گډون‌کوي هغه ته جينج (ورأ) .وايي او دورا گډون کوونکي ددواړو خوا وو د وستان وي ، په تا کلي ورځ د خپلو ملگرو سره چې يوه ډله نارينه ا وښځې هم ور سره وي‌د خسر کورته ځي او ښځې دسړ يو نه بيلې رواني وي ، هغه څوك چـــې‌واده ته روان وي هغو ته جنجيا ن وايي ، جنجيان د ټو پکو ډزې کوي،اسونه ځغلوي‌د نجلۍ په کور کې‌هم دهوی نږدې خپلوان او دوستان راټوليږي او هغوی ته منجيان وايي کله چې جنجيان ، د نجلۍ‌کورته ورسيږي‌نو جنجيان‌او منجيان سره يو ځای‌شي

اوپه هغه شپه او ورځ ساز کوي، ستدري وايي، ډوډۍ خوري او خوشحالي کوي، په هغه شپه د ملاله خوا نکاح تړل کيږي او دهغې ورځ په سبا ميره دخپلې ناوي اوجنجيانو سره بير ته کورته را ستنيږي او منجي د نجلې په کورکې تر هغې وخته پاتې کيږي چه ميلمانه رخصت شي ميره عموماً په دريمه ورځ د لومړي ځل له پاره د خپلې ناوي له مخ نه تکري پور ته کوي او هغه کوري په دغه وخت کې دهغه تولې ستونزې اواري شوي وي، دواده ټول مصرف د زوم په کورني باندې وي، خپلوان او دوستان هغه ته يوڅه نغدي روپۍ د سوغات په ډول ورکوي او هغه دپور شکل لري چې متقابلاً د هغوي د ودونو په وخت کې يې هغوي ته ور کوي، گاڼې (زيورات) اکثراً په اما نتي ډول را وړل کيږي، په واده باندې ډير مصرف کيږي او لږ تر لږه يې مصرف (۵۰) روپۍ دی اود منځنيو طبقو خلکو په وادو نو دوه سوه روپۍ اود شتمنو کورنيو دواده مصرف دوه زره روپيو تو هم رسيږي.

دوی د هلك په زيږيدو ډير خوشاليږي خو په دغه خوشحالي کې د هلك مور گډون نه کوي د دی له پاره چې هغه تر څلويښتو ورځو له کور نه بهر نه ځي اوپه دغه وخت کې يولږ روا جونو باندې بوخته وي او کله چې دغه دودونه تر سره شي، هغه په څلويښتمه ورځ د شفا غسل کوي. که چيري نجلې وزيږي نوهيڅ خوشالي نه وي بلکې هغې ته ديوه افت په ستر که گوري.

کله چې هلك اته کلن شي يا له هغه څخه د مخه ختنه (سنت) کيږي او دوی دغه عمل له خوشحالي سره يوځای وي، دوستان او خپلوا ن سره رانو ليږ ي، ډول او سور نی غږ و ی او ميلمستيا جو ړ وي. بيا وروسته ډوډۍ خوړ لو په پای کې د سو غا ت په ډول ميلمانه

هغوی ته نغدی روپی ورکوی، که چیری د هلك کورنۍ شتمنه وی
ددغه میلمستیا نه یوه اندازه کمه تر لاسه کوی او که غریب وی نو
زیان.

تر دغو دودو نو وروسته کوچنی ته لمونځ او نور مذهبی احکام ور
ښودل کیږی او کله چی دولس یا څوارلس کلن شی نو هغه د خپل
پلار سره دکورنه دباندی کارو نو کی مرسته کوی اوله دغه وخت
نه وروسته باید په حجره، درمند، ارهټ یاڅاه باندی ویده شی، کله
چی شل کلن شی دپلار دشتو یوه برخه بیلوی او هلك یا واده کوی
او په کورکی اوسیږی یا بل ملك ته دنوکری له پاره ځی او ځینی
یی داوړی په موسم کی کله چی دیوی او کار له امله ستړی اودغه
ربړنه په تنګ شی او عایدی دگذاری له پاره کافی نه وی نو
هند وستا ن ته ځی او کله چی هیواد نه ووځی هغه وخت چی زوړ
شی بیرته خپل ملك ته راستنیږی او خپله برخه اخلی او دژوند پاتی
موده دا نځرونی تر سیوری لاندی تیروی او کوښښ کوی چی ددیر
لمونځ او عبادت په واسطه دځوانی ددوران ګناوی جبران کړی. دده
وروستی خوشحالی داوی چی دخپل کلی او خپلوپخوانیو نیکو نو په
هدیره کی ښخ شی، له همدی کبله دوی د خپلوانو جسدونه او هدو کی
له نورو هیوادو څخه راوړی او په خپلو پلرنیو هدیرو کی یی خاورو ته
سپاری، دوی دزړه له کومی په خپل هیواد کی له ښخیدو سره مینه
لری. او هغه شمیر خلك چی په خپلو کورونو کی اوسیږی دهغوی د
ژوند دځرنګوالی په باب پورته یوڅه بیان وشو، دوی عموماً په کر
کیله بوخت وی او کله کله په جګړو هم لاس پوری کوی په هو یوه
کلی کی نغاری یا ډولونه موجود وی چی دوی دهغوی په ذریعه نورخلك

دمخالفینو له یرغل اوحملی څخه خبر وی همدا راز دد ښمن سره مقا بلــی او تعقیب له پاره هم کلی په کلی دولو نه اونغاری غږول کیږی اودهغه دغږ داوریدو لو سره سم لښکر را تولیږی او تو لو کلیو ته خبر رسول کیږی* داود یو سفزیو دقبیلی دود اودستورچی اوس په کی لږ څه بدلونو نه راغلی دی. دانګریزی سرکار دفـعالیت په وجه دیو سفز یو سیمو تـه ډیره ګټه ورپه برخی شوی ده دامن، آرامی او سوکالی نه پرته ددو ی په شتو کی هم زیاتوالی راغلی دی، خو سره له دی هم دوی دپخوا پـه شان له آزادی سره مینه لـــری .سرکار د دوی دګتی له پاره ډیـره هڅه کړی ده هغوی ته یی پلونه سړ کونه او نور عام المنفعه کارو نـه کړ ی او کوی یی.

دخانقا وواو میلو بیان :

په دغه ملك کی دغه لاندینی دری خانقا ګانی ډیر شهرت لری او خلك هلته ځی .دپیر بابا خانقا چی پـــه بونیز کی موقعیت لری .په پیښنــو ر کی دجهندا زیارت او دختکو پـــه سیمه کی دکاکا صاحب خانقاه چی په دغو وروستیو دوو کی په کال کــــی یو ځل ددرو ځلورو ورځو له پار ه میلی جوړیږی او ډیر خلك ورتـــه راځی .له روژی نه دمخه په پیښنور کی دجهندا میله او لـــه روژی ور وسته دکاکا صاحب په زیارت کـــی میله جوړیږی ،دلته هـــندوان او سوداګران را تولیږی اوپه یواوار میدان کی کښیني او دبیلو بیلوشیا نـو په خر څو لـو بو خت و ی .

---

*اوس دانګریزی سرکار تـر لاس لاندی سیمو کی دغه ډول جګړو ته هیڅ ضرورت نه پیدا کیږی . (مو لف)

پرته له دې دلته د غیرو نیول ، مداری توب ، تیږه بازۍ او نور ځ
ډول ډول ساعت تیری هم تر سره کیږی . همدا راز قمار (جواری) او
ډمی (کنجری) موجود ی وی اودلته دښمنان هم سره مخامخ لیږ ی
او خپلی دښمنی دتور ی په ذر یعه فیصله کوی .

دانگریزی سرکار ترراتګ وړاند ی په دغه میلو کی ډیری جګړی کیدلی
اومرګ ژوبله هم زیاته وه خو اوس دښه انتظام او تدبیر په وجه په
هغه اندازه فسادونه نشته ، خو سره له دی هم ځینی شخړی او پیښی
رامنځ ته کیږی . دپیر باباخانقاه په یوه خرابه ځای کی موقعیت لری
له همد ی کبله هلته دکو مې عامې میلی لپاره ځای نشته خو ډیر خلک
دغه متبرک او پاک زیارت ته ورځی او دجوګیا نو سربا ندی چی
دایلم غره په یوه څوکه اودطور تا با په سر کی موقعیت لری هندوا نا و
مسلما نان را ټو لیږی او دری ورځی هلته په خوشحالی تیروی هند وان
دغه میله درام تخت په نامه یادوی او هغه هندوان چی نوموړی میلی
ته ځی په خپلو مینځو کی سره دوه دری سوه روپی ټولوی اوددغه ځای
خان ته یی ورکوی که نه نو د دغه ځای ورتګ ته یی نه پریږدي پرته
له دی داخترو نو په ورځو کی هم خلک په خپلو کلیو کی میلی او خو-
شحا لی کوی ښځی هم سره را ټولیږی په خپلو منځو کی میلی کوی ، سندری
وایی او ټالونه اچوی .

«د سوات اخوند صا حب»

څرنګه چی دیو سفریو په ملک سوات کی دغه مشهور اخوند صا حب
اوسیږی نو ځکه یی دلته په لنډ ډول ذکر ضرور ی دی . دا ښکاره خبره ده
چی اخوند صاحب عبدالغفور نومیږی او د (۱۲۱۱) هجری کال په شاو خوا
کی چی له هغه وخته تقریباً (۷۳) کاله تیریږی د بر سوات په سیمه
کی زیږیدلی ، دهغه دمور او پلار په با ب صحیح معلو ما ت نشته
خو غر یب خلک ا و په شپونتوب ډول یی ژوند کاوه دی د

سافی قبیلی دی چی تو موری قبیله له پخوا څخه د سړ بنی پښتنو سره یوه اوستانه گنډل کیږی ، ځینی خلك ساپیانو ته دسیدا نو نسبت ور کوی او ځینی یې دسړبنیو پښتنو یو ښاخ بولی ، خو تر اوسه دداد ور کومه نتیجه لاس ته نده راغلی خو غالب گومان دادی چی دغه ښاخ په وصلی ډول سره نه ، بلکی په نسبی ډول دسړبن ښاخ سره تړلی دی .

هغه وخت چی عبدالغفور صاحب لاکوچنی و دمور او پلار په غوښتنه دملونو په څرولو بوخت و او له هماغه وخته پاك خدا ی (ج) ده ته پرهیز گاری ورپه بر خه کړی و ،چی دهغه گاومینښی څخه به یې چی شیدی خوړلی نو هغه به یې درسی‌نه نیولی او څروله به یې تر څو دنورو خلکو په پټیو کی و نه څرېږی چی هغه وابنه دده په نظرحرام وو ، کله چی اتلس کلن شو نو ددنیا یې چارو څخه یې لاس واخیست اودبرن گوله سیمی ته لاړ او هلته یې لوستل او لیکل زده کړل او تر یوی مودی پو ری د علم په حا صلولو بوخت وپه پای کی دیو سفز یو دگوجر گهری سیمی ته راغی اودعبدالحکیم اخوند زاده په جو مات کی دیره شو ، تر څه‌مودی وروسته تور دهیری ته لاړ او په دغه ځای کی د صاحبزاده محمد شعیب سره‌چی یو مشهور روحانی ومرید شو او محمد شعیب دعمر زیو دحافظ جی‌صاحب مرید و او حافظ جی صا حب هم دبشونی صاحب مرید و نو موړی‌دبونیر یو فقیر سړی اود طر یقت خاوند واو دده شهرت په دی کی‌وچی هغه خپلو مریدا نو ته څلور طریقی یعنی نقشبندیه ، سهروردیه ،چشتیه او قادریه وربښو دلی وی .

اخوند صاحب عبدالغفور لومړ نی‌یعنی نقشبند یه طر یقه غوره ا و هند ته نږدی دسند رود په غا ړ ه‌یی استو گنه غوره او نو موړی طر- یقه یې جا ر ی کړ ه هلته یی بو ه کو ډ له جو ړ ه ا و د

خدای په عبادت بوخت شو او دولس کاله یې د حقیقي معبود عبادت وکړ او په دغه دولسو کالو کې ده په لږه اندازه خوړو او لږو اوبو حپله گوزاره کوله ، نوموړی په بیکې کې دچل عبادت اودخدای دفضل له امله ډیر شهرت و موندا و خلک به ده نه راتلل ، خو په دغه وخت کې دسید احمد بریلوي او سنادي خان په چارو کې د د خالت په سبب خلکو له ده نه لاس واخیست او له یوې مودې وروسته د خدر زیود نېږې د غلامانو زیارت ته ولاړ او هلته یې بیاد پخوا په شان شهرت و موند ، ددغه ځایه د

سلیم خان سیمې ته ورغی او هلته میشته شو او خلکو له ده نه لاس نیوی وکړ او مریدان یې شول او نوم یې تر لیرې لیرې ځایو نو پورې مشهور شو . په ۱۸۳۵ ع کله چې دسکانو او افغانانو (پښتنو) ترمنځ جگړې منځ ته راغلې نو امیر دوست محمدخان ده ده نوم واوریده اودی یې د جهاد له پاره خیبر ته راو غوښت ، هغه هم ډیر غازیان اوطالبان خیبر ته راوستل.

مگر هلته دسلطان محمد خان دپلان په اثر دغه معامله له ماتی سره مخامخ شوه او کله چې د امیر لښکري تر جگړې دمخه بیرته کابل ته وگرځیدې نو اخوند صاحب باجوړ ته فراري شو او ملگري یې یوازې پر پښو دل څه موده وروسته په گلدره کې درانۍ زیوغره ته لاړ چې هلته یې نوم

لاپسې مشهور شو ، ترڅه مودې وروسته ده ته دسوات په سیدو نومي ځای کې یوه اندازه ځمکه ورکړل شوه چې تر اوسه موجوده ده کله چې د سیدو سیمې ته ور سیده نود نیک یې خیلو په قبیله کې یې واده وکړ او له دغې میر منې څخه یې دوه زامن وزیږیدل. په (۱۸۶۳ ع) کال دانبیلې

په دره کې چې د انگریزي سرکار له پوځ سره دبو نیر اوسیدونکو او نورو غر نیو خلکو مقابله وکړه په هغه کې ده هم گډون وکړ. له څه هم دانگریز سرکار پلویانو په دغې جگړه کې دده دگډون تمه نه لرله داځکه چې ده وړاندي تر دغې جگړې د انگریز سرکار په خلاف کومه اراده او نیت څرگند کړی نه و ، او په دغه باب خلک داسې وایي چې دهغه دراتلو وجه داوه چې د مولوی عبدالله وهابي * دورځ په ورځ زیاتیدونکې پیاوړتیا له کبله ده ته حسد پیداشوی وه .

اخوند صاحب ډیر مریدان لرل او خلک ده ته په زیاته اندازه درناوی او احترام کوی . نه یوازې د یوسفزیو په قبیله کې چې دی هلته اوسیږی ، بلکې د ختیځ افغانستان پر ټولو برخو کې ، د سند ساگر په دوابه کې اوحتی د لویدیځ افغانستان په هغو ځایو نو کې چې چا ده نوم اورید لی

---

* دمولوی عبدالله په باب د تعلیقاتو برخه وگوری .

وی احترام یی کوی اوهغه ته په درنه ستر گه گو ری له لیر ی لیری ځایو نو نه خلك دده زیارت ته ور ځی اودی دخاصو او عامو مرجع دی ، او هر څوك چی ده ته ورځی دهغه لـه لنگر څخه ډوډی ورکول کیږی اود اخوند صاحب مریدان اوخادمان د میلمنو د رنبنت او پالنه کوی .
د مذهب په چارو کی هم ده ځینی احکام جاری کړی او اهل سنت اوجماعت د طریقی ټولو مسلما نانو منلی دی او ډیر د قدر په ستر گه ورته گوری ، دده مریدان په دغو ټولو ځایو نو کی په زیات شمیر شته دی ، اواخوند صاحب ټول وخت په نیکو اوښو چارو بوخت او دورځی له خوا تل ر وژه نیسی او د منهیا تو اومکرو هاتو څخه په ډیره زیاته اندازه پر هیز کوی .

د ادم خان اودر خانی لنډه کیسه :

څرنگه چی دغه کیسه نه یوازی په دغه قبیله بلکی په ټولو افغانی (پښتنی) قبیلو کی مشهوره ده او یو سفزی یی په خپلو حجرو او مجلسو نو کی د رباب سره په ډیر سوز سره وایی . ویل کیږی دغه کیسه په پښتو ژبه کی په نظم ویل شوی ده او ډیره اوږده اود واقعیت په خلاف ډیرشیان لری . خو دلته دویلو وړ خبره یواز ی داده چی د حسن خان زوی آدم خان دیوسفزیو د قبیلـــی دمیته خیلو د ښاخ یو شو قی اوښاـ یسته ځوان و اوپه ر باب وهلو کی یی ساری نه لاره ، همداراز نومو ـ ړی له ښکار سره هم ډیره مینه لرله اوډیر ربا ب وهو نکی بـه دده په مجلسو نو کـی حاضررو . دده داستو گنی دځای په باب مختلف روا ـ یتو نه مو جود دی ځینی وایی چی هغه د بو نیر او سیدو نکی و ، او غالباء به دده کور د سوات د سیمی په بری کوټ کی و . او څرنگه چی یـو ـ سفزیو په دغه وخت کی دکوچیانـو په ډول ژوند کاوه او کله چی دآدم خان دټبر داو سیدو له پاره ملا کنډ ته ور سیده نو په دغه ځای کـی د درخانی په نوم د یوی نجلی دپلار کور نی هم هلته میشته شوی وه ، ددرـ خانی دپلار نوم پیر جوکـــی خان اوپه خته حاجی خیل و ـ یوه ورځ ادم خان دخپل آس دنالو لوله پاره د یو ه پښی دکان ته چی باتور نو میـــده ورغی اوهلته درخانی هم ددوك د جوړولو له پاره راغلی وه او کله چی

دوی دوو سره و لیدل نو پــــــه یو بل باندی مینان شول ، او ویـل کیږی چی په کوم ځای لی چی دپښې با تور دکان و هلته د پلوشی وته راشنه شوی وه . د دوکان ښښــــی ښبانی تراوسه دملکند کوتل دسو-ات لاری ترڅنګ موجودی دی اوویل کیږی ددغی وني ختیځی خو اته چی کو می زړی کند والی مو قعیت لری هغه د درخانی د باندی ښښی دی .

هلته یوه لویه ډبره هم شته چی د هغی په باب خلك داسی عقیده لری چی درخانی به په هغی باندی کښینا ستله ، څرخه به یی نو ـه اونار به یې وریشه ، همدا رازدادم خان دباندی ښښی هم ددغی‌ونی لویدیځی حواڅه لیدل کیږی .

لنډه داچی څه موده د دوی‌مینه پټه وه تر څود بسی په واده کـی چی نوموړی په باز دره کی اوسیده‌او د درخانی ملګری وه او درخانی هلته نللی وه اودخپل بی حده‌حسن‌له کبله هغی له ډورو ښځو څخه په مخ پټولو پیل وکړ په پای کـی‌ډپیر صالح په کوښښ او د ادم خان درباب غږ‌و لو او مینی له امله یی‌مخ پټونه پریښبوده اود باندی را و وته چی له دغه وخته د هغــوی‌مینه رسواء شوه اوڅرنګه چی ددر-خانی کوژده د پایو سره کیدونکی‌وه له دی امله یی لـه غم او کړاو څخه دوصل امکان موجود نه و ، د پیاو ی دواده‌په ورځ ادم‌خا ن‌درخا-نی د هغوی له کوره وایستله او دخپلی پخوانی میرمن طو طیاد پـلار میر بابی کورته یی‌ورسوله اوهلته ور ننو تل ، خومیر‌بابی په پښتنـی ننګ داغ ولګاوه ، ادم‌خان یی ونیوه‌او درخانی یی‌په قیدی ډول پایـو ته ولیږله ، تر دغی پیښی وروسته ادم خان له ړی ستر کی پټی کړی اودرخانی به تل‌په قید کی د خپل‌مین‌آدم خان په انتظار اوښکی تـو یو لی چی یوه ورځ د ادم خان د ر باب غږیی تر غوږ‌شواو کله چی‌دباغچی خواته یی وکتل نو میرو قوال د ادم خان همانغه رباب غږاوه . کله چی دی دمیرونه دآدم خان دمر یــــــنی‌خبروا وریده نو غم وربا ندی داسی زور وکړ چی د ضعف ، قید ، کم‌خو ری اودجدائی له‌غم‌یی له فانی جها-نه ستر کی پټی کړی . په دغــه قبیله کی د دوی دواړو پاکه مینه تر هغه اندازی شهرت لری چی‌خلك وایی چی دوی دواړه په‌قبر کی سره یوځای شوی دی. که څه هــــم‌داخبره دمنلو وړنه ده ، خوددی امکان شته . دوی دواړه د هغوی کوم‌همراز په یوه قبر کی ښخ کـړی وی ، همدا ډول یو بل روایت هم موجوددی‌چی د ادم خان په قبر چی کومه ونه ولاړه ده که دهغی له لرګی څخه کوم سری شهباز جوړ کړی او پـه هغه باندی درباب دزده کو لوتمـرین وکړی‌نودیرزر به یی زده کړی.

دخوګیانی قبیله

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول د ګکیانی قبیله هم دخښی سره تړلې ده خواخوند درویزه په خپل کتاب کې ددغه ښاخ داصلیت بیان داسې لیکلی دی. دخښی زوی ملك نارینه اولادنه لاره یوازې یوه لوریې درلوده چې کانی نومید له پلار یې هغه خپل شپانه ته چې بزرګی یا زیرکی نو میده په نکاح کړه چې دهغوی له ښښت څخه ګکیا نی دنیاته راغی اودمورله خواد ملك په اولاد کې وشمیرل شو. ګکیانی تر کابل پورې دخښی قبیلی له مختلفو ښاخو سره یو ځای اوسیده، کله چې د میرزا الغ بیګ په زمانه کې د کابل په شاوخوا کې میشته شو نو دیوسف زیو سره دګکیانیو دښمنی پیل شوه. دښمنی په دغه سبب مینځ ته راغله چې یوه ښځه چې دګکیانی قبیلی خان په نکاح کړې وه هغه د یوسفزیو د قبیلې د یوسړی له خوا و تښتو ل شوه، له دې امله ګکیانی په قهرشول او یوسفزیو سره یې سخته دښمني پیل کړه د یوسفزیو یو ملك چې جنګانو میده دګکیانیو دقبیلې په لمسون ګکیانی

د کابل حاکم په حکم د‌ده په حضور کې ووژل شو، د کابل نه وروسته ګکیانی دلغمان دباسول *سیمې ته راغلل او بیا د بابر پاچا دحکم سره سم له دغه ځای نه وایستل شول اودننګرهار خواته راغلل وروسته بیا ملك احمد د لازاکو سره دمقابلې په منظور او د دوابې سیمې دورکولو په وعده ګکیانی له ځان سره یو کړل او تربرې وروسته ګکیانیو ته ددوا بې سیمه چې دکابل او سوات سیندونو تر منځ موقعیت لري ور کړل شوه او هم د باجوړ یوه برخه یې ترلاسه کړه، خوتر کلانیو د دوې نه واك تر لاسه کړ اوس دغه قبیله اکثراً په دوابه کې میشته ده او د دوی شمیر پنځه زره کوره‌ښو دل‌شوی دی، د دوی دود او دستور یو څه یوسفزیو او لږ څه د باجوړ له خلکو سره ورته والی لري، هغوی اکثراً د کرنې په چارو بوخت دي.

---

*د باسول سیمه په لغمان کې نه بلکې دننګرهار په ولایت پورې مربوطه ده. (ژباړونکې)

دتر کلانی قبیله

دغی قبیلی ته افغانان (پښتانه) په خپلووږخنی محاورو کی ترکانی هم وایی .د دغه قبیلی لوی نیکه ترك نومیده چی د خښی زوی او د بسوله بطن شخه پیدا شوی وچی بیان یــی لږ څه وړاندی لیکل شوی دی،دږیرو خیرنــو سره سره بیا هــم دتر کلا نیــو د نسب د شجر ی په باب د اطیمنان وړ معلومات لاس ته نه دی راغلی او څرنګــه چــی د دغه قبیلی خلك دلته نه راغــی نوله دی کبله د دوی د پــوره حا ل ترلاسه کول گرا نکاردی .خو مــا دغی قبیلی له دووپوهو کسا نــو سره چی یوړیی دخاص با جــوړاو سیدو ښکی و ملاقات وکــړ د هغو د واړ ولــه بیان شخــه داسی ښکاری چی د تر کــلا نــی قبیله په لومړی سر کی پــه څلورو ښاخونو ویشل شــوی ده لــو مړی سا لار ز ی چی پــه چار منگ او بر اول کی او سیــږی د دغه ښاخ شمیر (۱۲) زره کســه ښودل شوی دی دویم ممونــــد (ماموند) چی په دوو څانگو ویــشل شوی ککازی او ووړممو ند (واړه ماموند) چی د دوی شمیر هم دولس زره کسه ښودل شوی دی . دریم یو سوزی چی د وسله والو کسانو شمیر یــــی شپږ ز ره تنــــه دی ، څلــو رم اسمعیل زی چــی شمیر یی شپــږ زره کسا نو تــه رسیــږ ی . د دوی نه پر ته د براولیانو شمیر لس زره کسه ښودل شوی دی .

دباجړسیمه

په کومه سیمه کی چی دغه قبیله اوسیږئ یوه غرنۍ او ښکلې ښنه سیمه ده چی ډیره په زړه پوری آب و هوا لرئ د باجړ لویدیځ تـه دهندوکش غر، ختیځ ته یی داتمانخیلوغرنی سیمه، اوقطب ته یی هم هندوکش موقعیت لری چی هلته سیاه پوش کافر اوسیږی او سهیل ته یی دهمندان غر پروت دی. د با جـړ وادی یوه میدانی او اواره سیمه ده چی تقریباً پنځه ویشت میله او پود والی لری او د شمال ختیځ نـه جنوب لویدیځ خواته غزیدلی ده او پلن والی یی له شمال څخه جنوب خواته د ولس میله دی په دغــه سیمه. کی دغمنو پیدا وار د نوروغلو دانو په نسبت زیات دی.

په دغه سیمه کی دوی لویی عـلاقی موقعیت لرئ لومړئ خاص بـا ـ جوړ چی ښار هم ورته وایی . دویمه ناوکی چی په دغو دواړو علاقو کـی تقریباً زن زدکوړو نه میشته دی. د جندول لویاکلی سیمی هم پـــه

باجوړ کې مشهوري دي . دپنجکوړ ي دْ میدان تر څنګ یوه دره موجوده ده چې دوادي شکل لري او بـــراولنو میږي ، دبر اول یوه برخـــه ښه آباده او پاتې برخه یـــــې په ځنګلونو پټه ده په دغـــــو ځنګلونو کې ډول ډول ځناور شتـــه او حتی په ځینو سیمو کې چـــې ځنګلونه ډیر دي نو هلته ځمکـــې ته دلمر رو ښنا ئې نه رسیـــږ ي په اصل کې براول هم په باجوړپوري مر بو طه سیمه ده چې ددغه ځا ي او سیدو نکو ته بر او لي وایي خـو یوازې تو پیر په دې کې دی چې براول ځانته بیل خان لري . د څوار لسمې عیسوي سدې په نیمایي کې، تر کلاني چې دخښی قبیلې یو ښاخ دی دغـــه ملك ونیوه او داسې ګومان کیـــږ ی چې دغه سیمه ددیکانا نو نه تـــر کلانیو نیولې وی .اوس باجوړ د پښتنو تر کلانیو په لاس کې دي خود نورو قبیلو خلك په دې ډول په کـــــې مشته دي .په شمالي لوړو غرو کې هغه کا فران چې مسلما نان شوي دي اوسیږي او دهغوی شمال ته دسیاه پو ش کا فرانو سیمه ده دسا پیـــو دقبیلې څلور زره او ددیکان قـــوم دیرش زره تنه ، دبا جوړ سیـــــن په دواړو غاړو کې دشینوارو قبیلې څلور زره تنه ،او همدا راز یوشمیر هند کې هم دباجوړ په میدان کې سره په کډ ډول ژوند کوي .دمیدانسیمې او سیدو نکو ته رود باري هم وایي، که څه هم ښاغلی الفنستن په خپـل کتاب کې دتر کلانی قبیلې دخلکـو شمیر نه دی لیکلی خو تخمینــــاً لس یا دولس زره تنه اټکل کیدلای شي . د دغه اټکل له مخې د دغـــه قبیلې شمیر چې پورته ذکر شـــو تقریباً صحیح بریښي د تر کلا نیود قبیلې خان په خپل ملك کـې دډیر واك او اختیار خاوند دی دوی پـــه خپله اصطلاح او ژبه کې ځانتـــه باچا یا باز وایي. اوس د ناو کـــې غلام حیدر خان او د جندول فیـــض طلب خان د دغو سیمو مشهور او نامو مشران دي . دبر اول په سیمه کـې فیروز خان د اسمعیل زي د ښاخ ملك ګل محمد خان، او د ناوګي دسیمـې او سیدونکې حیدر خان لوی خا نا ن دي، همدا راز دباجوړ د ښار اوسیدونکی میرامان خان هم مشهور خان دی چې دډیر واك او اختیار خاوند دی دغه خانان دافغانانو (پښتنو) قبیلو نه پرته درعا یاونه دبارانی ځمکو دمحصولاتو پنځمه برخه او له هغه ځمکې نه چې د نهرو نو اوویالو پـه ذریعه خړو بیږي نیمایي برخـــه اخلي . همدا راز داوسپنو لـــــه کانو څخه څلور مه برخه احلي چې

د دغه عايد اندازه له يو لـــاكـروپيو څخه لږه نه ده، هغـــه افغانان يا پښتانه چې څمکې لري که څه هم دوی د پيداوار وتها کلـي برخه خان ته نه ورکوي خو دلښکرواو جګړو په وخت کې دوی د خــان لښکري جوړوي او هم خان تـــه دا اختيار ورکړي شوی چې دجرمونو په بدل کې په خپلې خوښې سره دجلا وطني ، قيد ، وژلو ، جرم او تاراج سزاګاني ورکړي خوله خلکونه اکثراً جريمه اخستل کيږي اوعدالت په چاروکې د جګړو د احتمال نـــه پرته دخان دخالت لږوي او داسـي فيصلې دملکانو او دکلي سپينږيرو له خوا تر سره کيږي د باجوړ خلک کله کله دلوټ او مريانو د تـــر لاسه کولو لپاره دکافرانو په سيمې باندې يرغلونه او د هغوی ســره جګړې کوي .

ددغې سيمې د اوسيدو نکو زياته برخه د کرنې په چارو بوخــــت دي خو دبراو ل سيمې زياتره خلک داوسپنې مصنوعات جوړوي اود خرـ خلاو له پاره يې بهر ته وړي او له بهر څخه تو کران او قند دلتـــه را وړل کيږي . د اوسپنې د جوړ و لـوطريقه داسې ده چې ښځې په سختـي سره توره شګه را ټولوي او په يوه ورځ کې هره ښځه تقريباً شپږ سيره شګه غونډوي او دپښانو (آهنګـــرانو) په دکانو کې يې اچوي، د غـه شګې ته دقوي اور په واسطه زيات حرارت ورکول کيږي په دغه وخـت کې نوموړي ريګ په يو ډول خته بدليږي اوښکته بهيږي او لو مـــړ ی دچکې په ډول خامــــه اوسپنه ورڅخه لاس ته راځي او ورپسې بيـــا حرارت او تاو ورکوي او بيا کښې ورنه جوړوي .

دباجوړ او سپنه که څه هـــم ناپا که وي خو تر تصفيه کولو وروسته ښه او سپنه ورڅخه لاس ته راځـي او پيښور ،ديوسفزيو سيمې او هم تر حضرو پورې دخرڅلاوله پـاره وړل کيږي .

دساپیو قبیله

د دغې قبیلې د شپږو ښاخو نـو تفصیل په دې ډول دئ :
کندهاري، مسود، ﻫرېز، وديسر، کاکي زي او ښادي خيل . دغه قبيله ځانونه سړبنی پښتانه بولـي او کله خپل لوي نيکه يعني ساپـي د غلجي و رور يازوي معرفي کوي ، خودخپل نو په نتيجه کې دسـړ بن او غلجي ترمنځ دنسب په شجره کـې د دوی يو ځای والي تر لاسه نـه شو ، خو په دې کې شك نشته چـې دخپلې قبيله دسړبن په اولاده کې شامله او دساپيو قبيله هم پـــه اصلي ډول له دوی سره يو ځـا ی کيږي نو ځکه د دوی بيان دخپلې ښاخو نو په لړ کې راغلی دی اوس زمونږ په زمانه کې د دغه قبيلـې زياتره خلك دباجوړ د سور کمر په سيمه کې دتر کلانيو ، مومنـدو او اتمان خيلو د سيمو تر مينځ ميشتـه دي . ځينې يې په تگاب (تگاو) کې چې دکابل شمال ته موقعيت لـــري، او ځينې يې په کونړکې او ميږ ي دسوات په اکثرو کلو کې هم ددغه قبيلې يو دوه کوره شته ، دسوات اخوند صاحب (رح) هم ددغه قبيلې له کندهاري ښاخ څخه دی . ساپي اکثراً د ځمکې او کرنې په چار وبوخت دي ، دوی بې ازاره خلك دي، پـه ټول افغا نستان کې د دغـه قبيلې ډيولس زره کوره شته خو خوار ه‌واره‌دي او چندان شهرت نه لري .

دغوریا خیلو قبیله

دغور یا خیلو قبیله

ددغې قبیلې شجره وړاندې کښل شوې ده چې له هغې څخه څرګندېږي چې دغه قبیله هم د سړبن د زوی خرشبون له نسل څخه ده. د دوی لوی نیکه غرې یا غوریا نومیده له دې کبله ددوی نسل ته غور یا ـ خیل هم وایي. غوریا څلور زامن درلودل یوېي دولت یارچې دهغه له اولادې څخه د مومندو او داو دزیو دوه ښاخونه منځ ته راغلي دي. دویم خلیل، دریم څمکنی او څلرم زېږان، چې د دریو ورونو اولا ده تر یوې مودې پورې په یوه ځای کې اوسېدل، خو څلورم ورور څمکنی په حپل ژوند کې له هغو څخه بېل شو، دهغه د بېلتون سبب په تاریخ مرصع کې چې په پښتو ژبه لیکل شوی دی داسې را غلی دی: یوه ورځ څلور واړو ورو نویو پسه حلال کړی و، هغه یې پخپل منځ کې سره ویشه خود و یشلو په وخت کې یې څمکنی هېر کړ. او د ښوور وا برخه یې ورنه کړه، دغه خبره دڅمکني د خپګان سبب شوه نو ځکه له خپلو ورونو نه جلاو ترنن ورځې پورې هم دده اولاده په جلا ډول اوسېږي.

دغوریا خیلو قبیله په لومړي سر کې دکندهار په شاو خوا کې مېشته وه. لکه څنګه چې دیو سفزیو او خښیو په برخه کې هم د دوی لړځه بیان راغلی دی، خود دې علت څرګند نه دی چې هغوی و لنی او په څه ډول له هغه ځایه دغزني لوېدیځې خواته د ترنک پرغاړه.

د غوریاخیل د نسب شجره



د کوکو ابن مومند د نسب شجره



د موسی زی ابن مومند د نسب شجره



د داودزي ابن دولت یار د نسب شجره

- **داودزي**
  - منډکي
    - بابوزي
    - حسین زي
    - نیکوزي
  - مامور
    - تاجوخیل
    - محمد خیل
    - سید خیل
    - یونس خیل
    - بازید خیل
    - علي زي
    - بي بي زي
    - بهاګل زي
  - یوسف
    - منډر
    - وفاخیل
    - صفازي

شجره نسب خلیل ابن غوریاخیل

- **خلیل**
  - سالارزي
  - افوزي
  - نورزي
  - متي زي
  - آکازي
  - باروزي
  - ترک
  - ساک

یادښت : د داودزیو او خلیلو د ښاخونو د ډیرو متنیو ځانګو مفصله شجره تر لاسه نشوه

د څلکنی د نسب شجره



میشته شول. د(۱٤۰۰) او (۱۵۰۰) عیسوی کلونو تر منځ دغه خلک
د غزني په شاو خوا کي میشته وو. د بابر څرګندوني په لومړي سر یاده
(۹۱۰) هجري کال په شاو خوا کي د غزني په سهیل او لویدیځه برخه
کي اوسیدل، او په هغه وخت کي د دغه قبیلي تقریباً ټولو خلکو په
پوونده ډول ژوند کاوه. او د مالداري په چارو بوخت وو. د غزني نه د
دوی د مهاجرت له پاره دوه دلیله موجودي دي. لومړي دا چي د هزاره
وو له قوم سره یي بدي نشو اي کولای دویم دا چي د مغلو له سلطنت
څخه په تنګ شوي وو او ډلي ډلي له دغه ملک نه ووتل او څه موده
د کابل او ننګر هاردسیمو په شاوخوا کي میشته وو خو کله چي یي شمیر
ډیر شونو په خانه کوچ ډول پیښور ته و لیږ دیدل او د دلازاکوله قبیلي
سره چي لا د مخه یي پر پیښور باندي قبضه ټینګه کړي وه د سلطان پوري
په سیمه کي چي خلک ورته جنګپوري هم وایي مخامخ او د دوی
تر منځ سخته جګړه پیښه شوه او ویل کیږي چي په دغه
جګړه کي د بابر زوی شهزاده کامران هم له دغي قبیلي سره
یو ځه مرسته کړي وه په دغه خونړي جګړه کي د لازاکوته ماته ور په
برخه شوه ځیني د جنګ په ډګر کي ووژل شول او ځیني یي هم د هزاره
خاني په ویاله کي ډوب شول که څه هم دغه ویاله به معمولاً دومره
او به نلرلي چي څوک دي ډوب کړای شي خو په دغه ورځ د خدای په امر
د دغي ویالي په سر یا پورتني برخه باندي په دومره زیاته اندازه
باران اوریدلی وچي د دلازاکو د ډوبولو له پاره یي
دیوه واړه طوفان شکل غوره کړ. تر دغي سوبي وروسته نوموړي
سیمه د مومندو داو دزیو او خلیلو لاس ته ورغله او د پیښور پراخه
لواره او میداني سیمه یي ونیوله او د لازاك د لنډي سین څخه پوري
وتل او د لنګر کوټ په میره او نورو ځایونو کي میشته شول، بیا
وروسته هغه وخت چي د یوسفزیو مشر خان کچو ونو د دغه قبیلي او
یوسف زیو ترمنځ د شیخ تپور په سیمه کي ډیره سخته جګړه وشوه
او غوریا خیلو ته ډیر زیان ورسیده په تیره بیا د خلیلو له ښاخ نه
چي خلک یي ډیر جنګیالي و وزیات شمیر کسان و وژل شول، خود ماتي

سره سره یوسفزیو ددې جرائت ونکړچې د دوی مقبوضه سیمی ونیسی . د قبیلی لوی ملك یا خان نه پسه پیښور کی غوریا خیل ارباب وایی خود هغوی د اختیار اتو په منځ کی توپیر شته ، ددغه قبیلی په ځینو ځایونو کی ملك د ډیر زیات واك ښتن وی خو په ځینی ځایونو کی یی اختیار لږ وی . د پیښور د قبیلو کورونه دود او د ستورو نه ، خوراك او پوښاك تر یوی اندازی پوری یوسفزیو ته ورته والی لری ، دوی په ژمی کی اکثره دپتو پتو لو لـه پاره یو رنگه جاکټ استعما لوی او کله چی اوږی شی نو هغه او باسی او یو اوږد او پراخه کمیس اغوندی او سپینه یا نیلی پگړی په سر وی . همدا راز یوه پیښوری لنگی یاد ملانه تری او یایی پراوږو اچوی . د برو درانیو په منځ کی د پیښور غوریاخیل دحرام خوری نه ډډه کوی او دښه چلند خاوندان دی . خود نورو اکثره افغانانو (پښتنو) پـه نسبت زیات چالاکه ، هوښیار اودوکه باز دی . دوی ډیر کینه کښ او کندی بازی ته متمایل دی او دښمنی پـه پټه او پرده کی تر سره کوی ، دوی ښایسته او لوړی ځوانی لری .

مومند

مومند چې د پېښور د سر کاڼ تر لاس لاندې سیمه کې او سېږي د شمیر یې دو لس زره کورونه دي ددوی ددود او دستور له مخې د برو مومندو سره پرته له دې چې دیوې قبیلې دي بل هیڅ راز اړیکې نه لري .

« بر مومند »

د دوی حال زیاتره دلیکلو وړ دی . دوی ته دغره مومند هم وایي یعنې د غره او سیدونکي مومند . د د وی غرني سیمه په دې دول ده چې د اتمان خیلو دقبیلې لویدیځ غر دکابل تر سینده اود قاشقار (کاشغر) دروده مغې خواته یعنې دکونړ درود ختیځ غره ترنږدې ځایونو پورې سیمې د هغو غرونو میدانونه پرته چې د دوی د غرونو او دکابل سین ترمنځ موقعیت لري نور ټول غرونه دبرومومند و په قبضه کې دي ، همدارازا ځینې هغه غرونه چې دکابل سین په سهیلي غاړوکې پراته دي هغه هم دبرو مومندو په لاس کې دي . دبرو مومندو سهیلي برخه دخیبر سره نښتې ده له همدې کبله دغه خلک ځینې وخت په خیبر پانوکې هم شمیرل کیږي . د « کابل سفر » د غره نه پرته چې د کابل سیند په شمالي غاړه کې

واقع دی د دوی نور غرونه اکثر آسخت دی . په دغه سیمه کی ونی هم لږ دی او واوره یوازی دخوورخوله پاره وریږی ، پر غرونو کی یـــی اکثره سیمی آبادی نه دی چی پـــه هغه کی دمزری خو دروبه ونی پیدا کیږی او یوا ځی دخلور و میا شتــو له پاره هواسره وی ،خو په اوړی کی ډیره سخته گرمی لری او ددغـــه موسم د گرم باد له کبله کله کلــه خلك مری مسافران له دغی هوانه و یر یـــږ ی ا و و ا یی چـــی داهواد غره مارنه چی د کا بـــــل سیند په سهیلی برخه کی مو قعیت لری را وځی .

دبرو موندو دوگړو شمیر لسزره کوره بیان شوی دی ،په داسی حال کی چی یوه مو ندیی مؤلف ته شمیردیرش زره تنه ښودلی دی . خـــو په دواړو شمیروباندی اعتماد نشی کیدای ،ځینی همسا یه یعنی د بلـــی قبیلی خلك او هند کی هم د لتـــه شته دی ،داپه غرو نو کی زیا تـــره دمو مندو دمو سی زی ځانگه استـــوگنه لری چی د هغه نه دتارك زی دځا نگی دمرچا خیلو دپښی څخه دلعل پوری سعا دت خان مشهو ر او دوا ك او اختیار ښتن دخپلی قـــبیلی خان دی . دتارکز یو دوی وړی ځاـ نگی بران خیل او عیسی خیل پـــه پندیالی کی استوگنه لری.

په عثمان خیلو کـــی سید امیر او تا ج محـــمد ملکا ن د ی . د و ی یو اداری عجیب‌سیستم لری د جګړی دوخت نه پرته په‌دوی کی د خان‌واك او اختیار لږدی خودده واك پر ملکانو باندی ډیر دی او همدا راز دملکا نو واك په خپلو ځانگو او ښاخو نـــو باند ی زیات دی ، خان دعدا لت په چاروکی ډیره‌مداخله او غر ض نه‌کوی . ملکان دجرگو په ذریعـــــه دخلکو شخړی فیصله کوی . د لعل پوری خان دکابل له امیر نه‌دلاری وساتلو له‌درکه یو څه انعـــام ا وبخششونه هم اخلی همدا راز دی ، د هغو کار وانونو او مسا پرا نـــو نه چی‌د پیښور نه دکریواو تا تری له لاری دکا بل آبخا نی او نور ځایو نو ته ځی یوه اندازه محصول اخلی . ودغه خلکو خوراك او پو ښاك دبـــا جوړ خلکوته ورته والی لری‌خـــو

کورونه یی اکثرآ د څپرو او جـــونګړی شکل لری چی هلته بوا ز ی داوړی په موسم کی‌او سیړی ددوی‌نوی ګلی نعل پوره ، ئامه او نوسمه دی اوپه دغو لویو سیمو کی دوی‌خپل کورونه جوړ کړی ، غرنی مومند اکثراء دکرنی په چارو بو خت دی‌اوځینی د حیواناتو د پالنی‌په مقصـــد په‌غرونو کی او سیږی ، د دوی یوشمیر په غلاو لاروهنی هم لګیادی،

دوی دژمی په موسم کی نور کارو نه پریږدي اوپوزی ، پکی ، څپلی اونور مزرین شیان جوړوی ، او دخرڅـلاو له پاره یی پیښور ته راوړی . دوی دخپل ملك پیدا وار او غلی دا نـــی لویو سیمو ته وړی او هلته یـــی خر څوی او په بدل کی یی ما لګه ، سپین ډبل او ور ښمین تو ران ،

لونګی او نور شیان خپلو سیموتـه وړی دبر مومندو دوه خیلونه پـــه کیږدیو کی دکو چیا نوپه ډول ژوند کوی او اوښان ساتی د پسرلی پـه موسم‌کی دوی خپل مالونه اودحیواناتو رمی ګلی، له ځان سره دهلمند دریاب پورتنی برخی یعنی دهزاره و شـــاوخوا سیموته بیایی، دبرودر انیا بونه یوازی دغه دوه خیلو نه کوچیان‌دی.

دداودزيوقبيله

داود زي دپيښور ضلعي په ميدن او دكابل سيند په سهيلي برخه كي ميشته دي ، دغه قبيله تخميناً لس‌زره كوره ده لكه څرنګه چي د نسب په شجره كي راغلي دي دغه قبيله هم په لوړي سركي په دريو ښاخونو ويشل شوي ده خوورورسته د د غـوښاخو نو څخه ډيري څانګي بيلي‌شوي دي . داسي روايت مـــوجـــو د دي چي دمند لوړي زوي داود دوي ميرمني لرلي چي لوړي ميرمني نه يي حسين او له دويمي ميرمني يـــي د نيكو او بابو په نامه زامن لرل‌كله چي مندله جهانه ستركي پټي كړي نو دهغه ميراث دحسين لاس تــــه ورغي ،له همدي كبله نيكو اوبابو د خپل ورور حسين د وژ لو نيت وكړاو دشپي له خواد هغه د خوب ځا ى ته ورغلل او دحسين په بستـــر ه باندي يـــي دتوري ګو ګوزارونــــه وكړل خو حسين د هغوى دغدا ر ى‌او خيانت نه خبر شوي او په هغه شپه په كوم بل‌ځاى كي‌ويده شوي‌و له همدي‌كبله ده ته كومه صدمه ونه رسيده سبا سهار كله چي دواړو سخـــت‌زړو ورونو حسين ژوندى وليـــد نو دويري او شـــرم پـــــه سبـــب يي وطن پر يښود په پاى كي دنيكو

اولاده په هندوستان کې ځای په ځای شوه او د دابو دا ولادی څو کورونه دتیرا په شاو خوا کې په خواره واره ډول ژوند کوي اوحسین په خپل ملك کې ځای په ځای پاتې شو .

دخلیلو قبیله :

ددغه قبیلې شمیر شپږ زره کوره اود وسله والو کسانو شمیر یې دولس زره تنه ښودل شوی دی .

دا قبیله هم د پیښور په میدان کې استوګنه لري که څه هم ددوی د نسب شجره وړاندې ذکر شوې ده خو دښاغونو په باب یې معلومات د نسب په شجره کې ترلاسه نشول د دغې قبیلې څو کوره د مومندو د قبیلې او همدا راز د برو دړانیو له نورو څو کورو نو سره یو ځای په کندهار کې اوسیږي او دلته د وی یوازې د برود رانیو په نامه یا د وی او غالباً به د وی د احمد شاه درانی له وخت نه هلته میشته شوي وي . د کندهار په ښار کې یوه بیله محله دبرو درانیو له پاره موجوده ده* اوددوی مشرد شینوارو دقبیلې له کورنۍ څخه دی.

دځمکنیو قبیله :

دغو ریا خیلو قبیلې دحالاتود بیان په برخه کې چې ځمکنی هم د تومړي قبیلې یو ښاخ دی، د دغه قبیلې نه دبیل والي په سبب له پاتې غوریا خیلو نه په جلا ډول ولیکل شو. ددغه ښاخ خلك په متفرق او خواره واره ډول ژوند کوي ، اوس دپیښور په علاقه کې په دغه نوم یو کلی شته اود ځمکنیو پاتې برخه دسپین غره د کورمې په شما لي برخه کې میشته دی. که څه هم د سپین غره ځمکنی ښکته خوا نه لږ راغلي خو ددغه ښاخ یوه ښیاراو یوه سرې ماته له سپین غره څخه را غی او د ځمکنیو د ښاخ په باب دهغه دبیان له مخې دا بدا لی احمد شاه دسر شمیرنې په وخت کې ددغه ښاخ شمیر نه زره تنه ښودل شوی و چې اوس ددوی د وسله والو کسانو شمیر شپږ زرو ته رسیږي ،خو دمولف په عقیده به د دوی شمیر تر دغه سر شمیرنې یو څه لږ وي ، د دوی دسیمې ځمکې اکثراً بارانی او للمی دي خو دموسم د سوړ والي له کبله په کې د غنمو او ر بشو او جوارو ډیر ښه زراعت اوکرنه کیږي ،په دغه ځای کې پنبه او وریجې نه کرل کیږي دلته دکرمې

---

* دکندهار په احمد شاهي ښارکې یې یو بازاراو یوه دروازه دبرو په نامه نومولې ده. برود برودر انو مخففّ دی.(رشاد)

له سیمی ته وریجی او له بڼـــو ، بنگښنو او پیښو ر نه پنبه پـــــی تو کر ان راوړل کیږی. ددوی پوښاک عموماً دخپل ملک محصول دی چـــی

دسپینو وړیو نه جوړیږی . داپریدیو د قبیلی خلك له دوی نه پښوســه اخلی .دوی شات او ژړ غوړی هـــم دحر ځلاو له پاره دبنگښنو او کر می

سیمی ته وړی او په بـــــدل کی مالګه او تو کران او کله غله دا نه اخلی په دغه ښاخ کی د ملکانـــــو واك او اختیار ډیر زیات دی، او س

د ازی خیلو په ځانګه کی ادیـــن او اکبر ملکان دی .همدا راز دخانی خیلو په ځانګه کی عمر خان، مست خان، دمبارك خیل او فتح‌خان بلاجوا،

دخوجه خیلو په ځانګه کی محمد دین‌میر باش دری خیل ، لنګر خـــــان اوحسن خان میرزا خیل مشهور ملکان‌او هریو په خپله ځانګه ئی د ډیـــر واك خاو ندان‌دی. که څه هم‌دملکانونه پاره دکوم ټاکلی محصول ورکــو ل

مقرر شوی نه دی خود میلمنو دخرڅ اومصرف له پاره دوسی په انــدازه دمشترکو ځمکو نه یوه ټوټه ځمکـــه د مربوطو ځانګو له خوا ورکول کیږی.

دخلکو ترمنځ دشخړی اکثراً د کلـــی دسپین ږیرو له خوا دجرګی پـــــه ډول او دملك په ذ ر یعه فیصلـــه کیږی . دغه خلك په خپلو منځـــو

کی زیاتی شخړی نه کوی او ډپردیواو نورو خلکو سره هم جنګ جګـــړه نه خوښوی . خود منګلوله قبیلـــی‌سره یو څه دښمنی لری .

د دی قبیلی خلك دکرنی په چارو بوخت دی ، خوله دی کبله چـــــی ځمکی یی لږی او دټولو د ګوزار ی‌نه پاره کفایت نه کوی ، نو لـــه

دی کبله دوی دحیواناتو په تیـــره بیا دپسونو داوزو په ساتلو هـــم بوخت دی. که څه هم دوی دا هــــل‌سنت او جماعت د طریقی پیروان‌دی،

خود مذهب د اصولو په باب زیات‌معلومات نه لری او اکثره خلك یی بیسواده او جاهل دی، هغوی خپلـــی‌جونی دنغدو پیسو په بدل کـــــی ورکوی چی د دغو پیسو اندازه لـــه (۴۰) نه تر سلو روپیو پوری ده.

دزیرانیو ښاخ :

دغور یا ځلورم زوی زیران نـــومیده چی دهغه اولادی ته زیرانـــی وایی، له بده مرغه د ډیرو ځخوسره سره بیا هم دزیړ انی ښاخ دځانـــګو دسبب شجره لاس ته رانغله ،خودومره معلومات ترلاسه شو چـــی

ددغه ښاخ دوګړو شمیر لږ او پـــه متفرق ډول د ننګرهار په شاو خواکی له تاجیکو سره یو ځای اوسیږی .او اکثره خلك چی د دوی د نسب‌له

شنجری سره آشنا نه دی هـــ ـــوی تاجیك بولی لکه څرنګه چی اخوند
درویزه بابا هم په خپل کتاب کـــی لیکلی دی چی زیړانی د خپلو نورو
غوریا خیلو وروڼو نـــه بیل او د ننګرهار د سیمی له تاجیکانو سره
اوسیږی .

د ملا ګوری ښاخ:

دغه ښاخ په څلورو څانګو ویشل شوی دی ، لومړی پهاړ خیل، دویم
تار خیل، دریم احمد خیل او څلـورم دولت خیل، چی د دوی د قبیلی په
باب اختلافونه موجود دی ځینی وایی چی ددغه ښاخ لوی نیکه په وصلی
توګه دمومندو په قبیله ورګډیږی او دویم روایت دادی چی ددی ښاخ
اصلی مورث (نیکه) هم د مومندولـه قبیلی څخه و ، یوه ورځ تنــه
مومند د لاروهلو له پاره یو ځـای ته ولاړل او کله چی یی دغه عمل تـر
سره کړ نو یو تن ملاهم چی ددوی سره ملګری شو جلا ودریده اودوی ته یی
په کتلو پیل وکړ ،دغلو له ډلـی نه یوه سړی په پښتو ژبه وویل چی
ملاګوری چی دهغی ورځی نه وروسته یی په هغه باندی د ملاګوری نـوم
کیښود او دغه اصطلاح د نوموړی ښاخ دتسمیی وجه شوه ، که څه هم
د دغه روایت په ړښتین والی کـی شك موجود دی .

اوس دغه خلك دغرنیو مومندوسره یو ځای او دهغو سره په غــم او
ښادی کی شریك دی . ددغه ښاخ اکثرا خلك دتاتری په دره کـــی
اوسیږی اود لاروپه وهلــــــو اودکرنی په چارو بوخت دی.ددی ښاخ
ټول شمیر پنځه سوه تنه ښودل شوی دی .اوس دپهاړ خیلو څانګی ملکان
شنکی خان او دادګل ،دتار خیلودڅانګی ، خدری او خیر وخاندا حمـــد
خیلو د څانګی دسکندر زوی میر علم او په دولت خیلوکی عصمت اللــه
خان ملکان دی .

دخشبون ابن سرین ددویم

زوی زمندبیان

ددغه قبیلی بیان :

دا ښکاره خبره ده چې د جمند قبیله په لومړي سر کې د کند هار په شاو خوا ارغستان ته نږدې میشته وه او د (۸۰۰ ـ ۹۰۰) هجري کالونو ترمنځ د پښین سیمه چې پشنګ هم بلل کیږي د دغه قبیلې په لاس کې وه او د ترین قبیلې دغه ځای دزور په ذریعه له دوی څخه و نیوه او زمند او یا جمند چې لوی ښاخ یې خو یشکي (خو یشکی) دی اکثـرآ په دغه ځای کې له اوسیدو نه تنګ او مجبور وچې د غه ځای خو شی او دزمند قبیلې ځینی خلك ملتان ته لاړل او هلته میشته شول او دخو- یشکي بل ښاخ د غز نی له لاری کابل ته او دکابل له لاری د غور بند دری ته لاړل او هغه ځای یې داوسیدو له پاره غوره کړ چې تراوسه هم یو شمیر زمند او خو یشکي هلته میشته دي.دغور بند په سیمه کې بادام ډیر پیدا کیږي او ښه شنه سیمه ده. په هغه وخت کې چې بابر کابل ونیو او څه موده وروسته یې به هنـد باندې دیر غل تکل وکړ نودخو یشکي ښاخ او همدا راز ځینو زمندو چـې په غوربند کې ورته اوسیدل گرا ن ښکاره شو ل خو د خپل پیر پـه لارښوونه د هندوستان خوا ته روان شول ، دا سی رو ایت شته چـې د دوی پیر دغې قبیلې ته د اوسپنې یو میخ ورکړ او ورته یې وویـل په هغه ځمکه کې چې دغه میـخ ننوزي هغه به ستا سی وطـــن وي. اکثره خو یشکي او ځینی زمند په خانه کوچ ډول له کابل نـه د پیښور له لاری هندوستان تـه روان شول او په دغه وخت کی سلیم خان زمند د دغه قبیلې سردار و او په هغه ځای کې چې نن د قصورښار پروت اودلا هور ښار ختیـځ ته موقعیت لری میشته شول،ددغه قبیلې اکثره نار ینه د سلیم خا ن زمند تر سرداری لاندې د بابر پـه لښکرو کې په خدمت بوخت وو ا و

په هغه جګړه کې چې د سلطـــا ن ابرا هیم لودی او بابر تر منځ پیښه شوه په هغه کې ددغې قبیلې اوه‌سوه تنه چې دبابر په لښکرو کې شا مل وووژ ل شول له همدی امله بـا براو هما یون په دوی زیاته مهر با نی کو له او هغه وخت چې خو یشکی اوزمند په قصور کې میشته شول نوه

سپره په نوم یوه بلوڅ دخپل قــوم‌له یوی ډلې سره دو چې لـــــه لاری راته او په لوټ او تا لا باندی به یی لاس‌پوری کاوه ددغه لوټ بندو-لو په منظور بټك زی، حسین زی،عارف زی،شا بن زی. کرلانی اوسلمهاك لوید یځ خواته په برکلی کې میشته شول اوخرنګه چې‌سپره به له دغې‌لاری یرغلونه کول نو دغه لاریې بنـــده کړه او بیا یې له دغه لاری دلو ټ دبندو لو په منظور بټك زی، حسین‌زی، عارف زی، شا بن زی، کر لانی او سلمهاك لو یځ خوا ته په بر کلـــی کې میشته شول‌او خرنګه چې سپره به له دغې لاری یرغلونه کول نـــودغه لار یې بنده کړه او او بیایې‌له دغه لاری لو ټ نشو کولای همدا راز عز یز زی، جنوزی، او ا برا هیم زی،

ختیځ خو اته پـــه لر کلی کـــی‌میشته شول او پاتی‌زمند چې په مطلق ډول دزا مند یا جمند په نا مـــه بلل کیږی د شمال خواته پریو تـل تر هغه وروسته ابراهیم زی دجنوزی‌ښاخ سره د دښمنی په سبب لــه دغه ځایه وخو ځیدل او دخورجه *په سیمه کې میشته شول په همدی‌ډول اکثره‌سلمهاکوچې دامچوزیواو حسین‌زیو سره یی دمقا بلې توان نه لاره نو دټانده سیمی ته لاړل او یو شمیریې هم په قصور کې پاتی شول اود بټك زیو یوشمیر هم د کورنیوشخړوپه سبب په هیرو وال کې میشتـــه شول •

خرنګه چې په اوس وخت کـــی‌ددغې قبیلې زیات شمیرپه افغانستان کې نشته، نو ځکه په دغه ملك کـی‌ډیر خلك ددغه قبیلې له نوم سره هم آشنا ئی نه. لری ،دزمند یا جمندقبیلی خو کوره په کند هار پشین او نورو سیمو کې مغلو بانه ډول ژوندکوی دخو یشکو یوه ډله دغور بنـد په دره‌کی اوسیږی او هم یو کلـی‌دپیښو ر ضلعی‌په هشنغر کی دخو-یشکی په نامه یاد یږی چې هغـــه دښجا عت خان شمو زی په ذریعه جوړ شوی‌دی** همدارازدکابل سیندشمال‌خواته دمو مندو په غرنی سیمی کی

خو کوره خو یشکی او همـــدا رازدخیبر دری تر منځ کی هم شته دی • اودلاهور ضلعی په قصور کـــی‌هم پښتا نه خو یشکی او سیږی چې دهغه ځای خلك یی یوازی دقصورپه پټان په نامه یاد وی •

---

*خور جه دډهلی او علی ګړه ترمنځ واقع ده ـ اوس هم‌په خورجه کی خیشکی اوس مسجد جامع‌اوکتب‌خانه یی مالیدلی ده .(رشاد)
** دکندهاردارغند اوپه مدخل کی‌هم‌دخیشکو په نامه یو کلی شته .(رشاد)

د محمدزی یا ممن زی بناخ

په افغانستان کی د میشته زمندیا جمند قبیلی د محمدزی یاممنزی بناخ شمیر زیات او هم ارام دی ،دغه بناخ دجمند پاتی نسل تروتلو وړاندی د یوسف زی قبیلی سره یو ځای دارغستان ته راوښړل شول اوورپسی دیو سفزیو سره یو ځای ځر نکه چی د یوسفزیو په برخه کی راغلل دکابل او په نورو پیښنوکی د یوسفزیو سره یوځای وو ترڅو چی د دوی سره یو ځای ننګرهار ته ورسیدل نو ددوی تر منځ دیوی لانجی په سبب جګړه پیښه شوه چی په دغه جګړه کی یوسفزی بریالی شول خو دوی په دغه ځای کی و نه اوسیدل ، محمد زیان یوه موده په ننګرهار کی او سید ل.

او کله چی د یوسفزیو مشهور مشرملک احمد غوبنتل د دلازاکو له قبیلی سره وجنګیږی نوهغه دننواتی په دول محمد زی د خپلی مرستی له پاره ر اوغوبنتل او محمدزی په دغه شرط ورسره یو ځای شول چی د(هشنغر) سیمه دوی ته ورکړل شی، لکه څنګه چی تر سو بی وروسته دغه شرط ترسره او(هشنغر) محمد زیو ته ورکړل شو چی تر اوسه هم د هغوی په قبضه کی دی او دلته د دوی مشهور کلی چار سده، تنګی، نوبنار ،پړانګ او نور دی ،د دوی دود او دستور حوراك ا وپو بناك اکثرا دیو سفزیو په شان دی ، دوی اوس د کرنی په چارو بوخت دی ،ویل کیږی چی ددوی شمیر اته زره کوره دی، خو غالب کومان دادی چی په دغه شمیر کی به د نورو قبیلو یو شمیر خلک هم شمیرل شوی وی ،

دخرشبون بن سمه بن دودیم زوی کانسی د نسب شجره



دخرشبون ابن سربن زوی کانسی بیان

ددغی قبیلی حال :

د کاسی (کاسسی) له قبیلــــی‌څخه د شینوارو له ښناخ نه پرته چی د ننګرهار د سیمی په شاو خوا کی‌اوسیږی د نورو ښنانو نو په بـــاب صحیح معلومات ترلاسه نه شـو ،او د شینوارو په باب هم معلومات للږترلاسه شوی‌دی، دمولـفـد ډیر کوښښ سره‌سره په دی بر یـــالی نشو چی‌ددغی‌قبیلی له کوم غری‌سره‌لیدنه کتنه وکړه ، خو د لو یدیځ افغانستان داو سیدو نکو دبـاور ی‌اشخاصو د ویناله مخی داسی‌ښکاری چی دکانسی قبیله په کوم خاص ځای کی‌په. مجتمع ډول نه اوسیږی* .او خواره واره په متفرقو ځایو نو کی‌میشته دی . په هندوستان اودکـن کی هم ددغه قبیلی خلك میشته دی .لنډه دا چی په افغا نستان کـــــی دشینوارو له ښناخ‌نه پرته دکانسی‌نور ښناخونه دور کیدو په حال کی دی .

شینواری د دی امله چی د خیبر د دری په شاو خوا‌کی میشته دی . نو ځکه د خیبر یانو په نامه هم بلل کیږی .

---

*په .کوته کی‌د کا سیا نو په نامه یوه سیمه شهرت لری اوپه دغه سیمه کی اوسی هم‌کاسیان اوسی. (رشاد)

دبرو مو مندو نه پر ته اپر یدی، اورک زی او شینواری هم د خیبریانو په نوم یادیږی ، چی په دغو دریو قبیلو کی شینواری لښ څه دبه چلند خاوندان دی خو سره له دی هم حرام خواره دی او لوټ کوی ، د شینوارو د شمیر په باب ویل کیږی چی لس زره کوره دی او د باجوړ او کونړ د شیګل د زی شینو اری‌هم‌په دغه شمیرکی‌را ځی، ددغه قبیلی خلکو په وادی ګانو اوهوارو سیمو کی داو سیدلو له لپاره مستقل کو رنه جوړ کړی دی‌خوپه غرنیو سیموکی چی عموماً دوی داوړی موسم‌تیرو ی‌دبروموموندوپه شان څپری جوړوی او په هغوکی ژوند کوی له دوی نه ځینی خلک‌په ژمی کی په وړو غرونو کی دسوړی په ډول ځمکه ژوروی اوهلته دا وسید لو له پاره ځان ته ځایونه جوړوی ،د وی دګرمی طاقت‌نه لری .

شینوار ی عموماً دکرنی په چا رو بوخت‌دی، خود ننګرهار شینو اری د انارو، بادا مو او نورو میوو سوداګری کوی اوځینی یی‌په لار وهلو او لوټ ګذاره کوی . د پوزیواوبدل‌جګړاو دمز رینو څپلیو جوړو لد اسرو خلکو نسب دی اودغه شیان‌پیښور او جلال آبادته په زیاته اندازه دخرڅلاو له پاره استو ی، اوس دشیځوارو داووه ښاخونو په نوم اووه تپی مشهوری دی.دشیخ‌مل‌خیل په تپه کی‌ملک اکرم اوآدم خان مشران دی، همدا راز دخو ګاخیلوپه تپه کی پوسی او پاینده خا ن ملکان دی اود میرداد خیلوپه تپه کی نصرالدین اوپه پیروخیلو ګنجوجان ملکان دی ،دشینو ارود قبیلی تقر یباًاهر سړی توره لری او دریم برخه خلک یی د ټوپکو خاوندان او ښه نښه ویشتونکی دی . دوی د غرنیوسیمو نه پرته په اواره‌کی ښه نشی‌جنګیدلی ، د شینوارو په سیمه کی هزار ناو مشهور ځای دی . دشینوارودقبیلی د سنګو خیلو ښاغ چی شمیر یی تقر یباً ادری زره وسله والو کسانو ته رسیږی مشهور غله اولارو هونکی‌دی . سنګوخیل دخو ګیا نیو سره نږدی دسپین غره په لوید یځه کی‌اوسیږی اوددو ی زړه ورتیااو میړانه د متلونو په ډول یادیږی .دوی په ونه ټیټ او پیاو ړی خلک دی.د توری او توپک داستعمال نه پر ته دو ی د تیرو په و یشتلو کی هم پوره مهارت لری او ویل کیږی چی ددوی وار په، آسانی نه خطا کیږی.

غورغشت بن قیس عبدالرشید د نسب شجره



د ناغر ابن دانی د نسب شجره



د پینی ابن دانی د نسب شجره



د داوی ابن دانی دنسب شجره



د بابی ابن غرغښت دنسب شجره



یادښت : له مخزن افغانی څخه داسې روایت شوی دی چې بابی ابن غرغښت یې څلور ورور زامن
باندې څلور وو پاکو پر پښتو نومونه ایښودلي وو خو ورو پښتو څخه ملامت کې ترڅو ورو مسئله ده.
پورتني څلورو ذکر شوي نومونو په څنګ باندې کېښودل خو عزرائیل د دویم قوم ندی تیکل شوی.

سمون پاڼه

مخ	کرښه	ناسم	سم	[illegible]	[illegible]
الف	لمن لیک	لیدی	لاشوی	۷	[illegible]
الف	»	ضحی	سهی	۸	[illegible]
د	[illegible]	صحی	سهی	۷	[illegible]
ه	۱۵	ولاندی	یدلای	۲	[illegible]
و	۱۸	صحی	سهی	[illegible]	[illegible]
ز	لمن لیک	۲۹۷	۱۲۹۱	[illegible]	[illegible]
یا	۱۱	فه	ووغه	۲۲	[illegible]
۲	لمن لیک	ولوای	نوموړی	[illegible]	۲۸
۳	۶	اوله ... ته	اوله ... موږی ته	[illegible]	[illegible]
۶	۱۹	مروجو ته	مروجه علاجو ته	[illegible]	[illegible]
۸	۱٤	[illegible]	[illegible]		[illegible]
۱۰	لمن لیک	ولد	اود	[illegible]	[illegible]
۱۱	۲۲	... نومړ ته	اوهم دخپلو ... او شمیر جغرافیائی نو موږ ته دهغوی موقیتونه		[illegible]
۱۱	۲۳	زنوک	مطرود	[illegible]	[illegible]
۱۱	۲۳ـ۲٤	کرښې ...	[illegible]		[illegible]
۱۳	۳	کی دی تیمور شاه زامن	دانګریزانو په لمسه ولو ستل شی		

مخ	کرښه	ناسم	سم
١٥	٣	مدمی	مدجی
١٥	٣	سید الا برابن	سیدالا برار
٣٨	٨	نورنهار	نونهار
٥٠	٧	د ځدرانو ڼخته	د ځدرانو دغرو نوڅخه
٥٤	٦	شیکل	شلکر
٥٥	٢٨	ستری	شتری
٨٣	٢٨	له خلکو ته یی	له خلکو نه یی
٨٥	٢٢	راچپو تو ته ماته ورکړه	راچپو ماته ورکړه
٨٦	١١	دارا سلطنت	دارالسلطنت
٨٧	٢٧	دیر غل په توکه	دیر غمل په توکه
٨٩	٥	لسنړ	لړ
٩٤	لسم یولسم کرښی لاندی باندی شوی دی		
١٠١	٢٠	لگرتیا	ملگرتیا
١٠٦	٢٦	ارغوان خان	ارغون خان
١٠٧	٢٦	جکمران	حکمرانان
١٠٩	اتم ، نهم‌او لسم کرښی لاندی باندی‌شوی دی		

PROPERTY OF ACKU 2335

مخ	کرښه	ناسم	سم
۱۱۰	٤	دشاه جهان په تخت	دشاه جهان په لقب
۱۲۰	لومړی ،دویم اودریم کرښی لانـدی باندی شوی دی		
۱۲۰	لمن لیك	دریم او څلورم کرښی لاندی باندی شوی دي	
۱۲۱	۲۱	ارالحکومت	دارا لحکومت
۱۲۵	۳	اوهم کومی مقابلی فتح کړ	اوهم یی کابل بی له کومی مقابلی فتح کړ
۱۲۷	۲۶	لری	لرل
۱۲۷	۲۲	ډیر ژامن لری چی	وروسته تر دیرش
۱۲۳	۱۱	دکوه نور الماس واخست	دکوه نور الماس له ده څخه واخیست
۱٤۱	۱۷	دروسی پاچاهم خپل نماینده راوغو	دستمبر دمیاشتی په نهمه دغه
۱٤٤	۲۰	۱۸۷۲ عیسوی	۱۸٤۲ عیسوی
۱۷۷	۲۱	کوم دی	کوم سړی
۱۷۹	۲	داوه	دنوه
۱۹۷	۸	اول	اودل
۱۹۸	۱	واکمن	واکمنی
۱۹۹	۲۷	دوه	دده
۲۰۰	۲	ایرانی زمان	ایرانی زومان

مخ	کربنه	ناسم	سم
٢٠٩	١٩	خوتنه	خوتنه باغی
٢٤٠	١٩	شین	غر شین
٢٤١	٤	پاتی سیمه	پاتی سیمی
٢٤١	١٤	کته ایلی	کته اخلی
٢٤٤	٢٠	ډیر خلک خپل	ډیر خلک خپل پیروان کړل
٢٤٦	٣١	زره وره	زړوره
٢٤٧	دولسم دیارلسم څوارلسم پنځه لسم کرښی لاندی باندی شوی دی		
٢٤٨	١٩	مرغه	مرغز
٣٠٦	عنوان	دخو کیانی	ککیانی
٣٢٥	رر	کانیسی	کانسی